


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library


# کامیاب مسلمان

ليکوال

الحاج مولوي عصمت الله عزام

(مُدرس مدرسه العلوم الشرعية کوئټه )

ketabton.com - The Digital Library





# د كتاب لنډه پېژندنه :

د كتاب نوم :

كامياب مسلمان

ليكوال :

الحاج مولوي عصمت الله عزام

د چاپ كال :

**۱۴۴۰، ۱۳۹۷ ، ۲۰۱۹**

**د چاپ ټول حقوق د ليكوال سره محفوظ دي .**

ketabton.com - The Digital Library




| شمېره | د کتاب سر لیکونه | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | د الحاج مولوي عبد الحنان الديوبندي تقريظ | ۹ |
| ۲ | سريزه | ۱۱ |
| ۳ | د ګناهونو د مغفرت او بخښني اسباب | ۱۳ |
| ۴ | ۱ : توحيد او له شرک ځخه ځان ساتل : | ۱۳ |
| ۵ | ۲ : استغفار او توبه : | ۱۵ |
| ۶ | ۳ : ښه کارونه : | ۱۶ |
| ۷ | ۴ : له لويو ګناهونو ځان ساتل : | ۲۰ |
| ۸ | ۵ : د الله پاک د مخلوق سره ښېګڼه کول : | ۲۱ |
| ۹ | ۶ : مصيبتونه اوکړاوونه : | ۲۳ |
| ۱۰ | ۷ : دُعاګاني کول : | ۲۴ |
| ۱۱ | ۸ : د مرګ په وخت کې او ترې وروسته تکليفونه: | ۲۵ |
| ۱۲ | ۹ : د نبي - عليه السلام – شفاعت : | ۲۵ |
| ۱۳ | ۱۰ : د الله پاک رحمت | ۲۶ |
| ۱۴ | دپېغمبرانو – عليهم السلام – د راتګ ضرورت | ۲۷ |
| ۱۵ | نبي – عليه السلام – په څرنګه وخت کې راغی ؟ | ۳۱ |
| ۱۶ | له دُنيوي عذابه د خوندي کېدو اسباب | ۳۸ |
| ۱۷ | ۱ : د نبي – عليه السلام- وجود په يوه ځای کې . | ۳۹ |
| ۱۸ | ۲ : د نبي عليه السلام سره محبت : | ۴۰ |
| ۱۹ | ۳ : توبه او استغفار | ۴۰ |

ketabton.com - The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۰ | ۴ : له عذابه د خلاصون بل سبب ایمان دی . | ۴۲ |
| ۲۱ | ۵ : بل سبب يې شکر دی . | ۴۲ |
| ۲۲ | ۶ : الله پاک ته تضرع او عاجزي کول . | ۴۲ |
| ۲۳ | ۷ : دُعاګاني کول : | ۴۳ |
| ۲۴ | ۸ : تقوی او پرهېزګاري : | ۴۴ |
| ۲۵ | ۹ : استقامت | ۴۵ |
| ۲۶ | ۱۰ : له طُغیان څخه ځان ساتل : | ۴۵ |
| ۲۷ | ۱۱ : ظالمانو ته له مائلېدو ځان ساتل : | ۴۵ |
| ۲۸ | ۱۲ : د لمانځه پابندي کول : | ۴۵ |
| ۲۹ | ۱۳ : صبر : | ۴۵ |
| ۳۰ | ۱۴ : د ښو په لور بلنه او له بدو منع کول : | ۴۵ |
| ۳۱ | ۱۵ : د عذاب د دفع کېدو خاص سبب | ۴۹ |
| ۳۲ | مرګ باید په یاد ولرو | ۵۲ |
| ۳۳ | هغه کارونه چې اسلام پرې ولاړ دی | ۵۶ |
| ۳۴ | د یوه او بل سره د مرستې اهمیت | ۵۸ |
| ۳۵ | پر انسان راتلونکې حالات او د ده مسئولیتونه | ۶۳ |
| ۳۶ | پنځه خبري چې انسان بري ته رسوي . | ۶۸ |
| ۳۷ | د عرش د سیوري وړ کسان | ۷۰ |
| ۳۸ | له بدو کارو د مخنیوي اهمیت | ۷۶ |
| ۳۹ | د خاتمې د سمون اهمیت | ۸۲ |
| ۴۰ | د خاتمې د سمون اسباب | ۸۸ |

ketabton.com - The Digital Library





| | | |
|---|---|---|
| ۴۱ | ۱ : سیدُ الاستغفار : | ۸۸ |
| ۴۲ | ۲ : استقامت | ۹۱ |
| ۴۳ | استقامت څه ته وايي ؟ | ۹۳ |
| ۴۴ | ۳ : تقوی : | ۹۵ |
| ۴۵ | ۴ : تر اوداسه وروسته وروستنۍ دُعاء لوستل دي : | ۹۵ |
| ۴۶ | ۵ : د خاتمې د سمېدلو پنځم سبب دا دُعاء کول دي : | ۹۷ |
| ۴۷ | ۶ : د خوب دُعاء | ۹۸ |
| ۴۸ | ۷ : د آذان ځواب | ۹۹ |
| ۴۹ | ۸ : د آذان دُعاء لوستل : | ۱۰۰ |
| ۵۰ | ۹ : دا لاندينۍدُعاء لوستل : | ۱۰۱ |
| ۵۱ | ۱۰ ، ۱۱: لاندينۍ دُعاء لوستل : | ۱۰۳ |
| ۵۲ | ۱۲ : لانديني کارونه کول : | ۱۰۳ |
| ۵۳ | ۱۳ : د مسلمان په غياب کې دفاع : | ۱۰۵ |
| ۵۴ | ۱۴ : د الله په کتاب او په نبوي طريقو عمل کول : | ۱۰۶ |
| ۵۵ | ۱۵ : پنځه لمونځونه په خپل وخت سره ادا کول : | ۱۰۶ |
| ۵۶ | ۱۶ : صدقې او خيراتونه : | ۱۰۶ |
| ۵۷ | ۱۷ : پر الله پاک ښه ګومان ساتل : | ۱۰۷ |
| ۵۸ | ۱۸ : توبه ایستل : | ۱۰۷ |
| ۵۹ | ۱۹: د مرګ يادول او د اميدونو لنډول . | ۱۰۸ |
| ۶۰ | ۲۰ : پر عبادتونو همېشوالی کول | ۱۰۸ |

ketabton.com - The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۵۹ | ۲۱ : د خاتمې له خرابوونکو کارو ځان ساتل . | ۱۰۸ |
| ۶۰ | د انسان په بدن کې د زړه رول او اهمیت | ۱۰۹ |
| ۶۱ | د زړه د کلکوالي اثر او نتیجه | ۱۱۷ |
| ۶۲ | د زړه د کلکوالي علاجونه | ۱۱۹ |
| ۶۳ | زړه ولي کلکېږي ؟ | ۱۲۲ |
| ۶۴ | عبادت یعني څه؟ | ۱۲۵ |
| ۶۵ | عبادت د چا لپاره ؟ | ۱۲۶ |
| ۶۶ | عبادت به څنګه کوي ؟ | ۱۲۷ |
| ۶۷ | عبادت باید په څنګه حال کې وشي؟ | ۱۳۰ |
| ۶۸ | حسد او کینه | ۱۳۲ |
| ۶۹ | د حسد ختمولو طریقه | ۱۳۸ |
| ۷۰ | حلال او حرام مال یو امتحا ن دی | ۱۳۹ |
| ۷۱ | د امر بالمعروف او نهی عن المنکر اهمیت | ۱۴۲ |
| ۷۲ | خپل ژوند باید څنګه تېر کړو ؟ | ۱۴۶ |
| ۷۳ | د ګاو ندي د حقوقو بیان | ۱۵۲ |
| ۷۴ | د شیطان د راتلو لاري | ۱۵۷ |
| ۷۵ | بدعت څه ته وایي ؟ | ۱۶۲ |
| ۷۶ | غیبت ولي حرام دی ؟ | ۱۶۳ |
| ۷۷ | غیبت یعني څه ؟ | ۱۶۵ |
| ۷۸ | غیبت په څه سره کېږي ؟ | ۱۶۶ |
| ۷۹ | غیبت څه کوي ؟ | ۱۶۶ |

ketabton.com - The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۸۰ | ولي خلک غيبت کوي ؟ | ۱۶۷ |
| ۸۱ | د شرک تعريف او ګناه | ۱۷۰ |
| ۸۲ | شرک څومره خطرناکه ګناه ده؟ | ۱۷۱ |
| ۸۳ | نبي – عليه السلام – د څه لپاره راغلی دی ؟ | ۱۷۷ |
| ۸۴ | پر بندګانو د الله پاک حق | ۱۸۰ |
| ۸۵ | بنده څنګه پر الله پاک حق لري ؟ | ۱۸۳ |
| ۸۶ | د نبي عليه السلام سره د محبت اسباب | ۱۸۶ |
| ۸۷ | آيا ايمان له چا نه ځي ؟ | ۱۹۳ |
| ۸۸ | د مسلمانانو سره د دوستۍ اهميت | ۱۹۷ |
| ۸۹ | د الله لپاره مينه څرنګه وي ؟ | ۲۰۱ |
| ۹۰ | دا صفت به څنګه په ځان کې راولو ؟ | ۲۰۱ |
| ۹۱ | د مسلمان سره دوستي څنګه پيدا کېږي ؟ | ۲۰۲ |
| ۹۲ | د هدايت دوه سلسلې | ۲۰۵ |
| ۹۳ | څنګه له فتنو څخه خوندي کېدی شو ؟ | ۲۰۸ |
| ۹۴ | کوم علم فضيلت لري ؟ | ۲۱۳ |
| ۹۵ | اسلام د خواخوږۍ دين دی | ۲۱۸ |
| ۹۶ | احسان په دوه قسمه دی | ۲۲۲ |
| ۹۷ | د نبي عليه السلام د دعوت پايله | ۲۲۵ |
| ۹۸ | د تقوی او پرهېزګارۍ فائدې | ۲۲۹ |
| ۹۹ | د قرآن کريم د تلاوت فضيلت | ۲۳۷ |
| ۱۰۰ | د قرآن کريم د تلاوت آداب | ۲۳۸ |

ketabton.com - The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۱ | ستري او تباه کوونکې ګناوي | ۲۴۰ |
| ۱۰۲ | د ګناهونو دُنیوي او اُخروي زیانونه | ۲۴۴ |
| ۱۰۳ | د ګناه د پېژندلو نښه | ۲۴۹ |
| ۱۰۴ | د نبي اکرم- صلی الله علیه و سلم – خصوصیات | ۲۵۵ |
| ۱۰۵ | د نبي – علیه السلام – د امت خصوصیات | ۲۶۰ |
| ۱۰۶ | په اسلام کې د شرم او حیاء ارزښت | ۲۶۵ |
| ۱۰۷ | حیاء سراسر خیر او ښه کار دی | ۲۷۰ |
| ۱۰۸ | په اسلام او ټولنه کې د نشيي توکو زیانونه | ۲۷۵ |
| ۱۰۹ | په اسلام کې د علم اهمیت او ارزښت | ۲۸۴ |
| ۱۱۰ | د علم ګټې او برکتونه | ۲۹۱ |
| ۱۱۱ | د زیات علم د غوښتني الهي فرمان . | ۲۹۳ |
| ۱۱۲ | د نبي اکرم – ﷺ – د بعثت ستر مقصدونه | ۲۹۴ |
| ۱۱۳ | علم د ټولو مرضونو علاج دی : | ۲۹۵ |
| ۱۱۴ | تجارت باید څنګه وشي ؟ | ۲۹۷ |
| ۱۱۵ | امت ته د نبي - علیه السلام – وصیت | ۳۰۰ |
| ۱۱۶ | پای | ۳۰۳ |
| ۱۱۷ | د لیکوال نور آثار | ۳۰۴ |

ketabton.com - The Digital Library



# الحاج مولوي عبد الحنان ديوبندي صاحب تقريظ

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله و كفى و الصلاة و السلام على من لا نبي بعده و على آله و صحبه اجمعين.

امابعد : عزتمندو لوستونکو او د قدر وړ مسلمانانو وروڼو ! الله تعالی په هر څه باندي ښه پوه او پر هر څه باندي ښه قدرت لرونکی ذات دی .

دليل د دواړو دعوو د قرآن كريم قطعي نصوص دي : وَكَانَ اللَّهُ بِهِمْ عَلِيمًا ( النساء ٣٩ ) أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ( البقرة: ١٠٦ )

هغه اشخاص هم الله عزوجل پېژني چې په خپل قول، فعل، عمل کښې يې د الله عزوجل رضا مطلوب او مقصود وي او لله في الله يې خپلي سعي او کوشش ته ادامه ور کړې وي او د دې برعکس هغه اشخاص هم الله عزوجل ته معلوم دي چې د اقوالو او افعالو رُخ يې د دنيا شهرت، نام ونمود،سمعة او رياء وي ، د هر شخص سره الله عزوجل د هغه د نيت او مقصود مطابقه معامله کوي .

د اتمي صدۍ او پېړۍ نامتو او جيد مفتي عالم دين علامه اسماعيل ابن عمر ابن کثير – رحمه الله – فرمايي : وهو عليم بنياتهم الصالحة والفاسدة، وعليم بمن يستحق التوفيق منهم فيوفقه ويلهمه رشده ويقيضه لعمل صالح يرضى به عنه، وبمن يستحق الخذلان والطرد عن جنابه الأعظم الإلهي، الخ ( مختصر تفسير ابن كثير ج ١ ص ٣٩٢ بيروت )

د همدغه موفقينو او نېکانو بنده ګانو ښخه زموږ محترم او مکرم د علمي سفر ملګری او دوست مولوي عصمت الله عزام صاحب دی، د

ketabton.com - The Digital Library


کوم چې دا اوله لیکنه نه ده، محترم موصوف تر دې مخکې د مسلمانانو ټولنې ته عموماً او د پښتنو معاشرې ته خصوصاً په خپل فصیح او خلاص قلم سره مختلف او ډول ډول دیني، علمي او اسلامي تالیفات او مقالات وړاندې کړي دي .

د همغه کړیو څخه یوه همدغه نوې تحفه ده د : ( کامیاب مسلمان ) په نامه سره محترم موصوف ماشاء الله دومره محنت کړی دی، که چېرې یو شخص دغه کتاب اول تر آخره مطالعه کړي، دا خبره په خپل فکر د حقیقت څخه لیرې نه بولم چې دا به د دغه لوستونکې شخص لپاره یو خاموش مرشد او لارښود وګرځي .

الله عزوجل دې د مولوي صاحب دغه سعی او کوښښ پر خپل عالي او لوړ حضور قبول کړي او په آینده کښې دې الله عزوجل موږ او تاسې ټول د محترم موصوف د نورو علمي، دیني او اسلامي خدمتونو او لارښوونو څخه مستفید وګرځوي . ( و یرحم الله عبداً قال آمینا )

الراقم عبد الحنان الدیوبندی خادم الطلبة والاساتذة فی المدرسة الاسلامیة العربیة المسجد الجامع الرحمانی، هلمند بلدة لشکرگاه شهید غلتان.

(ذی الحجة: ۱۴۳۹\۱۲\۲۴)(۱۳۹۷\۶\۱۳ سنبله)(ستمبر: ۲۰۱۸\۹\۴)

ketabton.com - The Digital Library


# سریزه

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ: أما بعد: فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمان الرحيم. قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ (1) الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ (2) وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ (3) وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ (4) صدق الله العظيم.

الله تعالی موږ او تاسو عبث او بې مقصده نه یو پیدا کړي او نه یې آزاد پرېښي یو، بلکې د خپل معرفت او عبادت لپاره یې پیدا کړي یو.

موږ باید الله تعالی وپېژنو او د هغه د راضي کولو په لټه کې و اوسو.

د دې لپاره یې خپل مقدس کتاب رالېږلی او په هغه کې یې د الله پاک د توحید او طاعت امر کړی دی.

همدا راز یې پېغمبران دُنیا ته رالېږلي دي چې هغوی منونکو ته زېری ور کوی او نامنوني یې له عذاب څخه وېرول.

دا د دې لپاره چې د خلګو لپاره عذر او پلمه پاته نه شي.

نو له دې امله باید موږ او تاسو کوښښ وکړو چې د خپل عُمر تر تېرېدو وړاندې داسې څه وکړو د کوم څه مسئولیت چې لرو.

دا دُنیا په حقیقت کې د امتحان ځای دی، په دې کې کامیاب هغه څوک دی څوک چې د الله پاک له عذاب څخه خلاص شو او جنت ته داخل شو.

ketabton.com - The Digital Library


دا کتاب چې ستاسو په لاس کې دی، د همدې موضوع په اړه دی چې په کومو کارو سره انسان کامیاب جوړیږي .
ځکه یوازي کلمه ویل نه ده کافي، بلکې د دې سره باید نور څه هم وکړو .
د دې کتاب په لوستو سره به ان شاء الله تعالی ډېر داسي کارونه در ته معلوم شي چې د انسان په بریالیتوب کې اړین او اغېزمن دي .
د دې کتاب یوه مُهمه ځانګړتیا ده چې په دې کتاب کې یوازي د کتاب اوږدولو او لیکلو ته پام نه دی شوی، بلکې اصلي او مُهم ټکی پکې دا دی چې په دې کتاب کې د صحیح او مستندو احادیثو پر بیان اکتفاء شوې او ان شاء الله تعالی د بې بنسټو او ضعیفو خبرو له لیکلو څخه پوره ډډه شوې ده .
د دې کتاب د لیکلو ضرورت مو هم یو له دې امله محسوس کړی، چې محترمو لوستونکو ته خبره په کره او صحیح دلائلو سره بیان شي او ور سره داسي جالب او مفید مضامین وړاندې شي چې په عملي کولو کې یې ان شاء الله تعالی د لوستونکو لپاره د دُنیا او آخرت د دواړو کامیابي نغښتې ده . و الله المستعان و علیه التکلان

ketabton.com - The Digital Library



# د ګناهونو د مغفرت او بخښنې اسباب

د مسلمان لپاره د خوشحالۍ خبره دا ده چې الله – جل جلاله- د دوی سره په خپل سپېڅلي کتاب او د رښتيني پېغمبر – صلی الله علیه وسلم – په ژبه د مغفرت او بخښني وعده کړې ده .

همدا راز د ځينوکارو له امله ور ته نه يوازي دا چې لوی لوی ثوابونه ور کوي، بلکې ګناوي يې هم ور بخښي .

له انسان څخه ګناوي کېږي او هر انسان دې ته اړ دی چې بايد د خپلو ګناهونو د بخښل کېدو لپاره په ژوند کې هڅې وکړي او داسي کارونه وکړي، چې په هغوسره د انسان ګناهونه بخښل کېږي څکه د مزدورۍ،کاروبار او کرهڼي ځای همدا ژوند دی .

په دې هکله غواړم چې په مختصره توګه هغه کارونه او اسباب دلته وليکم چې له امله يې الله تعالی بندګانو ته د دوی تر تېروتنو او سرغړونو ور تېرېږي .

د دغو کارونو په تر سره کولو کې بايد هر څوک کوښښ وکړي، څو الله پاک مو خطاوي را معاف کړي .

## ۱ : توحيد او له شرکه ځان ساتل :

د ګناهونو د مغفرت او بخښني لپاره تر ټولو عُمده او لومړنی سبب توحيد دی .

که دا سبب په چا کې موجود نه وو، هغه ته بخښنه نشته او که په چا کې موجود شو،د مغفرت تر ټولو ستر سبب ئې حاصل کړی دی .

ketabton.com - The Digital Library


**الله - جل جلاله – فرمايي:** ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولَئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ﴾.(الأنعام:٨٢)

**ژباړه : هغو کسانو چې ايمان راوړی او خپل ايمان يې د ظلم (شرک)سره نه دی ګډکړی،د همدوی لپاره ( په آخرت کې ) امن دی او دوی ( په دُنيا کې ) په سمه لار روان دي !!**

**په بل ځای کې فرمايي :** ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا﴾ (النساء:٤٨).

**ژباړه : يقيناً الله دا نه بخښي چې د ده سره شرک وشي او له دې پرته ( نور ګناهونه ) چا ته چې وغواړي، بخښي يې او څوک چې د الله سره شرک وکړي، نو بې شکه چې هغه لوی دٍرواغ جوړ کړل !!**

**په دې مبارک آيت کې الله پاک فرمايي : چې څوک د الله سره په داسي حال کې ملاقات وکړي چې شرک يې ور سره کړی وي، نو بخښنه نه ور ته کوي او تر شرک ښکته نوري ګناوي چا ته چې يې بخښل وغواړي، ور بخښي يې .**

**که د توحيد سره د چا دومره ګناوي وي، چې ټوله زمکه ترې ډکيږي، بيا هم اميد شته چې الله پاک دي تر ټولو ور تېر شي .**

**که يې بخښنه ور تهو نه کړه،عذاب ته به يې داخل کړي،خو پايله به يې دا وي چې په جهنم کې به د تل لپاره نه اوسي، بلکې د سزا تر تېرولو وروسته به ترې وزي او جنت ته به ځي .**

ketabton.com - The Digital Library



## ۲ : استغفار او توبه : ( له الله پاک څخه بخښنه غوښتل)

په دې سره الله پاک ګناهونه بخښي .الله تعالی فرمايي : وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ (آل عمران:۱۳۵)

ژباړه : او هغوی چې کله څه لويه ګناه او يا پر ځانو ظلم وکړي، نو الله ياد کړي او د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړي او له الله نه پرته څوک دی چې ګناه بخښلی شي ؟ او ( هغوی ) په خپلو کړيو ( ګناهونو ) ټينګار هم نه کوي، کله چې دوی پوهېږي !!

الله پاک په دې آيت مبارک کې د جنتيانو دا صفت بيان کړی، چې دوی داسي څوک دي چې کله ترې ګناه وشي،ور پسې توبه باسي .

الله پاک دغو کسانو ته په ور پسې آيت کې د مغفرت زېری ور کړی دی .

په بل ځای کې الله پاک د نوح - عليه السلام - خبره چې خپل قوم ته يې کړې وه، ياده کړې، فرمايي :فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا (سورةنوح:۱۰).

ژباړه : نو ما ور ته وويل : چې له خپل رب څخه مو بخښنه وغواړئ ! يقيناً هغه ډېر بخښونکی دی !!

په بل ځای کې الله پاک فرمايي : وَمَنْ يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللَّهَ يَجِدِ اللَّهَ غَفُورًا رَحِيمًا (النساء:۱۱۰)

ژباړه : او چا چې بدي وکړه او يا پر خپل ځان ظلم وکړي، بيا له الله پاک نه بخښنه وغواړي، نو الله به بخښونکی مهربان ومومي !!

ketabton.com - The Digital Library


په دې آیت مبارک کې الله پاک د خپلې مهربانۍ په هکله خبر ور کړی چې څوک هغه ته له هرې ګناه توبه وباسي، قبلوي یې .
په دې هکله احادیث ډېر زیات راغلي دي، چې موږ ترې یو دلته ذکر کوو :
عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ : إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا.(رواه مسلم ص:۳۵۸ ج:۲)
ژباړه : له حضرت ابوموسی اشعري- رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله- صلی الله علیه وسلم- وفرمایل : الله تعالی ( بلاکیف ) خپل لاس د شپې اوږدوي،( غزوي ) څو د ورځې بدي کوونکی توبه اوباسي او د ورځې خپل لاس ( بلا کیف ) اوږدوي، څو د شپې بدي کوونکی توبه اوباسي، تر هغه چې لمر له مغربه راخېږي !!
یعني که څوک د شپې توبه باسي او که د ورځې په هر وخت کې یې الله پاک توبه قبلوي، تر هغه چې لمر له مغربه راخېږي .
مطلب مو دا وو چې استغفار او توبه د ګناهونو د مغفرت له اسبابو څخه یو مهم سبب دی .
## ۳ : ښه کارونه :
له ډېرو نصوصو معلومېږي چې نېک اعمال که واجب وي او که مستحب،په دې سره ګناهونه بخښل کېږي .

ketabton.com - The Digital Library


عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- اتَّقِ اللَّهَ حَيْثُمَا كُنْتَ وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ (رواه الترمذی ص:۱۹ ج۲ و احمد ص: ۲۸۴ ج: ۳۵ وقال الترمذی هذا حدیث حسن صحیح)

**ژباړه : له حضرت ابوذر- رضی الله عنه- څخه روایت دی چې ما ته رسول الله- صلی الله علیه وسلم- وفرمایل : له الله تعالی څخه و وېرېږه ! په کوم ځای کې چې یې ! تر بدۍ وروسته نېکي وکړه ! دا نېکي هغه بدي ورانوي او د خلکو سره په ښو اخلاقو ژوند کوه !!**

**په دې حدیث کې درې خبري راغلې دي : یوه له هغو دا ده چې د ګناه تر کولو وروسته نېکي ور پسې کوه، دا نېکي د ګناه د مغفرت او کفاري سبب دی .**

**دا مضمون په قرآن کریم کې هم راغلی دی . الله تعالی فرمایي : إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ( سورة هود : ۱۱۴)یعني په یقیني توګه نېکۍ ګناوي ختموي!!**

**په بل ځای کې الله - جل جلاله - فرمایي : اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ (النحل:۳۲)**

**ژباړه : جنت ته د هغو عملونو په سبب ننوزئ چې تاسو به کول !!**

**جنت ته څوک هغه وخت داخلېږي کله چې ګناه ور وبخښل شي ځکه چې جنت ته داخلېدل د ګناه سره نه کېږي، دا ځکه چې جنت د پاکو خلکو استوګنځی دی، ناولي خلک جنت ته نه شي داخلېدی .**

**چا ته چې جنت ته د ننوتو حکم وشي، معلومېږي چې ګناوي یې بخښل شوې دي .**

**معلومه شوه چې د نېک عمل له امله ګناوي بخښل شوې دي.**

ketabton.com - The Digital Library


په بل ځای کې الله-جل جلاله- فرمايي : إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَاناً وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ.الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ.أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقّاً لَهُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ (الأنفال۲،۴)

ژباړه : يقيني خبره دا ده چې ( رښتيني ) مؤمنان هغه کسان دي چې کله د الله نوم ياد شي، زړونه يې ووېرېږي او کله چې يې آياتونه پرې ولوستل شي، ايمان يې ور زيات کړي او په خپل رب توکل کوي .

هغه کسان چې لمونځ اداء کوي او له هغه څه نه چې موږ ور روزي کړي، لګښت کوي .

دغه کسان همدوی په حقه مؤمنان دي،د دوی لپاره د خپل رب په وړاندي درجې،بخښنه او غوره روزي ده !!

له دې آيت څخه معلومېږي چې د لمانځه د ارکانو او واجباتو سره په پابندۍ اداء کول، د زکات ايستل او داسي نور ښه کارونه د ګناهونو د مغفرت او د رزق کريم سببونه دي .

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-: مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ (رواه البخاری و مسلم ص:۱۲۵ ج:۱،مشکوة المصابيح ص:۳۸ ج:۱)

ژباړه : له حضرت عثمان - رضی الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله-صلی الله عليه وسلم- وفرمايل : څوک چې اودس وکړي، نو اودس ښائسته کړي ( يعني په صحيح طريقه ئې وکړي ) د ده ګناوي د ده له بندن څخه وزي، تر دې چې د نوکانو د لاندي څخه هم ووزي !!

ketabton.com - The Digital Library



په بل حديث کې راغلي دي : مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ.(بخاری ص:۱۰ ج:۱،مسلم ص:۲۵۹ ج:۱)

يعني څوک چې د رمضان روژه د ايمان او د ثواب ګټلو په حالت کې ونيسي، د ده مخکينۍ ګناوي به ور وبخښل شي !!

همدا راز دا مضمون په ډېرو احاديثو کې راغلی دی چې په ښو کارو سره الله- جل جلاله- انسان ته مغفرت کوي .

لکه په تراويحو، حج او عُمره،علم او داسي نورو سره ...

خودا چې په نېکو اعمالو سره د کومو ګناهونو مغفرت کېږي ؟

ځيني عالمان وايي چې که الله پاک وغواړي، لويي هم ور بخښي او دا د الله پاک له رحمت څخه بعيده نه ده .

خو جمهور علماء وايي چې د صغائرو ( وړو ) ګناهونو مغفرت کېږي، د کبائرو ( لويو ګناهونو) لپاره توبه ايستل ضروري دی .

د وړو ګناهونو بخښل کېدل هم کمه ګټه نه ده، له انسان څخه وړې ګناوي ډېري کېږي، د دغو د بخښني لپاره الله پاک دغه انتظام کړی دی چې د ښو کارو په کولو هم بخښل کېږي .

د لويو د بخښني لپاره توبه او استغفار کول ضروري دي .

علماوو فرمايلي دي چې که صغيره ګناوي کمي وي، نو د نېکيو په ذريعه په کبيره ګناهونوکې هم تخفيف راځي او نېکې د درجو د لوړوالي ذريعه ګرزي . ( فضائل توبه واستغفار ص :۴۳ )

ketabton.com - The Digital Library


## ٤ : له لويو گناهونو ځان ساتل :

**الله - جل جلا له - فرمايي : إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُدْخَلاً كَرِيماً (سورة النساء:٣١).**

**ژباړه : كه تاسو له هغو لويو ( بديو ) چې ترې منع شوي ياست، ډډه وكړئ ! نو موږ به له تاسو ستاسو واړه گناهونه و رژوو او تاسو به د عزت په ځاى كې داخل كړو !!**

**په دې آيت مبارک کې د الله پاک د يوه ځانگړي انعام يادونه شوې اوهغه دا چې كه تاسو له لويو گناهونو ځانونه وژغورئ، نو الله پاک به مو واړه گناهونه در وبخښي او په دې توگه به تاسو له ټولو گناهونو صفا د عزت او راحت په ځاى كې داخل كړو، چې جنت يې نوم دى .**

**له كبائرو په ځان ساتنه كې د هغو فرائضو او واجباتو تر سره كول هم داخل دي، چې پرېښودل ئې كبيره گناه وي لكه څنگه چې په حديث كې راغلي دي :**

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ يَقُولُ « الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ (رواه مسلم ص:١٢٢ ج:١)**

**ژباړه : له حضرت ابوهريره - رضي الله عنه - څخه روايت دى چې رسول الله- صلى الله عليه وسلم - وفرمايل : پنځه لمونځونه او يو د جمعې لمونځ تر بل پوري، او يو رمضان تر بل پوري، د هغو گناهونو رژوونكې دي چې تر منځ يې ( شوي ) وي، كله چې يې له كبائرو ځان ساتلى وي !!**

ketabton.com - The Digital Library


معلومه شوه چې له ګناهونو ځان ساتل هم د مغفرت سبب دی .

## ٥ : د الله پاک د مخلوق سره ښېګڼه کول :

الله تعالی فرمايي:وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ (النور:٢٢).

ژباړه : او له تاسو څخه چې څوک د فضيلت او پراخۍ خاوندان دي، هغوی دي دا قسم نه کوي چې خپلوانو، مسکينانو او د الله د لاري د مهاجرو سره به مرسته نه کوي، هغوی دي عفوه او تېرېده وکړي، آيا تاسو دا نه خوښوئ چې الله بخښنه در ته وکړي ؟ او الله ډېر بخښونکی، مهربان دی !!

دا آيت په دې هکله نازل شوی چې مسطح بن اثاثة – رضی الله عنه - مسکين، مهاجر،بدري او د ابوبکر صديق- رضی الله عنه- د خاله زوی وو ،ابوبکر صديق- رضی الله عنه - به صدقه ور کوله، خو کله چې د عائشې- رضی الله عنها- په هکله په تور لګولو کې مسطح هم شريک شو، نو ابوبکر صديق- رضی الله عنه- قسم وکړ، چې زه به په راتلونکي کې د ده سره مرسته او ښېګڼه نه کوم .

نو دا آيت نازل شو، بيا ابوبکر صديق - رضی الله عنه - له خپلي خبري رجوع وکړه .(المحرر الوجيز ص:٢٠٩ ج:٤،ايسر التفاسير ص:٥٥٨ ج:٣،تفسير البيضاوی ص:١٤٩ ج:١،الجلالين ص:٤٦٠ ج:٢).

له دې آيت څخه معلومېږي چې بل چا ته د هغه جُرم معافول او د چا سره ښه کول د مغفرت سبب دی .

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ اَبِي هُرَيرَةَ أنَّ رَسُول الله - صلى الله عليه وسلم - ، قَالَ : ((بَينَمَا رَجُلٌ يَمشي بِطَرِيقٍ اشْتَدَّ عَلَيهِ العَطَشُ ، فَوَجَدَ بِئراً فَنَزَلَ فِيهَا فَشرِبَ ، ثُمَّ خَرَجَ فإذَا كَلْبٌ يَلْهَثُ يأكُلُ الثَّرَى مِنَ العَطَشِ ، فَقَالَ الرَّجُلُ : لَقَدْ بَلَغَ هَذَا الكَلْبُ مِنَ العَطَشِ مِثلُ الَّذِي كَانَ قَدْ بَلَغَ مِنِّي فَنَزَلَ البِئْرَ فَمَلأَ خُفَّهُ مَاءً ثُمَّ أمْسَكَهُ بفيهِ حَتَّى رَقِيَ، فَسَقَى الكَلْبَ، فَشَكَرَ اللهُ لَهُ، فَغَفَرَ لَهُ)) قالوا : يَا رَسُولَ الله، إنَّ لَنَا في البَهَائِمِ أَجْراً ؟ فقَالَ :فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أجْرٌ (مُتَّفَقٌ عَلَيهِ) رياض الصالحين ص:١٠٨ ج:١)

**ژباړه : ابوهريره - رضی الله عنه - له نبي - صلی الله علیه وسلم - څخه روایت کوي چې و ئې فرمایل : یو سړی په لار روان وو، ( په بل روایت کې دي چې زناکاره ښځه وه ) تنده پرې سخته شوه، نو څاه ئې ومونده، ور کښته شو، اوبه ئې وڅښلې، بیا ترې را ووت، ناڅاپه یو سپی دی، چې ژبه ئې را ایستلې، لندې خاوري د تندي له امله خوري، سړي وویل : دا سپی د تندي هغه اندازې ته رسېدلی دی، کومه چې ماته رسېدلې وه، نو څاه ته ښکته شو، خپله موزه ئې له اوبو ډکه کړه، بیا یې په خوله کې ونیوله، تر دې چې را پورته شو، سپی ئې اوبه کړ،الله پاک ئې دغه عمل قبول کړ او بخښنه ئې ور ته وکړه .**

**صحابوو- رضی الله عنهم – وفرمایل : اې د الله رسوله !- صلی الله علیه وسلم – زموږ لپاره په دغو ځناورو کې ثواب شته ؟**

**نبي - علیه السلام – وفرمایل : په هر لوند ځیګر کې ثواب شته !!**

**د پام وړ خبره دا ده چې دغې ښځې ته له دې امله بخښنه وشوه چې د سپي سره ئې ښه وکړل، نو څوک چې د انسان سره ښه کوي او د هغه**

ketabton.com - The Digital Library


**د کړاوونو د ختمولو لپاره هلي ځلي کوي، ده ته به خامخا - ان شاءالله تعالی - بخښنه کېږي .**

**له حضرت حذیفه - رضی الله عنه - څخه روایت دی، چې ما له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه واورېدل،چې ویل یې : یو سړی مړ شو، نو ور ته وویل شول : تا څه کول ؟ ده وویل : ما د خلګو سره په دُنیا کې کاروبار کاوو، نو ما به مالدار ته مهلت ور کاوو ( چې کله به مې پور ور باندې شو ) او د تنګلاسې سره به مې تخفیف کاوو ( تر خپل حق ور تېریدلم ) نو ( د الله پاک له لوري د دې عمل له امله ) بخښنه ور ته وشوه ( بخاري ص : ۳۲۲ج : ۱، مسلم )**

**نو د خلګو سره ښه کول، د هغوی ضرورتونه ور پوره کول، هغوی ته تکلیف نه ور کول دا د مغفرت یو مُهم سبب دی، لکه څنګه چې ضرر ور رسول د مغفرت له موانعو څخه دی .**

**۶ : مصیبتونه اوکړاوونه : مسلمان ته چې په ژوندانه کې کوم تکلیفونه رسېږي او یا مصیبتونه پرې راځي، په دې سره الله پاک بخښنه ور ته کوي .**

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ : مَا مِنْ مُصِيبَةٍ يُصَابُ بِهَا الْمُسْلِمُ إِلاَّ كُفِّرَ بِهَا عَنْهُ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا (رواه البخاری ص:۸۴۳ ج:۲،و مسلم ص:۳۱۸واللفظ له).

**ژباړه : له بي بي عائشې - رضی الله عنها - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : مسلمان ته چې کوم مصیبت او**

ketabton.com - The Digital Library



غم رسېږي، په دې سره ترې ګناوي رژېږي، تر دې چې ازغی ئې په بدن ننوزي ( په دې سره ئې هم ګناوي رژېږي ) !!

په بل حديث کې راغلي دي له ابوهريره - رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رَسُولُ الله - صلى الله عليه وسلم – وفرمايل : **مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْراً يُصِبْ مِنْهُ**.(رواه البخاري ص:٨٤٣ ج:٢)

ژباړه : چا ته چې الله پاک د خير اراده وکړي، په مصيبتونو يې اخته کړي !!

څو په دې سره يې له ګناهونو پاک کړي او د الله پاک سره د پاکوالي په حال کې ملاقات وکړي .

عن أبي هريرة - رضى الله عنه - ، قَالَ : قَالَ رَسُول الله - صلى الله عليه وسلم - : مَا يَزَالُ البَلاَءُ بالمُؤمِنِ وَالمُؤْمِنَةِ فى نفسِهِ وولَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى الله تَعَالَى وَمَا عَلَيهِ خَطِيئَةٌ .(رواه الترمذى ص:٦٥ ج:٢ وقال: هذا حديث حسن صحيح)

ژباړه : له ابوهريره - رضى الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله- صلى الله عليه وسلم- وفرمايل : د مؤمن او مؤمني سره د ده په نفس، اولاد او مال کې تل مصيبتونه وي، تر دې چې د الله پاک سره په داسي حال کې ملاقات وکړي چې ګناه پرې نه وي !!

٧ : دُعاګاني کول : دُعاء د ګناهونو د مغفرت لپاره يو ستر لامل دی، چې انسان ئې د خپلو ګناهونو د بخښني لپاره له الله پاک څخه غواړي .

په ځانګړې توګه په هغه وختونو کې چې دُعاء پکې قبلېږي، لکه د شپې په نس کي، د جُمعې د ورځي په آخري ساعت کي، د آذان او اقامت تر منځ او داسي نور ځايونه ...

ketabton.com - The Digital Library



همد اراز د مؤمنانو خپلمنځي دُعاګاني چې دوی ئې يوه او بل ته کوي، د دغسي دُعاګانو د ژر قبلېدلو اميد هم زيات شته او ګناوي هم پرې بخښل کېږي .

## ۸ : د مرګ په وخت کې او ترې وروسته تکليفونه :

د قبر وارخطايي او تنګېدل، همدا راز د زنکدن سختئ، د قيامت د ورځي سختئ، ګرمئ، پرېشانئ او نورو تکاليفو سره هم الله پاک مسلمانانو ته بخښنه کوي .

د دې دا مطلب وي چې ګناهګار مسلمان ته د ده د ګناهونو سزا ور کول کېږي، نو الله پاک يې د دغو تکليفونو په تېرولو بخښي، چې دومره سزا يې بس ده .

**۹ : د نبي - عليه السلام – شفاعت** : دا هم د مغفرت يو ستر لامل دی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ : شَفَاعَتِى لأَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ أُمَّتِى. (رواه الترمذی ص:۷۰ ج:۲ وابوداود ص: ۶۵۲ ج: ۲، و رواه ابن ماجة عن جابر ص: ۳۱۹\مشکوة المصابيح ص:۴۹۴ ج:۲)

ژباړه : له حضرت انس - رضی الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله-صلی الله عليه وسلم- وفرمايل :زما شفاعت زما له امت څخه د لويو ګناهونو د خاوندانو لپاره دی !!

عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَانِي آتٍ مِنْ عِنْدِ رَبِّي فَخَيَّرَنِي بَيْنَ أَنْ يُدْخِلَ نِصْفَ أُمَّتِي الْجَنَّةَ وَبَيْنَ الشَّفَاعَةِ فَاخْتَرْتُ الشَّفَاعَةَ

ketabton.com - The Digital Library

وَهِيَ لِمَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا (رواه الترمذی ص:۷۰ ج:۲وابن ماجة ص : ۳۱۹مشکوة المصابيح ص:۴۹۴ ج:۲، کنز العمال:ص:۴۰۵ ج:۱۱)

ژباړه : له حضرت عوف بن مالک - رضی الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم – وفرمايل : ما ته زما د رب له لوري يو راتلونکی راغی، ما ته يې زما د نيم امت جنت ته د داخلېدو او شفاعت تر منځ اختيار راکړ ؟ ( يعني په دې دوو کارو کې کوم يو خوښوې ؟ ) نو ما شفاعت خوښ کړ او دا شفاعت د هغه چا لپاره دی، څوک چې په داسې حال کې مړ شي، چې د الله پاک سره شرک نه کوي !!

شفاعت يې په دې خوښ کړ ځکه شفاعت ډېر عام دی، په نسبت دې ته چې نيم امت يې خاص کړی وی .

همدا راز د نورو نېکانو خلکو ، شهيدانو، عالمانو او ماشومانو شفاعت هم يو سبب دی .

## ۱۰ : د الله پاک رحمت :

د بنده ګناوي که هر څومره زياتي او ستري وي، خو بيا هم د الله پاک رحمت ترې پراخ او ستر دی .

دا د مغفرت تر ټولو ستر لامل دی .الله تعالی فرمايي : قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ .(الزمر:۵۳)

ژباړه : ور ته ووايه ! اې زما هغو بندګانو چې پر خپلوځانو يې ( د ګناهونو د کولو له امله ) زياتی کړی دی، د الله له رحمته مه ناهيلي

ketabton.com - The Digital Library


کېږئ ! یقیناً الله ټول ګناهونه بخښي،بې شکه هغه ډېر بخښونکی مهربان دی !!

په دغه مبارک آیت کې ټولو ګناهګارو ته بلنه ور کول شوې، چې دوی دي د الله پاک له رحمت څخه نه نا امیده کېږي، ځکه خو باید د توبې له لاري د خپلو گناهونو د بخښني هڅې وشي .

نو د الله پاک رحمت د گناهونو د مغفرت لپاره تر ټولو ستر لامل دی .

د مغفرت د اسبابو په حاصلولو کې ډېر کوښښ اړین دی، مخکې له دې چې دا موقع مو له لاسه ووزي . ( تلک عشرة کاملة )

# دپیغمبرانو – علیهم السلام – د راتګ ضرورت

د دُنیا په تاریخ کې په لکونو نومیالي کسان پیدا شوي، چې هر یوه یې په خپل وخت کې انسانان د ځان په لور متوجه کړي وو .

په هغوی کې حکماء، فیلسوفان، فاتحین او د سیمو او هیوادونو نیوونکي، پهلوانان او صف ماتوونکي، خطیبان او شاعران، د مال او خزانو خاوندان، د حُسن او ښائست لرونکې موجود وو .

ځیني یې داسي هم تېر شوي چې ور ته سجدې شوې دي او د خدایي دعوه یې کړې ده .

خو لیکن په هغوی کې داسي څوک نشته چې ژوندون یې د ټول انسانیت لپاره نمونه وګرزي .

که د مقدونیې سکندر دی، یا د اروپا نپولین، یا دیونان سقراط، افلاطون او ارسطو دی او یا فرعون،قارون او هامان دی او یا نور نومیالي کسان وو، په هغوی کې یو هم څوک نه شي یادولی چې د ده د ژوندانه د هري برخي دي

ketabton.com - The Digital Library


تقلید او تابعداري وشي او دوی دي انسانان د ځان لپاره مقتدایان او پېشوایان وګرزوي .

د دوی مشهورتیا په خپل ځای وه، خو لیکن د انسانیت لپاره د ژوندانه نمونه کېدل به یې ښایي هیڅوک هم و نه شي ګڼلی .

د دې سره به دا هم هر د عقل خاوند مني چې چېرته هم په دُنیا کې د نېکۍ رڼا وي، یا د اخلاقو خوشبویي وي او یا د زړونو د صفایي څرک وي، هغه نه د فیلسوفانو د فلسفي افکارو له امله را منځته شوی، نه د شاعرانو د شعر له امله او نه د سکندر او رُستم د سیمو د نیوني او پهلوانۍ نتیجه ده .

بلکې دا د هغه چا د تعلیم او دعوت نتیجه ده چا ته چې انبیاء کرام – علیهم الصلاة والسلام – ویل کېږي .

د پېغمبرانو - علیهم السلام - حکومت په بدنونو نه وو، بلکې په زړونو وو .

دا وجه ده چې د پخوانیو لویو لویو پاچایانو د واکمنۍ څرک نشته، خو د نبي – علیه السلام – واکمني هغسي چلېږي او تر اوسه یې نبوي ارشادات د نړۍ په هره برخه کې عملي کېږي .

دُنیا د شاعرانو، فیلسوفانو او حکیمانو پرته هم چلېدی شي، خو د پېغمبرانو له تعلیم پرته نه شي چلېدی .

نو نبوت د انسانیت لومړنۍ اړتیا ده .

په دې رڼا د جهالت تیارې له منځه ځي، مړه ارواح پرې ژوندي کېږي او د اخلاقي رنځونو علاج پرې کېږي .

الله-جل جلاله- انسانان او پیریان د یوه ستر مقصد لپاره پیدا کړي دي او هغه دا چې باید دوی په خپل اختیار او خوښه سره د الله - جل جلاله - عبادت وکړي .

ketabton.com - The Digital Library


**حضرت امام اعظم ابوحنیفه - رحمه الله - فرمایلي دي:که الله پاک پېغمبرنه وی را لېږلی، نو د عقل په خاوندانو به د الله پاک په خپلو عقلو سره پېژندل لازم وی ( اصول الشاشي ص : ۳۴ )**

**خو د انسانانو عقلونه قاصر وو، دوی ته په خپلو عقلو د الله پاک پېژندل او د هغه حقوق چې په بندګانو ئې لري، معلومول ګران کار وو، دا هر څه ئې په خپل عقل سره نه شوی پېژندلی .**

**نه ور ته دا معلومېده چې که څوک د الله پاک اطاعت وکړي، الله پاک څه ور کوي ؟ او نه هم په دې پوهېدای شوی چې که څوک د الله پاک عبادت و نه کړي، د هغه لپاره کومي سزاګاني دي ؟**

**نو الله پاک پر خپلو بندګانو دا احسان وکړ، چې پېغمبران ئې ور ته را ولېږل.**

**پېغمبران داسي کسان وو،چې د الله پاک په ټولو بندګانو کې کامل انسانان وو، هم ئې اخلاق او هم ئې صورت تر نورو ټولو کامل وو او هم په ټولو کې عزتمند انسانان وو .**

**الله پاک ملائکې را و نه لېږلې ځکه هغوی د الله تعالی په عبادت نه ستړې کېږي اونه ئې بل داسي بېل مخلوق د پېغمبر په توګه را ولېږی چې د هغه تابعداري انسانانو ته ګرانه وه .**

**بلکې انسان ئې د پېغمبرۍ لپاره غوره کړ، ځکه د انسان تابعداري هم شونې وي او ستړیا، لوږه او تنده هم لري .**

**نو د داسي چا تابعداري هم شونې ده .**

**پېغمبرانو – علیهم السلام - خوراک کاوو، په بازارونو کې هم ګرزېدل، نارینه وو،مېرمني او اولادونه ئې هم لرل .**

**خو د دې سره د بشریت لپاره په هر مُمکن کمال سره متصف وو .**

ketabton.com - The Digital Library


همدا راز آخري پیغمبر محمد - صلی الله علیه وسلم - هم د نورو پیغمبرانو په څېر انسان وو او له هغوی څخه په انساني صفاتوکې بېل نه وو.

الله تعالی فرمایي : قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا (الكهف:۱۱۰)

ترجمه : ور ته ووایه ! خبره دا ده چې زه خو ستاسو په شان یو انسان یم،( فرق مو په دې کې دی چې :) ما ته وحي کېږي ( د ډېرو احکامو خو په هغو کې مُهمه او د ټولو خلاصه دا ده :) چې بې شکه ستاسو خدای هماغه یو خدای دی، نو هر څوک چې د خپل رب سره د ملاقات عقیده لري، هغه دي سم کارونه وکړي او د خپل رب په عبادت کې دي بل هیڅوک نه شریکوي !!

دا آیت صریح دی په دې هکله چې نبي - علیه السلام - هم د نورو انسانانو په څېر انسان وو،لکه څرنګه چې نور پیغمبران انسانان وو.

خو نبي - علیه السلام – تر ټولو په مطلق ډول کامل وو، ځکه په ده کې الله پاک داسې کمالات را جمع کړي وو، چې په بل هیچا کې نه وو .

نبي - علیه السلام - انسانیت ته دین په کامله توګه ورسوی، دوی ته ئې د ښو اخلاقو لارښوونه په عملي توګه وکړه او د دُنیا او آخرت ښېګڼې ئې ور ته په ګوته کړې .

نو اوس په انسانانو اړه لري چې دوی باید د نبي علیه السلام د وینا او طریقو مطابق لار خپله کړي،څو په دې سره تلپاتې نېکمرغۍ او بریالیتوب ته ځانونه و رسوي .

ketabton.com - The Digital Library



# نبي – علیه السلام – په څرنګه وخت کې راغی ؟

کله چې الله پاک د اسلام ستر لاربنود جناب محمد رسول الله - صلی الله علیه وسلم – د انسانانو د لاربنوونې لپاره دُنیا ته راولېږی، په هغه وخت کې د زمکې اوسېدونکې د دین او عقیدې په اعتبار سره دوه ډلې وې .

۱ : اهل کتاب ( د کتاب خاوندان : هغه څوک چې اسماني کتاب ته یې نسبت کېدی . )

۲ : زنادقه ( هغه کافران چې اسماني کتاب ته یې نسبت نه کېدی . )

په دغو دوو ډلو کې اهل کتاب تر خپلې سیالي ډلې غوره وو .

خو اهل کتاب په خپل منځ کې بیا په دوو ډلو وېشل کېدل :

۱ : مغضوب علیهم ( هغه څوک چې د الله پاک له لوري ور باندې غضب شوی وو )

۲ : ضالین (هغه څوک چې د الله پاک له حقې لارې بې لارې شوي وو )

د الله تعالی په غضب اخته ډله یهودیان وو .

په دوی کې دغه لاندیني عادتونه ډېر په پوره پیمانه سره موجود وو :

۱ : دروغ ویل .

۲ : تُهمتونه، بهتانونه او په ناسمه توګه تورونه په بې ګناه کسانو لګول.

ketabton.com - The Digital Library


۳ : دوکې ، چلونه او د ناروا کارونو د حلالولو لپاره حیلې او بهانې جوړول .

۴ : د پیغمبرانو - علیهم الصلاة والسلام - داسې ناحقه وژل چې دوی هم پوهېدل چې دا وژنه موږ په ناحقه کوو .

۵ : حرام خوړل، په ځانګړې توګه رشوتونه او سودونه کول .

۶ : بُغض او عناد په ډېره لوړه کچه موجود وو .

۷ : همدا راز حسد او کینه هم ډېره زیاته وه .

تقریباً اکثره بد عادتونه په دوی کې موجود وو، د الله پاک له رحمت او مهربانۍ څخه ډېر لرې او د الله تعالی قهر او غضب ته ډېر نږدې بلکې ور باندې اخته شوي وو .

همد اراز سحر او کوډګري په دوی کې وه، داسې بې کاره خلک وو چې له خیر او فائدې څخه ډېر لرې او خالي وو .

سره د دې چې په حقیقت به پوه شول،خو بیا به یې هم د ضد او عناد له کبله حق نه منلو ، دا ځکه چې په دوی کې د ننه خباثت موجود وو، تکبر او لویي پکې ډېره زیاته وه او دا به ئې ویل چې موږ خو پوه خلک یو، د پیغمبرانو اولاد یو، موږ څنګه دبل چاخبره ومنو ! ځکه د دې خو دا مطلب دی چې موږ نه پوهېږو، بل څوک موږ ته ښوونه کوي.

له دې امله به د حق منلو ته نه تیارېدل .

ketabton.com - The Digital Library



په اهل کتابو کې دوهمه ډله ضالین او بې لاري وو، دوی په تثلیث عقیده لرله، د صلیب عبادت یې کاوو، الله پاک ته یې ښکنځل کول، داسي ښکنځل چې د دوی په څېر بل چا نه دي کړي .

دوی د الله پاک له توحید څخه مُنکر وو، د الله پاک په هکله له حق څخه اوښتي وو، دا یې نه ویل چې الله پاک داسې ذات دی چې هیڅ ډول شریک اوساری نه لري، بې نیازه او بې پروا دی، نه له ده څخه څوک پیدا شوي او نه دی له چا څخه زېږدلی دی، دی له هر ډول عیبونو او نقصاناتو څخه پاک او د کمال په ټولو صفتونو سره متصف دی .

بلکې بر عکس یې داسې ویل : چې الله پاک د درېو خدایانو له جملې څخه یو دی، بي بي مریم – علیها السلام – د ده مېرمن ده، ( العیاذبالله ) مسیح یې زوی دی او الله پاک له خپلې څوکۍ څخه را کوز شو، د خپلي مېرمنې په نس کې ننوت او بیا دنیا ته راغی، تر دې چې ووژل شو او په زمکه کې ښخ کړل شو، تر مرګ درې ورځې وروسته بیا را ژوندی شو او اسمان ته پور ته شو .

د دوی دین دا دی چې د صلیب عبادت کوي او له هغو انځورونو څخه چې په سرو او زېړو رنګونو سره د کلیساوو په دیوالونو کې جوړ شوي وي، دُعاګانې او د خپلو ستونزو هواری غواړي .

ketabton.com - The Digital Library


د دوی دین د شرابو څښل، د خنزیر ( خوگ ) د غوښې خوړل، د ختنې نه کول، او کول یې حرام گڼل او د ډېرو حرامو او مردارو شیانوحلال گڼل دي .

دوی حلال هغه بولي کوم چې د دوی پاپ ور ته حلال کړي او کوم چې هغه حرام کړي، هغه حرام گڼي، دین یې هغه دی کوم ته چې پاپ دین ووایي، هغه دوی ته گناوې ور بخښي او هغه یې له اوره ژغوري .

( د دوی په اړه پوره معلومات موږ په : عیسی علیه السلام په اسلام او عیسائیت کې . لیکلي دی )

دا خو د هغه چا حالات وو چې اسماني کتاب ور سره وو او په هغه زمانه کې بزرگان دوی وو او ځانونه یې د جنت یوازیني مستحقین گڼل.

له دوی څخه پرته هغه ډلې چې اسماني کتاب ته یې نسبت نه کېدی، لکه مجوسیان او نور ...

د دوی حال تر اهل کتابو ډېر خراب وو، تر دې چې په دوی کې د مور او خور سره نکاح کول رواج وو .

ځینو د اور او رڼا عبادت کوی، ځینو د نورو مخلوقاتو .

په دوی کې شرک ، د پیغمبرانو دروغجن گڼل، له اسماني شریعت څخه په بشپړه توگه انکار او سرغړونه، له قیامته او له دوهم ځلي

ketabton.com - The Digital Library



ژوندانه څخه انکار کول او داسي نور ډېر زیات ناوړه کارونه او ناروا خویونه موجود وو .

د هغي زمانې د حالت په اړه رسول الله – صلی الله علیه وسلم – فرمایلي دي : وَإِنَّ اللَّهَ نَظَرَ إِلَى أَهْلِ الأَرْضِ، فَمَقَتَهُمْ عَرَبَهُمْ وَعَجَمَهُمْ إِلاَّ بَقَايَا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ(مسلم ص: ۳۸۵ ج: ۲)

یعني الله تعالی د زمکې اوسېدونکو ته وکتل، ټول یې ناخوښه شول ، د دوی عرب او عجم، پرته له څه داسي کسانو څخه چې له اهل کتابو څخه پاته شوي وو ( او تر دغه وخته په سم دین روان وو ) !!

نو په داسي حالاتو کې الله – جل جلاله – پر خپلو بندګانو لوی احسان وکړ چې خپل آخرنی او سپېڅلی پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - یې دُنیا ته را ولېږی، دُنیا یې د ده په مبارک راتګ سره منوره او روښانه کړه او ټول غلط کارونه، ناروا دودونه او باطلې عقیدې یې رد کړلې او پر ځای یې یو داسې دین دُنیا ته د الله پاک له لوري راوړی ، چې تر قیامته پورې د ټول انسانیت لپاره د نېکمرغۍ او بري ضامن او په هره معنی پوره او کامل دین دی .

د رسول الله - صلی الله علیه وسلم دُنیا ته راتګ د انساني تاریخ یوه ډېره په زړه پورې او ډېره لویه واقعه وه، چې تر دې بله لویه د خوشحالۍ او مبارکه واقعه ، د زمکې پر مخ نه ده پېښه شوې .

ketabton.com - The Digital Library



**الله - جل جلاله - په قرآن کریم کې فرمایلي دي : لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (سورة آل عمران: ۱۶۴)**

**ژباړه : په یقیني توګه پر مؤمنانو الله پاک احسان کړی، کله چې یې په دوی کې خپله له دوی څخه یو داسي رسول را ولیږی چې دوی ته د الله تعالی آیاتونه بیانوي او دوی له بدو کارو ( ناوړو اخلاقو او غلطوعقیدو څخه ) پاکوي، او دوی ته کتاب ( قرآن کریم ) اوپوهه( حدیث) ور ښیي، او په یقیني توګه دوی له دې مخکې په ښکاره بې لارۍ کې وو !!**

**په دې آیت مبارک کې د نبي – علیه السلام – د بعثت څلور داسي فائدې ذکر کړې دي چې که یوه یې د ټولي دُنیا سره وتلل شي، ترې قېمتي او وزني ده .**

**همدا راز په دې آیت کې یې د نبي – علیه السلام – تر بعثت وړاندې حال هم بیان کړی چې خلګ په ښکاره بې لاریتوب او ګمراهۍ کې پراته وو .**

**څکه خلګ په پوره جهالت او ناپوهۍ کې وو، هم د الله پاک او هم د بندګانو له حقوقو څخه ناخبره وو .**

**تر دې چې د الله تعالی سره یې نور شریکان نیولي وو، د لوږې له وېرې به یې اولادونه وژل او د شرم او پیغور له امله به یې خپلې لوڼې ژوندی ښخولې .**

ketabton.com - The Digital Library



نو د رسول الله - صلى الله عليه وسلم – دنُيا ته په را لېږلو سره الله پاک پر مومنانو لوی احسان وکړ، ځکه چې د ده په ذريعه يې مومنان له تاريکيو څخه را و ايستل او د هدايت او رُشد لار يې ور ته واضحه کړه .

نو بايد چې د دې نعمت شکر اداء کړو او قدر يې وکړو .

د دې نعمت شکر او قدر په دې توګه اداء کېږي چې خپل ژوند د الله پاک د پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - په تابعدارۍ کې تېر کړو او خپل شکلونه، جامه، ناسته، ولاړه او خپل ټول حرکات او سکنات د نبوي ارشاداتو موافق وګرزوو .

او همدا د ده - صلى الله عليه وسلم – د راتګ مقصد دی چې انسانان بايد په ده پسې د ژوند په تېرولو کې اقتداء وکړي، څو تلپاتې نېکمرغي او برياليتوب يې په برخه شي .

بايد موږ داسي وکړو چې ټول عمر د نبي - عليه السلام - مبارکو طريقو ته پاملرنه وکړو، دا نه چې يوازې د ربيعُ الاول په مياشت کې د دوولسم په ورځ يې ياد کړواونور وخت مو ور ته پام نه وي .

ځکه د نبي - عليه السلام - لارښوونې د ژوندانه د هر اړخ او هر وخت سره تعلق لري او په هر وخت کې بايد مسلمان ور ته پاملرنه وکړي همدا د بري لار ده که مو داسي وکړل، ان شاءالله تلپاتې نېکمرغي او خوشحالي به مو په برخه شي .

ketabton.com - The Digital Library


# له دُنیوي عذاب څخه د خوندي کېدو اسباب

کله چې ګناهونه په یوه ټولنه کې عام شي، ډول ډول عذابونه په خلګو نازلېږي چې ضرر یې نه یوازي دا چې ګناهګارانو ته رسېږي، بلکې پاک او ناپاک ټول یې له امله متضرر کېږي .

دغه د دُنیا عذاب د آخرت په نسبت ډېر کم دی او د آخرت عذاب خورا زیات سخت دی چې د دُنیا د عذاب سره مقایسه کول ناسم کار دی .

الله - جل جلاله – په قرآن کریم کې فرمائلي دي : وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (السجدة:۲۱)

ژباړه : له هغه لوی عذاب څخه مخکې به موږ په همدې دُنیا کې د عذاب خوند پر دوی وڅکو، ښایې چې دوی ( له نافرمانیو ) را وګرزي !!

یعني الله - جل جلاله – به دوی په دُنیا کې په عذابونو مُبتلاء کړي، د دې لپاره چې دوی د الله - جل جلاله – لوري ته رجوع وکړي او له کُفر او ګناهونو څخه را وګرزي .

دغه لږ عذاب به پر دوی ستر عذاب ( جهنم ) ته تر رسېدو مخکې نازلېږي .

دُنیوي عذابونه په مختلفو قسمونو سره وي لکه : مرضونه، وچ کالي، د حالاتو کړکېچنتیا، د ظالمانو مسلط کېدل، نا امني، خپلمنځي اختلافات او خپلمنځي جګړې او داسي نور امتحانات او مصائب چې د ګناهونو له امله راځي .

ketabton.com - The Digital Library



دُنیوي عذابونه مختلف قسمونه لري، د هغو تفصیل مو دلته مقصد نه دی، دلته غواړم چې هغه اسباب ولیکم، په کومو سره چې انسان له دُنیوي عذابونو څخه خوندي کېږي .

د دې لپاره ځیني اسباب شته چې په هغو سره انسان له عذاب څخه خلاصېږي.

کوښښ کوم چې په لنډ ډول يې ولیکم ، څو خبره ډېره اوږده نه شي .

هغه اسباب دا دي :

۱ : د نبي - صلی الله علیه و سلم - وجود او شتون په یوه ځای کې .

دا له عذاب څخه د خلاصون یو ستر لامل دی .

الله تعالی فرمائلي دي : وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ (الآية، الانفال:۳۳)

ژباړه : او الله دوی ته عذاب ور کوونکی نه دی په داسي حال کې چې ته په دوی کې موجود يې !!

یعني د الله پاک عادت او طریقه داسي نه ده او نه يې د رحمت او حکمت غوښتنه دا ده چې مشرکانو ته په داسي حال کې عذاب ور کړي چې په هغوی کې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - موجود وي ځکه الله پاک خپل پیغمبر – علیه السلام – د رحمت او نعمت په توګه لېږلی دی، د عذاب په توګه يې نه دی لېږلی او دا د عذاب نه راتلل د نبي - علیه السلام - د اکرام او عزت له امله هم دی .

او بل دا چې د الله پاک سنت هم داسي جاري دی چې منکرینو ته یوازي هغه وخت عذاب ور کوي چې د دوی له منځ څخه پېغمبران ووزي .

ketabton.com - The Digital Library


نو سره د دې چې مشرکینو غوښتنه کړې وه چې که دا قرآن ستا له لوري حق وي، نو پر موږ د اسمان له لوري ډبري و وروه او یا دردناک عذاب را ته راوله، خو بیا هم چې عذاب ور نه کول شو، نو دا د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - د دوی تر منځ وجود وو چې د دوی لپاره له عذاب څخه خوندیتوب وو .

## ۲ : د نبي علیه السلام سره محبت :

خو رښتینی محبت د عذاب مخنیوی کوي، رښتینی محبت په زړه سره وي او د نبي علیه السلام د حکمونو او سنتو په عملي کولو سره وي .

یوازې په دې سره نه چې انسان داسي دعوه ولري چې زه محبت ور سره لرم،سره رښتینی محبت نه حاصلیږي .

علماوو فرمایلي دي چې د نبي علیه السلام سره محبت له عذاب څخه مؤثر مخنیوی دی ځکه کله چې د نبي علیه السلام موجودیت د کافرانو په منځ کې له عذاب څخه مانع دی، نو د مؤمن په زړه کې د ده محبت به څرنګه له عذاب څخه مانع نه وي .

## ۳ : توبه او استغفار :

د الله پاک له عذاب څخه د مخنیوي لپاره یو مؤثر سبب توبه او استغفار دی .الله تعالی فرمایي : وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ(الانفال:۳۳)

ژباړه : او الله پاک دوی ته په داسي حال کې عذاب ور کوونکی نه دی چې دوی بخښنه غواړي !!

مشرکانو سره د دې چې د خلکو په وړاندي خو یې د ځان لپاره د عذاب غوښتنه وکړه، خو په زړه کې د دې خبري په ناسمتیا پوهېدل، نو د عذاب له راتلو وېرېدل او له الله پاک څخه به یې استغفار او بخښنه غوښتله، نو ځکه

ketabton.com - The Digital Library


الله تعالی وفرمایل چې الله تعالی دوی ته د بخښني د غوښتلو په حال کې عذاب نه ور کوي .

معلومه شوه چې استغفار د عذاب له راتلو تر هغه وروسته هم مانع او مخنیوی دی چې د عذاب لاملونه موجود شي .

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمایلي دي: إِنَّ اللهَ جَعَلَ فِي هَذِهِ الْأُمَّةِ أَمَانَيْنِ لَا يَزَالُونَ مَعْصُومِينَ مُجَارِينَ مِنْ قَوَارِعِ الْعَذَابِ مَا دَامَا بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ: فَأَمَانٌ قَبَضَهُ اللهُ إِلَيْهِ، وَأَمَانٌ بَقِيَ فِيكُمْ، قَوْلُهُ: {وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ} (تفسیر ابن کثیر ص:۴۹ ج:۴)

ژباړه : الله - جل جلا له - په دي امت کې دوه امانه مقرر کړي، چې تل به له عذاب څخه خوندي وي تر څو چې هغه دواړه په دوی کې موجود وي .

یو امان الله پاک خپل لوري ته اخیستی دی ( یعني نبي علیه السلام ) او بل په تاسو کې پاته دی( یعني استغفار )، ( د دغه خبري یادونه) د الله پاک ( په دې ) وینا( کې شوې ) ده چې :وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ الآية !!

معلومه شوه چې له عذاب څخه د خلاصون لپاره توبه او استغفار مُهم سبب دی .

نو اوس په دې زمانه کې له عذاب څخه د مخنیوي لومړنی سبب ( د نبي علیه السلام ) وجود نشته، نو باید دوهم سبب ( استغفار ) ته یې خاصه پاملرنه وکړو او له الله - جل جلاله – څخه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړو او توبې ور ته وباسو .

ketabton.com - The Digital Library



## ۴ : له عذابه د خلاصون بل سبب ایمان دی .

**۵ : بل سبب يې شکر دی .** الله تعالی فرمايي : مَا يَفْعَلُ اللَّهُ بِعَذَابِكُمْ إِنْ شَكَرْتُمْ وَآمَنْتُمْ وَكَانَ اللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا (النساء: ۱۴۷)

ژباړه : الله ستاسو په عذاب څه کوي، که مو شکر و ایست او ایمان مو راووړ او الله شکر قبلوونکی پوه دی !!

په دې آیت کې الله تعالی دې خبري ته اشاره کړې چې الله پاک د هیچا په عذابولو ته اړتیا نه لري او نه دا کار الله تعالی ته کومه ګټه رسوي .

خو لیکن د الله تعالی رحمت داسي ځای غواړي چې د رحمت قابل وي او هغه دا چې مؤمن او شکر کوونکی وي .

کله چې کوم ځای له دغي وړتیا خالي وي، نو پر هغه د رحمت پر ځای الله پاک عذاب نازلوي .

نو څوک چې د ځان لپاره نجات او خوندیتوب غواړي، باید ځان په ایمان او الله تعالی ته په شکر کولو ښائسته کړي .

## ۶ : الله پاک ته تضرع او عاجزي کول .

عاجزي د عذاب د دفع کېدو لپاره یو سبب دی .

لکه څرنګه چې دغه خبره د قرآن کریم په مختلفو ځایونو کې ذکر شوې ده . الله تعالی فرمايي : وَلَقَدْ أَخَذْنَاهُمْ بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ (المؤمنون:۷۶).

ژباړه : او په یقیني توګه مو په عذاب کې راګیر کړل، خو نه يې خپل رب ته غاړه کېښوده او نه يې عاجزي وکړه !!

ketabton.com - The Digital Library


په بل ځای کې فرمایي : فَلَوْلَا إِذْ جَاءَهُمْ بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا وَلَكِنْ قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (الأنعام :٤٣)

ژباړه : نو کله چې هغوی ته زموږ عذاب راغی، نو هغوی ولي عاجزي ونکړه ؟ خو د دوی زړونه سخت شول او شیطان هماغه ورته ښائسته کړل څه چې یې کول !!

په بل ځای کې فرمایي : وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا أَخَذْنَا أَهْلَهَا بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُونَ (الأعراف:٩٤)

ژباړه : هیڅکله داسي نه ده شوې چې موږ کومي سیمي ته پیغمبر لیږلی وي، او د هغې سیمي خلک مو مخکې ( د انکار له کبله ) په تنګلاسۍ او کړاوونو کښي نه وي اخته کړي، چې ښایي هغوی په زاریو شي !!

له دغو آیتونو څخه معلومه شوه چې له عذاب څخه د خلاصون لپاره تضرع او عاجزي مؤثر او اغېزناک سبب دی ځکه پر دوی عذاب له دې امله راغلی وو چې په دوی کې عاجزي نه وه، د دې لپاره چې عاجزي پکې راشي .

**۷ : دُعاګاني کول** :دا هم له عذاب څخه د خلاصون یو ستر لامل دی .

الله – جل جلا له – فرمایلي دي : قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّى لَوْلا دُعَآؤُكُمْ ( الفرقان : ۷۷)

ژباړه : ( اې محمده – صلی الله علیه وسلم - ) خلګو ته ووایه ! زما رب ستاسو هیڅ پرواه نه لري، که ستاسو دُعاوي نه وی !!

ketabton.com - The Digital Library


د دې آیت یو تفسیر داسې دی چې الله پاک په تاسو څه پرواه لري، که ستاسو دُعاګانې الله تعالی ته په سختیو کې نه وې، چې په ترخ کې یې الله پاک پر تاسو رحم کوي او هغه تکلیف له تاسو لرې کوي .

له دې آیت څخه معلومه شوه چې په دُعاء سره عذاب ګرزي .

همدا راز الله تعالی فرمایي : وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ (الآية،المؤمن:٦٠)

ژباړه : له مانه دعاء غواړئ، زه به ستاسو دُعاء قبوله کړم !!

په دې آیت کې د دُعاء امر شوی او د الله پاک له لوري یې د قبلولو خبر ور کول شوی ( چې د الله تعالی خوښه شي ) .

نو که انسان له عذاب څخه د خلاصون دُعاوې وغواړي، اُمید شته چې الله پاک یې دُعاء قبوله او عذاب ترې وګرزوي .

نو په دې اړه دُعاء یو اغېزناک سبب دی .

٨ : تقوی او پرهېزګاري :

دا هم له عذاب څخه د خلاصون یو غوره او مؤثر سبب دی .

د حضرت صالح علیه السلام په قوم چې عذاب راغی، نو له عذابه یوازې متقیان مؤمنان خلاص شول .

الله تعالی فرمایلي دي : وَنَجَّيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ(فصلت:١٨)

ژباړه : او موږ هغه خلک وژغورل چې ایمان یې راوړی وو او تقوی یې کوله !!

معلومه شوه چې د ایمان سره تقوی له عذابه د خلاصون لامل دی .

ketabton.com - The Digital Library


**۹ : استقامت :**

**۱۰ : له طُغيان څخه ځان ساتل :**

**۱۱ : ظالمانو ته له مائلېدو ځان ساتل :**

**۱۲ : د لمانځه پابندي کول :**

**۱۳ : صبر :**

**۱۴ : د ښو په لور بلنه او له بدو منع کول :**

دغه وروستني شپږ اسباب په سورة هود کې ذکر شوي دي .

د سورة هود په آخر کې الله پاک شپږ حکمونه مسلمانانو ته کړي، وروسته تر هغه چې د مختلفو قومونو د هلاکت او پر هغوی د ډول ډول عذابونو د راتګ یادونه وشوه .

ور پسې الله پاک دغه شپږ حکمونه ذکر کړي دي .

په دې کې اشاره ده چې یوازې په دغو لارو له عذابونو خلاصېدی شئ .

په دغو شپږو کې لومړنی حکم د استقامت دی .

استقامت د عذاب په دفع کولو کې مؤثر سبب دی، همدا راز استقامت یعني په صحیح او حق لار کلک درېدلو ته په دې وخت کې اړتیا هم زیاته ده .

الله - جل جلا له- فرمايي : فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ(سورة هود : ۱۱۲)

ژباړه : نو ( اې پېغمبره- صلی الله علیه وسلم - ) ته ( او ستا ملګري چې له کفر، شرک او سرغړوني څخه د ایمان او غاړي اېښودلو لوري ته اوښتي دي ) پر سمه لار هغسي برابر ( ثابت قدم ) اوسئ څرنګه چې در ته امر شوی دی !!

ketabton.com - The Digital Library


( یادونه : د استقامت په اړه تفصیل تېر شوی دی .)

دوهم حکم : وَلَا تَطْغَواْ!! دی : الله تعالی فرمايي : وَلَا تَطْغَوْا إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (هود: ۱۱۲)

ژباړه: او (د بندګۍ) له حد څخه مه تېرېږئ! یقیناً هغه ستاسو کړه وینې !!

طُغیان تر حد او اندازې تېرېدلو ته ویل کېږي .

یعني له هغه پولو څخه مه اوړئ چې الله پاک در ته مقرري کړې دي، که په عبادت کې وي او که په ګناهونو کې وي .

په عبادت کې تر حد تېرېدل دا دي چې په عبادت کې له ځانه زیاتوالی وکړل شي، دې ته بدعت ویل کېږي او بدعت ګناه ده .

او په ګُناهونو کې دا دی چې الله پاک کوم شی ناروا کړی وي، د هغه له کولو ځان نه ساتل طُغیان، سرکشي او تر ټاکلي حد تجاوز او تېری دی.

نو که دا اصلی پلی شي، چې د الله تعالی له لوري تر ټاکلو حدودو تجاوز و نه شي، نو دا هم له عذاب څخه د خوندیتوب ستر او مؤثر لامل دی .

دریم حکم : وَلَا تَرْكَنُوا! دی .

ظالمانو ته مائلېدل او کږېدل هم د الله پاک د عذاب لامل دی او له مائلېدلو یې ځان ساتل د عذاب د مخنیوي سبب دی .الله – جل جلاله – فرمائلي دي : وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ (هود: ۱۱۳).

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه : او تاسو د ظالمانو خوا ته مه کږېږئ، (که ور کاږه شوئ !) نو اور به در ورسېږي او ( په دې وخت کې به ) ستاسو لپاره له الله پرته څوک دوست نه وي ( چې له عذاب څخه مو وژغوري ) بیا به ستاسو سره ( هیڅ ) مرسته نه کېږي !!

مولانا اشرف علي تهانوي – رحمه الله - د دې آیت په تفسیر کې لیکي : یعني د دغو ظالمانو سره یا څوک چې د دوی په څېر وي، د دوی سره دوستي او په حالاتو او کارو کې شرکت مه کوئ ( تفسیر بیان القرآن ص : ۴۸۸ )

څلورم حکم : وَأَقِمِ الصَّلَاةَ! دی .

الله تعالی فرمائلي دي : وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ (سورة هود: ۱۱۴)

ژباړه : او لمونځ د ورځې په دواړو خواوو کې او څه د شپې په ساعتونو کې قائم کړه .

په حقیقت کې نېکي، بدۍ له منځه وړي،دا د هغو خلکو لپاره یوه یادونه ده چې د خدای په یاد لرونکې دي !!

لمونځ یو مُهم عبادت دی، چې د عذاب په مخنیوي کې ډېر اغېزناک رول او اثر لري، تر ایمان وروسته تر ټولو مُهم عبادت او الله تعالی ته د نږدې کېدو غوره ذریعه ده .

پنځم حکم : وَاصْبِرْ ! دی . الله تعالی فرمایي : وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ (سورة هود: ۱۱۵)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه : او صبر وکړه ! په یقیني توګه الله د نېکې کوونکو اجر نه ضائع کوي !!

صبر هم داسي صفت دی چې له امله یې د الله پاک له عذاب څخه خوندیتوب انسان ته په برخه کېږي .

صبر داسي جامع صفت دی چې ټول دین ته شاملېږي :

۱ : د عبادت په تر سره کولو صبر .

۲ : له ګناه څخه صبر .

۳ : په مصیبتونو او تکلیفونو صبر کول .

نو صبر هم داسي صفت دی چې له امله ئې د الله پاک له عذاب څځه نجات پیدا کېږي .

**شپږم حکم** : فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ الآية ، دی .

امر بالمعروف او نهي عن المنکر د عذاب د دفع کېدو یو مُهم سبب دی .

الله تعالی فرمايي : فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُولُو بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ وَاتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مَا أُتْرِفُوا فِيهِ وَكَانُوا مُجْرِمِينَ (سورة هود: ۱۱۶)

ژباړه : نو ولي په هغو قومونو کې چې تر تاسو مخکې تېر شوي دي، د خیر خلګ موجود نه وو، چې نور خلګ یې په زمکه کې له فساد کولو منع کړي وی، پرته له لږو کسانو چې موږ هغوی له هغو قومونو څخه وژغورل .

ketabton.com - The Digital Library



او ظالمان په هغو خوندونو پسې شول چې د هغو وسایل پرېمانه ور کول شوي وو او هغوی مجرمان وو !!

یعني دا ضروري وه چې په وړاندینو هلاک شوو امتونو کې د عقل د خاوندانو یوه ډله موجوده وی چې هغوی یې له بدو کارو منع کولی، څو په دې سره د الله پاک له عذاب څخه ژغورل شوي وی، ځکه الله پاک یو قوم یوازي هغه وخت هلاکوي کله چې فساد، ظلم او ګناوي په اکثریت کې عام شي، خو لیکن په دوی کې یوازي لږ داسي ضُعفاء او کمزوري خلګ وو، چې خبره یې نه اورېدل کېده، خو کله چې عذاب راغی، دغه کمزوري خلګ بچ شول، ظالمان او مفسدین هلاک شول .

په دې آیت کې د دې اُمت هڅونه ده چې په دوی کې باید داسي د خیر خلګ وي چې خلګ له بدو منع کوي او د ښو په لور بلنه ور کوي، څو له داسي برخلیک سره مخ نه شي د کوم سره چې پخواني خلګ مخ شوي وو.

نو له دې آیت څخه معلومه شوه چې له بدو منع کول له عذاب څخه د خلاصون سبب دی .

په دې اړه نور هم زیات آیتونه او حدیثونه شته چې له هغو ټولو معلومېږي چې امر بالمعروف او نهی عن المُنکر د عذاب په مخنیوي کې مؤثر سببونه دي .

۱۵ : بل سبب د عذاب د دفع کېدلو خاص دی، یوازي د کافرانو سره اړه لري او هغه دا چې الله - جل جلاله – له کافرانو عذاب له دې امله دفع کوي چې په دوی کې مسلمانان اوسي .

ketabton.com - The Digital Library



لکه څرنګه چې د حُدیبیې د صُلحي له واقعې معلومېږي چې الله تعالی دا خبره داسي بیان کړې ده : وَلَوْلَا رِجَالٌ مُؤْمِنُونَ وَنِسَاءٌ مُؤْمِنَاتٌ لَمْ تَعْلَمُوهُمْ أَنْ تَطَؤُوهُمْ فَتُصِيبَكُمْ مِنْهُمْ مَعَرَّةٌ بِغَيْرِ عِلْمٍ لِيُدْخِلَ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ لَوْ تَزَيَّلُوا لَعَذَّبْنَا الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا (سورة الفتح:۲۵)

ژباړه : که ( په مکه کې ) داسي مؤمن نارینه او مؤمني ښځي موجودي نه وی، چې تاسو هغوی نه پېژندل ( چې هغوی مسلمانان دي، که دا خطره نه وه : ) چې تاسو به هغوی ( په ناخبرتیا سره د کفارو سره یوځای ) پایمال کړئ،( نو الله - جل جلاله – به دجهاد حکم در کړی وی او د جنګ مخنیوی به نه وی شوی، مخنیوی وشو او له دوی عذاب وځنډول شو ) د دې لپاره چې الله – تعالی – چې چا ته وغواړي په خپل رحمت کې ئې داخل کړي،( په داسي توګه چې مؤمنان د کافرانو له منځه وباسي او له کافرانو څخه ډېر کسان اسلام ته وګرزوي ) که هغه مسلمانان ( له کافرانو څخه ) بېل شوي وی، نو له دوی ( د مکې له خلګو څخه ) چې څوک کافران شوي وو، هغو ته به مو خامخا دردناک عذاب ور کړی وی !! (یعني تاسو به مو پرې مسلط کړي وی او هغوی به مو په عبرتناکه توګه وژلي وی ) .

په دې مبارک آیت کې الله - جل جلاله – په حُدیبیه کې د جنګ د اجازت د نه ور کولو وجه بیان کړې او هغه دا چې د دوی په منځ کې څو مسلمانان اوسېدل، چې په اړه ئې تاسو معلومات نه درلودل، نو که جنګ شوی وی، هغوی ته به زیان رسېدلی وی، تاسو به په ناخبرتیا سره وژلي وی، په دې چې تاسو نه پېژندل چې دا مسلمانان دي .

ketabton.com - The Digital Library



حضرت جنید بن سبع انصاري - رضی الله عنه - هم په هغو مؤمنانو کې وو چې په مکه مکرمه کې اوسېدل، دی په مکه کې د مېشتو مسلمانانو د شمېر په اړه فرمايي : كُنَّا ثَلَاثَةَ رِجَالٍ وَتِسْعَ نِسْوَةٍ، وَفِينَا نَزَلَتْ:وَلَوْلَا رِجَالٌ مُؤْمِنُونَ وَنِسَاءٌ مُؤْمِنَاتٌ ( قال الهيثمي : رواه الطبراني بإسنادين رجال أحدهما ثقات مجمع الزوائد ص:۲۳٦ ج:۷)

ژباړه : موږ درې نارينه وو او نه (۹) ښځې، او زموږ په اړه : وَلَوْلا رِجَالٌ مُؤْمِنُونَ وَنسَاءٌ مؤْمَنَاتٌ } نازل شوی دی !!

دا په داسي حال کې چې د آيت په سر کې الله - جل جلاله – هغه اسباب بيان کړي چې له امله ئې بايد د مشرکينو سره جګړه وشي، هغه دا چې کفر يې کړی، رسول الله - صلی الله عليه وسلم - او د هغه سره ملګري يې له مسجد حرام څخه منع کړي چې هغوی د حج او عُمرې لپاره ورشي.

خو بيا هم له دوی سره د جګړې حکم الله پاک په دې ور نه کړ چې هلته مېشتو مسلمانانو ته په ناخبرتيا او تېروتني سره زيان و نه رسېږي.

معلومه شوه چې په دُنيا کې پر کافرانو هم کله کله عذاب له دې امله نه راځي چې د هغوی په سيمه کې مسلمانان مېشت وي .

دا ځکه چې مسلمان د الله تعالی سره د ډېر زيات قدر او عزت خاوند دی .

ketabton.com - The Digital Library


که دغه اسباب عملي شي، نو ان شاء الله تعالی نه یوازي دا چې له دُنیوي عذاب څخه به مو الله پاک وساتي، بلکې له اُخروي څخه به مو هم وساتي .

الله پاک دي د عمل توفیق راکړي آمین یا رب العالمین .

## مرګ باید په یاد ولرو

مرګ د هر انسان لار ده او هر انسان به یوه ورځ آخري ورځي ته رسېږي، داسي سهار چې وروسته به پرې ماښام نه راځي او یا داسي ماښام چې سهار به پرې نه راځي .

په مرګ سره د آخرت سفر شروع کېږي او تر مرګ وروسته انسان ته یا جنت انتظار کوي، چې نعمتونه او خوشحالی یې تلپاتي دي او یا اور،چې عذاب یې دردوونکی دی .

خو زموږ انسانانو په دُنیا کې دومره غفلت زیات شوی، چې له امله مو یې مرګ هېر کړی او فکرونه مو ترې اوړېدلي دي .

خو مرګ داسي حقیقت دی چې د هر اورېدونکې په غوږ کې یې دا اعلان شوی چې مرګ به راځي .

د هر عاقل عقل منلی چې مرګ به راځي .

او د هر ژوندي زړه ته تېره شوې چې له الله پاک پرته نور ټول به مړه کېږي .

الله - جل جلا له - فرمایي : كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ الآية (القصص:۸۸)

ژباړه : د الله له ذات پرته هر شی هلا کېدونکی دی !!

ketabton.com - The Digital Library



مرگ داسي حقیقت دی چې ظالم او مظلوم دواړه به یې څکې او دا داسي یوه لار ده چې پرې نېکان او بدان ټول تلونکې دي او داسي حقیقت دی که هر څومره ترې انسان تېښته کوي، خو بیا هم ترې خلاصېدی نه شي .

الله تعالی فرمایي : قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ (الجمعة:٨)

ژباړه : دوی ته ووایه : له کوم مرگ څخه چې تاسو تښتئ، هغه تاسو ته مخامخ راتلونکی دی . بیا به د هغه ذات حضور ته وړاندي شئ چې په پټ او ښکاره پوهېدونکی دی، نو هغه به تاسو ته وښیي چې تاسو ( په دُنیا کې ) څه کول !!

یعني که په هر لوري ستا گومان د خلاصېدو وي او په هغه لور ترې وتښتې، له هغي خوا مرگ در ته مخامخ راځي او نیسي دي .

څوک چې ژوند وکړي، یوه ورځ به مړ کېږي .

مرگ یاد ساتل انسان له ټولو گناهونو را گرزوي او د نېکو کارونو تر سره کول ور ته اسانېږي . په حدیث شریف کې راغلي دي :

عن أبي هريرة قال : قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الموت (رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه\مشكوة المصابيح ص:١٤٠ ج:١).

ژباړه : له حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د خوندونو د ماتوونکې ( یعني د : ) مرگ یاد ډېر کړئ !!

ketabton.com - The Digital Library



علماوو ویلي دي چې په دې حدیث کې په لنډو ټکو پوره او هر اړخیز نصیحت شوی، ځکه د مرګ په یاد ساتلو سره د دین مطابق ژوند کول اسانېږي .

مرګ داسي حقیقت دی چې د راتلو لپاره یې ټاکلی سِن او عُمر نشته، نه ټاکلی وخت او موسم لري او نه ټاکلی مرض لري چې څوک مري په هغه مرض دي اخته کېږي .

دا د دې لپاره نامعلوم دی څو بنده ور ته تل د چمتووالي په حال کې وي او ترې غافل نه شي

حضرت تیمي - رحمه الله - ویلي دي : دوه شیان دي چې زما څخه یې د دُنیا خوند قطع کړی دی : د مرګ یاد او د الله تعالی په مخ کې د درېدلو یاد ( التذکرة للقرطبي ص : ۸ ج :۱ )

عمر بن عبد العزیز - رحمه الله - به علماء راغونډکړل، مرګ، قیامت او آخرت به یې سره یادوی او داسي به یې ژړل لکه د دوی مخي ته چې جنازه وي ( التذکرة ص : ۸)

حضرت دقاق - رحمه الله - د مرګ د یادولو ګټې او دهېرولو د زیانونو په اړه فرمائلي دي : څوک چې مرګ ډېر یادوي، په درو شیانو به عزتمند کړل شي :

( ۱ ) بېړنۍ توبه .

( ۲ ) د زړه قناعت .

( ۳ ) او په عبادت کې بیداري .

او څوک چې مرګ هېر کړي، په درو شیانو سره به عذاب ور کړل شي:

ketabton.com - The Digital Library



( ۱ ) د توبې ځنډول .

( ۲ ) په دومره مال چې د چا کفایت او ګوزاره پرې کېږي، نه راضي کېدل .

( ۳ ) او په عبادت کې سُستي . ( التذکرة ص : ۸)

د دُنیا په ژوندانه باوري کېدل او آخرت هېرول ناپوهي ده .

باید تل دا فکر وکړو چې دا ژوند تېرېږي او تل به نه وي .

یوه سړي یوه عالم ته وویل : داسي یو نصیحت را ته ولیکه چې په غم او تکلیف کې ور ته وګورم، ځان پرې تسلي کړم او په خوشحالۍ کې ور ته وګورم، خپله خوشحالي پرې کنترول کړم !

هغه ور ته ولیکل : دا وخت به هم تېر شي !!

نو د ګناه د خواهش د پیدا کېدو په وخت کې هم باید انسان دې خبري ته پام وکړي چې دا وخت او عمر تېرېږي .

د دې ګناه خوند به تل نه وي .

ځینو عالمانو ویلي دي چې انسانه ! ته هغه یې چې ته په کومه ورځ وزېږېدې! تا ژړل، خو ستا چاپېره خلګو د خوشحالۍ له امله خندل .

نو داسي عمل وکړه چې ستا د مرګ په ورځ ستا چاپېره خلګ د غم له امله ژاړي او ته د خوشحالۍ له امله خاندې !!

الله پاک دي توفیق راکړي چې له مرګ څخه غافل نه شو او تل ور ته په تیاري کولو بوخت و اوسو .

ketabton.com - The Digital Library



# هغه کارونه چې اسلام پرې ولاړ دی

**هغه کارونه چې اسلام پرې ولاړ دی او د اسلام ارکان دي، پنځه دي .**

**موږ باید خپل اعمال په دغو پنځو ستنو په درولو سره محکم کړو .**

**په دې زمانه کې چې د دیني احکامو په اړه د خلګو سُستي ځومره زیاته شوې، هر چا ته معلومېږي، تر دې چې تر ایمان وروسته تر ټولو مُهم عبادت لمونځ دی، د قیامت په ورځ به هم تر ټولو وړاندي د لمانځه په هکله پوښتنه کېږي .**

**د دغه مُهم عبادت په اړه همدا راز د اسلام د نورو ارکانو : زکات، حج او د رمضان د روژې په هکله هم له ناغېږی او سُستی ځخه کار اخیستل کېږي**

**.**

**دا په داسي حال کې چې پکار خو دا ده چې په دې اړه له هر ډول سُستی ځخه په کلکه ځانونه وژغورو . هغه پنځه شیان دا دي :**

عَنِ ابنِ عُمَرَ - رضی الله عنهما - قَالَ : قال رَسُولُ اللهِ - صلی الله علیه وسلم - : بُنِيَ الإِسْلامُ عَلَى خَمْسٍ : شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلهَ إِلاَّ اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ (متفقٌ عَلَيهِ\ مشكاة المصابيح ص: ١٢ ج:١).

**ژباړه : له حضرت عبدالله بن عمر – رضی الله عنهما – ځخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل : اسلام پر پنځو ( شیانو ) بناء شوی دی، ( تر ټولو لومړی :) د دې خبري شاهدي ور کول چې له الله – تعالی – پرته ځوک د عبادت وړ نشته او محمد – صلی الله علیه وسلم - پیغمبر دی .**

ketabton.com - The Digital Library


( ۲ ) د لمانځه قائمول .

( ۳ ) د زکوة اداء کول .

( ۴ )حج کول .

( ۵ ) او د رمضان روژې نیول !!

( بخاري او مسلم )

په دې حدیث کې د اسلام د ستنو او د هغو سترو شیانو یادونه شوې چې اسلام پرې ولاړ دی .

دا هغه ستني دي چې اسلام پرې ولاړ دی، له دې پرته نور دین د دې بناء او تعمیر مکملات دي او معلومه خبره ده چې په تعمیر کې هغه وخت استوګنه ښه خوند کوي، همدا راز تعمیر ښائسته وي او انسان پکې ډېر خوشحال وي، کله چې پوره وي .

څومره چې تعمیر پوره وي، هغومره پکې انسان ډېر نېکمرغه وي .

همدا راز اسلام هم دی، کله چې یې څوک دغه پنځه ارکان او بناوي عملي کړي، نو اسلام موجود شو، نور د اسلام تعمیر به هغه وخت چا بشپړ کړی وي، کله چې یې په ټول اسلام عمل کړی وي .

رسول الله - صلی الله علیه وسلم - په دې مبارک حدیث کې د اسلام تشبیه د یوې خېمې سره ور کړې ده، چې په پنځو ستنو ولاړه وي، د شهادت کلمه د خېمې د منځني لکړي په څېر ده، چې له هغه پرته خېمه درېدای نه شي .

پاته څلور ارکان یې د خېمې د هغو څلورو لکړو په څېر دي چې د خېمې څلورو خواوو ته ولاړ وي .

ketabton.com - The Digital Library



که منځنۍ لکړه نه وي، نو خېمه نه شي درېدلای، خو که دا موجوده وي او د څلورو خواوو له لکړو څخه کومه یوه نه وي، نو خېمه خو به ودرېږي، خو د کوم طرف لکړه چې نه وي، هغه طرف به راغورزېدلی او ناقص وي .

له حدیث څخه یوه دا فائده معلومېږي چې له ایمان پرته عبادت معتبر نه دی .

بله فائده دا معلومېږي چې د لمانځه له اداء کولو، د زکوة له ور کولو، د حج له اداء کولو ( څوک چې یې وس ولري ) او د رمضان د روژې له نیولو پرته څوک پوره مسلمان نه شي جوړېدلای .

خو د دې حدیث دا مطلب نه دی چې فرائض په دې پنځو کې حصر دي او له دې پرته نور نشته، بلکې له دې پرته نور هم شته .

نو په دې اړه باید له هر ډول سُستۍ او ناغېړۍ څخه په کلکه ځان وژغورل شي، څو د اسلام پنځه اساسي خبري عملي شي .

# د یوه او بل سره د مرستې اهمیت

د اسلام مبارک دین یو کامل او مکمل دین دی چې د انسان د ژوند په هره برخه کې یې لارښووني موجودي دي، د کومو په عملي کولو کې چې د دین او دُنیا دواړو برې او کامیابي نغښتې ده .

ketabton.com - The Digital Library



اسلام یوازې د اوداسه، لمانځه، روژې او ځینو عبادتونو نوم نه دی، بلکې داسلام مبارک دین د انسان د عقیدې،عباداتو، اخلاقو، او ټولنیز تعامل یو بشپړ قانون دی .

په همدې مُبارک دین کې یو مُهم رکن، د دین د پیروانو تر منځ د یوه او بل سره مرسته کول دي .

الله – سبُحانه و تعالی – فرمایلي دي : وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (سورة المائدة: ۲)

ترجمه : او تاسو د یوه او بل سره مرسته وکړئ په نېکۍ او پرهېزگارۍ کې،
او یو له بل سره په گناه او دښمنۍ کې مرسته مه کوئ ،
او له الله (جل جلاله) څخه وویرېږئ،بې شکه الله ډېر سخت عذاب ور کوونکی دی !!

په دې آیت مبارک کې د مسلمانانو لپاره یو قانون بیان شوی چې دوی باید د یوه او بل سره د خیر او پرهېزگارۍ په کارو کې مرسته وکړي او د ظلم، گناه او فساد په کارو کې دي د یوه او بل سره مرسته نه کوي.

له دې مُبارک آیته دا هم معلومېږي چې د مسلمان مسئولیت یوازې د ځان په اړه نه دی،چې دا فکر وکړي چې د بل چا د ښو او بدو سره کار

ketabton.com - The Digital Library



**نه لرم، خپل لمونځ او اودس کوم، بلکې د نورو خلګو سره هم تعلق لري چې یو یې دا دی چې د خیر او تقوی په کارو کې به د نورو سره مرسته کوي .**

عَنْ أَبِي مُوسَى عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمُؤْمِنَ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا وَشَبَّكَ أَصَابِعَهُ (رواه البخاري رقم: 467 و مسلم رقم: 2585)

**ژباړه : له حضرت ابوموسی اشعري – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې نبي – صلی الله علیه وسلم وفرمایل : یو مؤمن د بل مؤمن لپاره د یوې ودانۍ په څېر دی، چې یوه برخه یې بله برخه ټینګوي، او ( نبي – علیه السلام – د خلګو د پوهولو لپاره ) خپلې ګوتې سره ونښلولې !!**

**په دې حدیث کې د اسلامي ټولنې انځور د یوې ودانۍ په بڼه وړاندې شوی. لکه څرنګه چې د ودانۍ یوه خښته بله ټینګوي ، همدا راز مسلمان هم باید د یوه او بل داسي مرسته او ملاتړ وکړي چې د یوه او بل د ټینګولو او کلکولو لامل شي .**

**په بل حدیث کې راغلي دي :**

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى.(رواه البخاري رقم: 5665 و مسلم رقم: 6751)

ketabton.com - The Digital Library


**ژباړه : له حضرت نعمان بن بشير – رضي الله عنهما – روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه و سلم – وفرمايل : د مؤمنانو مثال د يوه او بل سره په مينې، شفقت او پر يوه او بل په زړهسوې کې د يوه بدن په څېر دی؛ چې کله د بدن کوم غړی ناروغ شي، ټول بدن په بې خوبۍ او تبه کې د هغه غړي سره ملګري کېږي !!**

**دې حديث کې د مسلمانانو تر منځ د يووالي، غمخوارۍ او ګډ مسئوليت اهميت تشريح شوی دی .**

**مسلمانان بايد په ستونزو او پرېشانيو کې د يوه او بل سره مرسته وکړي .**

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَاللَّهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ (الحديث، رواه مسلم رقم: 7028)

**ژباړه : له ابو هريره (رضي الله عنه) څخه روايت دی چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل : څوک چې د يوه مؤمن له دُنيوي ستنونزو او سختيو څخه کومه سخته ليري کړي، الله تعالی به د قيامت په ورځ د هغه له سختيو څخه يوه سخته ليري کړي .**

ketabton.com - The Digital Library


او څوک چې پر کوم تنګسیا ځپلي (پوروړي یا بېوزله) باندې اسانتیا راولي، الله تعالی به په دُنیا او آخرت کې پر هغه باندې اسانتیا راولي .

او څوک چې د کوم مسلمان عیب پټ کړي، الله تعالی به په دنیا او آخرت کې د هغه عیبونه پټ کړي .

او الله تعالی د بنده په مرسته کې وي تر څو چې بنده د خپل ورور په مرسته کې ( بوخت) وي!!

له دې حدیث څخه د یوه او بل سره د مرستې کولو ډېره لویه ګټه معلومېږي او هغه دا چې دا د الله تعالی د مرستې او کومک لامل دی .

د ډېرې غندنې او افسوس ځای دی چې نن ورځ ځینې دینداره خلک داسې انګېري چې یوازې د پنځه وخته لمانځه په ادا کولو سره د دوی مسئولیت ختم شو او همدا د نجات لپاره کافي دی. په داسې حال کې چې اسلام له موږ څخه غواړي چې د عبادتونو د سمې ادا کولو ترڅنګ، د خپلو مسلمانو وروڼو په غم او ښادۍ کې شریک شو او په سختو شرائطو کې هغوی یوازې پرې نږدو.

که چېرې همدا زرین اسلامي اصول زموږ په ژوند کې په ریښتینې توګه عملي شي، نو زموږ مسلمانه ټولنه به له ګڼو مادي او معنوي ستونزو، فقر او پرېشانیو څخه وژغورل شي او د یوه واقعي مومن اخلاقي انځور به ټولې نړۍ ته وړاندې شي.

ketabton.com - The Digital Library



# پر انسان راتلونکې حالات او د ده مسئولیتونه

په دُنیا کې هیڅ انسان له څلورو حالاتو خالي نه دی .

په یوه کې به خامخا داخل وي .

په کوم حالت کې چې داخل وي، باید هغه مسئولیت اداء کړي کوم چې دی په هغه حالت کې لري .

١ : د الله پاک عبادت او بندګي : ځیني کسان داسي وي چې هغوی ته الله پاک د خپل عبادت او بندګۍ توفیق ور کړي او دوی د الله تعالی په طاعت کې مصروف وي .

که د چا دا حالت وي، هغه باید له الله پاک څخه د خپلو نېکو اعمالو د قبلېدو دُعاګاني وغواړي .

دا ځکه چې که څوک هر څومره زیات عبادتونه وکړي، ټوله شپه نفلونه او د ورځې روژې نیسي، خیراتونه، جهادونه او نور د خیر په هر کار کې تر نورو وړاندي وي، خو چې د الله پاک په دربار کې قبول نه شي، هیڅ نه دي .

دا ځکه چې د الله په وړاندي قبولیت اعتبار لري، یوازي قابلیت او وړتیا بسنه نه کوي .

دا وجه وه چې فضیل بن عیاض - رحمه الله - د غلو د یوې ډلي مشر وو، خو چې د الله پاک په دربار کې قبول شو، نو نه یوازي دا چې له هغه حالته راووت بلکې د الله پاک د دوستانو د یوې ډلي مشر شو .

ketabton.com - The Digital Library


ابلیس عبادت ګذار وو، د عبادت قابلیت او وړتیا یې لرله، خو چې مقبولیت یې نه وو، الله پاک له خپله درباره و شړی، سره د عبادت کولو د الله پاک دښمن شو .

معلومه شوه چې اعتبار قبولیت ته دی .

له دې امله باید هغه څوک چې ژوند یې په طاعت او عبادت کې تېرېږي، په خپل عبادت مغرور نه شي او سره له عبادته باید له الله پاک څخه استغفار او بخښنه وغواړي، څو الله پاک یې د عبادت کمی ور وبخښي او عبادت یې ترې قبول کړي .

الله تعالی د جنتیانو د صفاتو د بیانولو په لړ کې فرمایلي دي: إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ، كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ،وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ (الذاريات:١٦،١٧،١٨)

ترجمه : یقیناً دوی له دې وړاندي ( په دُنیا کې ) نېکې کونکې وو، هغوی به د شپې لږ ( وخت ) ویده کېدل او په سهارونو ( د شپې په وروستیو شېبو ) کې به یې ( له الله پاک څخه ) بخښنه غوښتله !!

په دې آیتونو کې یې دا صفت بیان شوی چې دوی په دُنیا کې ښه کارونه کول او د شپې لږ ویدېدل خو د دې سره به یې هم د شپې په آخر کې له الله پاک څخه بخښنه غوښتله .

معلومه شوه چې تر عبادت وروسته هم باید انسان له الله پاک څخه بخښنه وغواړي او پر خپل کړي عبادت مغرور نه شي .

۲ : له ګناهونو ډک ژوند تېرول : ځیني کسان داسي وي، چې هغوی په ژوندانه کې له ګناهونو ډک ژوند تېروي .

ketabton.com - The Digital Library


داسي کسان باید د الله پاک له رحمت څخه مایوس او نا امیده نه شي، بلکې باید د الله پاک لوري ته ور وګرزي .

ځکه د دوی ګناهونه که هر څومره زیات وي، د الله پاک رحمت تر هغه هم زیات او پراخ دی . الله تعالی فرمایلي دي : قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ (الزمر : ٥٣)

ژباړه : اې پېغمبره ! – صلی الله علیه وسلم – زما هغو ( مؤمنو ) بندګانو ته چې پر خپلو ځانو يې ظلم کړی دی، ووایه ! د الله له رحمت څخه مه ناهیلي کېږئ، په یقیني ډول الله ټولي ګناوي بخښي، هغه ډېر بخښونکی مهربان دی!!

په دې آیت کې الله پاک خپلو ګناهګارو بندګانو ته د خپل رحمت او مغفرت په پراخوالي خبر ور کړی او دوی يې خپل لوري ته په ور ګرزولو هڅولي او له نا امیدۍ څخه يې منع کړي دي .

چې که هر څومره زیات ګناهونه وي، د هغو د ختمولو لپاره لار دا ده چې الله تعالی ته رجوع وشي او له هغه څخه بخښنه وغوښتل شي .

٣ : په خوشحالۍ کې کېدل : ځیني کسان داسي وي چې هغوی د خوشحالۍ او سوکالۍ ژوند تېروي، داسي کسان باید د الله پاک شکر اداء کړي، څو الله پاک يې دغه خوشحالي او سوکالي ور ته دوامداره کړي . الله تعالی فرمایي : وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ (سورة ابراهيم : ٧).

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه : او په یاد ولرئ، ستاسو رب خبردار کړي واست چې که شکر وباسئ، نو پر تاسي به لا زیاته پېرزوینه وکړم او که د نعمت ناشکري وکړئ، نو زما سزا ډېره سخته ده !!

په دې آیت کې الله پاک خپل بندګان د نعمتونو په شکر کولو هڅولي او له ناشکرۍ څخه یې منع کړي دي .

د شکر ګټه دا ده چې نور نعمتونه به الله پاک پرې وکړي او د ناشکرۍ پایله عذاب دی او له عذاب څخه دا هم ده چې دغه نعمتونه ترې ختم شي .

شکر د الله تعالی د نعمتونو په زړه سره اقرار دی، په ژبه یې د هغو له امله ستاینه ده او د هغو په هغه څه کې مصرفول چې د الله تعالی د رضاء لامل وي .

ناشکري برعکس کارونو ته ویل کېږي .

خو ځیني خلګ داسي دي چې هغوی د شکر د اداء کولو پر ځای ناشکري کوي .

کاروبار او ژوند به یې ښه برابر وي، خو چې ترې پوښتنه وکړې چې کاروبار او ژوند دي څرنګه دی ؟

دی په جواب کې په ناشکرۍ کولو پیل کوي، کارونه خراب دي او . . . دا ډېر ناوړه او بد عادت دی چې د شکر د اداء کولو پر ځای نه یوازي دا چې شکر نه اداء کوي بلکې برعکس ناشکري کوي .

۴ : په تنګلاسۍ او تکلیف کې کېدل : ځیني خلګ داسي وي چې هغوی په تنګلاسۍ او تکلیفونو کې ژوند تېروي .

ketabton.com - The Digital Library



هغوی باید په دغو حالاتو صبر وکړي .

د صبر نتیجه دا ده چې الله تعالی فرمايي :إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ(البقرة:۱۵۳)

ژباړه : الله د صبر کوونکو سره ( ملګرى ) دى !!

د صبر په اړه علماوو ليکلي دي چې د صبر د ايمان سره تړاو داسي دى لکه د سر تړاو د بدن سره، که څوک صبر نه لري، هغه ( کامل ) ايمان نه لري، لکه څرنګه چې څوک سر نه لري، هغه بدن نه لري ( مدارج السالکين ص : ۱۵۵ ج : ۲ ) .

د مؤمن صفت دا دى چې هغه بايد په خوشحالۍ او پراخۍ کې د الله پاک شکر ګذار وي او په تکليف او تنګلاسۍ کې صبر کوونکې وي .

د دې پايله دا ده چې دغه دواړه حالتونه به د ده لپاره خير او ګټه وي .

په حديث شريف کې راغلي دي :

عَنْ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-: عَجَبًا لأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ لَهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذَلِكَ لأَحَدٍ إِلاَّ لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ.(رواه مسلم ص:۴۱۳ ج:۲)

ژباړه : له حضرت صهيب – رضى الله عنه – څخه روايت دى چې رسول الله – صلى الله عليه و سلم – وفرمايل : د مؤمن کار ته تعجب کوم، بېشکه د ده ټول کار د ده لپاره خير ( او فائده ) ده او دا ( چې ټول کارونه د چا په ګټه وي ) له مؤمن پرته د بل چا لپاره داسي نه دي . ( دا په دې توګه خير دي : )

ketabton.com - The Digital Library



که ده ته خوشحالي ورسېږي، دی شکر کوي، نو دا خوشحالي د ده لپاره خیر شي او که ور ته تکلیف ورسېږي، دی صبر کوي، نو دا تکلیف د ده لپاره خیر شي !!

که څوک په دغو حالاتو کې یاد شوي مسئولیتونه اداء کړي، ان شاء الله تعالی هغه انسان به بریالی وي .

# پنځه خبري چې انسان بري ته رسوي

پنځه داسي ارزښتناکې خبري دي چې که ور ته پام وشي، نو ان شاء الله تعالی د انسان د بري لپاره تضمین کوي .

دغه خبري له احادیثو څخه معلومېږي .

د دیوبند د عالمانو مُرشد حاجي امداد الله مهاجر مکې – رحمه الله - په یوه تخته دغه پنځه جملې لیکلې وې .

١: اِعْمَلْ لِدُنْيَاكَ بِقَدْرِ مَقَامِكَ فِيهَا .

ژباړه : د دُنیا لپاره دومره کار وکړه څومره اندازه چې ته په دُنیا کې اوسېږې !

د دُنیا ژوند ډېر لږ او نا باوره دی .

که هر څومره اوږد هم شي، بیا هم ژر تېرېدونکی دی .

حضرت نوح – علیه السلام – ته الله تعالی ډېر زیات اوږد عمر ور کړی وو .

۹۵۰ کاله یې دعوت وکړ، له دې پرته نور ژوند یې هم کړی دی .

ځیني روایتونه داسي دي چې د ده ټول عمر ۱۶۰۰ شپاړس سوه کاله وو.

خو د مرګ په وخت کې ملک الموت ترې پوښتنه وکړه :

ketabton.com - The Digital Library


كَيْفَ وَجَدْتَ الدُّنْيَا ؟ قَالَ نُوحٌ: مِثْلَ دَارٍ لَهَا بَابَانِ، دَخَلْتُ مِنْ هٰذَا وَخَرَجْتُ مِنْ هٰذَا (تفسير القرطبي ص:۲۹۵ ج:۱۳)

ژباړه : دُنيا دي څنګه و موندله ؟

نوح – عليه السلام – وفرمايل : د هغه سورای په څېر مي و موندله چې دوه دروازې لري، له يوې دروازې ور داخل شوم او له بلې راووتلم !!

علامه قرطبي رحمه الله ليکي : بنی نوح بيتا من قصب فقيل له : لو بنيت غير هذا فقال : هذا کثير لمن يموت ( تفسير القرطبي ص : ۲۹۵ج : ۱۳)

ژباړه : نوح عليه السلام له کړکانو څخه کور جوړ کړی وو، چا ور ته وويل : که دي بل ( ښه ) کور جوړ کړی وی، ښه به وی ! نوح عليه السلام ور ته وفرمايل : څوک چې مړ کېږي، د هغه چا لپاره دا زيات دی!!

۲ : **دوهمه خبره دا ده** : وَاعْمَلْ لِآخِرَتِكَ بِقَدْرِ بَقَائِكَ فِيهَا .

ژباړه : د آخرت لپاره دي دومره کار وکړه څومره چې ته په هغه کې اوسېږې!

د آخرت ژوند تلپاته دی، نو د عقل تقاضاء دا ده چې د تلپاته ژوند لپاره ډېري هڅې کول ضروري دي .

۳ : **دريمه خبره دا ده** : وَاعْمَلْ لِلّٰه بِقَدْرِ حَاجَتِکَ إِلَيْهِ .

ژباړه : د الله – تعالی – لپاره دومره کار وکړه، څومره چې ور ته اړتيا لرې !

الله - تعالی – ته د انسان اړتيا په هر څه کې ده، ځکه د الله پاک له ارادې پرته څوک هيڅ نه شي کولی او په هر څه کې انسان ور ته محتاج دی .

ketabton.com - The Digital Library


نو عقلمندي دا ده چې باید د الله تعالی د رضاء لټون ته تر هر څه لومړیتوب ور کول شي .

۴ : څلورمه خبره دا ده : اسأل عَنِ الّذي لَا یَحْتَاجُ إلَی أَحَدٍ!!

ژباړه : صرف له هغه چا سوال کوه، چې چا ته محتاج نه دی!!

هغه الله تعالی دی، چې خزانې یې ډکې دي، په سوال او غوښتني خوشحالیږي .

۵ : پنځمه خبره دا ده : وَاعْمَلْ للنّار بقَدْرِ صَبْرِک عَلَیْهَا

ژباړه : د اور لپاره دومره کار وکړه، څومره چې پر اور صبر کولی شې !!

یعني څومره چې د عذاب طاقت لرې، په هغه اندازه ګناوي وکړه !

د اور طاقت هیڅوک نه لري .

کله چې طاقت د اور نه لرو، نو باید د الله پاک له نافرمانیو څخه ځان وساتو .

دغه پنځه ارزښتناکې خبري که په پام کې ولرو، ان شاء الله تعالی دا به مو د بري لامل شي او له ګناهونو څخه د ځان ساتنه به راته آسانه شي .

الله پاک دي د عمل کولو توفیق راکړي . آمین

# د عرش د سیوري وړ کسان

د قیامت ورځ ډیره زیاته سخته او درنه ورځ ده، زموږ او ستاسو خو حیثیت څه دی ؟ لوی لوی نېکان، متقیان، علماء، اولیاء تر پېغمبرانو پوري به ټول پرېشان وي .

د قیامت ورځ ډېره اوږده او ټول خلګ به د حشر په میدان کې راغونډ وي،د لمر د نږدې کېدو له امله به خولې بهېږي، د زمکې ګرموالی به دومره سخت وي چې د پښو پرې کېښودل به تر وس وتلی کار وي، د

ketabton.com - The Digital Library



چا سره به د بل هیچا فکر نه وي، له دغه سخت حالته به څوک نه تښتېدلی شي او نه به ترې ځان په بله طريقه خلاصولی شي .

ليکن ځيني نېکمرغه خلګ به داسي وي چې الله - جل جلا له - به د عرش تر سايي لاندي ځای ورکړی وي او له ټولو سختيو به په امن وي .

هغوی به نه يوازي د قيامت د ورځي له سختيو په امن وي، بلکې وروسته را روان حالات به يې هم د امن او خوشحالۍ وي .

د دې سيوري لاندي هغه څوک راتلی شي چې د دې اسباب يې عملي کړي وي.

د دې سيوري لاندي راتلل مفت نه دي بلکې د دې لپاره ځيني اسباب شته چې په احاديثو کې بيان شوي دي : اوه کسان يې په دې حديث کې ذکر شوي دي :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلُّهُ الإِمَامُ الْعَادِلُ وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللَّهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ وَرَجُلاَنِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ. وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لاَ تَعْلَمَ يَمِينُهُ مَا تُنْفِقُ شِمَالُهُ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ ( رواه البخاری ص:۹۱ ج:۱ومسلم ص: ۳۳۲ ج:۱ واللفظ له)

ژباړه : له حضرت ابوهريره – رضی الله عنه-څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – وفرمايل : اوه کسان دي الله - جل

ketabton.com - The Digital Library


جلا له - دوی ته په هغه ورځ سیوری ورکوي په کومه به چې د ده له سیوري پرته بل سیوری نه وي .(هغه دا دي : )

۱: عادل باچا .

۲: هغه ځوان چې د الله - جل جلا له - په عبادت کې ستر شي .

۳: هغه سړی چې زړه يې د مسجدونو سره تړلی وي .

۴: هغه دوه کسان چې د الله تعالی ( د رضاء ) لپاره د یوه او بل سره محبت کوي، په دې محبت سره جمع شوي او پرې جلا شوي وي .

۵ : هغه سړی چې داسي ښځه يې ( ګناه ته ) دعوت کړي، چې د منصب او ښائست خاونده وي، دی ووايي : زه له الله (جل جلاله ) څخه وېرېږم .

۶ : هغه سړی چې يوه صدقه وکړي، خپله صدقه دومره پټه کړي تر دې چې چپ لاس يې په هغه څه چې ښی لاس يې مصرفوي نه پوهېږي .

۷: هغه سړی چې ( الله - جل جلا له - ) د يوازيتوب په حال کې ياد کړي نو تر سترګو يې اوښکې وبهېږي !!

په دې حديث کې اوه داسي خوش نصيبه کسان ذکر شوي دي چې الله - جل جلا له - دوی ته په خپل سیوري کې ځای ورکوي .

له سیوري څخه مراد دعرش سیوری دی لکه څنګه چې په بل حديث کې دا بيان راغلی دی.

په دوی کې لومړنی کس عادل باچا دی .

عدل سخت کار دی، له دې امله عادل ته دغه لوړه درجه ورکول کېږي.

ketabton.com - The Digital Library


په دې حدیث کې عادل باچا ذکر شوی، خو له بل حدیث څخه معلومېږي چې هر هغه څوک چې عدل وکړي، هغه ته الله پاک تر عرش لاندې ځای ورکوي .

دوهم هغه ځوان دی چې ځواني یې د الله - جل جلا له - په عبادت کې تېره کړه .

ځواني لیونتوب دی، په دې زمانه کې خپلې نفسي غوښتنې پرېښودل او د الله - جل جلا له - عبادت کول الله - جل جلا له - ته ډېر قدر لري .

شیخ سعدي - رحمه الله - د ځوانۍ د عبادت او توبې په هکله وایي :

در جواني توبه کردن شیوه پیغمبری ،،،

وقت پیری گرگ زاده میشود پرهېز گار ،،،

یعني په ځوانۍ کې توبه کول او په سمه لار روانېدل د پېغمبرانو طریقه ده، په بوډاتوب کې خو د لېوه ( شرمښ ) زوی هم پرهېزگاره کېږي .

دریم هغه څوک دی چې زړه یې د مسجد سره تړلی وي، کله چې له مسجد نه ووزي، نو تر بیا راتګ پورې یې په زړه کې د مسجد فکر وي .

د دې حدیث حاصل مطلب دا دی چې څوک پنځه وخته لمونځ په جماعت سره اداء کوي، دغه کس به هم د قیامت په ورځ د عرش د سیورې خاوند وي، دا مطلب نه دی چې ټوله ورځ به په مسجد کې ناست وي .

څلورم هغه دوه کسان چې خالص د الله تعالی د رضاء لپاره د یوه او بل سره محبت کوي .

ketabton.com - The Digital Library


داسي خلګ چې د ذاتي اغراضو لپاره د يوه او بل سره محبت لري، او يا د مال او دولت په خاطر د يوه او بل سره تعلق لري، ډېر دي، خو د الله - جل جلا له - لپاره د يوه او بل سره محبت کوونکې خلګ کم دي.

نو څوک چې د الله - جل جلا له - د رضاء لپاره د يوه او بل سره محبت کوي، دوی ته الله - جل جلا له - دا انعام ورکوي چې د عرش په سيوري کې د قيامت په ورځ ځای ورکوي .

په دې محبت سره جمع شوي او پرې جلا شوي وي .

يعني د دوی تر منځ محبت په ژوند کې هم وي، کله چې سره بېل شي، يو مړ شي، بيا يې هم هغسي سره وي .

بل مطلب يې دا دی چې محبت يې په اخلاص سره وي، سياسي او غرضي محبت يې نه وي، چې سره مخامخ شي، يوه او بل ته د خپل محبت دعوې کوي، خو چې سره بېل شي، بيا په يوه او بل پسي غيبت کوي او بد پسي وايي .

پنځم هغه سړی چې د الله- جل جلاله - د ډار له امله ګناه پرېږدي.

شپږم هغه څوک دی چې ( مُستحق ته) يوه صدقه ورکړي، خو دومره يې په پټه توګه ورکړي، چې چپ لاس يې په دې پوه نه شي چې ښي لاس څه او څومره ور کړل ؟

په دغسي پټه صدقه کې اخلاص وي او د الله - جل جلا له – په دربار کې هغه عمل مُعتبر دی چې په اخلاص سره سر ته و رسېږي .

ketabton.com - The Digital Library


په اخلاص سره د لږ عمل ثواب زیاتېږي او د اخلاص د نه شتون له امله اجر کمېږي او په کوم عمل کې چې ریاء او ځان ښودنه وي،هغه الله - جل جلا له - ته هیڅ قدر او اهمیت نه لري .

اوم هغه څوک چې ( الله - جل جلا له - ) د یوازیتوب په حال کې یاد کړي نو تر سترګو یې اوښکې وبهېږي !!

په دې آخرنۍ جمله کې ډېر لوی بشارت او زېری راغلی دی ځکه داسي یې نه دي ویلي چې تل الله - جل جلا له - د یوازیوالي په حال کې یادوي او تر سترګو یې اوښکې بهیږي .

بلکې ظاهراً داسي معلومېږي چې که څوک دا عمل په ژوند کې یو ځل وکړي، هم الله - جل جلا له - دغه درجه ور کوي .

له دې پرته په نورو روایتونو کې زیات کسان بیان شوي، چې موږ یې ځیني دلته په مختصره توګه لیکو :

٨ : تنګلاسي ته د پور په هکله مهلت ور کول .

٩ : تنګلاسي ته پور ور معافول .

١٠ : وږي ته خوراک ور کول .

١١ : پر مؤمنانو مهرباني او د هغوی سره بد اخلاقي نه کول .

١٢ : د مجاهد سره مرسته .

١٣: د هغه چا سره مرسته کول چې پوروړی وي .

١٤: د مُکاتب سره مرسته کول .

١٥: په تجارت کې صدق او رښتیا ویل .

ketabton.com - The Digital Library


۱۶: د قرآن کریم په ماشومتوب کې زده کول او په لویوالي کې یې قرائت کول .

۱۷: د یتیم پالنه .

۱۸: د کونډو پالنه .

۱۹: صدقه او خیرات کول .

۲۰: د بې کسبه خلګو سره او دهغه چا سره چې کسب نه شي زده کولی، مرسته کول .

۲۱: د سورة البقرة او آل عمران تلاوت .

الله - جل جلا له - دي موږ او تاسو ټولو ته دغه درجه راکړي . آمین

# له بدو کارو د مخنیوي اهمیت

له بدو کارونو منع کول یو اړین او ضروري کار دی، همدا راز دا د هر مسلمان مسئولیت دی چې د ګناه د مخنیوي هڅه به کوي .

په ځانګړې توګه که ګناه په کور کې کېږي، نو د هغې د مخنیوي لپاره خو لا زیاتي هڅي کول ضروري دي .

خو متأسفانه په اوسنۍ زمانه کې دغه مسئولیت ته د اکثرو خلګو پاملرنه نشته، دا په داسي حال کې چې دا د هر چا مسئولیت دی .

د ګناه د مخنیوي دا مطلب نه دی چې سړی به له سختۍ او جګړې کار اخلي، بلکې باید داسي لار غوره کړل شي چې د ګناه په مخنیوي کې مؤثره ثابتېدی شي .

ketabton.com - The Digital Library


**الله تعالی د مؤمنانو په هکله فرمايلي دي : وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (التوبة:۷۱)**

**ژباړه : مؤمنان نارينه او مؤمناني ښځي، دا ټول د يوه او بل دوستان دي . په ښو کارونو امر کوي او له بدو کارونو څخه منع کوي، لمونځونه قائموي، زکات ور کوي او د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت کوي . دا هغه کسان دي چې ژر دی چې الله به پرې رحم وکړي . بېشکه الله پر ټولو برلاسی او د حکمت څښتن دی !!**

**په دې مبارک آيت کې الله پاک د منافقانو د ناوړو صفاتو تر ذکر کولو وروسته د مؤمنانو ښکلي صفتونه ذکر کړي دي، هغه داسي صفات دي چې د منافقانو د صفاتو برعکس دي .**

**هغه په دې توګه دي :**

**۱ : مؤمنان په خپل منځ کې د يوه او بل دوستان دي .**

**۲ : خلګ په ښو امر کوي او له بدو يې منع کوي .**

**۳ : د لمانځه پابندي کوي .**

**۴ : زکات ور کوي .**

**۵ : د الله پاک او د هغه د پيغمبر تابعداري کوي .**

**د دغو صفاتو تر ذکر کولو وروسته الله پاک دوی ته زېری ور کړی، چې دا داسي خلګ دي چې ژر دی چې الله پاک به پرې رحم وکړي او هغه زورور او د حکمت څښتن دی .**

ketabton.com - The Digital Library


له دې آیت څخه معلومه شوه چې د مؤمنانو صفت دا دی چې دوی د ښو امر کوي او له بدو به مخنیوی کوي .
نو باید هر مؤمن دغه صفت په ځان کې راولي .
که ټول مؤمنان دغه کار وکړي، نو ان شاء الله تعالی ډېر ژر به په ټولنه کې د پام وړ بدلون ووینو او ګناهونه به کم شي .
عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ : مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ (رواه مسلم ص:٥١ ج:١، رياض الصالحين ص:٨١)
ژباړه : له ابوسعید خُدري – رضی الله عنه – څخه روایت دی چې ما له رسول الله – صلی الله علیه وسلم- څخه واورېدل چې فرمایل يې : چا چې په تاسو کې د ګناه کار ولیدی، نو په لاس دې يې منع کړي، که په لاس يې وس نه وي، نو په ژبه دې يې منع کړي، که په ژبه يې د منع کولو طاقت نه وي، نو په زړه کې دغه ګناه بده وګڼي او دا ډېر کمزوری ایمان دی !!
له دې حدیث څخه هم معلومه شوه چې له بدو منع کول د هر مسلمان مسئولیت دی، څوک چې ګناه ویني، نو باید د مخنیوي هڅه يې وکړي، په کومه طریقه يې چې مخنیوی کولی شي .
په دې ټولو طریقو کې وروستنۍ او د ایمان تر ټولو کمزورې درجه دا ده چې ګناه په زړه کې بده وګڼل شي، له دې درجې خو باید مسلمان پسپاته نه شي .

ketabton.com - The Digital Library



له بدو منع کول لکه څرنګه چې د مسلمان مسئولیت دی، د دې سره سره په دُنیا او آخرت کې زیاتي ګټې لري .

یوه ستره ګټه یې په دُنیا کې دا ده چې له عذاب څخه د خوندیتوب لپاره ستر او اغېزناک لامل دی .

الله – جل جلا له – فرمايي : فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ أَنْجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ(الاعراف:١٦٥)

ژباړه : نو کله چې یې هغه نصیحت هېر کړ چې یادونه یې ور ته شوې وه، نو بیا مو هغه کسان وژغورل چې له بدیو یې منع کوله او چا چې ظلم کړی وو، هغوی مو په سخت عذاب راونیول، په دې چې سرغړونه به یې کوله !!

په دې آیت مبارک کې د هغه قوم یادونه شوې، چې د دریاب په غاړه اوسېدل، د دغه کلي نوم ایکه وو، په دې زمانه کې ور ته عقبه داود وایي .

الله تعالی ور ته وفرمایل چې د شنبې په ورځ به کبان ( ماهیان ) نه نیسئ ! خو د امتحان په توګه به د شنبې په ورځ ماهیان زیات وو او په نورو ورځو به کم وو .

دوی صبر و نه کړ او د الله تعالی د صریح حکم په شتون کې یې حیله وکړه، د دریاب سره نږدې یې حوضونه جوړ کړل، اوبه به یې ور پرېښودې، کله به چې د شنبې په ورځ کبان ( ماهیان ) د دوی حوضونو ته ننوتل، نو د وتو لار به یې پرې بنده کړه، د یک شنبې په ورځ به یې ونیول .

ketabton.com - The Digital Library



په دې توګه به يې د ځان لپاره پلمه جوړوله چې موږ خو د شنبې په ورځ ښکار نه دی کړی، ګويا دوی په خپلې دې حيلې سره نعوذ بالله خدای پاک ته دوکه ور کوله .

الله پاک د دې ناوړه عمل سزا په دُنيا کې ور کړه، چې شکلونه يې د شادوګانو او بيزوګانو په څېر شول .

الله تعالی په دې مبارک آيت کې فرمايلي دي چې کله عذاب راغی، هغه خلګ چې له بدو يې منع کوله، موږ له عذاب څخه وژغورل او ظالمان مو په سخت عذاب کې ونيول .

معلومه شوه چې له بدو کارو منع کول له عذاب څخه د خلاصون يو مُهم سبب دی.

شيخ عبدالرحمان السعدي ليکي : وَهَكَذَا سُنَّةُ اللهِ فِي عِبَادِهِ أَنَّ الْعُقُوبَةَ إِذَا نَزَلَتْ نَجَا مِنْهَا الآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ.(تيسير الكريم الرحمن فی تفسير كلام المنان ص:٣١٦)

ژباړه : دغسي په بندګانو کې د الله پاک سنت او طريقه ده چې کله عذاب نازل شي، په ښو امر کوونکې او له بدو منع کوونکې ترې خلاصيږي !!

که د ښو په لور بلنه او له بدو منع و نه شي، نو پايله به يې د ګناهونو زياتوالی شي، چې پايله يې د الله پاک له لوري عمومي عذاب دی، چې په ترڅ کې به يې نېکان او بدان ټول هلاکيږي .

لکه څرنګه چې په حديث کې راغلي دي :

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ -رضی الله عنها- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- دَخَلَ عَلَيْهَا يَوْمًا فَزِعًا يَقُولُ «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ ». وَحَلَّقَ بِإِصْبَعَيْهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا. قَالَتْ زَيْنَبُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ: نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ ( متفق علیه\ مشکوة المصابیح ص: ۴۵۶ ج: ۲ ).

ژباړه : له حضرت زینب بنت جحش - رضی الله عنها - څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – د دې کور ته د وېرې په حال کې داخل شو، داسي يې ويل : له الله – تعالی – پرته هیڅوک د عبادت لائق نشته، د عربو لپاره د هغه شر له امله تباهي ده چې رانږدې شوی دی، نن د یأجوج او ماجوج له دېوال څخه دومره ( لار ) خلاصه شوه، او په خپلو دوو ګوتو: بټې او ورته نږدې ګوتې سره يې حلقه جوړه کړه .

زینب – رضی الله عنها – ( د مؤمنانو مور ) وايي ما وويل : اې د الله پېغمبره ! – صلی الله علیه وسلم – آیا موږ به په داسي حال کې هلاکېږو چې په موږ کې نېکان خلګ موجود وي ؟

نبي – علیه السلام – وفرمایل : هو، کله چې ګناوي زياتي شي . ( متفق علیه ) .

ګناوي کله زیاتېږي ؟ کله چې نهی عن المنکر او له بدو کارو مخنیوی پرېښودل شي.

نو باید دغه کار ته اړینه پاملرنه هر څوک وکړي، په ځانګړې توګه علماء او د دیني علومو زده کوونکې ځکه دوی په دې برخه کې د خلګو

ketabton.com - The Digital Library


مشران دي او دوی ته هغه ذمه واري ور تر غاړه ده چې بل څوک يې نه لري .

خو دا کار يوازي د عالمانو مسئوليت نه دی، بلکې هر انسان دغه مسئوليت لري، د کورنۍ مشر بايد د خپلي کورنۍ وګړو ته د ښو بلنه ور کړي او له بدو يې منع کړي، همدا راز خپل ځنګلوری، ملګري او ټولو خلګو ته دعوت ور کول پکار دي .

که دغه وظيفه په سمه توګه هر څوک تر سره کړي، نو په ټولنه او نړۍ کې به ډېر اغېزناک او د پام وړ تغيير رامنځته شي او ګناهونه به کم شي .

که ګناهونه کم شي، عذاب به نه راځي او کوم بد حالات چې زموږ د ګناهونو په نتيجه کې را باندي راغلي دي، دا به هم ان شاء الله تعالی سم شي .

## د خاتمې د سمون اهميت

بنده د الله پاک له لوري د نېکو کارو په ترسره کولو او له بدو کارو په ځان ساتلو په ټولو او قاتو کې مامور دی، په ځانګړي توګه د عمر په آخري برخه کې .

او انسان هغه وخت کامياب دی کله چې يې خاتمه ( د ژوند آخري برخه ) ښه شوله .

په حديث کې راغلي دي: إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ (رواه احمد ص: ۴۸۹ ج: ۳۷، و ابن حبان في صحيحه ص: ۵۲ ج: ۲)

يعني عملونه په خاتمو پوري تړاو لري!!

ketabton.com - The Digital Library


چا ته چې الله پاک په آخري عمر کې د نېک عمل توفیق ورکړو ، نو د ده لپاره الله پاک د خاتمې ښه کېدنه لیکلې او ځوک چې الله پاک په دغه وخت کې پرېښود، د نېکو توفیق یې ور نه کړ او د ده آخري خاتمه یې په بدیو او ګناهونو سره وکړه، نو ده خپل رب ناراض کړ او خاتمه یې خرابه شوه ( نعوذ بالله من ذلک)

د خاتمې د سمولو اهتمام کول او دا چې څنګه انسان په دې بریالی شي چې خاتمه یې په اسلام او ښو اعمالو وشي ، دا ډېر مهم کار دی، دا د متقیانو او صالحانو کار دی .

الله - جل جلاله - موږ په دې هڅولي یو چې موږ باید ښې خاتمې ته د رسېدلو هڅې وکړو ، الله - جل جلاله - فرمایلي دي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ[آل عمران: ۱۰۲].

ژباړه : اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ څرنګه چې ښایي هماغسې وېرېدل او مه مرئ مګر دا چې تاسو مسلمانان وی !!

حق تقوی دې ته ویل کېږي چې له ګناهونو په ځان ساتنه کې خپل پوره طاقت استعمال کړل شي نو حق تقوی ادا شوه، که څوک د خپل پوره طاقت تر استعمالولو وروسته په کومه ناروا کې اخته شي نو د تقوی د حقوقو خلاف نه ده( معارف القرآن ص : ۱۲۸ ج : ۲ )

په اسلام د مړه کېدو مطلب دا دی چې هر وخت د اسلام پابند و او سئ څکه څوک چې په کوم حالت باندي ژوند تېروي،پر هغه حالت مرګ ورته راځي .

د خاتمې د ښې کېدلو لپاره هڅې کول د نېکانو وروستی هدف دی :

ketabton.com - The Digital Library



الله – سبحانه و تعالي - فرمايي : وَوَصَّى بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَا بَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَى لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ [البقرة: ۱۳۲]

ترجمه : او په همدې ( دين ) باندي ابراهيم - عليه السلام - هم خپلو زامنو ته وصيت کړی وو او يعقوب - عليه السلام – هم ( چې ) اې زامنو! دا دين الله - جل جلاله – در ته غوره کړی، نو مه مرئ مګر دا چې تاسو مسلمانان ياست !!

په ذکر شوي آيت کې حضرت ابراهيم - عليه السلام - خپل اولاد ته وصيت کړی او له دوی يې ژمنه اخيستې چې دوی دي له اسلام پرته په بل حالت او بل دين نه مري .

د دې مقصد دا دی چې په خپل ژوندانه کې پر اسلام او اسلامي تعليماتو په کلکه عمل کوئ تر څو الله پاک ستاسو خاتمه هم پر اسلام وکړي . ( تفسير معارف القرآن ص : ۳۴۷ ج : ۱ )

او الله پاک د صافو عقلو د خاوندانو په صفت کې فرمايلي دي چې هغوی داسي دُعاګاني کوي :

رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ (آل عمران: ۱۹۳)

ترجمه : زموږ ربه ! ګناهونه راته وبخښه او بدی مو و رژوه او د نېکانو سره مو وفات کړه!!)

او د توبه ګارو په هکله يې فرمايلي دي : رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ [الأعراف: ۱۲۶]

ترجمه : زموږ ربه ! پر موږ صبر را توی کړه ! او مسلمانان مو له دُنيا تېر کړه !!

ketabton.com - The Digital Library


يعني الله تعالى ته د توبه ګارو صفت دا دى چې د ښې خاتمې لپاره له الله پاک څخه دُعاګانې غواړي .

د انسانيت ستر لارښود جناب محمد رسول الله - صلى الله عليه وسلم - انسانانو ته لارښوونه کړې چې بايد دوى خاتمه له پامه و نه غورزوي .

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ « إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا ثُمَّ يَكُونُ فِي ذَلِكَ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ يَكُونُ فِي ذَلِكَ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ يُرْسَلُ الْمَلَكُ فَيَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ وَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ بِكَتْبِ رِزْقِهِ وَأَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ فَوَالَّذِى لاَ إِلَهَ غَيْرُهُ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتَّى مَا يَكُونَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى مَا يَكُونَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا ».(متفق عليه\مشكوة المصابيح ص: ٢٠ ج:١).

ژباړه : له حضرت عبدالله بن مسعود - رضى الله عنه - څخه روايت دى چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - چې صادق او مصدوق دى، موږ ته وفرمايل : چې په تاسو کې د هر يوه پيدايښت داسې کېږي چې نطفه د مور په نس کې څلويښت ورځې جمع اوسي،بيا د غومره ( څلويښت ) ورځې وينه وي، بيا دغومره ورځې غوښه وي،بيا الله تعالى ده ته يوه ملائکه د څلورو خبرو د ليکلو لپاره ور لېږي .

هغه ملکه د ده عمل ،د ده مرګ،د ده روزي او د ده نېکمرغه او بدمرغه کېدل په تقديرکې ليکي،په هغه ذات قسم دى چې له ده پرته

ketabton.com - The Digital Library



ځوک د عبادت لائق نشته چې په تاسو کې یو تن د جنتیانو عملونه کوي تر دې چې د ده او د جنت تر منځ یوازي د یوه لاس فاصله پاتېږي چې د تقدیر لیکنه رامخ ته کېږي او د دوزخیانو په څېر عمل پیلوي او دوزخ ته داخلېږي او په تاسو کې یو تن د دوزخیانو په څېر عملونه کوي، تر دې چې د ده او دوزخ تر منځ یوازي د یوه لاس فاصله پاتېږي چې د تقدیر لیکنه رامخته کېږي او دی د جنتیانو په څېر عمل پیلوي او جنت ته داخلېږي.( بخاري،مسلم )

له دې حدیث څخه دا خبره معلومه شوه چې اصلي اعتبار خاتمې ته دی.

له دې کبله باید نېک عمله انسان د خپلو نېکو اعمالو له امله لویي، تکبر او فخر و نه کړي او باید د تل لپاره د وېري او امید په حالت کې و اوسي ځّکه د ښې خاتمې علم د الله سره دی .

او باید انسان له خاتمې څخه بې غمه او بې فکره نه شي .

په انساني ژوندانه کې آخري ساعت د انسان د ژوندخلاصه ده :

ځوک چې په خپل ژوند کې د الله پاک په عبادت کې مصروف وي، نو دغه حالت به یې د ده د ژوندپه آخري شېبو کې را ښکاره کېږي او که ځوک په بدو کارو کې مصروف وي، یا یې ظاهراً ښه کارونه کول، خو اخلاص یې په عبادت کې نه وو، نو د دوی بدي هم په آخري حالت کې را څرګندېږي .

ketabton.com - The Digital Library



ډېر انسانان ظاهراً نېک عمله وي خو د خاتمې د نږدې کېدلو په وخت کې داسي نافرمانۍ او ګناوي شروع کړي چې له امله يې خاتمه خرابه او د تل لپاره د بدمرغۍ سره مخامخ شي .

د بېلګي په توګه ابليس څومره لوی عبادت کوونکی وو ؟

په آسمان کې د ملائکو سره يوځای اوسېده او يوځای يې عبادتونه کول .

له بعضو آثارو معلومېږي چې څو لکه کاله يې د ملائکو سره په ملګرتيا کې عبادتونه وکړل ( ترغيب المسلمين ص : ۳۰ )

خو پايله يې دا شوه چې هر چا ته معلوم دی چې رټل شوی او د لعنتونو مستحق وګرزېد .

بلعوم بن باعوراء د حضرت موسی - عليه السلام - په زمانه کې وو، ډېر لوی عالم وو،تر دې چې د ده په هکله ويل شوي چې اسم اعظم ور ته معلوم وو .

خو پايله يې دا شوه چې نه يوازې دا چې له ثوابونو محروم شو، بلکې د کفر په حالت کې مړ شو او د تل لپاره په عذابونو کې مبتلاء شو .

الله پاک دې موږ ټولو ته ښه خاتمه را په برخه کړي .

د خاتمې د سمېدلو لپاره ځيني کارونه شته،چې څوک هغه کوي، ان شاء الله - تعالی - خاتمه به يې نه خرابېږي .

هغه کارونه ان شاء الله تعالی وروسته ليکو .

له درنو لوستونکو هيله کوم چې هغه ټول په غور سره ولولي او په ځان کې يې د را وستو کوشش وکړي .

څو د تل لپاره مو نېکمرغي او بری په برخه شي .

ketabton.com - The Digital Library



# د خاتمې د سمون اسباب

ځيني داسي کارونه په دين مبين کې راغلي چې د هغو په اختیارولو انسان دې ستر هدف ته رسیږي .

دا کارونه اسانه کارونه دي، نو باید د ټولو په هکله هر مسلمان کوښښ وکړي چې پلي يې کړي، څو د دُنيا او آخرت نېکمرغي او بریالیتوب يې په برخه شي .

له درنو او قدرمنو لوستونکو هیله کوم چې دا لړۍ تر پایه پوري په توجه او پابندۍ ولولي :

۱ :**سیدُالاستغفار** : د خاتمې د سمېدلو لپاره یوسبب دادی چې انسان په سیدُالاستغفار باندي مداومت او همېشوالی وکړي.په ځانګړي توګه سهار او مابښام يې باید یو ځل لوستل هیڅکله پرې نږدي :

عَنْ شَدَّادِ بنِ أَوْسٍ - رضی الله عنه - قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم - : سَيِّدُ الاسْتِغْفَارِ أَنْ يَقُولَ الْعَبْدُ: اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ. مَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ (رواه البخاری ص: ۹۳۳ ج:۲)

ژباړه : له حضرت شداد بن او س - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : سیدالاستغفار دا دی چې بنده و وایي : اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى

ketabton.com - The Digital Library


عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ. ( يا الله ! ته زما رب يې ! له تا پرته څوک د عبادت لائق نشته،تا زه پيدا کړی يم او زه ستا بنده يم، تر څو چې زما طاقت وي، زه ستا پر عهد او وعدې ولاړ يم،زه په تا سره د هغه څه له شر څخه پناه غواړم چې ما کړي دي،پر ما باندي ستا د کړو نعمتو له امله زه تا ته اقرار کوم،او زه په خپله گناه اقرار کوم، نو ما ته بخښنه وکړه ! ځکه له تا پرته څوک گناهونه نه شي بخښلی .)څوک چې دا کلمات په ورځ کې ولولي،په داسي حال کې چې يقين پرې ولري،نوپه دې ورځ کې که تر ماښام مخکې مړ شو،نو دا جنتي دی او څوک چې يې په شپه کې ولولي په داسي حال کې چې پرې يقين کوونکی وي، نو که تر سهار مخکې مړ شو، نو دی جنتي دی .!!

په دې حديث شريف کې د هغه چا لپاره د خاتمې د سموالي زېری دی څوک چې سيدالاستغفار لولي .

نو د دې د لوستلو هم بايد انسان پابندي وکړي ځکه د سيدالاستغفار ويل اسان کار دی، لوستل يې ډېر وخت هم نه اخلي او گټه يې دومره زياته ده چې انسان جنتي کوي .

سيدالاستغفار يعني د استغفارونو سردار .

د استغفارونو سردار ور ته ځکه ويل کېږي چې په دې دُعاء کې داسي الفاظ او معاني موجود دي چې له امله يې د استغفارونو د سردار په نوم سره د نومول کېدلو مستحق شوی دی .

ketabton.com - The Digital Library



انسان دېته ډېر اړ دی چې د خپلو کړو ګناهونو بخښنه له الله پاک څخه هر وخت وغواړي .

همدا راز پر بنده د الله پاک زيات حقوق شته،د هغو په تر سره کولو کې له انسان څخه ډول ډول کمزورۍ کېږي، له دې امله هم بايد ډېر استغفار وکړي، څو الله پاک ور ته په عبادت کې کمزوري معاف کړي.

نو کله چې د ډېرو استغفارونو کولو ته اړ دی، نو که په داسي ټکوسره استغفار وکړي چې هغه ډېر معتبر ټکي وي، نو دا ډېر مفيد کار دی او د قبلېدلو زيات اميد يې شته .

په استغفارونو کې تر ټولو معتبر او غوره دا کلمات دي چې ور ته سيدالاستغفار ويل کېږي .

دا کلمات بايد څومره چې د انسان وس کېږي ډېر ولولي، خصوصاً له هر فرض لمانځه وروسته او په ځانګړي توګه سهار او ماښام خو بايد تل ولوستل شي ځکه دومره غټه ګټه ده چې انسان جنتي کوي .

کله چې انسان جنتي شو، نو معلومه خبره ده چې د دې انسان خاتمه هم صحيح شوې ده .

نو په داسي حال کې چې د سيدالاستغفار دومره لويه ګټه ده، د دې په لوستلو کې سُستي کول يقيناً لويه بې نصيبي ده چې بايد ځان ترې وژغورل شي .

دا دُعاء خامخا دا هم نه غواړي چې له يادو به لوستل کېږي ، بلکې که په يوه کاغذ وليکل شي او بيا ترې ولوستل شي، هم صحيح ده .

ketabton.com - The Digital Library


## ۲ : استقامت :

د خاتمې د سمېدلو دوهم سبب استقامت دی .

الله - جل جلا له - په خپل مبارک کتاب کې فرمایلي دي : إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ، نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ، نُزُلًا مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ . (حم السجدة : ۳۰\۳۱\۳۲)

ترجمه : بې شکه هغه کسان چې و یې ویل : زموږ رب، الله دی، بیا ( په دې وینا ) ټینګ شول، نو پر دوی به ملایکې را نازلېږي چې مه وېرېږئ ! او مه خفه کېږئ ! او په هغه جنت خوشحاله او سئ چې ستاسو سره یې وعده کېدله ! موږ د دُنیا په ژوندانه کې هم ستاسو ملګري یو او په آخرت کې هم او هلته به ستاسو لپاره هر هغه څه وي چې ستاسو زړه یې غواړي او په هغه کې چې څه غواړئ، هغه در ته شته،دا مېلمستیا ده د بخښونکې مهربان ( خدای ) له لوري !!

په دې مبارکو آیتونو کې الله پاک د کاملو مؤمنانو حالت بیان کړی او په دُنیا او آخرت کې یې د دوی لپاره د اعزاز او اکرام ذکر کړی دی .

یعني هغه څوک چې د الله پاک په وحدانیت او یووالي ایمان راوړي او بیا په خپلي دغي عقیدې تر مرګه پوري کلک پاته شي، نو د دوی لپاره الله پاک په اولني آیت مبارک کې په څلورو طریقوسره زېری بیان کړی دی :

ketabton.com - The Digital Library


١ : پر دوی باندي ملایکې را کښته کېږي !!

د ملایکو دغه نزول په خوب کې هم وي په داسي طریقې چې رښتیني او ښه خوبونه دا سړی ویني،د زنکدن په وخت کې هم وي،له قبرونو د پورته کېدلو په وخت کې هم وي او د حشر په میدان کې هم وي .

٢ : بل زېری دا دی چې ملایکې به دوی ته وایي : چې تاسو مه وېرېږئ!

یعني د راتلونکې په هکله بې فکره او سئ ! تاسو له عذابونو خوندي یاست !

٣ : بل دا چې غم مه کوئ ! یعني په تېر شوي ژوند او حالاتو پسې غم مه کوئ ! که مو ګناوي کړې وې، الله پاک یې در بخښي .

۴ : او تاسو د جنت له امله خوشحاله شئ چې تاسو ته به الله پاک هغه جنت در کوي د کوم چې یې در سره په دُنیا کې وعده کړې وه !

په دوهم آیت کې په درو طریقو سره د ایمان او استقامت خاو ندانو ته زېری ور کول شوی :

١ : ملایکې یې په دُنیا کې هم ملګرې او دوستاني دي : په دُنیا کې د خیر الهام ور ته کوي، د لمانځه لپاره یې له خوبه بیداروي، شیطاني ضررونه ترې لري کوي، حفاظت او ساتنه یې کوي .

٢ : په آخرت کې یې هم ملګرې دي : د مؤمنانو لپاره به شفاعت کوي او سلامونه به ور ته کوي .

٣ : ملائکې به مؤمنانوته وایي چې ستاسو لپاره به په جنت کې هر هغه څه وي چې ستاسو زړه یې غواړي او هر هغه څه چې تاسو یې غواړئ!

ketabton.com - The Digital Library


یعني ستاسو هر خواهش به پوره کېږي، که يې تاسو په خوله وغواړئ او که يې په زړه کې وساتئ .

په دریم آیت کې یو زېری بیان شوی او هغه دا چې د جنت نعمتونه مېلمستیا ده : مطلب دا چې د جنت نعمتونه به د اعزاز او اکرام په توګه وي او د دُنیا په شان به نه وي چې د مېلمه لپاره یوازي درې ورځې د مېلمستیا کولو تکلف کېږي او بیا عام خوراک خوري، جنتیان به د تل لپاره د مېلمه په توګه عزتمند وي .

همدا راز د سوالګر په څېر به ذلیل هم نه وي بلکې عزتمند به وي .

همدا راز د مېلمستیا په تعبیر سره يې دې ته اشاره وکړه چې ډېر داسي نعمتونه به هم ور ته ملاو ېږي چې د هغو آرزو هم د جنتیانو په زړونوکې نه وي پیداشوې،لکه څنګه چې د مېلمه مخي ته ډېر داسي شیان راځي چې له مخکې يې فکر هم ور ته نه وي، په ځانګړې توګه چې د یوه لوی سړي مېلمه وي . ( مظهري\معارف القرآن ص : ۶۵۲ج : ۷)

مطلب دا دی چې دا ټول زېري د هغه چا لپاره دي چا چې ایمان راوړی او استقامت يې کړی وي .

# استقامت څه ته وايي ؟

له حضرت ابوبکر صدیق - رضی الله عنه - څخه د دې آیت په تفسیر کې نقل دي چې : هم الذین لم یشرکوا بالله شیئا ( تفسیر ابن کثیر ص : ۴۷۷ج : ۵)

ketabton.com - The Digital Library


دا هغه کسان دي چې د الله پاک سره يې د هيڅ شي شرک نه وي کړی!!

حضرت عمر فاروق - رضی الله عنه - فرمايلي دي : الاستقامة ان تستقيم على الامر و النهى و لا تروغ روغان الثعالب ( مظهري ص : ۲۳۴ج : ۶)

يعني استقامت دا دی چې ته د الله پاک په ( ټولو احکاماتو ) امر او نهی برابر و دربېږې،له دې څخه د ګېدړانو په شان يوې خوا او بلې خوا ته د تېښتې لار نه را باسې !!

حضرت عثمان - رضی الله عنه – د استقامت تفسير د عمل په اخلاص سره کړی دی ( قرطبي ص : ۳۱۲ج : ۱۵ \مظهري ص : ۲۳۴ج : ۶)

حضرت علي - رضی الله عنه – د استقامت تفسير د فرائضو په ادا کولو سره کړی دی . ( قرطبي ص : ۳۱۲ج : ۱۵ )

همدا راز نور اقوال هم د استقامت په تفسير کې شته .

له دې امله علماوو فرمايلي دي چې استقامت يو مختصر خو جامع لفظ دی، چې په دې کې په ټولو شرعي احکاماتو عمل کول او له ټولو حرامو او مکروهو کارونو څخه دتل لپاره ځان ساتل شامل دي .

مطلب دا دی چې د ايمان سره استقامت په ځان کې راوستل دا د مخکينو بيان شويو ټولو بشارتونو د مستحق کېدلو لامل دی .

د دغو بشارتونو لپاره دا ضروري ده چې د انسان خاتمه به په ايمان سره شوې وي .

نو استقامت هم د خاتمې د سمېدلو لپاره يو مؤثر سبب دی .

ketabton.com - The Digital Library


له دې امله باید دا کوښښ وشي چې هر څوک په ځان کې دا صفت پیدا کړي څو د تل لپاره مو نېکمرغي په برخه او د تېرو شویو بشارتونو (زېرو ) مستحق شو .

۳ : **تقوی** : د خاتمې د سمېدلو دریم سبب تقوی ده : الله تعالی فرمایي : وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا (سورة الطلاق : ۴)

یعني څوک چې له الله پاک څخه وېره وکړې ( الله پاک به) د هغه ( په هر ) کار کې آساني را ولي !!

په دې آیت مبارک کې د تقوی دا فائده بیان شوې چې له امله یې الله پاک د بنده په کارونو کې اسانتیا راولي .

او کارونه یې عام یاد کړي دي په دې کې د دنیا او آخرت ټول کارونه داخل دي .

نو چې د آخرت کارونه د تقوی له امله سمېږي، له دې معلومه شوه چې د دغه کس خاتمه سمه شوې، ځکه د آخرت د کارونو د سمېدلو لپاره اساسي شرط د خاتمې سمېدل دي .

نو د تقوی او پرهېزګارۍ ډېر کوښښ باید وشي .

## ٤ : د خاتمې د سمېدلو لپاره څلورم سبب تر اوداسه وروسته وروستنۍ دُعاء لوستل دي :

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم ، قَالَ: مَنْ تَوَضَّأَ فَقَالَ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، كُتِبَ فِي

ketabton.com - The Digital Library


رَقٍّ ، ثُمَّ طُبِعَ بِطَابَعٍ ، فَلَمْ يُكْسَرْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . ( رواه الحاكم :۵۶۴ج۱،والنسائی فی عمل الیوم واللیلة ص:۱۷۴)

ژباړه : له حضرت ابوسعیدخدري - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : چا چې اودس وکړ، بیا یې ویل : سُبْحَانَکَ اللّهُمّ وَبِحَمْدِکَ ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلهَ إِلّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُکَ وَأَتُوبُ إِلَيْکَ ( اې الله ! موږ ستا پاکې وایواو ستا لپاره ستاینې دي .

زه شاهدي ور کوم چې له تا پرته بل څوک د عبادت لائق نشته، له تا بخښنه غواړم او تا ته توبه باسم )

نوپه یوه کاغذ کې به ( دا دُعاء ) ولیکل شي او بیا به ور باندي مُهر و وهل شي چې تر قیامته پوري به مات نه شي .

په بل روایت کې راغلي دي : طَبَعَ اللَّهُ عَلَيْهَا بِطَابَعٍ ثُمَّ رُفِعَتْ تَحْتَ الْعَرْشِ فَلَمْ تُكْسَرْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ(عمل الیوم واللیلة ص:۱۷۴)

ژباړه : الله تعالی به ور باندي مُهر و لګوي، بیا به تر عرش لاندي پوري پورته کړل شي،نو تر قیامته به هغه مهر نه ماتېږي !!

یعني دا کاغذ به بند شي او د قیامت له ورځي مخکې به نه خلاصېږي یعني ده ته به یې ثواب خامخا و ر کېږي، له ضائع کېدلو به خوندي وي .

په دې حدیث شریف کې د الله پیغمبر - صلی الله علیه وسلم – د دې دُعاء د قبلېدلو او انسان ته د ده د دغه نېک عمل د ثواب ورکول کېدلو زېری ور کړی دی .

ketabton.com - The Digital Library


له دې دا څرګندېږي چې څوک دغه دُعاء تر اوداسه وروسته لولي،د هغه مرګ به پر ایمان باندې وي .
ځکه انسان ته د ده د عمل ثواب هغه وخت ور کول کېږي چې خاتمه يې سمه او مرګ يې پر ايمان باندې وشي .
۵ : د خاتمې د سمېدلو پنځم سبب دا دُعاء لوستل دي : اَللهُمّ أَحْسِنْ عَاقِبَتِي فِي الْأُمُورِ كُلِّهَا، وَأَجِرْنِي مِنْ خِزْيِ الدُّنْيَا، وَعَذَابِ الْآخِرَةِ .
په حدیث شریف کې راغلي دي : مَن كَانَ هذَا دُعَاءُهُ مَاتَ قَبلَ اَن يُصِيبَهُ البَلَاءُ ( رواه الطبراني في المعجم الكبير ص : ۳۳ ج : ۲ ،كنزالعمال ص : ۸۹ج : ۲ حديث نمبر۳۷۴۸))
يعني څوک چې دا دُعاء کوي نو د مصيبت تر ور رسېدلومخکې به مري.
يعني په ژوند کې به مصيبت ور و نه رسېږي !!
په دې حديث کې مصيبتونه عام ذکر شوي دي، په دې کې ديني او دُنيوي ټول داخل دي .
نو چې له ټولو مصيبتونو ساتل کېږي، معلومېږي چې خاتمه يې سمه شوې ده .
ځکه د خاتمې خرابېدل تر ټولو ستر مصيبت دی .
نود دې دُعاء د لوستلو هم کوښښ بايد وکړل شي .

## ۶ : د خوب دُعاء لوستل :

د خاتمې د سمېدلو بل سبب د خوب دُعاء لوستل دي :
دا ځکه چې د دې له امله انسان په فطرت مري .

ketabton.com - The Digital Library



**له حضرت براء بن عازب - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - به چې کله خپلي بستر ې ته راغی، په خپل ښي اړخ به ویده شو،بیابه یې و ویل :اَللَّهُمَّ أَسۡلَمۡتُ نَفۡسِی إِلَيۡكَ، ، وَوَجَّهۡتُ وَجۡهِی إِلَيۡكَ، وَفَوَّضۡتُ أَمۡرِی إِلَيۡكَ، وَأَلۡجَأۡتُ ظَهۡرِی إِلَيۡكَ، رَغۡبَةً وَرَهۡبَةً إِلَيۡكَ، لَا مَلۡجَأَ وَلَا مَنۡجَا مِنۡكَ إِلَّا إِلَيۡكَ، آمَنۡتُ بِكِتَابِكَ الَّذِی أَنۡزَلۡتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِی أَرۡسَلۡتَ!!**

**رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : څوک چې دغه کلمات ولولي، بیا په دې شپه کې مړ شو،نو پر فطرت ( اسلام ) مړ شو .**

**او په یوه روایت کې حضرت براء - رضی الله عنه - وایي چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - یوه سړي ته و ویل : اې فلانیه ! ( دا یې اُسید بن حضیر ته ویلي وو ) کله چې ته خپلي بسترې ته راشي، اودس وکړه، داسي اودس څنګه چې ستا د لمانځه لپاره اودس وي، بیا په راسته اړخ څمله،بیا و وایه : اللّهُمّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ... أَرْسَلْتَ . پوري .**

**او ویې ویل : که ته په دې شپه کې مړ شې ! نو پر فطرت به مړ شوی یې ! او که دي سهار کړ، نو خیر ته به و رسیږې ( متفق علیه \مشکوة المصابیح ص : ۲۰۹ج : ۱)**

**له دې حدیث څخه معلومیږي چې د دغي دُعاء د لوستونکې خاتمه به په ایمان باندي کیږي، نو د دغي دُعاء پابندي کول په کار دي څکه ډیره لویه ګټه پکې نغښتې ده، هم د دُنیا او هم د آخرت .**

**۷ : د آذان څواب د خاتمې د سمېدلو بل سبب دی :**

ketabton.com - The Digital Library



له حضرت عمر - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : کله چې مؤذن اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ. و وایي،نو په تاسوکې یو : اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ. و وایي، بیا هغه أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ. و وایي،دی ( هم ) أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ. و وایي، بیا هغه : أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ. و وایي،دی ( هم ) أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ . و وایي .

بیا هغه حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ. و وایي،دی لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ، و وایي .

بیا هغه حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ و وایي،دی لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ، و وایي .

بیا هغه اَللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ. و وایي، دی ( هم ) اَللّٰهُ أَكْبَرُ، اَللّٰهُ أَكْبَرُ. و وایي .

بیا هغه لَا إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ. و وایي،دی ( هم ) لَا إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ. له زړه څخه و وایي،

جنت ته به داخل شي ( رواه مسلم ص : ۱۶۷ج : ۱ \ مشکوة المصابیح ص : ۶۵ ج : ۱)

جنت ته د داخلېدلو مطلب دا دی چې له جهنم څخه به خلاص شي او له ابتداء څخه به جنت ته داخل شي .

د دې حدیث مطلب دا دی چې په دې دُعاء کې دا اثرشته چې انسان جنت ته داخلوي خوپه دې شرط چې بل مانع او خنډ به جنت ته له داخلېدلو موجود نه وي .

په دې حدیث کې هم د خاتمې د سمېدلو زېری دی ځکه جنت ته چې داخلېږي، د دې سره لازمه دا ده چې پر ایمان مړ شوی دی .

ketabton.com - The Digital Library


# ۸ : د آذان دُعاء لوستل :

له حضرت عبدالله بن عمروبن العاص - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : کله مو چې له مؤذن څخه اذان واورېدی، نو تاسو هم د هغه په څېر ( کلمې ) و وایاست، بیا ( د آذان تر ختمېدلو وروسته ) پر ما درود شریف ولولئ ! ځکه څوک چې پر ما باندي یو وار درود شریف و وایي ، الله پاک به پر هغه د یو ځل درود له کبله لس رحمتونه وکړي، بیا زما لپاره وسیله ( الله ته نژدېکت) و غواړئ ! ځکه دا یوه مرتبه ده چې د الله تعالی له بندګانو څخه له یوه بنده پرته بل چا سره نه ښایي او زه امید لرم چې هغه بنده به زه یم ، نو څوک چې زما لپاره وسیله وغواړي، پر ده باندي زما شفاعت حلال شو

( رواه مسلم ص : ۱۶۶ج : ۱ \ مشکوة المصابیح ص :۶۴ج : ۱)

د وسېلې د غوښتلو دُعاء به څنګه کوي ؟ دا دُعاء په دې وروستني حدیث کې راغلي ده :

له حضرت جابر - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : څوک چې کله اذان واوري، دا ( دُعاء) و وایي : اَللّٰهُمَّ رَبَّ هذه الدّعوة التّامّة ، والصّلاة الْقَائمة، آت مُحَمَّداً الْوسیلَةَ ، والْفَضِیلَة، وابْعَثْهُ مقَامًا محْمُوداً الّذي وعَدْتَه . د ده لپاره زما شفاعت د قیامت په ورځ واجب شو ( رواه البخاري\مشکوة المصابیح ص : ۶۵ج : ۱)

په حدیث کې داسي الفاظ راغلي دي : حَلّتْ لَهُ شَفَاعَتِی!

ketabton.com - The Digital Library



د دې یو مطلب دا دی چې شفاعت به ورته حلال شي او بله معنی یې دا ده چې شفاعت به ور ته واجب شي ( مرقاة المفاتیح ص : ۱۶۱ج : ۲)

د شفاعت د واجبېدلو مطلب خو واضح دی، د حلالېدلو مطلب دا دی چې که د ګناهونو له امله شفاعت ور باندي حرام شوی وي، نو د دې دُعاء له امله به ور ته حلال شي .

په دې حدیث کې هم دا زېری دی چې د دې دُعاء د لوستونکې خاتمه به ښه وي .

نو د دې دُعاء هم باید پابندي وشي ځکه ډېره لویه ګټه ده چې له ضائع کولو یې ډېره ضروري ده .

**۹ : دا لاندینی دُعاء لوستل** : د خاتمې د سمېدلو بل سبب دا دُعاء لوستل دي : رَضِیتُ بِاللهِ رَبًّا، وَ بِالاِسلَامِ دِینًا و بِمُحَمَّد نَبِیًّا.

له حضرت ابوسعید الخدري - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : مَنْ قَالَ رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولاً وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ.(رواه ابوداود ص: ۲۱۴، ج:۱).

ژباړه : څوک چې داسي و وایي : رَضِیتُ بِاللهِ رَبًّا، وَ بِالاِسلَامِ دِینًا و بِمُحَمَّد رَسُولًا

( زه پر الله چې رب دی،په اسلام چې دین دی او پر محمد - صلی الله علیه وسلم - چې رسول دی، راضي یم)د ده لپاره جنت واجب شو !!

په بل روایت کې داسي دي : مَنْ قَالَ إِذَا أَصْبَحَ رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا فَأَنَا الزَّعِيمُ لَآخُذَنَّ بِيَدِهِ حَتَّى أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ (رواه الطبرانی فی المعجم الکبیر ص: ۳۵۵ ج:۲۰).

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه : څوک چې سهار : رَضِيتُ بِاللهِ رَبًا، وَ بِالاسلاَمِ دِينًا و بِمُحَمَد نَبِيًا ! ولولي، نو زه ذمه وار یم چې دی به تر لاس نیسم او جنت ته به يې داخلوم !!

په بل روایت کې راغلي دي چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : مَنْ قَالَ رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا حِينَ يُمْسِي ثَلَاثًا وَحِينَ يُصْبِحُ ثَلَاثًا كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يُرْضِيَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (رواه الترمذی ص:۱۷۶ ج:۲ و احمد ص:۳۰۳ ج:۳۱).

یعني څوک چې ماښام او سهار درې ځله دا ( دُعاء ) ولولي : رَضِيتُ بِاللهِ رَبًا، وَ بِالاسلاَمِ دِينًا و بِمُحَمَد نَبِيًا.

پر الله باندې دا حق ده چې دی به د قیامت په ورځ راضي او خوشحال کړي !!

سهار او ماښام د دې دُعاء لوستل، د خاتمې د سمېدلوسبب دی .

## ۱۰ : لاندینی دُعاء لوستل :

يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ.

له حضرت انس - رضی الله عنه - څخه روایت چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – دا ( دُعاء ) ډېره لوستله : يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوب ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ .

یعني اې د زړونو اړوونکې ! زما زړه پر دین باندې کلک کړه !!

نو ما ور ته و ویل : اې د الله نبې ! موږ پر تا او پر هغه دین چې تا راوړی، ایمان راوړی دی، نو آیا ته پر موږ وېرېږې ؟ ( چې موږ به بېرته

ketabton.com - The Digital Library


له دینه واوړو ) و یې فرمایل : هو ! یقینا زړونه د الله پاک د دوو ګوتو ( بلا کیف ) تر منځ دي،څنګه چې یې خوښه شي اړوي یې . ( رواه الترمذي وابن ماجة \ مشکوة المصابیح ص :۲۲ج : ۱)

نوله دې حدیث څخه دا معلومه شوه چې هدایت او بې لاري د الله پاک په اختیارکې ده .

چا ته چې د هدایت اراده وکړي،د هغه زړه پر هدایت کلک کړي او څوک چې بې لاري کوي،د هغه زړه له هدایت څخه واړوي .

نو څوک چې غواړي پر هدایت تر مرګه پوري پاته او خاتمه یې پر هدایت وشي،نو باید د تل لپاره له الله پاک څخه دُعاوي وغواړي په ځانګړي توګه دغه ذکر شوې دُعاء ځکه نبي علیه السلام هم دغه دُعاء کوله .

## ۱۱ : لاندیني کارونه کول :

له حضرت عائشه - رضی الله عنها - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – و فرمایل : هر انسان په درې سوه او شپېته (۳۶۰) بنده پیدا شوی دی .

نو چا چې الله اکبر،الحمدلله، لااله الاالله او سبحان الله و ویله، له الله پاک څخه یې استغفار او بخښنه و غوښتله، د خلګو له لاري یې ډبره،یا ازغی او یا هډوکی لېري کړ،یا یې په ښو امر وکړ،یا یې له بدو منعه وکړه ( دا کارونه یې ) د دغو درې سوه او شپېتو ( بندونو ) په شمېر (وکړل ) ،نو دی په دې ورځ ګرزي په داسي حال کې چې ځان یې له اوره لري کړی دی ( رواه مسلم \ مشکوة المصابیح ص : ۱۶۸ج : ۱)

ketabton.com - The Digital Library


په دې حدیث کې هم د خاتمې د سمبدلو زېرى دى .

۱۲ : لاندیني کارونه کول :

۱ : د الله پاک سره مینه او محبت کول .

۲ : د مؤمنانو سره نرمي کول .

۳ : د کافرانو په هکله سخت کېدل .

۴ : د الله - جل جلاله - په لار کې جهاد کول .

۵ : د الله پاک او د دین په هکله د چا له ملامتیاڅخه نه وېرېدل .

الله - جل جلاله – فرمایي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (المائدة:۵۴)

ژباړه : اې مومنانو ! په تاسو کې چې څوک له خپله دینه وګرځید، نو ژر به الله - جل جلاله - داسې خلګ راولي چې الله تعالى د دوى سره مینه لري او دوى د الله سره مینه لري، پر مومنانو نرمي او پر کافرانو سختي کوونکې وي، د الله په لار کې به جهاد کوي او د چا ملامتوونکې له ملامتیا څخه به نه ډارېږي، دا د الله یو فضل دى چاته چې یې خوښه شي ورکوي یې او الله د پراخۍ څښتن او پوه دى !!

په دې آیت مبارک کې مومنانو ته تسلي ده چې که څوک مرتد شي، اسلام او مسلمانانو ته ضرر نه شي رسولى، ضرر او تاوان یې په خپله هغه ته رسېږي او الله پاک د دین د حفاظت لپاره نور خلګ پیداکوي چې په هغو کې به یاد شوي پنځه صفات موجود وي .

ketabton.com - The Digital Library



په دې آیت کې اشاره ده چې په چا کې دا صفات وي هغه به له دین څخه نه مرتد کېږي ځکه مرتدینو دغه صفات پرېښودل چې په پایله کې یې له دین څخه واو ړېدل ( العیاذبالله )

## ۱۳ : د مسلمان په غیاب کې دفاع :

په حدیث کې راغلي دي : چا چې د خپل ورور د غوښي له خوړلو ( د غیبت کولو ) څخه د هغه په نه شتون کې دفاع وکړه، نو پر الله باندي دا حق دی چې دی به له او ر څخه ازادوي . ( شعب الایمان للبیهقي\ مشکات ص : ۴۲۴ج : ۲)

په دې حدیث کې هم د خاتمې د سمېدلو زېری راغلی دی .

د مسلمان دفاع د هغه په غیاب کې ډېر ضروري او لوی د ثواب کار دی.

خو متاسفانه چې په دې کارعمل کوونکې خلګ ډېر کم دي،ډېر کم داسي لیدل کېږي چې د مسلمان دفاع کېږي .

په عمومي توګه چاپېریال داسي دی چې یو په چا پسي یوه خبره وکړي، پر ځای د دې چې مخاطب یې خبره رد کړي، یو دوه نوري دی هم ور سره زمزمه کړي او په دې سره خپل ناروا مجلس ښه ګرم کړي .

## ۱٤ : د الله پاک په کتاب او د نبي - علیه السلام - په مبارکو طریقو عمل کول :

د الله پېغمبر – صلی الله علیه وسلم – فرمایي : ما په تاسو کې دوه شیان پرېښودل تر څو چې تاسو پر هغو لاسونه ټینګ کړي وي،

ketabton.com - The Digital Library


هیڅکله به ګمراه نه شئ ! د الله کتاب او زما سنت ( رواه مالک في المؤطاء ص : ۸۹۹ ج : ۲ ، مشکات ص : ۳۰ج : ۱)

## ۱۵ : پنځه لمونځونه په خپل وخت سره ادا ء کول

په حدیث شریف کې راغلي دي چې ما ته الله پاک و فرمایل : اې محمده! - صلی الله علیه وسلم - ملأاعلی د څه په هکله بحث کوي ؟ ما و ویل : په کفاراتو ( د ګناهونو په رژونکو شیانو ) کي( بحث کوي ).

او کفارات تر لمانځه وروسته په مسجدونو کې ایسارېدل،جماعتونو ته پیاده تلل او په یخنۍ کې پوره اودس کول دي .

څوک چې دا کار وکړي،په خیر به ژوند تېر کړي، په خیر سره به مړ شي او له ګناهونو به داسي ( پاک ) شي لکه په کومه ورځ چې له مور څخه زېږېدلی وو . ( رواه الترمذي ، مشکوة المصابیح ص : ۷۰ج : ۱)

په دې حدیث کې هم د خاتمې د سمېدلو زېری راغلی دی .

## ۱٦ : صدقې او خیراتونه :

له حضرت انس بن مالک - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – و فرمایل : یقیناً صدقه د الله پاک غضب سړوي او بد مرګ ګرزوي . ( رواه الترمذي و ابن حبان في صحیحه \ الترغیب والترهیب ص : ۷ج : ۲ )

## ۱۷ : پر الله پاک ښه ګومان ساتل :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- « يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي (رواه البخاری ص: ۱۱۰۱ ج: ۲،و مسلم ص: ۳۴۱ ج: ۲)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه : له حضرت ابوهریره - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه و سلم – و فرمایل : چې الله تعالی فرمایي : زه د بنده د ګومان سره یم چې پر ما یې لري !!

له دې حدیث څخه دا معلومېږي چې پر الله پاک څوک ښه ګومان لري چې الله پاک به زماسره ښه معامله کوي،بخښي به مي او له ایمان څخه به مي نه بې برخي کوي، الله پاک ور سره د ده دګومان مطابق عمل کوي نو دا هم یوسبب دی د خاتمې د سمېدلو .

۱۸ : **توبه ایستل** : الله تعالی فرمایي : وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾(النور۳۱)

ترجمه : اې مؤمنانو ! تاسو ټول الله ته توبه وباسئ ! د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ !!

له دې آیت مبارک څخه یوه دا مسئله هم معلومېږي چې توبه یوازي د هغه چا لپاره نه ده چې ګناه ترې شوې وې، بلکې هر څوک به یې باسي،که نېک عمله دی او که بد عمله .

ځکه توبه یو مستقل عبادت دی، له دې امله الله پاک ټولو مؤمنانو ته د توبې ایستلو امر کړ ی دی .

په مومنانوکې د حضرت ابوبکر صدیق - رضي الله عنه - په څېر خلګ هم شامل دي، هغوی ته هم دا حکم دی چې توبه وباسي د دې لپاره چې تاسوکامیاب شئ!

ketabton.com - The Digital Library



همدا راز دا هم معلومه شوه چې په توبې سره انسان کامیابي تر لاسه کولی شي .

له دې معلومېږي چې څوک توبې الله پاک ته تل له خپلو ګناهونو باسي، د هغه خاتمه به هم پر ایمان راځي، ځکه بریالیتوب ته له ایمان پرته رسېدل ناشونی دی .

۱۹: د مرګ یادول او د امیدونو لنډول .

دا هم د خاتمې د سمېدلو سبب دی .

۲۰ : پر عبادتونو همېشوالی کول .

۲۱ : له هغو کارونو ډډه کول د کومو له امله چې خاتمه خرابېږي .

دا د خاتمې د سمېدلو هغه اسباب دي چې موږ يې په ليکلو و توانېدو . که مزيدڅېړنه وشي، ښايي نور کارونه هم وموندل شي چې په هغوسره خاتمه سمېږي.
د دغوکارونو په هکله بايد کوشش وکړو چې پلي يې کړو، څو خاتمه مو الله پاک سمه کړي او ابدي نېکمرغي مو په برخه شي .

ketabton.com - The Digital Library



د دې سره دا هم ضروري ده چې له هغو کارونو هم ځان وساتو کوم چې د خاتمې د خرابېدو اسباب دي ځکه ددواء سره پرهېز هم ضروري وي .

# د انسان په بدن کې د زړه رول او اهمیت

د انسان په بدن کې تر هر څه مُهم زړه دی او په زړه کې چې څه دي، د هغه سره د انسان نېکمرغي او بدمرغي تړلې ده .

الله تعالی د منافقانو په اړه فرمایلي دي : أُوْلَئِكَ الَّذِينَ يَعْلَمُ اللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُل لَّهُمْ فِي أَنفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيغًا (النساء:٦٣).

ژباړه : دوی ( منافقان ) هغه خلګ دي چې په زړو کې یې په موجودو خبرو باندې الله پوهېږي، نو څنګ ترې وکړه، نصیحت ور ته وکړه او په اړه یې زړه پرېوتونکې خبره ور ته وکړه !!

نو د دوی لپاره له مؤمنانو د بېل چلند د حُکم لامل د دوی د زړونو ناسم حالات دي، کوم چې الله تعالی ته معلوم دي .

د انسان په زړه کې چې څه وي د الله پاک د رحمت د راجلبولو سبب دی او همدا راز د الله پاک د عذاب د نازلېدلو سبب هم دی .

نو کله چې د چا په زړه کې خیر وي، سکینه او رحمت به پرې نازلېږي .

الله تعالی د صحابه کرامو – رضي الله عنهم – په اړه فرمایلي دي :

لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا .(الفتح:١٨)

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه : يقيناً له مؤمنانو څخه الله راضي شو، کله چې يې ستا سره د ونې لاندې بيعت ( لوظ ) کولو ، څه چې د هغوی زړونو کې وو هغه يې معلوم کړل، نو سکينه ( ډاډينه او آرام ) يې پرې نازله کړه او په نږدې ( راتلونکې ) برياليتوب سره يې بدله ور کړه !!**

**په دې آيت کې د الله تعالى له لوري د سکينې او رحمت د نازلېدلو لامل د مؤمنانو د زړونو سمون ښودل شوی، کوم چې الله تعالى ته معلوم وو .**

**نو بايد د زړه اصلاح او سمون ته ډېره پاملرنه وشي، څومره چې زړه سم وي، هغومره به خير انسان ته راځي . الله تعالى فرمايلي دي : يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِي أَيْدِيكُمْ مِنَ الْأَسْرَى إِنْ يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِمَّا أُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ *وَإِنْ يُرِيدُوا خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللَّهَ مِنْ قَبْلُ فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ .(الأنفال:٧٠-٧١)**

**ژباړه : اې پيغمبره ! – صلى الله عليه وسلم – هغو بنديانو ته چې ستاسو په لاسو کې دي، ووايه ! که الله ته معلومه وي چې ستاسو په زړونو کې څه خير شته، نو تر هغه به غوره در کړي چې له تاسو اخيستل شوي او بخښنه به هم در ته وکړي، او الله بخښونکی، مهربان دی . او که دوی ستا سره د خيانت کولو اراده لري، نو دوی د الله سره وړاندې خيانت کړی وو، نو ( تاسو يې ) پرې غالب کړی او الله پوه ، حکمت والا دی !!**

ketabton.com - The Digital Library


همدا راز د زړه اهمیت په دې کې دی چې د نور بدن برخلیک د زړه سره تړلی دی، که زړه سم وو،نور بدن هم سمېږي او که زړه خراب شو، نور بدن هم خرابېږي .

په دې اړه د اسلام ستر لارښود جناب محمدرسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمائلي دي : أَلَا وإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ.(رواه البخاری ص:۱۳ ج:۱ومسلم ص:۲۸ ج:۲)

ژباړه : خبر شئ ! د انسان په بدن کې یوه ټوټه غوښه ده،کله چې هغه سمه شي، ټول بدن سمېږي او کله چې هغه ټوټه خرابه شي، ټول بدن خرابېږي، خبر شئ ! هغه زړه دی !!

الله - جل جلاله - فرمائلي دي : وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ. ( المدثر : ۴ )

ژباړه : خپلي جامې پاکې ساته !!

د دې آیت مبارک ډېر تفسیرونه دي .

{او ل }جامې پاکې ساته ځکه د الله طرفته داعي خو لمونځ کوي، نو د هغه لپاره د جامو پاکوالی ضروري دی او په عامو حالاتو کې هم پاکې جامې ښې دي .

{ دویم } خپل عمل له شرک،ریاء او ځان ښودني پاک ساته !

{ دریم } خپله ذمه پاکه کړه او خپله غاړه په دعوت سره خلاصه کړه !

{ څلورم } خپل نفس له بدو اخلاقو پاک کړه !

{ پنځم } خپل زړه د غیرُالله ( له الله پرته د بل چا ) له تعلقه پاک ساته!

ketabton.com - The Digital Library


{ شپږم } خپلي جامې پاکې ساته ! يعني له حـرام مـال څخـه جـامې مـه جوړوه !

{ او م } خپل دين پاک ساته له شرک او بدعته !

دا آيت د دې ټولو معانيو احتمال لري،نو دې ټولو معناوو ته شامل دی او په دې معناوو کې منافات نشته .

په دې کې يوه معنی دا ده چې خپل زړه پاک کړه !

د زړه پاک ساتل ډېر مهم دي ځکه زړه د انسان په نېکمرغۍ او بـدمرغۍ کې ډېر رول لري ځکه زړه د بدن د باچا په څېر دی او د بدن نور اعضاء ئې د لښکرپه څېر دي،کله چې باچا سم شي، لښکر هم سمېږي او کله که باچا خراب شي، لښکر هم خرابيږي .

متاسفانه ډېر خلگ که څه هم په ظاهري اعمالو کې هلي ځلي کوي خو د زړه له اصلاح او سـمولو څخـه غافـل دي پـه داسـي حـال کـې چـې زړه اساس او بُنياد دی .

بل دا چې د خلگو تر منځ چې څومره مشکلات او ستونزي دي د هغو اساس او بُنياد زړه دی .

د زړه اصلاح او سمېدل د دُنيا او آخرت د نېکمرغۍ لامل دی .

د زړه رُتبه په دُنيا او آخرت کې ډېـره لويـه او مهمـه ده، پـه دې اړه الله تعـالی فرمـايي : يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ، إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ( الشعراء:۸۸،۸۹)

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه : په هغه ورځ چې نه به مال فائده ور کوي او نه زامن، مګر چا چې سالم او روغ زړه راوړی !!**

**یعني په قیامت کې به نجات او خلاصون یوازي د هغه چا په برخه وي څوک چې د سالم او روغ زړه خاوندوي .**

**په بل ځای کې فرمايي :** مَنْ خَشِيَ الرَّحْمَنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُنِيبٍ (سورة ق: ٣٣).

**یعني د نجات خاوند به هغه څوک وي څوک چې له الله جل جلاله څخه په پټه وېرېدلی وي او د انابت ( حق ته ګرزېدونکی ) زړه ئې راوړی .**

**د زړه سمون د انسان د کامیابۍ لپاره ډېر ضروري دی .**

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ (رواه مسلم ص: ٣١٧ ج: ٢، مشكاة المصابيح ص: ٤٥٤)

**ژباړه : حضرت ابوهریره - رضی الله عنه - فرمايي : چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمائلي دي : الله تعالی ستاسو شکلونو او مالونو ته نه ګوري بلکې ستاسو زړونواو عملونو ته ګوري !!**

**یعني الله تعالی د انسانانو شکلونو ته نه ګوري چې ښائسته او مالدار ته جنت ور کړي، بدرنګ او غریب ته دي دوزخ ور کړي بلکې د انسان**

ketabton.com - The Digital Library



زړه او عمل ته ګوري،کله چې یوعمل وکړي،نو زړه ته ئې الله تعالی ګوري، چې د زړه حالت ئې څنګه دی ؟ په دې عمل کې ئې اخلاص شته او که نه ؟ که اخلاص نه وي هغه ورته د قبلېدلو جوګه او وړ نه دی .

له دې حدیث څخه هم د زړه اهمیت معلومیږي چې د انسان د فلاح او د ده د عبادت قبلېدل د ده په زړه پوري ارتباط لري .

زړه په دین کې تر هر څه ډېر اهمیت لري،که د چا په زړه کې ایمان نه وي، او په ښکاره عبادات کوي،الله تعالی ئې ظاهري ایمان او عبادات نه قبلوي . منافقینو ظاهراً عبادات کول، خو کله چې ئې په زړه کې ایمان نه وو،الله پاک ئې نه یوازې دا چې د هغوی عبادتونه قبول نه کړل، بلکې دوی ته ئې د جهنم تر ټولو په لاندینۍ برخه کې ځای چمتو کړ .

د زړه اهمیت په دې اساس هم دی چې امتحانونه په زړه باندی راځي او هر قسم فتنې او فسادات لومړی زړه ته متوجه وي .

په حدیث شریف کې راغلي دي : فتنې پـه زړونـو بانـدي ور پېښـېږي، کوم زړه ئې چې قبولي کړي، په هغه کې تورټکی پیداشي او کـوم زړه ئې چې قبول نه کړي، سپین ټکې پکې پیداشي،تردې چې زړونه دوه ډوله شي یوتورزړه او بل سپین زړه ( مسلم شریف ص : ۸۲ ج : ۱ )

علماوو لیکلي دي چې اصلي امتحان دا نه دی چې انسان په ظاهره بندي شي او یا لـه تکالیفو او ستونزو سره لاس او ګرېوان شي بلکې

ketabton.com - The Digital Library



ډېر سخت امتحان د زړه امتحان دی، الله تعالی هم د زړونو امتحان ته اشاره کړې ده فرمايي : وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ(الانفال:۲۴) ژباړه : پوه شئ چې الله تعالی د سړي او د هغه د زړه تر مينځ پرده اچوي!! مفسرينو د پردې اچولو تفسير داسي کړی، چې مهر په زړه باندي لګوي او يا دا چې دا پرده عامه ده، څوک داسي کړي چې د هغه او طاعت تر منځ پرده واچوي .

بيا عبادت نه شي کولی او څوک داسي کړي، چې د هغه او ګناه تر منځ پرده واچوي او له ګناهونو څخه بند شي .

په زړه باندي اکثر امتحان د عبادت په وخت کې راځي،کله چې انسان يو عبادت شروع کړي، دلته شيطان کوشش کوي، چې په يو ډول ئې دا عبادت ور خراب کړي، قسم قسم فکرونه ور اچوي چې په هغو سره ئې توجه اړوي او دا کوشش کوي،چې اخلاص ئې ور ختم کړي او خواري ئې عبث کړي .

الله تعالی فرمايي : وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا(الفرقان:۲۳) ژباړه : موږ ور وړاندي شولو هغه عملونو ته چې دوی کړي وو،نو الوزول شوي دوړه مو ور ګرزوله !!

يعني دوی چې کوم ښه کارونه کړي وو،له دې امله چې د دوی زړونه روغ نه وو،اخلاص ئې په زړه کې نه لری او بل څوک ئې د الله سبحانه

ketabton.com - The Digital Library



وتعالی سره شریکان کړي وو،نو هغه مو د دُوړي په څېر برباد او بې فائدې کړل .

مسلمان باید د هر عمل د کولو په وخت کې د زړه حالت ته ډېره اعتناء وکړي، تر څو عمل ئې بې ځایه لاړ نه شي .

د زړه مثال د سمندر او دریاب په څېر دی، ځکه په زړه کې هم ډېر قسم حالات او ډول ډول شیان شته : ځیني ئې ښه او ځیني ئې بد دي .د زړه مرضونه دا دي : غفلت، کرېدل، سختوالی، منافقت، ریاء او ځان ښودنه په عبادت کي، حسد او کینه، بد گوماني، تکبر او لويې، شک او شُبهه .

دا ټول د زړه حالات دي او د داسي حالاتو د زړه صفت توروالی دی .

الله - رب العزت - دي زموږ زړونه اصلاح کړي، تر څو همېشنۍخوشي او برى مو په برخه شي .

# د زړه د کلکوالي اثر او نتیجه

که موږ خپلو حالاتو او ځانونو ته فکر وکړو، را ته څرگنده به شي،چې زموږ په ډېرو کارونو کې ډېر نقصانونه او نیمگړتیاوي شته .

لکه د بېلگي په توگه په لمانځه کې مو خشوع او عاجزي نشته، د قرآن کریم د تلاوت په وخت کې له قرآن کریم څخه اثر اخیستل په موږ

ketabton.com - The Digital Library



کې کم دی، ځکه نه وي،په کاروبار کې له شبهاتو څخه د ځان د ژغورنې د هڅو

نه شتون،د نورو خلکو پر حقوقو تېری او ظلم کول په موږ کې شته، د ورونو په منځ کې د بدګومانۍ شتون او په کورنیو کې اختلافات او جنجالونه .

له دغو ټولو نښو څخه جوتېږي چې په موږ کې يو خطرناک مرض موجود دی چې هغه د زړونو کلکېدل دي .

د زړه کلکېدل يو ډېر ناوړه مرض دی چې په مخکنو بې لاري شويو امتونو کې را څرګند شوی وو او الله پاک د دوی د دې ناوړه صفت له امله بد ويلي او مؤمنانو ته يې حکم کړی چې د دوی له مشابهته ځان وساتئ ! او له دې ناوړې ناروغۍ ځان لېرې وساتئ !

الله - جل جلاله - فرمايلي دي : وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ(سورة الحديد:١٦)

ترجمه : او چې (مومنان دي) د هغو کسانو په شان نه کېږي چې له دې مخکې کتاب ور کول شوی وو، چې اوږده زمانه پرې تېره شوه، زړونه يې کلک شول،او له هغوی څخه زياتره فاسقان وو!!

ketabton.com - The Digital Library



يعني بايد مؤمنان د مخکينيو کتابيانو له مشابهت څخه ځان وساتي ځکه د هغوی زړونه سخت شوي وو، نو نه يې وعظ قبلوی او نه د دين طرف ته بېرته راګرځېدل .

له هغوی څخه اکثره فاسقان وو : يعني د زړه کلکوالی په ټولوکې وو، خو ځينوکسانو توبې وايستلې، خو زياترو يې توبې هم و نه ايستلې .

په يوه روايت کې راغلي دي : إنّ أبْعَدَ النّاسِ مِنَ اللهِ القَلْبُ القَاسِي (رواه الترمذي ص : ۶۶ ج : ۲، رياض الصالحين ص : ۴۴۶ )

يعني په يقيني توګه له الله پاک څخه په خلګو کې ډېر لري کلک زړه دی !!

سخت زړی انسان د حق او باطل تر منځ توپير نه شي کولی، له نصيحت څخه ګټه نه اخلي او نصيحت نه قبلوي،حق ته غوږ نه نيسي او د الله تعالی عبادت خوند نه ور کوي .

اسلام زړه ته د پام وړ پاملرنه کړې او انسان يې هڅولی چې دی بايد د ده په بدن کې د دې مُهم غړي د علاج لپاره ډېري هلي ځلي وکړي .

د زړه د کلکوالی د ختمېدلو لپاره څو علاجونه شته چې د هغو په اختيارولو سره به ان شاء الله تعالی په زړه کې نرمي پيداشي .

ketabton.com - The Digital Library



# د زړه د کلکوالي علاجونه

۱ : له الله پاک څخه هدایت غوښتل او دُعاګاني کول .

۲ : مسکینانو ته خوراک ور کول .

۳ : پر یتیمانو شفقت او ترحم کول :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا شَكَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْوَةَ قَلْبِهِ فَقَالَ امْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيمِ وَأَطْعِمْ الْمِسْكِينَ(رواه احمد ص :۵۵۸ ج:۱۴ ،مشکاة المصابیح ص:۴۲۵ج: ۲ )

ژباړه : له حضرت ابوهریره - رضی الله عنه - روایت دی چې یوه سړي رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته د زړه له کلکوالي شکایت وکړ .

رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ورته و فرمایل : د یتیم پر سر لاس تېروه او مسکینانو ته ډوډۍ ور کوه !!

له حضرت ابوالدراء - رضی الله عنه - روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته یوسړی راغی او د خپل زړه له سختوالي یې شکایت وکړ .

رسول الله - صلی الله علیه وسلم – ور ته و فرمایل : ته غواړې چې ستا زړه نرم او خپل مقصد تر لاسه کړې ؟

ketabton.com - The Digital Library



پر یتیم رحم کوه،پر سر یې لاس تېروه،له خپله خوراکه هغه ته هم خوراک ورکوه، ستا زړه به نرم او خپل حاجت به تر لاسه کړې !!

۴: د فرضي لمونځونو پابندي کول .

۵ : د حلال کسب هڅه کول او د امانت اداء کول .

۵ : نفلي لمونځونه او نور عبادتونه زیات کول .

۶ : د زړه د نرمېدلو لپاره لوی سبب د الله - جل جلاله – ذکر کول دي .

د الله تعالی ذکر چې کوم انسان کوي، د هغه زړه به نه سختیږي،څوک چې څومره د الله تعالی له بندګۍ او ذکر څخه غافل شي ، هغومره به یې زړه سختیږي .

۷ : د خبرو کمول : داهم دزړه په نرمېدلو کې ډېر مؤثر عمل دی .

۸ : مسخرې او ټوقې پرېښودل : له دې امله له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه په ټول عمرکې یوازې شل ځله مزاح رانقل شوې دي، سره د دې چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مزاح هم حق وو .

۹ : د مرګ یادول : د مرګ یاد انسان له ټولو ګناهونو څخه را ګرزوي او د انسان په زړه کې له دې امله ډېره نرمي پیدا کېږي .

ketabton.com - The Digital Library



۱۰ : د قبرونو زیارت کول :

د قبرونو زیارت کول د انسان زړه نرموي ځکه چې د قبرونو د زیارت په مشروعیت کې غرض دا دی چې انسان ته آخرت ور په یاد شي او له دُنیا سره یې مینه کمه شي .

کله چې د انسان د دُنیا سره مینه کمه او آخرت ته یې توجه زیاته شي، نو په زړه کې یې نرمي په خپله راځي .

۱۱ : جنازي ته حاضرېدل .

۱۲ : سخاوت او د خلګو سره نېکي کول .

۱۳ : توبې او استغفارونه زیاتول او پر ګناه باندي له اصرار کولو څخه ډډه کول .

۱۴ : د دیني علم او د ذکر په مجلسونو کې ګډون کول .

۱۵ : د نېکانو خلګو سره مجلس او د علماوو سیرت ته پام کول .

۱۶ : له دُنیا سره مینه کمول،د دُنیوي ژوندانه په کموالي کي،د حالاتو په بدلېدلو کې یې فکرکول او الله پاک چې کوم نعمتونه نېکانو ته تیار کړي، د هغو سره مینه او رغبت کول .

ketabton.com - The Digital Library



۱۷ : د مریضانو،مصیبت وهلیو او مرګ ته نږدې کسانو زیارت کول او د دوی له حال څخه نصیحت اخیستل .

۱۸ : د قرآن تلاوت  د فکر او سوچ سره زیات کول .

# زړه ولې کلکیږي ؟

د زړه د کلکوالي اسباب دا دي :

۱ : له قرآن کریم او د الله پاک له ذکر څخه اعراض او مخ ګرزول .

۲ : د فرائضود اداء کولو په هکله کمزوري کول .

۳ : حرام مال خوړل .

۴ : ګناهونه کول .

۵ : په جهالت او ناپوهۍ سره راضي کېدل او د علم د زده کړې پرېښودل.

۶ : تکبر او لویي .

۷ : بحثونه او  مناظري ډېري کول .

۷ : بد اخلاقي .

ketabton.com - The Digital Library



۸ : ډېر خوراک .

۹ : ډېر خوب .

۱۰ : ډېري خبري .

په یوه روایت کې راغلي دي : لَا تُكْثِرُوا الكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ الله؛ فَإِنَّ كَثْرَةَ الكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ الله تَعَالَى قَسْوَةٌ لِلقَلْبِ ! وإِنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللهِ القَلْبُ القَاسِي . ( رواه الترمذي ص : ۶۶ج : ۲ )

ژباړه : د الله پاک له ذکر پرته خبري مه ډېروئ ! ځکه د الله تعالی له ذکر پرته د خبرو ډېرول د زړه لپاره کلکوالی دی او په یقیني توګه له الله پاک څخه په خلګو کې ډېر لري کلک زړه دی !!

۱۱: د خلګو سره ډېر تعلق او ګډون :

ابن قیم رحمه الله لیکلي دي چې زړه د څلورو شیانو له امله سختیږي کله چې ترخپلي اندازې واوړي : خوراک،خوب،خبري او اختلاط (دخلګوسره ډېرتعلق او ګډون)( الفوائد ص : ۱۶۷)

۱۲ : امیدونه .

۱۳: د غیرالله سره تعلق :

ketabton.com - The Digital Library


ابن قیم جوزی رحمه الله لیکې : زړه پنځه شیان خرابوي : ډېر اختلاط (د خلګو سره ډېره ناسته او ګډون ) امیدونه، له الله پرته د بل چا سره تعلق، موړوالی (په ډک نس خوراک کول) او ( ډېر ) خوب ( مدارج السالکین ص : ۳۴۳ج : ۱)

وروسته ابن قیم - رحمه الله - په خپل کتاب کې د دې شیانو تفصیل او لاملونه لیکلي دي .

نو که څوک د زړه د کلکوالي له دغو اسبابو څخه ځان وژغوري، ان شاء الله تعالی زړه به یې نه کلکېږي .

الله پاک دي زموږ زړونه سالم زړونه کړي .

( یادونه : د بحث د او ږدوالي د وېرې له امله مو د هر سبب تفصیل و نه کړ، بلکې د ځینو په تفصیل مو اکتفاء وکړه !)

# عبادت یعني څه ؟

عبادت د هر هغه کار او وینا لپاره که ښکاره وي او که پټه وي، چې الله پاک یې خوښوي او الله راضي کوي، یو جامع نوم دی ( تیسیر الکریم الرحمان ص : ۲۱، اثر العبادات في حیاة المسلم ص : ۱)

عبادت یوازي لمونځ او روژې ته نه ویل کېږي بلکې عبادت ډېر قسمونه لري لکه لمونځ، روژه، وېره، امید، توکل، رغبت، رهبت، د چا

ketabton.com - The Digital Library



د تقرب لپاره د څاروي حلالول ، نذر او نیاز، رکوع، سجده، طواف، قسم، فیصله او حکم او داسي نور...

امام غزالي - رحمه الله – په خپل کتاب اربعین کې د عبادت لس قسمونه لیکلي دي : هغه دا دي : لمونځ، زکات، روژه، حج،د قرآن تلاوت، په هر حال کې د الله پاک ذکر کول،د حلالي روزۍ لپاره کوشش کول، د ګاونډي او ملګري حقوق اداء کول، خلکو ته د ښوکارو حکم کول او له بدو منع کول او د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- د سنتو تابعداري کول .( تفسیر معارف القرآن ص : ۸۷ج : ۱)

حضرت مولانا مفتي محمد شفیع – رحمه الله – د عبادت د قسمونو د یادولو پسې لیکې : له دې امله په عبادت کې د الله تعالی سره د چا د نه شریکولو معنی دا ده چې نه د چا محبت د الله ( سره د محبت ) برابر وي، نه د چا وېره د الله ( څخه د وېري سره ) برابره وي، نه له چا څخه امید د الله ( تعالی څخه د امید سره ) برابر وي، نه پر چا اعتماد پر الله ( تعالی د اعتماد ) په څېر وي، نه د چا خبره منل، خدمت او کار دومره ضروري و ګڼي، څومره چې د الله عبادت ( ضروري ) دی، نه د الله په څېر د چا لپاره نذر او شکرانه و مني، نه د الله تعالی په څېر د کوم بل چا په وړاندي د خپلي پوره عاجزۍ او تذلل ښکارندوینه وکړي، نه هغه کارونه د کوم بل چا لپاره وکړي، کوم چې د انتهائي تذلل نښي دي لکه رکوع او سجده . ( تفسیر معارف القرآن ص : ۸۷ ج : ۱ ) .

ketabton.com - The Digital Library


# عبادت د چا لپاره ؟

ټول عبادتونه باید یوازي د الله پاک لپاره وشي او بل هیڅوک د الله سره په عبادت کي شریک نه کړل شي لکه څنګه چي الله تعالی فرمائلي دي : قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ{ سورة الانعام:١٦٢}

ژباړه : ورته ووایه اي نبي { صلی الله علیه وسلم } بې شکه زما لمونځ، قرباني، زما ژوند او مرګ ټول خاص د الله تعالی لپاره دي چې د ټول عالم ساتونکی دی!!

علامه ابن کثیر- رحمه الله – د دې آیت په تفسیرکې لیکې :

الله پاک نبي علیه السلام په دې سره امرکوي چې هغه مشرکین خبرکړه چې د غیرالله عبادت کوي او د هغه په نوم ذبح (د څاروي حلالول)کوي، په دې چې دی په دې کارکې د دوی مخالف دی، ځکه د ده لمونځ خاص د الله لپاره دی او نسک یې یوازي د الله په نوم دی چې شریک نه لري ( تفسیر ابن کثیر ص : ۱۲۸ج : ۳ )

نُسُک : په حج او عمره کې ذبح او عام د څاروو حلالول .

په دې آیت کې اشاره ده چې مؤمن هغه دی چې د هغه دا ټول اعمال د الله لپاره خاص وي ځکه د مشرکینو سره اختلافي موضوع هم دا وه، هغوی هم لمونځ او نورعبادات کول، خو هغوی نور نېکان بندګان هم د الله پاک سره شریکول .

که دا شرط په عبادت کې موجود نه وي، هغه عبادت مردود دی، د الله پاک په دربار کې د قبلېدلو جوګه نه دی، الله - جل جلا له - د هغه چا

ketabton.com - The Digital Library


د عملونو په هکله چې په شرطونو یې برابر نه وي کړي فرمایلي دي :
وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا (الفرقان:۲۳)
ترجمه : هر څه عمل چې دوی کړی وي، موږ به هغه ته ور وړاندي شو، نو موږ به یې الوزول شوې دوړه وګرزوو!!
علامه ابن کثیر- رحمه الله – د دې آیت په تفسیر کې لیکي : وَذَٰلِكَ لِأَنَّهَا فَقَدَتِ الشَّرْطَ الشَّرْعِيَّ، إِمَّا الْإِخْلَاصَ فِيهَا، وَإِمَّا الْمُتَابَعَةَ لِشَرْعِ اللهِ، فَكُلُّ عَمَلٍ لَا يَكُونُ خَالِصًا وَعَلَى الشَّرِيعَةِ الْمَرْضِيَّةِ فَهُوَ بَاطِلٌ.(تفسیر ابن کثیر ص:۵۹۰ ج:۴)
یعني دا عملونه یې په دې برباد شول چې (دقبولیت)شرعي شرط پکې ( موجود ) نه وو : یا اخلاص پکې نه وو او یا د الله ( تعالی ) د شریعت تابعداري پکې نه وه .
هر عمل چې په اخلاص او شریعت مرضیه سره نه وي ترسره شوی، هغه باطل دی!!

# عبادت به څنګه کوي ؟

اوس چې څوک یوازي د الله پاک عبادت کوي، بل څوک نه ور سره یوځای کوي، نودا عبادت باید په هغه طریقه وکړي د کومي چې الله تعالی او د هغه پېغمبر- صلی الله علیه وسلم - ښوونه کړې وي .
دا د : لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ د کلمې غوښتنه ده.
د لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مقتضی دا ده چې عبادت باید یوازي د الله - جل جلا له - لپاره وشي، بل هیڅوک په هیڅ قسم عبادت کې ور سره شریک نه کړل شي .

ketabton.com - The Digital Library


د مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰه مقتضی او غوښتنه دا ده چې عبادت باید د رسول الله – صلی الله علیه وسلم – په طریقه وشي، خپله خوښه به په عبادت کې څوک نه چلوي .

الله - جل جلا له - فرمايي : لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا (سورة الاحزاب آيت:۲۱)

ژباړه : یقیناً ستاسو لپاره د الله په رسول کې د تابعدارۍ ښائسته نمونه شته، د هغه چا لپاره چې د الله تعالی او د آخرت د ورځې هیله لري اوالله ډېر یادوي !!

یعني څوک چې پر الله تعالی او د آخرت پر ورځې ایمان لري، نو هغه دي د دې پېغمبر تابعداري او اقتداء وکړي .

علامه ابن کثیر – رحمه الله – لیکي : هَٰذِهِ الْآيَةُ الْكَرِيمَةُ أَصْلٌ كَبِيرٌ فِي التَّأَسِّي بِرَسُولِ اللهِ ﷺ فِي أَقْوَالِهِ وَأَفْعَالِهِ وَأَحْوَالِهِ (تفسير ابن كثير ص:۱۵۷ ج:۵)

یعني دغه آیت کریمه په رسول الله – صلی الله علیه وسلم – پسي د هغه په ویناوو، کارونو او حالاتو کې په اقتداء کولو لوی دلیل دی!!

یعني د نبي – علیه السلام – په هر څه کې تابعداري د امت لپاره ضروري ده .

که څوک د نبي – علیه السلام - د طریقي خلاف په بل ډول عبادت کوي،نو عبادت یې د قبلېدلو جوګه او لائق نه دی ځکه الله - جل جلاله - په خپل کتاب کې فرمائلي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ (سورة محمد:۳۳)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه : اې د ایمان خاوندانو! د الله او د هغه د پېغمبر تابعداري وکړئ او خپل عملونه ( په مخالفت سره ) مه بربادوئ !!

د اسلام ستر لاربنود جناب محمد رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمائلي دي :مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ (رواه مسلم ص:۷۷ ج:۲)

ترجمه : چا چې داسي کار وکړوچې پر هغه زموږ امر موجود نه وي، نو هغه عمل مردود دی!!

یعني څوک چې یو داسي عمل وکړي چې د هغه په هکله د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - طریقه او لاربنوونه موجوده نه وي، یا خو بالکل هغه عمل په دین کې ثابت نه وي، چا له ځانه جوړ کړو، یا یي داسي عمل وکړو چې په دین کې ثابت وو خو دې سړي په داسي طریقه وکړو چې هغه طریقه په دین کې ثابته نه وه، له ځانه یې یو قید ور زیات کړ، نو دغه عمل یې مردود دی، د الله پاک په دربار کې نه قبلیږي .

که څوک یو عمل په صحیح نیت سره وکړي، خو د نبي – علیه السلام – په طریقه سره نه وي، بیا یې هم عبادت معتبر نه دی .

یوه صحابي خپل اختری (اضحیه) د اختر تر لمانځه وړاندي حلال کړ، په داسي حال کې چې باید تر لمانځه وروسته یې حلال کړی وی، نو نبي – علیه الصلاة والسلام – ورته وفرمایل : شَاتُکَ شَاةُ لَحْمٍ (ستا پسه د غوښي پسه دی ( بخاري ص : ۱۳۱ ج : ۱ ،مسلم ص : ۱۵۴ ج : ۲ )

یعني اختری نه دی او نه د اختري ثواب لري بلکې د هغه پسه په څېر دی کوم چې د خوړلو لپاره حلالیږي .

ketabton.com - The Digital Library


د دې حدیث په شرح کې حافظ ابن حجر – رحمه الله – لیکلي دي چې شیخ أبو محمد بن أبي جمرة – ویلي دي : وفیه أَن العَمَلَ وان وَافَقَ نِیَةً حَسَنَةً لَمْ یَصِحْ إِلَّا إِذَا وَقَعَ عَلى وَفْقِ الشَّرْعِ (فتح الباری ص:۲۰ ج:۱۰)

یعني په دې حدیث کې دا خبره راغلې ده چې که یو عمل که څه هم د ښه نیت سره موافق شو بیا هم صحیح نه دی مګر هغه وخت کله چې د شریعت سره موافق وشي !!

ځکه دغه صحابي اختری په صحیح نیت سره د الله پاک د رضاء او د اختري په نیت حلال کړ، خو کله چې په وخت کې د شریعت سره موافق نه وو، نو نبي علیه السلام یې اختری صحیحو نه ګڼی او د بل اختري د کولو امر یې ورته وکړ.

# عبادت باید په څنګه حال کې وشي؟

د الله تعالی عبادت به سړی په داسي حالت کې کوي چې هم ترې امید ولري او هم ترې وېره.

دا دوه خبري هم په عبادت کې ضروري دي ځکه الله - جل جلا له - فرمايي : وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ( سورة الاعراف : ۵۶ )

ژباړه : الله د ډار او امید په حال کې راوبولئ !!

په حدیث کې راغلي دي:أَسْأَلُ اللّٰهَ الْجَنَّةَ وَأَعُوذُ بِهِ مِنَ النَّارِ ( رواه ابوداؤد ص:۱۱۶ ج:۱).

ژباړه : زه له الله تعالی د جنت غوښتنه کوم او له دوزخه ترې پناه غواړم !!

ketabton.com - The Digital Library



نو باید د مسلمان عبادت هم داسي وي چې هم ترې د جنت امید لري او هم يې له عذابه وېره .

په عبادت کې یوه لويه درجه شته، مسلمان باید په دې هڅه کې وي چې هغې درجې ته خپل عبادت ورسوي، هغې ته د احسان درجه وايي، که څوک دې درجې ته ځان ورسوي نو ان شاء الله تعالی د عبادت په خوند به پوه شي .

د احسان تعریف نبي صلی الله علیه وسلم داسي کړی دی : أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ.(رواه البخاري ص:١٢ ج:١،ومسلم ص:٢٧ ج:١)

احسان دې ته وايي چې ته د الله عبادت په داسي ډول وکړې لکه ته چې الله وینې،که ته الله نه وینې، نو الله خو تا ویني !!

یعني د الله پاک عبادت په داسي طریقې کول چې د الله لحاظ وکړل شي چې اوس الله تعالی ما ویني، نو دا عبادت بیا د ډېرې لوړې درجې دی .

عبادت باید داسي وکړل شي چې دا مي آخرنی عبادت دی، کېدی شي له دې وروسته بیا په بل عبادت و نه توانېږي .

لکه په حدیث کې چې راغلي دي : صَلِّ صَلَاةَ مُوَدِّعٍ ( المعجم الاوسط للطبراني ص : ٣٥٨ ج : ٤)

یعني د رخصتیدونکې په څېر لمونځ کوه !!

په دې سره په عبادت کې توجه برابرېږي او هم د احسان درجې ته رسېږي .

ketabton.com - The Digital Library



الله پاک دي زموږ عبادات په خپل لوی دربار کې قبول کړي آمین .

# حسد او کینه

د مسلمان صفت دا و ي چې د ټولو انسانانو لپاره به د خیر غوښتونکی وي او پر ځان به نورو ته فوقیت ورکوي .

له دې امله مسلمان حسد کوونکی نه وي ځکه د مسلمان لپاره د خیر غوښتنه د حسد او کینې سره په ټکر کې ده .

حسد ( کینه ) په دوه قسمه دی :

۱ : یو چا ته الله پاک یو نعمت ور کړی وي : علم، مال او یا سلطنت او مشري .

خو بل څوک بیا غواړي چې کاشکې دغه نعمت له ده واخیستل شي او ما ته په لاس راشي .

۲ : له بل چا فقط د یوه نعمت د ختمېدو آرزو کول،چې کاشکې دغه نعمت له ده واخیستل شي .

خو دا نه وایي چې ما ته دي را کول شي، بلکې یوازي د هغه بل کس د بې برخي کېدو هیله لري .

دا دواړه قسمونه حسدکول حرام او ناجائز دی او له دغو دواړو قسمو دځان ساتل ډېر ضروري دي ځکه چې حسد ډېر بد کار دی او دا ځکه

ketabton.com - The Digital Library


چې دا د الله پاک په تقسیم باندې اعتراض دی،یو چا ته الله پاک یو نعمت ور کړی دی،بیا هم په دې خفه کېدل چې ولې ده ته دا نعمت ور کول شوی دی،د دې خو دا معنی ده چې - العیاذ بالله - الله پاک دا تقسیم صحیح نه دی کړی،باید دغه کس ته یې دا نعمت نه وی ور کړی .

بعضې کسان داسې وي چې له یوه چا د یوه نعمت د ختمیدو آرزو کوي چې کاشکې له فلانې دا فلانی نعمت ختم شي، د یوچا ښیګڼې او فائدې ته په ښه نظر نه ګوري،په ځانګړې ډول چې کله خپلوان،دوستان او هم کسبه خلګ په ښه حالت او راحت کې ویني، نو زړه ئې تاو کوي، او دا غواړي چې له دوی د دوی دا ښه حالت واخیستل شي او ما ته را کړل شي .

دې بد عادت ته حسد او د دې فاعل ( کوونکې ) ته حاسد ویل کېږي .

۲ : حسدګر له دې امله هم ډېر بد وي چې دی د خلګو تباهي او بربادي غواړي،د بل چا په تاوان خوشحاله او په ګټه یې خپه وي .

۳ : حسدګر سړی اکثر د ځان لپاره هم مثبت کارونه نه شي کولی،د خپل ځان د ښیګڼې لپاره کوشش نه شي کولی، ځکه دی شپه او ورځ د نورو د بربادۍ په سوچ کې اوسي،د ځان لپاره څه کولو ته وخت نه لري.

ketabton.com - The Digital Library



له دې امله حسد ګر اکثر سُست وي، دا سستی دی د الله پاک له نعمتونو محرومو وي،کله چې دی د خپلي بد عملی له امله له نعمتونو او بریالیتوبونو محروم شي، نو د نورو په خوشحالیو ىې زړه سوځي او د ځان په ځېر د هغوی لپاره هم د بربادی امید او آرزو کوي،کله د هغوی په ښکاره غیبت کوي،بد ور پسي وايي،کله یې چغلګري کوي،کله ترې بې ځایه شکایتونه او ګیلې کوي او کله پرې بې ځایه تهمتونه لګوي څو هغه بد نام کړي او د پر مختګ لپاره یې خنډونه را منځته کړي .

او په دې هڅه کې وي چې په څه توګه به یوتاوان ور ورسېږي .
نو حسد او کینه په ظاهره یوه ګناه ده،خو لیکن ترې ډېري زیاتي ګناوي راټوکېږي او د دې بد کار له کبله انسان په ډېرو زیاتو ګناهونو اخته کېږي .

۴ : حسد د یهودیانو کار دی .د جناب محمدرسول الله - صلی الله علیه وسلم - په مبارکه زمانه کې الله پاک په مسلمانانو ځانګړي انعامونه وکړل : یو له هغو دوی ته د الله پاک له لوري د ایمان او قرآن ور کول کېدل وو .

له دې امله یهودیانو او نصاراوو د مسلمانانو سره حسد او کینه شروع کړه،چې دوی ته ولي دغه نعمت الله پاک ور کړ،په داسي حال کې چې

ketabton.com - The Digital Library



**دوی پوهېدل چې اسلام حق دین دی او د الله - جل جلاله - له لوري راغلی دی .**

**په قرآن کریم کې الله پاک فرمایلي دي : أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ،الآية (النساء:٥٤)**

**ژباړه : آیا دوی له خلګو ( د ایمان له خاوندانو )سره حسد او کینه کوي په هغه څه چې الله - سبحانه وتعالی - دوی ته ور کړي دي !!**

**په بل ځای کې فرمایي : وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ (الآية ، البقرة:١٠٩)**

**ترجمه : (د ارمان په ډول سره)ډېر د کتاب له خاوندانو ( یهود او نصاری ) غواړي،که تاسو له ایمانه وروسته کفر ته واړوي،د حسد له امله چې د دوی په نفسونو کې دی،وروسته تر هغه چې حق ور ته ښکاره شو !!**

**نو حسد او کینه د یهودیانو او نصرانیانو عادت دی، مسلمان باید د دوی له عادت څخه ځان وژغوري .**

**د مسلمان صفت باید دا وي چې د مسلمان په خوشحالۍ او ګټه خوشحال شي او په غم یې غمجن شي .**

ketabton.com - The Digital Library



۵ : **حسد او کینه د بنده عبادتونه له منځه وړي** : دا ډېره د تاوان او افسوز خبره ده چې سړی نیک عملونه هم وکړي،ځان وکړوي،تکلیفونه تېر کړي،خو بیا يې ببر ته برباد کړي .

۶ : د حسداو کینې یو تاوان دا هم دی چې کینه ګر سړی هر وخت په عذاب او تکلیف اخته وي،که بل څوک خوشحال و ويني، دی خفه کېږي .

دا هم د ده لپاره د ده د دې ناوړه عادت سزا ده چې په دنیا کې ور ته رسېږي .

۷ : حسدګر له حسد څخه له غم او پرېښانی پرته بله لاس ته راوړنه نه لري،نور څه ده ته له دې ناوړه کار څخه په لاس نه ورځي .

۸ : د حسدګر خوشحالول ناشونی کار دی ځکه دی یوازي په دې خوشحالېږي کله چې له تا هغه ښه نعمت لاړ شي د کوم له کبله چې ده حسد در سره شروع کړی دی .

له دې پرته که محسود ور سره ښه وکړي،بیا هم حسدګر خپل حسد ته دوام ور کوي .

۹ : په تفسیرقرطبي کې لیکلي دي : الْحَسَدُ أَوَّلُ ذَنْبٍ عُصِيَ اللهُ بِهِ فِي السَّمَاءِ، وَأَوَّلُ ذَنْبٍ عُصِيَ بِهِ فِي الْأَرْضِ؛ فَأَمَّا فِي السَّمَاءِ فَحَسَدُ إِبْلِيسَ لِآدَمَ، وَأَمَّا فِي الْأَرْضِ فَحَسَدُ قَابِيلَ لِهَابِيلَ(الجامع لأحكام القرآن للقرطبي ص: ۲۴۱ ج: ۵)

ketabton.com - The Digital Library


ترجمه : حسد ( کینه ) هغه لومړنۍ ګناه ده چې په تر سره کولو یې په لومړي ځل په اسمان کې د الله پاک نافرماني شوې ده او لومړنۍ ګناه ده چې په زمکه کې یې په تر سره کولو سره په لومړي ځل د الله پاک نافرماني شوې ده .

په آسمان کې شیطان د آدم - علیه السلام - سره حسد وکړ،او په زمکه کې قابیل د هابیل سره حسد وکړ !!

۱۰ : ځینو هوښیارانو ویلي دي : حسدګر په پنځو طریقو د خپل رب سره مقابله کوي :

الف : حاسد هر هغه نعمت بد ګڼي کوم چې بل چا ته حاصل شوی وي .

ب : حاسد د خپل رب په تقسیم د ناراضتیا اظهار کوي، د ده حسد په دې معنی دی لکه وایي چې : داسي تقسیم ولي وشو ؟

ج : حسدګر د الله پاک د فضل انکار کوونکی دی او غواړي چې خلګو ته د الله پاک نعمتونه و نه رسېږي .

د : هغه د الله تعالی د بندګانو څخه د نعمتونو د ختمېدلو آرزو لري او غواړي چې هغوی له نعمتونو په محرومېدلو سره ذلیل شي .

ه : حاسد په حسد کولو سره د شیطان معاون او مرستیال جوړېږي . (یعني شیطان خو د انسان دښمن دی او حاسد هم د انسانانو سره په حسد کولو دښمني کوونکی وي، له دې امله ویل شوي چې دی د شیطان معاو ن دی). (پریشان رہنا چھوڑ دیجیے : ۴۳۴)

ketabton.com - The Digital Library



# د حسد د ختمولو طریقه

۱ : له الله پاک څخه دُعاګاني غوښتل چې یاالله ! دغه ناوړه عادت له ما ختم کړه!

۲ : د چا سره چې ستا حسدکېږي،د هغه لپاره د خیر او ښېګڼي دُعاګاني کوه !

۳ : دا فکر له ځان سره کوه چې په دې ناو ړه کار سره خو ځان ته تاوان رسوم،هم مي عبادتونه له منځه ځي او هم بې ځایه ځان پرېښانه کوم .

۴ : دا فکر له ځان سره کول چې دا نعمت خو الله پاک ورکړی دی،زه ولي ور سره حسد کوم ؟

که دا کارونه وشي ان شاء الله - تعالی - له دې ناوړه رنځ څخه به وژغورل شي .

ketabton.com - The Digital Library


# حلال او حرام مال یو امتحا ن دی

لکه څنګه چې الله - جل جلاله - مخلوقات پیدا کړي دي،همدا راز د دوی د روزۍ ذمه واري یې هم اخیستي ده .

څوک داسي نه پرېږدي چې هغه ته دي روزي ور نه کړي،که څه هم د الله پاک لوی دښمن او له هغه سرغړونکی او نافرمان وي .

دا ځکه چې الله پاک ته دُنیا اعتبار نه لري،له دې امله یې دوست او دُښمن دواړو ته ور کوي .

لکه څنګه چې په حدیث کې دا خبره بیان شوې ده :

عن سهلِ بن سعد الساعدی - رضی الله عنه - قَالَ: قَالَ رسول الله - صلی الله علیه وسلم -: لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ، مَا سَقَى كَافِراً مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ. (رواه الترمذی ص:۵۸ ج:۲ وقال: حدیث حسن صحیح).

ژباړه : له حضرت سهل بن سعد الساعدي - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – و فرمایل : که دُنیا د الله په وړاندي د غوماشي د وزر په اندازه قدر لرلی، نو کافر ته به یې له دې څخه یو غړپ اوبه نه وی ور کړې !!

لکه څنګه چې د روزي ور کول د الله پاک کار دی،همدا راز پراخول او تنګول یې هم د الله پاک کار دی .

ketabton.com - The Digital Library



نو د روزۍ پراخوالی او د مال زیاتوالی د هوښیارتیا نښه نه ده، بلکې ډېر ځله بې عقلان خلګ وي او تر هوښیارانو زیات مالونه لري .

غرض زما دا وو چې د انسان اصلي مقصد په دُنیا کې د مال ګټل او د پیسو زیاتول نه، بلکې د الله پاک پېژندل،د هغه راضي کول او د هغه د احکاماتو مطابق خپل ژوند تېرول دي .

دې دُنیا ته چې انسان راغلی دی،د ده راتګ د ازمایښت او امتحان لپاره دي او الله پاک غواړي چې په انسانانو کې تابعدار او نافرمان ښکاره کړي .

همدا راز د روزۍ د ګټلو په هکله هم پر انسانانو امتحان کوي :

ځیني شیان الله پاک حرام کړي او د روزۍ د ګټلو له ځیني لارو یې منع کړې ده.

همدا راز ځیني شیان یې حلال کړي او د هغو د ګټلو لپاره یې طریقې او حدود متعین کړي دي .

بیا یې انسان ته اختیار ور کړی ( د دې وعدې سره سره چې روزي الله پاک ور کوي ) چې دی د روزۍ د ګټلو لپاره په کومو طریقو او لارو روانېږي،کومه ذریعه د مال د ګټلو لپاره اختیاروي او په کومه طریقه کاروبار کوي .

او بل امتحان یې د مال په هکله دا دی چې حرام مال یې ډېر کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library



د حرام مال مثال د مُردار شوي حیوان په څېر دی چې چا ته قدر او ارزښت نه لري،چې په کور کې ساتنه یې هم څوک نه برداشتوي، بلکې له ځانه یې لري کوي او غورزوي یې .

همدا راز د حرام مال مثال هم داسي دی لکه الله پاک چې غورزولی وي .

که یې څوک ور اخلي،نو تر حلال مال په اسانه تر لاسه کېږي او الله - جل جلاله - ته د مُردار شوي حیوان په څېر قدر هم نه لري ځکه ترې خیراتونه هم نه قبلوي .

له دې امله انسان باید خپل د ژوند اصلي هدف ته ځیرشي او د روزۍ د ګټلو لپاره هغه لاري چاري اختیارکړي چې صحیح او روا وي .

ځکه دین یوازي د پنځه وخته لمانځه نوم نه دی،بلکې د انسان لپاره ضروري ده چې د ژوند په ټولو اړخونو کې به د شریعت پابندي کوي .

د شریعت ډېر احکامات د معاملو سره تعلق لري .

د دې یو دلیل دا دی چې هدایه زموږ د مذهب معتبرکتاب دی،چې په څلورو جلدونو کې دی .

په دې مبارک کتاب کې د انسان د عمل سره تعلق لرونکې تقریباً ټول دیني احکامات ذکر دي .

ketabton.com - The Digital Library


په دې کې يوازې او لنی جلد د عباداتو ( اودس،لمونځ،زکات او حج ) په هکله دی، نور درې جلدونه يې ټول د معاملو په هکله دي .

له دې څخه دا خبره جوتېږي چې يوازي د عبادتونو په کولو سره په دين پوره عمل نه کېږي،تر څو چې خپلې معاملې د شريعت مطابق نه کړو .

# د امر بالمعروف او نهی عن المنكر اهميت

زموږ - نبي - صلی الله عليه و سلم - تر ټولو وروستنی پېغمبردی، دُنيا ته د ده په راتګ سره د نبوت لړۍ پای ته ورسېده .
الله پاک ور ته داسي دين ور کړ، چې د ټول انسانيت ژغورونکی دی، تر قيامته پوري د ټولو لپاره د دغه دين پيروي الله پاک لازمه کړې ده او د ژوندانه په هره برخه کې د دې مبارک دين سپېڅلي ارشادات او لارښووني وجود لري .
د نبي - عليه السلام - ذمه واري دا وه چې خلګو ته يې د ښو کارو په لور بلنه ور کوله او له بدو کارو، ناوړو عقيدو او جاهلانه رسمونو او رواجونو څخه يې خلګ را ګرزول .
يعني امر بالمعروف او نهی عن المنكر د ده مبارک وظيفه وه .
له دُنيا څخه د نبي - عليه السلام - په رُخصتېدو سره دغه وظيفه امت ته ور تر غاړه شوه، اوس پر امت لازمه ده چې دوی به د پېغمبر -

ketabton.com - The Digital Library


صلی الله علیه وسلم – دغه وظیفه سر ته رسوي او خلګ به صحیح عقیدو،سمو کارو او ښو اخلاقو ته را بولي او له بدو به یې منع کوي .

دا داسي مهمه موضوع ده چې پاملرنه ور ته ډېره ضروري ده ځکه د دغه کار په تر سره کولو کې د امت کامیابي پرته ده او د دې په پرېښودو سره امت ته لوی ګواښ متوجه دی .

په تېره بیا په او سنۍ زمانه کې چې د فتنو سېلابونه را روان دي او په دُنیا کې د باطل پیروان ډېر زیات دي، هغوی د خپلو باطلو خیالاتو او عاداتو په لور هلي ځلي کوي، څو نور خلګ هم د ځان سره مله کړي او د مسلمانانو عقائد، اخلاق او اعمال ور ګډوډ کړي .

په داسي حالاتو کې په خصوصي توګه د هغه چا لپاره چې په دین پوه وي، ډېره اړینه ده چې باید له دغه مسئولیت څخه بې فکره نه شي او په دې لار کې خپلي هلي ځلي توندي او ګړندۍ کړي .

په دې هکله الله پاک په قرآن کریم کې په بې شمېره آیاتونو کې ټینګار کړی،تر دې چې په ځینو آیاتونو کې یې دغه مسئولیت تر ایمان هم چې د اسلام اساس او بُنیاد دی،مخکې ذکر کړی دی .

دا د دې څرګندویي کوي چې دا ضروري کار دی، چې باید ترې غفلت و نه شي .

الله - جل جلاله - فرمایلي دي : كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ(آل عمران:۱۱۰)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه : تاسو غوره امت یاست،چې د خلګو ( د فائدې ) لپاره ایستل شوي یاست،په نېکۍ سره امرکوئ او له بدو ایسارول کوئ او پر الله ایمان راوړئ !!

په دې آیت مبارک کې الله پاک دعوت تر ایمان مخته کړی او ور سره یې د دې امت تر نورو د غوره کېدو سبب هم ښودلی،چې هغه دعوت دی .

الله پاک د مؤمنانو په صفاتو کې دعوت ذکر کړی دی . الله پاک فرمايي: وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ او لِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ اولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ .(التوبة:٧١ )

ژباړه : او مؤمنان سړي او مؤمناني ښځې د یوه او بل دوستان دي،د ښېګڼې امرکوي،له بدو ایسارول کوي،لمونځونه تر سره کوي،زکات ور کوي او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي،دا هغه څوک دي چې ژر دی چې الله به پرې رحم وکړي، یقینا الله زورور، د حکمت څښتن دی!!

له دې آیته دا هم معلومېږي چې د مؤمنانو تر منځ د محبت او دوستۍ تقاضاء دا ده چې دوی به یوه او بل ته د نېکۍ امر کوي او له بدو به یې را ګرزوي .

همدا راز دا هم معلومه شوه چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر له امله بنده د الله تعالی د رحم مستحق ګرزي، څوک چې خلګو ته د ښو

ketabton.com - The Digital Library



کارونو بلنه ور کوي او له بدو یې منع کوي، پر داسي خلکو د الله پاک له لوري رحمتونه نازلېږي او دوی د الله پاک د رحمت لائق او وړ دي .

پر چا چې د الله پاک رحم وشي، د هغه په نېکمرغۍ او کامیابۍ کې هیڅ سوال نشته .

نو باید دغه مهمه وظیفه هر مسلمان سر ته و رسوي او په دې هکله له سُستۍ ځان وساتي .

د ښو په لور دعوت او له بدو منع کول د بریالیتوب ذریعه ده .

الله - جل جلاله - فرمایي : وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ( آل عمران : ۱۰۴ )

ژباړه : له تاسو دي یوه ډله داسي وي چې د خیر په لور بلنه کوي،د نېکۍ امر کوي او له بدو ایسارول کوي او دا کسان همدوی کامیاب دي !!

په دې آیت مبارک کې د هغه چا لپاره چې په ښو امر کوي او له بدو ایسارول کوي،ډېر لوی زېری دی او هغه دا چې الله تعالی فرمایي : دوی کامیاب دي .

حضرت علی - رضی الله عنه - ته نبي علیه السلام وفرمایل : فَوَاللهِ لأَنْ يَهْدِيَ اللهُ بِكَ رَجُلاً وَاحِداً خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرُ النَّعَم (رواه البخاری ص:۶۰۶ ج:۲)

ژباړه : قسم په الله! ستا له امله که الله یوه سړي ته هدایت وکړي، نو دا ستا لپاره تر دې غوره ده چې سره او ښان ولرې !!

ketabton.com - The Digital Library


په هغه زمانه کې اوښ ډېر قېمتي او غوره مال ګڼل کېدی،ځکه نبي علیه السلام د هغه د قدر او قیمت په مقابل کې د دعوت فضیلت ور وښوده چې دا تر دې قیمتي مال هم غوره او فائده مند کار دی .
یعني د دې سره د دُنیا هیڅ قیمتي مال برابر نه دی .
په یوه حدیث کې راغلي دي : مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ
.(رواه مسلم ص : ۱۳۷ ج : ۲ ، مشکات ص۳۳ج:۱)
یعني څوک چې د خیر لاربښوونه چا ته وکړي،ده ته د کوونکې په څېر ثواب ور کول کېږي .
دا ځکه چې د خیر په لور بلنه نېکي ده او ګڼه یې دا ده چې که د ده په خبره څوک عمل کوي،دی ور سره په ثواب کې شریک دی .
( په دې هکله ډېر آیاتونه او احادیث راغلي دي، خوچې خبره ډېره او بږده نه شي، په دې اکتفاء کوو .)

# خپل ژوند باید څنګه تېر کړو ؟

له الله - جل جلاله - څخه وېره د آخرت لپاره توښه او پکې د انسان سعادت او نېکمرغي نغښتې ده .
الله - جل جلاله - په خپل مقدس کتاب کې فرمایلي دي : وَاتَّقُواْ يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ تُوَفَّى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ.(البقرة:۲۸۱)
ژباړه : له هغې ورځې و وېرېږئ چې په هغه کې به الله تعالی ته ور ګرزول کېږئ ! بیا به هر نفس ته پوره بدله د هغه څه ور کول کېږي چې ده کړي وي او پر دوی به ظلم نه کېږي !!

ketabton.com - The Digital Library



يعني كه غواړئ چې د قيامت په ورځ را سره آسانه معامله وشي، نو په دُنيا كې احتياط وكړئ او تقوى په ځان كې راو لئ !

په دې مبارک آيت كې دي انسان فكر وكړي چې يوه داسي ورځ وي،چې ټول انسانان الله پاک را غونډكړي او بيا ټولو ته د دوى د كړنو بدله ور كول كېږي،دا به څنگه حالت وي ؟ كه چا ګناوي له ځان سره وړې وي،هغه به څومره پرېشان وي ؟

په داسي حال كې چې يو د عدل محكمه درېدلې وي،نه ترې څوک ځان پټولای شي او نه يو كار ترې پټولی شي .

دغو حالاتو ته اوس پام كول په كار دی او د هغي ورځي د حساب ځوابونه د ځان سره د تيارولو لپاره بايد له او سه كوښښ وشي څكه په هغه ورځ خو بيا هيڅ نه كېږي .

د انسان لپاره ضروري كار دا دی چې د خپل رب طرفته ور وګرزي، د خپل رب پر شريعت كلک او مستقيم شي او تر څو چې ژوندی وي د هغه د دين پابند و اوسي،د ژوندانه په ټولو حالاتو كې به يې تګلاره داسي وي چې د ده ټوله هڅه به دا و ي چې زه په څه توګه له خپل ځان څخه خپل رب راضي كولی شم او څنګه به خپل دغه ستر هدف ته ځان ورسوم .

انسان به په خپل ژوندانه كې د الله - عزوجل – پر لور د خالص نيت او ربښتيني بندګۍ او عبادت سره مخ كوي، بل به هيڅ مقصد له ځان سره نه لري،بلكې يوازي او يوازي به يې د الله پاک عبادت او د هغه راضي كول مقصد وي .

ketabton.com - The Digital Library



د دُنیا د ژوندانه او د دُنیا د مال او سامانونو را غونډول به یې د تلپاتي ژوندانه له تیارۍ او د آخرت لپاره له توښې برابرولو نه مشغولوي .

که داسي چا وکړل، ده د صالحانو او نېکانو خلګو لار تعقیب کړې او د هغوی پر پله یې پښنه ایښې ده .

د هغه چا لار د چا چې الله پاک په خپل مقدس کتاب کې داسي توصیف کړی دی : رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ (النور:٣٧.)

ژباړه : داسي نارینه چې سوداګري او خرڅلاو یې د الله له یاده،دلمانځه له اداء کولو او د زکات له ور کولو نه غافله کوي،هغوی له یوې داسي ورځي ډارېږي چې زړونه او سترګي پکې اوړي را اوړي !!

یعني دغه نېکان خلګ سره د دې چې دوی په کاروبارونو، رانیولو او خرڅولو کې بوخت دي خو بیا هم دا شیان د دوی او د الله پاک د یادولو او عبادت تر منځ نه دي حائل شوي،بلکې د دې هر څه سره بیا یې هم الله پاک داسي یاد دی چې له امله یې په دوی کې تقوی راغلې او دوی تل له الله - جل جلاله - څخه وېرېږي او د الله پاک په صحیح توګه عبادت کوي .

دا په حقیقت کې د هر رښتیني مسلمان صفت دی چې د عمر شپې،ورځي د ځان لپاره غنیمت ګڼي او په داسي کارو کې یې استعمالوي چې له امله یې الله - جل جلاله - راضي کېږي .

ketabton.com - The Digital Library



او په خپلو خدای ور کړو نعمتونو کې د آخرت کور لټوي،ځکه دوی په دې پوه شوي چې د دُنیا ژوند یوازي د آخرت په تلپاتي ژوندانه کې د برې او د تل لپاره د نېکمرغۍ یوه ذریعه ده .

دا ژوندون نه مقصد دی او نه هم د بروسې شی دی، بلکې یو ختمېدونکی سامان او تلونکی سیوری دی چې ترې نېک عمله او بد عمله ټول خوراک کوي .

د انسان اصلي وطن آخرت دی، د اوسېدو ځای یې قبر او د مزدورۍ او کاروبار ځای یې دُنیا ده .

په دې دُنیا کې که د چا عُمر هر څومره اوږد شي،خو بیا هم ډېر ژر ختمېدونکی او کم دی .

دُنیا یوازي د آخرت پر لور پُل دی چې یا به پرې سړی جنت ته و رسېږي او یا دوزخ ته (نعوذبالله من عذاب النار)

الله - جل جلاله - فرمایي : إِعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ (الحدید:۲۰)

ژباړه : پوه شئ چې دُنیایي ژوند ایله څه لوبه،ساعت تېرى،ډول،سینګار،ستاسو خپل منځ کې ویاړل او په مالو او ځانو کې پر یوه او بل زیاتوالی کول دي،لکه باران چې شنبلي یې کروندګرو ته ښه ښکاره شي(خو) بیا (ژر ) وچېږي او زېړ شوی به یې وینې،بیا مات ګوډ شي،او په آخرت کې ( هم ) سخت عذاب او ( هم ) د الله له لوري

ketabton.com - The Digital Library


**بخښنه او خوښي ده،خو د دنیا ژوند د غولیدو له یوه سامان پرته بل څه نه دی !!**

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ اللَّهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُونَ فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ.( الحديث،رواه مسلم ص: ٣٥٣ ج: ٢).

**ژباړه : له حضرت أبو سعيد خدري - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم – وفرمايل : دُنيا خوږه او شنه ده ( د تازه خوږې مېوې په څېر، چې په سترګو ښائسته معلومېږي او خوند يې هم خوندور وي، دغسې مال هم دی چې انسان ته خوند ور کوي) او الله تعالی تاسو په دې دُنيا کې وروسته پاته کوي،نو ګوري چې تاسو څنګه کارونه کوئ ؟ نو له دُنيا څخه و وېرېږئ ! او له ښځو و وېرېږئ !**

**( چې د دغو دوو شيانو له امله په فتنه او د الله پاک په نافرمانۍ کې مُبتلاء نه شئ !) .**

**په دغو قرآني آياتونو او نبوي ارشاداتو کې د دُنيا د ژوندانه ډېر ښه حقيقت او بشپړ بيان شوی دی .**

**له دې څخه دا نتيجه را ووزي چې انسان بايد الله تعالی ته مخ کړي او د خپل نفس د اصلاح او تقوی لپاره هلي ځلي وکړي .**

**د نفسي خواهشاتو له پوره کولو بايد ډډه وکړل شي .**

**په دې اړه مو بايد دې خبري ته پام وي چې اسلام دا نه وايي چې تاسو بالکل دُنيوي کارونو ته شاکړئ ! بلکې دا را ته وايي، چې د دُنيا کارونو**

ketabton.com - The Digital Library



مشغولتیا مو باید د الله - جل جلاله - له یاده غافل نه کړي، همدا راز د دغو کارونو په تر سره کولو کې مو باید د الله پاک احکاماتو ته پام وي او د حلال او حرام تر منځ باید توپیر ته اعتناء وکړئ !

له دې باید ډېره وېره وشي چې په دُنیوي ژوندانه ځانونه دوکه کړو.

ځکه د دُنیا محبت چې کله د چا پر زړه غالب شي،د الله پاک یاد ترې هېروي،کله چې له انسانه د الله پاک یاد هېر شي،الله پاک ترې له ده ځان هم هېروي .

تر دې چې د تباهۍ او بربادۍ په کندو کې ولوېږي .

د دُنیا محبت دی چې له امله یې ځینو خلګو ایمان پرېښی او مُرتد شوي دي (العیاذبالله)

د دُنیا محبت دی چې بېشمېره ستونزي یې را منځ ته کړې دي .

غیبت،دُرواغ،بهتان او داسي نوري بې شمېره نافرمانۍ ټولي د دُنیا د محبت له امله له خلګو کېږي .

د دُنیا د محبت له امله خلګ په ډېرو ګناهونو کې مبتلاء کېږي،نو باید موږ او تاسو دې ټکې ته پام وکړو چې دا دُنیا خو ختمېدونکې ده او له دې وروسته زموږ د کړو وړو په هکله حساب راسره کېږي .

نو باید د دُنیا په کارونو کې د مصروفتیا له امله آخرت له لاسه ور نه کړو .

ketabton.com - The Digital Library


# د ګاونډي د حقوقو بیان

ګاونډی یا همسایه هغه څوک دی چې ستا د استوګنځي په شاوخوا کې اوسي .

انسانیت او د هغه د تمدن اسا س د یوه او بل سره په مرسته او محبت ولاړ دی .

په دې دُنیا کې هر انسان بل انسان ته محتاج دی،که یو وږی وي،پر بل حق لري چې هغه ته خوراک ور کړي،که یو روغ وي،باید د خپل رنځور ورور پوښتنه وکړي او له حاله یې ځان خبر او ورسره لازمه مرسته وکړي،که په یوه غم وي بل باید ور سره شریک شي او د هغه سره همدردي وکړي .

په اخلاقي نظام سره باید انسانان خپل چاپیریال سره وتړي او سره یو یې کړي .

انسانان چې په ظاهري،جسماني او مادي لحاظ سره له یوه او بله جلا دي،نو په اخلاقي او روحاني حیثیت سره پر دوی فرض ده چې دومره سره نږدې او متحد شي .

او دومره باید د یوه او بل سره خواخوږي ولري لکه د یوه بدن اعضاء چې وي .

اسلام په هغه کسانو چې یوه او بل ته نږدې او سي په خپل مینځ کې د محبت،میني او مرستي په کولو سره ټینګار کړی ځکه د دوی له یوه او بل څخه د بدو خطره هم زیاته وي او یوه او بل ته یې اړتیا هم زیاته وي .

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ عَائِشَةَ وَ ابْنِ عُمَرَ -رضی الله عنهما- عن النبی -صلی الله علیه وسلم- يَقُولُ: مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ . (رواه البخاری ص:۸۸۹ ج:۲ومسلم ص:۳۲۹ ج:۲ والترمذی ص:۱۶ ج:۲ و ابن ماجة ص:۲۶۱)

**ژباړه : حضرت عائشه او حضرت ابن عمر - رضی الله عنهما - له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه روایت کوي چې هغه وفرمایل : جبریل علیه السلام ماته همیشه د ګاونډي په اړه وصیت کوي، تر دې چې ما دا فکر وکړ چې ګاونډی به د ګاونډي وارث وګرزوي !!**

**په دې حدیث کې د ګاونډي ( ځنګلوري ) حقوق بیان شوي دي .**

**دې حدیث ته که ځوک پاملرنه وکړي،نو دا راښیي چې اسلام څومره د خواخوږۍ دین دی چې د ګاونډي او د هر چا لپاره یې خاص حقوق ټاکلي دي او مسلمانانو ته یې لارښوونه کړې، چې د ځنګلوري به مراعت ساتي .**

**په عربو کې تر اسلام مخکې هم د نورو قومونو په نسبت نه یوازي دا چې د ګاو نډي ( همسایه ) د حقوقو ډېر مراعت ساتل کېدی،بلکې په دې به یې فخرکاوو چې د ګاونډي سره ښه وکړي .**

**که به چا د هغه ګاونډی ته تکلیف ور رسوی،د هغه سره به یې جنګ کول هم د افتخار سبب ګڼی .**

**د اسلام د مبین دین په راتګ سره د عربو دا عادت په یو څه ترمیم او اصلاح سره نور هم قوي کړل شو او لا زیات ور باندي ټینګار وکړل شو .**

ketabton.com - The Digital Library


عَن عَبدِالله بن عمر رضى الله عنهما ،قَالَ: قَالَ رَسُول الله -صلى الله عليه وسلم -: خَيرُ الأَصحَابِ عِندَالله تَعَالَى خَيرُهُمْ لِصَاحِبِهِ،وَخَيرُ الجِيرَانِ عِندَالله تَعَالَى خَيرُهُمْ لِجَارِهِ(رواه الترمذى ص:١٦ ج:٢،وقال: حديث حسن).

**ژباړه : له عبدالله بن عمر- رضی الله عنهما- څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وفرمايل : د الله پاک په نزد په ملګرو کې غوره هغه دی څوک چې د خپل ملګري لپاره غوره وي .**

**اوپه ګاونډيانو کې غوره ګاونډی هغه دی څوک چې د خپلو ګاونډيانو په حق کې غوره وي !!**

عن أَبِي هريرة-رضى الله عنه-: أن النَّبِيّ-صلى الله عليه وسلم-،قَالَ: والله لاَ يُؤْمِنُ ،وَالله لاَ يُؤْمِنُ، وَالله لاَ يُؤْمِنُ ! قِيلَ: مَنْ يَا رَسُول الله ؟ قَالَ: الَّذِى لاَ يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ.(رواه البخارى ص:٨٨٩ ج:٢)

**ژباړه : له حضرت ابوهريره – رضی الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله – صلى الله عليه و سلم – وفرمايل : قسم په الله : د (کامل) ايمان خاوندنه شي جوړيدلی، قسم په الله : د (کامل) ايمان خاوند نه شي جوړيدی، قسم په الله د ( کامل ) ايمان خاوند نه شي جوړيدی .**

**چا پوښتنه وکړه : اې د الله رسوله! څوک د ( کامل ) ايمان خاوند نه شي کېدی ؟ و يې فرمايل : هغه څوک چې د چا له شره د هغه څنګلوری ( ګاونډی ) خوندي نه وي !!**

**لا يؤمن : يعني ايمان يې نه کامل کېږي .**

عَنْ أَبِي هُرَيرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-قَالَ: لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لاَ يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ.(رواه مسلم ص:٥٠ ج:١).

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه : له حضرت ابوهريره – رضی الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه و سلم – وفرمايل : جنت ته به هغه څوک نه داخليږي، د چا چې ګاونډی د ده له شر او تکليف څخه په امن نه وي !!**

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ لِي أَنْ أَعْلَمَ إِذَا أَحْسَنْتُ وَإِذَا أَسَأْتُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعْتَ جِيرَانَكَ يَقُولُونَ أَنْ قَدْ أَحْسَنْتَ فَقَدْ أَحْسَنْتَ وَإِذَا سَمِعْتَهُمْ يَقُولُونَ قَدْ أَسَأْتَ فَقَدْ أَسَأْتَ (رواه ابن ماجة ص: ۳۱۱ و ابن حبان ص: ۲۸۵ ج: ۲).

**ژباړه : له حضرت عبدالله بن مسعود - رضی الله عنه - څخه روايت دی چې يوه سړي له رسول الله - صلی الله عليه وسلم - څخه پوښتنه وکړه چې ما ته به څنګه معلوميږي چې زه نيک عمله يم که بد عمله ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : کله چې ته له خپل همسايه څخه اورې چې ته ښه کارونه کوي،نوته نيک عمله يي ! او کله چې ته له هغه څخه اورې چې ته بد کارونه کوې، نو ته بدعمله يي !!**

**يعني ستا ښه والی او بدوالی د ګاونډي په قضاوت پوري اړه لري او تا ته به د ځان په هکله معلومات له ګاونډي تر لاسه کيږي .**

**له عبدالرحمان بن ابي قراد- رضی الله عنه - څخه روايت دی چې يوه ورځ نبي - صلی الله عليه وسلم - اودس کاوو،صحابهٔ کرامو- رضی الله عنهم – د رسول الله - صلی الله عليه وسلم – د اوداسه اوبه په خپلو بدنو پوري ( د برکت لپاره ) موږلې .**

ketabton.com - The Digital Library


نبي- صلی الله علیه وسلم – ور ته وفرمایل : په دې کار تاسو څه شي باعث کوي ؟

هغوی وویل : د الله او د هغه د رسول سره مینه !

رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل : څوک چې د الله او د هغه د رسول سره مینه کول غواړي، یا ( یې داسي وویل : ) دا غواړي چې د ده سره الله او د هغه رسول محبت وکړي،نو ( هغه دي دا کارونه وکړي ) کله چې خبري کوي،خپله خبره دي رښتیا کړي ( رښتیا دي وایي ) کله چې څوک ور سره امانت کښېږدي، بېرته دي یې ( په ښه ډول سره ) ور ته اداء کړي او څوک چې ور سره څنګلوری وي،د هغه سره دي ښه څنګلوري وکړي . ( شعب الایمان للبیهقی\مشکات ص : ۴۲۴ج : ۲)

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صلی الله علیه وسلم - يَقُولُ :«لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالَّذِى يَشْبَعُ وَجَارُه جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ. (رواه البیهقی فی شعب الایمان\مشکات ص: ۴۲۴ ج: ۲)

ژباړه : له حضرت عبدالله بن عباس- رضی الله عنهما - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : هغه څوک مؤمن نه دی چې ځان مړوي او د ده څنګلوری د ده په څنګ کې وږی وي!!

له حضرت ابوهریره - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې یوه سړي له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه پوښتنه وکړه چې اې د الله

ketabton.com - The Digital Library



رسول! - صلى الله عليه وسلم – د فلانۍ ښځې د لمونځونو،روژو او خيراتونو ډېروالی يادېږي، خو دا خپل ګنګلوري په ژبه تکليفوي ؟

رسول الله - صلى الله عليه وسلم – وفرمايل : دا په او ر کې ده !

هغه سړي وويل : اې د الله پېغمبره! - صلى الله عليه وسلم - د فلانۍ ښځې د لمونځونو، خيراتونو او روژو کموالی يادېږي ( دا کارونه لږ کوي ) او دا چې د پنير د ټکړو په اندازه يې صدقه کړې ده او ګنګلوری په خپله ژبه نه تکليفوي ؟ ( دا څنګه ده ؟ جنتي ده او که دوزخي ؟ )

رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وفرمايل : دا ښځه په جنت کې ده

( رواه احمد و البيهقي في شعب الايمان \ مشكات ص : ۴۲۵ ج : ۲)

نو بايد چې د خپلو ګاونډيانو سره ښه ژوندون تېر کړو او د دوی له ځورولو څخه په کلکه ډډه وکړو،څو له تلپاتي بدمرغۍ ځانونه وژغورو.

په دې هکله نور هم ډېر زيات احاديث شته، خو دا احاديث د موضوع د اثبات لپاره کافي دي . الله پاک دې موږ او تاسو ټولو ته توفيق راکړي چې د خپلو ګاونډيانو لحاظ وساتو .

# د شيطان د راتلو لاري

شيطان د انسان د بې لاري کولو لپاره ډېري لاري چاري کاروي،خو په عمومي توګه د مسلمانانو د بې لاري کولو لپاره له دوو لارو کار اخلي :

ketabton.com - The Digital Library



او ل : که دا مسلمان ګناهګار وي،د دين د احکاموپه هکله  په تفريط او کوتاهۍ کې مبتلاء وي،ده ته ګناوي او خواهشات ښائسته کړي،څو په دې سره يې د الله پاک له لاري غافل کړي .

که د هغه په زړه کې توبې ته ميلان پيدا شي،ور ته وايي : او س خو ځوان يې ! عمر دي ډېر پاته دی، بيا به د عمر په آخر کې توبه اوباسې !

همدا راز ور ته وايي : چې الله پاک بخښونکی او مهربان دی،پر تا به هم رحم وکړي او تر ګناه به دي در تېر شي .

په دغسي غولوونکو خبرو شيطان په دې هڅه کې وي چې انسان له الله پاک څخه لري وساتي .

دا صحيح ده چې الله پاک غفور او رحيم دی،خو انسان بايد د الله پاک د بخښني  او مهربانۍ اسباب اختيارکړي .
داسي کارونه بايد وکړي چې د هغو له امله د الله پاک د مهربانۍ وړ وګرزي .
که د الله پاک د مغفرت او مهربانۍ اسباب اختيار نه کړل شي،هسي بې ځايه د مغفرت او مهربانۍ اميد لرل ناپوهي ده.
لکه دبېلګي په توګه که څوک غنم وکري،بيا بايد د غنمو د راشنه کېدو اميد ولري .
که چا ازغي کرلي وي، د غنمو يا ګلانو اميد ترې لرل  بې ځايه دي .

ketabton.com - The Digital Library


همدا راز که څوک په یوه داسي موټرکې کښېني چې روغ وي او د ده د منزل مقصود په لور روان وي، نواو س باید منزل مقصود ته د رسېدو امید ولري .

خو که په داسي موټرکې کښېني چې خراب وي،ټایرونه او انجن نه لري،په زمکه پروت دی،نو منزل مقصود ته د رسېدو امید لرل بې عقلي او لېونتوب دی .

نو د الله پاک د مغفرت امید هم باید هغه وخت ولرل شي چې څه اسباب خو د مغفرت برابر شي .

همدا راز لکه څنګه چې الله پاک غفوراو رحیم دی،نو د دې سره د سخت عذاب خاوند هم دی الله پاک فرمایي : اِعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ وَأَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (المائدة:٩٨).

ژباړه : پوه شئ چې بې شکه الله د سخت عذاب ور کولو والا دی او ډېر بخښونکی مهربان دی !!

په دې آیت مبارک کې اشاره ده چې ایمان د خوف ( ډار ) او رجاء ( امید ) تر منځ دی .

له الله څخه به څوک نه بېغمه کېږي او نه به ترې ناامیده کېږي .

بلکې هم به ترې امید لري او هم به ترې وېره لري .

دوهمه طریقه د شیطان دا ده چې که څوک عبادت کوونکی وو،نو بیا ور ته افراط او په دین کې زیاتوالی ښائسته کړي،څو دین یې په دې طریقه ور خراب کړي .

ketabton.com - The Digital Library


د شیطان کوشش دا وي چې بنده په داسي عبادت کې اخته کړي چې د هغه نه الله پاک حکم کړی وي،نه يې له نبي اکرم صلی الله علیه وسلم څخه ثبوت وي،نه يې له صحابوو څخه ثبوت وي او نه هم د مجتهدينو په اجتهاد کې د هغه کار ثبوت وي .

نو عبادت به هم کوي،خو الله پاک ته به د قبول وړ نه وي .

ځان به ستړی کړي،خو نه یوازي دا چې د عبادت فائده بهو نه ويني بلکې ګناه به ور پسي وليکل شي .

دا ځکه چې د دين د احکامو په هکله افراط کول هم ناروا دی .

الله جل جلا له فرمايلي دي : يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ (النساء:١٧١)

ژباړه : اې اهل کتابو ! په خپل دين کې مو بې اندازې تېری مه کوئ ! او پر الله تعالی له حقه پرته بل څه مه واياست !!

په دې آيت مبارک کې اهل کتاب په دين کې له غُلو او زياتوالي کولو منع شوي دي .

د غلو لفظي معنی تر اندازې د تېرېدلو ده او امام جصاص د غلو تعريف داسي ليکلی دی : اَلْغُلُوُ فِي الدِينِ هُوَ مُجَاوَزَةُ حَدِّ الحَقِ فِيهِ . ( احکام القرآن للجصاص ج:٣ص:٢٨٢).

يعني د دين په هکله غُلو دا ده چې په دين کې د کوم شي کومه اندازه مقرره شوې وي، تر هغه مخته تېرېدل !!

ketabton.com - The Digital Library


**همدا راز الله - جل جلاله - فرمايي :** قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوا أَهْوَاءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا مِنْ قَبْلُ وَأَضَلُّوا كَثِيرًا وَضَلُّوا عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ(المائدة:۷۷)

**ژباړه : اې پېغمبره ! - صلی الله علیه وسلم – ور ته ووایه ! اې د کتاب خاوندانو ! په دین کې مو تر اندازې زیات ناحقه تېری مه کوئ،او د هغو خلګو په هوسونو پسې مه ځئ چې لا ړومبی هم خپله بې لارې شوي دي او هم يې نور ډېر بې لارې کړي دي او له سمې نېغې لارې بل خوا اوښتي دي !!**

**په حديث شريف کې راغلي دي :** إِيَّاكُمْ وَالْغُلُوَّ فِي الدِّينِ، فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِالْغُلُوِّ فِي الدِّينِ(رواه النسائي ص:۴۸ ج:۲)

**يعني په دين کې له زياتي کولو ځان ساتئ ځکه چې تر تاسو مخکيني امتونه په دين کې د زياتي کولو له امله تباه شوي دي !!**

**په دين کې د غلو او زياتي کولو له امله يهود او نصاری ګمراه شوي وو،له دې امله نبي عليه السلام خپل امت له دې ناوړه کار څخه منع کړی دی .**

**د اسلام پېغمبر - صلی الله عليه وسلم - په خپلو مبارکو ويناوو او کارو سره د عباداتو،معاملاتو او د ژوندانه د ټولو کارو لپاره د اعتدال حدود ټاکلي دي .**

**تر هغو شا ته پاته کېدل تفريط (کوتاهي)او وړاندې کېدل افراط ده، دغه دواړه کارونه ناسم دي .**

ketabton.com - The Digital Library



له دې امله چې په دین کې زیاتوالی ناسم کار دی، ځکه یې په دین کې د بدعت کولو په کلکه غندنه کړې ده .

# بدعت څه ته وايي ؟

بدعت په لغت کې نوي شي ته وايي او په اصطلاح کې د شريعت يې علامه بدر الدين عيني الحنفي- رحمه الله - داسي تعريف کوي : والبدعة في الاصل احداث امر لم يکن في زمن رسول الله - صلى الله عليه و سلم - ( عمدة القاري ص : ۳۵۶ج : ۵)

يعني بدعت په اصل کې د داسي نوي کار ايجادول دي چې د نبي - عليه السلام - په زمانه کې موجود نه وو !!

حافظ ابن کثير – رحمه الله – د بدعت تعريف داسي ليکلی دی : وَأَمَّا أَهْلُ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ فَيَقُولُونَ فِي كُلِّ فِعْلٍ وَقَوْلٍ لَمْ يَثْبُتْ عَنِ الصَّحَابَةِ: هُوَ بِدْعَةٌ، لِأَنَّهُ لَوْ كَانَ خَيْرًا لَسَبَقُونَا إِلَيْهِ، لِأَنَّهُمْ لَمْ يَتْرُكُوا خَصْلَةً مِنْ خِصَالِ الْخَيْرِ إِلَّا وَقَدْ بَادَرُوا إِلَيْهَا (تفسير ابن کثير ص: ۱۵۶ ج: ۴).

ژباړه : اهل سنت و الجماعت دا وايي چې کوم فعل او قول له صحابه کرامو – رضوان الله عليهم – څخه ثابت نه وي، د هغه کول بدعت دی، ځکه که هغه کار ښه وی، نو خامخا به صحابه کرامو – رض – تر موږ مخکې هغه کړی وی، ځکه هغوی هيڅ د خير کوم خوی ( او کار ) نه دی پرېښی، مګر هغوی ور وړاندي شوي دي !!

مفتي کفايت الله صاحب ليکې : بدعت هغو شيانو ته ويل کېږي د کومو اصل چې له شريعت څخه ثابت نه وي، يعني په قرآن مجيد او حديث شريف کې د هغه ثبوت پيدا نه شي او د رسول الله-صلى الله عليه

ketabton.com - The Digital Library


وسلم-،صحابه کرامو، تابعینو او تبع تابعینو په زمانه کې د هغه وجود نه وي او هغه د دین کار په ګڼلو سره وکړل شي،یا پرېښودل شي ( تعلیم الاسلام څلورمه حصه ص : ۲۷)

مولانا شبیر احمد عثماني - رحمه الله – لیکي : بدعت ویل کېږي داسي کار کول چې د هغه اصل په قرآن او سنت او قرون مشهود لها بالخیر کې نه وي،او دغه کار د دین او ثواب کار ګڼلو سره کول . ( حمائل شریف ص : ۷۰۸)

یعني یو داسي کار چې د هغه ثبوت په شریعت کې نه وي، د ثواب په نیت کول دا بدعت دی .

همد اراز په ثابت کار کې د قیدونو زیاتول هم بدعت دی .

د بېلګي په توګه یو عبادت عام راغلی دی، هغه په یوه وخت پوري خاصول او په هغه وخت کې یې د زیات ثواب عقیده لرل، دا هم بدعت دی .

نو د شیطان دا کوښښ وي چې ګناهګار په ګناهونو کې مصروف و ساتي او دیندار په بدعت کې اخته کړي، څو په دې سره دی خپل شوم هدف ته ځان و رسوي، چې هغه د انسان بد مرغه کول دي .

## غیبت ولي حرام دی ؟

غیبت کول او اوریدل هم د هغو ګناهونو په سر کې ځای لري چې نن سبا ډېرو خلګو متاسفانه د ګناهونو له فهرست څخه ایستلی دی، متاسفانه غیبت زموږ د مجلسونو نه بېلیدونکې برخه ګرزول شوې ده، له غیبت پرته مجلس بې خونده ور ته ښکاري .

ketabton.com - The Digital Library


کله چې دوه کسان سره یو ځای کېږي،د دریم غیبت  شروع کوي او په ډېر خوند  لگیا وي، دې ته بالکل فکر هم نه کوي چې دا گناه ده،په دې هکله به پوښتنه را نه کېږي او د دې ناوړه کار سزا به را کول کېږي .

د اسلام د سپېڅلي دین هر اړخ ته چې ځوک فکر وکړي،دې پایلي ته رسېږي  چې دا دین د انسانیت لپاره یو غوره او پوره سبق دی او په هر اړخیز ډول له مسلمان ځخه د زمکې پر مخ تر ټولو غوره انسان جوړوي .

الله پاک په ځرگند ډول په خپل مقدس کتاب کې فرمایلي دي چې غیبت کوونکی د خپل مړه ورور غوښې خوري .

د عام انسان غوښه خوړل ځومره ستر جُرم او ناوړه کار دی، بیا د خپل سکه ورور غوښه خوړل په داسي حال کې چې مړ وي ؟ د دې په هکله دي سړی د ځان سره لږ فکر وکړي، چې د یو چا ورور مړ وي، په کور کې مور، پلار، وروڼه او خویندي ټول له غمه ژاړي او دا درنده چاړه را واخلي او د دې مړه ورور ځخه غوښه پرېکوي او مسلسل یې په خوراک بوخت وي .

لکه څنگه چې مړ انسان په دې تکلیف نه پوهېږي چې ځوک یې غوښه خوري، همدا راز ستا هغه ورور چې ته یې غیبت کوې، هم په دې تکلیف نه پوهېږي چې ته ور پسي لگیایې او د هغه عزت لوټوې .

خو که هغه مړ ژوندی وی،په دې تکلیف به پوه شوی او خفه شوی وی .

ketabton.com - The Digital Library


همدا راز ستا دغه ورور هم که موجود وی او یا ستا په غیبت خبر شي، ضرور به خواشینی شي .

نو په دې چې غیبت د مسلمان د خفګان او سپکاوي لامل دی، د اسلام مقدس دین دا ناو ړه کار ناروا کړی او په کلکو ټکو یې غندلی دی .

# غیبت یعني څه ؟

د غیبت جامع او هر اړخیز تعریف په حدیث شریف کې داسي راغلی دی :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ». قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ «ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ». قِيلَ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ قَالَ «إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ». (رواه مسلم ص: ۳۲۲ ج: ۲ \مشكوة المصابيح ص: ۴۱۲ ج: ۲)

ژباړه : له حضرت ابوهریره - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل : تاسو پوهیږئ غیبت څه شی دی ؟ صحابهٔ کرامو وفرمایل : الله او د هغه رسول ښه پوهیږي .

نبي علیه السلام وفرمایل : ( غیبت دې ته وایي ) ستا د خپل ( مسلمان) ورور په داسي ډول یادونه چې هغسي یادونه هغه بده ګڼي ! صحابهٔ کرامو وفرمایل : که زما په ورور کې هغه څه وي چې زه یې وایم ؟ و ئې فرمایل : که په هغه کې هغه خبره موجوده وي چې ته ئې وایي، نو تا یې غیبت وکړ، او که په هغه کې هغه څه موجود نه وي،نو پر هغه دې بهتان ( تُهمت او تور ) ولګوی !!

ketabton.com - The Digital Library


لکه څنګه چې په دې حدیث کې ذکر شول ، هره خبره چې د یوه مسلمان په هکله په داسي وخت کې کېږي چې هغه موجود نه وي،خو که ترې خبر شي، پرې خواشینی کېږي، که دا خبره رښتیا وي، دې ته غیبت ویل کېږي او که درواغ وي، بهتان ور ته ویل کېږي او دا تر غیبت هم لویه ګناه ده .

## غیبت په څه سره کېږي ؟

غیبت یوازي په ژبه نه وي، بلکې په هره طریقه چې بل څوک په داسي خبره پوه کړي چې بل کس پرې خفه کېږي، که په اشاره سره وي، که په کار سره وي، که د سترګي په وهلو سره وي او یا په لیکلو سره وي، که د هغه په څېر په تګ کولو سره وي او یا په بله طریقه سره وي چې په هغه سره د بل سپکاوی کېږي، دا ټول صورتونه د غیبت دي .

## غیبت څه کوي ؟

غیبت د یوه انسان ابرو او عزت ختموي، په ټولنه کې د هغه شخصیت ټیټوي او سپکوي .

دې ته هم باید پام وکړو چې په دې کار سره خپله غیبت کوونکی هم نورو ته سپک ور پېژندل کېږي، ځکه خلګ ور ته غیبتناک وایي، ترې کرکه کوي او په خوله یې څوک باور نه کوي او خلګ د ده په هکله وایي چې د نورو غیبت او سپکاوی کول د ده عادت دی .

همدا راز زموږ هغه وروڼه او خویندي چې خپله درنه او د نورو سپکه وایي او په دې ډول مجلس ګرم ساتي، دې ټکې ته هیڅ پام نه کوي

ketabton.com - The Digital Library


چې دوی که د خپل مسلمان ورور ابرو رژوي،هغه بې عزته کوي او هغه ته سپکاو ی کوي،د دې سره خپل شخصیت هم نورو ته کښته ور پېژني او ځان هم سپکوي .

# ولي خلگ غیبت کوي ؟

په دې کې هیڅ شک نشته چې غیبت د ټولو مسلمانانو په اجماع او اتفاق یو ناروا او حرام کار دی او په حراموالي یې د قرأن کریم، حدیث او اجماع واضح دلائل شتون لري .

خو د دې سره سره بیا هم د غیبت گناه ولي دومره ډېره عامه ده ؟ د دې څه لاملونه دي ؟

په غیبت کولو هڅوونکې لاملونه ډېر دي، خو هغه په دوولسو اسبابو کې جمع کېږي .

چې د هغو له امله خلگ د غیبت په ستره گناه کې مُبتلاء کېږي .

هغه په دې توگه دي :

۱ : یو سبب یې دا دی چې غیبت کوونکی چا ته په غصه وي، له دې امله یې یا غیبت کوي، یا پرې تُهمت وایي او یا یې چُغلي کوي .

۲ : د بل چا سره د حسد او بغض له امله غیبت کېږي، د هغه بدۍ په دې غرض بیانوي څو خپله کینه پرې سر ته ورسوي او خپله سینه پرې یخه کړي .

دا په داسي حال کې چې کامل مؤمنان له داسي کړنو ځان ساتي .

۳ : د ځان لوړوالی او د بل چا کښته کول او بې عزته کول غواړي .

ketabton.com - The Digital Library


دا عُجب او ځان خوښونه ده، دا هم داسي مرض دی چې د انسان د هلاکت سبب دی .

۴ : د ملګرو او د مجلسیانو موافقت .

دا د غیبت لپاره بل لامل دی چې غواړي خپل ملګري خوشحال کړي، نو ځکه که هغوی د چا غیبت شروع کړي، دی هم ور سره شروع شي .

دا هم خطرناکه خبره ده ځکه په دې کار سره د ملګرو رضاء د الله پاک په ناراضتیا کې لټول دي، دا د ایمان د کمزورۍ او له الله پاک څخه د غفلت نښه ده .

۵ : د ګناهګارانو په ګناهونو حیرانتیا څرګندول :

وایي : فلاني ته زه حیران یم څرنګه ګناوي کوي، په داسي حال کې چې لوی سړی دی، یا عالم دی او یا دا چې څرنګه یې آخرت هېر دی ؟

په دې توګه په غیبت کې واقع شي .

که داسي وکړي چې هغه سړی معلوم نه کړي او د ګناهونو بیان یې وکړي چې داسي ګناوي شروع دي، نو په دې توګه په غیبت کې نه واقع کېږي .

۶ : د بل چا سپکاوی او پرې ټوکې کول :

۷ : د الله لپاره خپله غُصه د هغه چا په هکله ښکاره کول څوک چې په بدو کارونو کې ملوث دی .

ketabton.com - The Digital Library


په داسي طريقه چې د هغه نوم واخلي او وايي فلانی له خدايه نه ډارېږي، داسي ګناوي کوي .
په دې طريقه د هغه په غيبت کې اخته کېږي .
۸ : حسد دی، د چا خلګ صفت وکړي او خلګ ور سره محبت لري، خو غيبت کوونکی د هغه سره حسد لري، غواړي د غيبت په ذريعه د هغه محبوبيت کم کړي او خلګ يې د صفت کولو پر ځای غيبت ته هڅوي .
دا هم ډېر ناوړه کار دی او ستره بې عقلي ده .
۹ : د بل چا سره د خپلي خواخوږۍ او خير خواهۍ ښکاره کول او پر هغه د خفګان څرګندول په داسي طريقه چې بل چا ته وايي : پر فلاني بېچاره مي ډېره خوا بده ده، داسي داسي ګناوي کوي .
۱۰ : ټوکې کول او د خلګو د خندولو لپاره د بل چا عيبونه بيانول :
۱۱ : غيبت کوونکې ته د يوه ناوړه کار نسبت وشي، نو دی د ځان د سپيناوي په غرض وايي : دا کار فلانی سړی کوي، په دې مقصد چې ځان سپين کړي .
۱۲ : د ده ګومان دا وي چې فلانی زما په خلاف شاهدي اداء کوي او يا مي يوه مشر يا ملګري ته غيبت کوي، نو دی پر هغه ځان ړومبی کړي او د هغه په غيبت پيل وکړي، په دې غرض چې که دغو کسانو ته دی زما بد وايي، هغوی به د ده په خبره باور نه کوي ځکه ما به دی مخکې ور ته بې حيثيته کړی وي . ( آفات اللسان في ضوء الكتاب والسنة ص : ۸- ۹ بتغيير يسير )

ketabton.com - The Digital Library



# د شرک تعریف او گناه

له الله پاک پرته یو مخلوق د الله پاک سره په عبادت،تعظیم او محبت کې برابر ګڼل شرک دی .

د مشرکینو په دې خبره اقرار چې دوی به یې جهنم ته تر داخلېدلو وروسته هغه چا ته کوي د چا چې یې عبادت کړی دی،الله پاک داسي بیانوي : تَاللَّه إِنْ كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ، إِذْ نُسَوِّيكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ( الشعراء آیت:۹۸\۹۷ ) .

ژباړه : په الله قسم موږ خو یقیناًپه ښکاره بې لاریتوب کې وو،چې تاسو ( باطل معبودان ) مو د رب العالمین سره برابرولئ !!

ښکاره خبره ده چې مشرکینو خو هم دا عقیده نه لرله چې د دوی له خوا مقررشوي خدایان د دُنیاپیداکوونکې او مالکان دي،بلکې له دې امله مشرکان شوي ووچې هغه معبودان یې په عبادت،تعظیم او محبت کې د الله پاک سره برابر کړي وو،چې له امله یې جهنم ته ورسېدل .

همدا راز مفتي محمدشفیع صاحب د شرک داسي تعریف کوي : د الله پاک د ذات او صفاتو په هکله چې کومي عقیدې دي،دغسي یوه عقیده د یوه مخلوق لپاره ساتل شرک دی ( تفسیر معارف القرآن ص : ۴۳۰ ج : ۲)

قرآن کریم چې څومره تاکید د شرک په غندنه او د توحید په ثابتولو کړی، دومره تاکید یې په بلې هیڅ کومي مسئلې نه دی کړی .

ketabton.com - The Digital Library


همدا راز د ټولو پیغمبرانو – علیهم الصلاة و السلام – لومړنی دعوت دا وو چي: یَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ.اې خلګو ! یوازي د الله عبادت وکړئ ! له الله تعالی پرته ستاسو لپاره څوک د عبادت حقدار نشته .

له شرک څخه ځان ساتل ډېر ضروري دی

# شرک څومره خطرناکه ګناه ده؟

لکه څرنګه چې وړاندي تېر شول چې له شرک نه په ځان ساتني په قرآن کریم کې ډېر زیات ټینګار شوی او تر بلي هري ګناه له شرک څخه د ځان د ساتلو په هکله په قرآن کریم کې ډېر بیان موجود دی .

د دې وجه دا ده چې دا ډېره زیاته خطرناکه ګناه ده او ډېر زیات زیانونه لري چې ځیني زیانونه یې دلته په مختصره توګه لیکو، څو مسلمانان ورونه او خویندي ور ته متوجه شي او په اړه یې له دقت او احتیاط څخه کار واخلي .

۱: شرک د انسان عبادتونه بربادوي .

په شرک اخته شخص که هر څومره زیات عبادتونه وکړي، له نورو ګناهونو ځان وساتي، شپه او ورځ د الله پاک عبادت کوي، همدا راز په شرک اخته انسان که هر څوک وي، خو بیا یې هم هیڅ عبادت ګڼه نه ور ته کوي او د کړو ښو کارو له ثواب څخه محروم دی .

ketabton.com - The Digital Library


د شرک سره د انسان ټول عبادتونه ختمېږي او د شرک په شتون کې هیڅ عبادت فائده نه لري .

په قرآن کریم کې یوازي د پنځویشتو پیغمبرانو نومونه ذکرشوي دي،د نورو یادونه په : الانبیاء،الرسل او النبیین سره اجمالا شوې ده .

په دغو پنځویشتو کې د اتلسو پیغمبرانو نومونه د سورة الانعام په یوه رکوع کې ذکر شوي او د دوی د نومونو له یادولو وروسته بیا هم اجمالاً د ټولو پیغمبرانو - علیهم السلام – ذکر شوی دی،ور پسې الله پاک فرمایي : وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ(الانعام آیت:۸۸)

ژباړه : که دوی شرک کړی وی، نو چې دوی څه کړي وو، هغه به برباد شوي وی !!

له دې څخه د شرک خطره جوتېږي چې د دې سره د پیغمبرانو – علیهم السلام - عملونه هم بې فائدې کېږي او د دوی له ښې وزي .

په بل ځای کې الله پاک فرمایي : وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ(سورة الزمر : ٦٥).

ژباړه : یقیناً تا ته وحي شوې او هغو کسانو ته هم چې تر تا مخکې وو { د دې خبري چې : } که دې شرک وکړ، نو خامخا به ستا عبادت بربادېږي او خامخا به ته تاواني کېږې!!

ketabton.com - The Digital Library



د شرک سره د پېغمبر هم ټول عبادتونه ختمیږي، په داسي حال کې چې د پېغمبر هر عبادت مقبول وي او د امت عبادتونه هغې درجې ته ور رسېدلی نه شي، خو بیا یې هم شرک له منځه وړي .

له پېغمبر څخه خو د شرک کېدل ناشونی کار دی، خو الله پاک د امت د پوهولو لپاره داسي ویلي دي .

یعني که هر څوک شرک وکړي، هر څه عبادتونه به یې برباد شي .

## ۲: پر مشرکانو جنت حرام دی .

پر مشرک جنت حرام دی، د ده استوګنځی دوزخ دی او دی داسي ستر ظالم دی چې هیڅ ډول مرستندوی نه لري .

الله - جل جلا له - فرمايي : إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ (المائدة: آیت: ۷۲)

ژباړه : بې شکه څوک چې الله سره شریک نیسي، نو یقیناً الله جنت ور باندي حرام کړی او استوګنځی به یې اور وي او د داسي ظالمانو لپاره هیڅ مرستندویان نشته !!

## ۳: مشرکان د مؤمنانو له دُعاګانو بې برخي دي :

په شرک اخته خلک دومره بد مرغه دي چې د دوی لپاره الله - جل جلا له - له استغفار او دُعاء غوښتلو څخه رسول الله - صلی الله علیه وسلم - او مؤمنان منع کړي دي .

ketabton.com - The Digital Library


الله - جل جلاله - فرمایلي دي : مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ( التوبة:۱۱۳)

ژباړه : د پېغمبر – صلی الله علیه و سلم - او هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی، نه ښایي چې مشرکانو ته بخښنه وغواړي، که څه هم خپلوان یې وي، و روسته له دې چې ور ته څرګنده شوې ده چې هغوی دوزخیان دي !!

## ٤ : د قیامت په ورځ له شفاعته محرومتیا :

په شرک اخته انسان له دې امله هم ډېر بد مرغه دی چې د قیامت په ورځ د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - له شفاعت څخه بې برخي دی .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- « لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ فَتَعَجَّلَ كُلُّ نَبِيٍّ دَعْوَتَهُ وَإِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَهِيَ نَائِلَةٌ إِنْ شَاءَ اللَّهُ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي لاَ يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا ».(رواه مسلم ص:۱۱۳ ج:۱)

ژباړه : له حضرت ابوهریره - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : د هر پېغمبر یوه دُعاء وي چې خامخا قبلېږي، نو هر پېغمبر د خپلي دُعاء په هکله تلوار وکړ ( په دُنیا کې یې هغه دُعاء وغوښتله ) او ما خپله دُعاء پټه ساتلې ده د خپل امت لپاره د قیامت په ورځ د شفاعت لپاره ، ان شاء الله هغه دُعاء

ketabton.com - The Digital Library



هر هغه چا ته رسېږي چې زما له امت څخه په داسي حال کې مړ شوی وي چې د الله سره شرک نه کوي !!

له دې حدیث څخه په صراحت سره معلومېږي چې که څوک د شرک په حالت کې مړ شي، هغه د نبي - علیه السلام - له شفاعت څخه بې برخي دی .

## ۵ : شرک لوی ظلم دی .

الله - جل جلاله – د حضرت لقمان - علیه السلام - نصیحت چې خپل زوی ته یې کړی وو، داسي را نقل کړی دی :

وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ( لقمان:١٣)

ژباړه : ( هغه خبره در په زړه کړه! ) کله چې لقمان خپل زوی ته په داسي حال کې چې نصیحت یې ور ته کوی، و ویل : اې زویکیه ! د الله سره څه مه شریکوه، په یقیني توګه شرک یو ستر ظلم دی !!

## ٦ : شرک تر ټولو لویه ګناه ده :

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَىُّ الذَّنْبِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ قَالَ: أَنْ تَجْعَلَ لِلَّهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ.(رواه مسلم ص:٦٣ ج:١)

ژباړه : له حضرت عبدالله بن مسعود - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې ما له رسول الله - صلی الله علیه وسلم – و پوښتل چې کومه ګناه د الله په نزد لویه ده ؟ و یې فرمایل : چې ته د الله سره برابر ( سیال ) بل څوک و ګرزوې، په داسي حال کې چې ته الله - جل جلاله - پیداکړی یې!!

ketabton.com - The Digital Library


## ۷ : مشرک ته بخښنه نه کیږي :

**که څوک د شرک په حالت کې مړ شي، داسي چا ته الله پاک بخښنه نه کوي . الله پاک فرمايي : إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا (النساء آيت : ١١٦)**

**ژباړه : بې شکه الله - جل جلاله – دا نه بخښي چې د ده سره شرک وشي، خو له دې راښکته ( هر ډول ګناه،که صغيره وي او که کبيره ) چا ته چې وغواړي، ور بخښي يې،او چا چې د الله سره شريک ونيوی، نو يقيناً چې ( له حق څخه په ) ډېر لري بې لاريتوب بې لاري شو !! دا ځکه چې تر مشرک د الله پاک لوی باغي او نافرمان نشته ځکه به تل تر تله په عذابونو کې وي .**

**مشرک په حقيقت کې د الله پاک اهانت کړی،ځکه د داسي دوامداري سزا مستحق شو .**

**دا د شرک څو زيانونه دي چې په لنډ ډول بيان شول .**

**دغه زيانونو ته په پام سره دا خبره جوتيږي چې بايد دغه ستري او نه بخښل کېدونکې ګناه ته لازمه پاملرنه وکړو او په هکله يې پوره معلومات حاصل کړو، څو له دغسي ناوړه کار څخه په کلکه ځانونه وژغورو .**

ketabton.com - The Digital Library



# نبي – علیه السلام – د څه لپاره راغلی دی ؟

د نبوت د لمر تر راختو مخکې په دُنیا کې ډول ډول تیارې خوري وې، ظلم او وحشت اوج ته رسېدلی وو.

د هغې زماني د خلګو د بېلاریتوب د معلومات لپاره دا کافي ده چې د الله پاک کتاب چې تر ټولو رښتونی کتاب دی، موږ ته یې دا خبر راکړی، چې د نبي علیه السلام تر بعثت مخکې خلګ په ښکاره بېلاریتوب کې پراته وو .

د انسانیت د ستر لارښود جناب محمد رسول الله - صلی الله علیه وسلم – تر بعثت مخکې ظلم او بربریت انتهاء ته رسېدلی وو،انسانان له حق، صداقت، رُشد او هدایت څخه نا اشنا وو .

ژوندۍ لوڼه ښخول کېدې، د کورنیو شخړو او دُښمنیو بازار تود وو، زناکارۍ،شراب نوشۍ،خوماربازي ( جواري ) او داسې نور ناوړه کارونه رواج وو .

د انسانانو اخلاق،عادات،عقېدې او اعمال ټول ناسم وو،دې هر څه سمون ته اړتیا لرله .

په دغسې وخت کې د الله پاک رحمت په جوش راغی او دُنیا ته یې خپل آخري پیغمبر را ولېږی،څو خلګ د ده په طریقه عمل وکړي او په دې سره هغه د جهالت په تیارو کې پراته خلګ ځان ته رڼا پیدا کړي .

ketabton.com - The Digital Library


نبي علیه السلام دُنیا ته په هره برخه کې د ژوندانه اصول او طریقې ور وښودلې،انسانانو ته یې له عذابونو د خلاصون لار ور وښوده او تر قیامته پورې د ټول انسانیت لپاره د ده طریقې او دین د کامیابۍ یوازینۍ لارده .

اوس په ټولو لازمه ده چې باید د دې پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - طریقې عملي کړي . الله - جل جلاله - فرمایلي دي : وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّهِ ( النساء : ۶۴ )

ژباړه : پرته له دې چې د الله په حکم سره یې خبره و منل شي، د بل څه لپاره مو یو رسول هم نه دی را لیږلی !!

په دې آیت مبارک کې الله - جل جلاله - خپل عام قانون بیان کړی،چې موږ کوم پیغمبر را لیږلی،د دې لپاره مو را لیږلی دی،څو خلک د الله پاک د فرمان مطابق د هغه تابعداري وکړي .

له دې مطلب دا دی چې دغه آخري پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - هم د دغه مقصد لپاره راغلی دی څوخلک یې اطاعت وکړي .

همدا راز الله - جل جلاله - په بل ځای کې فرمایي : لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا (سورة الاحزاب:۲۱)

ژباړه : یقیناً ستاسو لپاره د الله په رسول کې د تابعدارۍ ښائسته نمونه شته،د هغه چا لپاره چې د الله تعالی او د آخرت د ورځې هیله لري او الله ډېر یادوي !!

ketabton.com - The Digital Library


يعني نبي عليه السلام ستاسو لپاره نمونه ده چې تاسو به د هغه په څېر کارونه کوئ !

وجه دا ده چې انسان نمونې ته اړتيا لري،د انسان فطرت داسي دی چې يوازي کتاب پرته له استاذه د ده د اصلاح لپاره،يا د يوه علم او فن د زده کولولپاره کافي نه دی، تر څو چې يو مُربي او استاذ و نه لري .

نو د دين په هکله هم انسان يوه مُربي او استاذ ته اړتيا لري،پرته له دې چې داسي يوه نمونه انسانان ولري،صحيح لار په صحيح توګه نه شي پېژندلی .

نبي - صلی الله عليه وسلم - هم يوه نمونه ده چې بايد انسانان هغه ته په کتو د هغه په پله د قدم ايښودلو هڅي وکړي، ځکه دا د انسانانو ذمه واري او د پيغمبر – عليه السلام – د بعثت مقصد دی .

اوس موږ په داسي حال کې چې د پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - د تابعدارۍ نمونه د ژوندانه په ټولو اړخونو کې لرو، دې ته اړتيا نه لرو چې د غربيانو او نورو کافرانو سره ځان ور ته کړو او د هغوی تقليد وکړو .

زموږ دين په هرڅه کې کامل او مکمل دی،په دې مبارک دين کې د هر څه په هکله نبوي لارښووني شتون لري .

او دا داسي لارښووني دي چې د دين او دُنيا دواړو برى او نېکمرغي پکې نغښتې ده .

ketabton.com - The Digital Library


په دُنیاکې هم که څوک خوشحالي غواړي،د دې مبارک دین په رڼا کې دي خپل ژوند عیارکړي،دغه هدف ته به ان شاء الله تعالی په اسانی سره ورسېږي .

او د آخرت خوشحالی او نېکمرغی ته هم یوازي د دې دین په ذریعه انسان رسېدی شي .

# پر بندګانو د الله پاک حق

د انسانانو او پېریانو په پیدا کولوکې حکمت دا دی چې دوی باید د الله پاک عبادت وکړي .

نور شیان الله پاک د دوی د ګټي لپاره پیداکړي او د دوی تابع کړي یې دي،څو دوی له هغو د الله پاک په عبادت کولو کې مرسته واخلي .

الله تعالی فرمايي : هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا (الآية،سورة البقرة ٢٩:)

ژباړه : الله هغه ذات دی چې ستاسو د فائدې لپاره یې په زمکه کې ټول څه پیدا کړل !!

نو د الله تعالی عبادت د انسانانو د پیدایښت اصلي مقصد او پر بندګانو د الله پاک حق دی .

په قرآن عظیم الشان کې الله تعالی فرمايي :وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ،مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ،إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ(الذاريات: ٥٦،٥٧،٥٨).

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه : ما انسانان او پېريان له دې پرته بل څه ته نه دي پيدا کړي، چې دوی دي زما عبادت وکړي، له هغوی څخه زه نه روزي غواړم او نه دا چې دوی دي ما ته خواړه را کړي،په يقيني توګه هماغه الله ښه روزي ور کوونکی او محکم قوت والا دی !!

علامه ابن کثير - رحمه الله – د دې آيت په تفسير کې ليکي : أَيْ: إِنَّمَا خَلَقْتُهُمْ لِآمُرَهُمْ بِعِبَادَتِي، لَا لِاحْتِيَاجِي إِلَيْهِمْ .(تفسير ابن كثير ص: ۱۹۵ ج:۵)

يعني ما د دې لپاره پيدا کړل څو دوی په خپل عبادت سره مامور کړم، د دې لپاره نه چې زه دوی ته اړ وم !!

د آيت مطلب دا دی چې الله تعالی بندګان د دې لپاره پيدا کړي دي چې يوازې د الله پاک عبادت وکړي او شرک ور سرهو نه کړي،که څوک دا کار وکړي،الله پاک به يې غوره بدله ور کړي او که څوک له دې حکم څخه سر غړونه وکړي، په داسې حال کې چې د همدې مقصد لپاره پيدا شوی،هغه ته سزا ور کوي .

همدا راز الله پاک دا هم فرمايلي دي چې زه بندګانو ته اړ نه يم، بلکې بندګان الله تعالی ته په ټولو حالاتو کې اړ دي ځکه الله پاک د دوی خالق او دوی ته روزي ور کوونکی دی .

دا مضمون په ډېرو احاديثو کې هم راغلی دی چې د بېلګې په توګه موږ دلته يو حديث ليکو :

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ كُنْتُ رِدْفَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى حِمَارٍ يُقَالُ لَهُ عُفَيْرٌ قَالَ فَقَالَ « يَا مُعَاذُ تَدْرِى مَا حَقُّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ ». قَالَ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ « فَإِنَّ حَقَّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوا اللَّهَ وَلاَ

ketabton.com - The Digital Library



يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ لاَ يُعَذِّبَ مَنْ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا ». قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلاَ أُبَشِّرُ النَّاسَ قَالَ « لاَ تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوا.

(رواه البخاري ص:۹۲۷ ج:۲، ومسلم ص:۴۴ ج:۱ واللفظ له)

**ژباړه : له حضرت معاذبن جبل - رضی الله عنه - روایت دی چې زه د رسول الله - صلی الله علیه وسلم – تر شا په یوه سورلۍ ناست وم،چې عُفَیر ور ته ویل کېدل،نو ماته یې وویل : اې معاذه ! ته په دې خبریې چې د الله پاک حق پر بندګانو څه دی ؟ او د بندګانو پر الله پاک حق څه دی ؟ ما ور ته وویل : الله او د الله پیغمبر ښه خبردي .**

**و یې فرمایل : پر بندګانو د الله پاک حق دا دی چې د الله عبادت وکړي او هیڅ شی ور سره شریک نه کړي او د بندګانو حق پر الله دا دی چې هغه چا ته عذاب ور نه کړي څوک چې د ده سره هیڅ شی نه شریکوي.**

**معاذ - رضی الله عنه - وایي ما وویل : اې د الله رسوله ! - صلی الله علیه وسلم – نو آیا زه ( په دې خبره ) خلګو ته زېری ور نه کړم ؟ و یې فرمایل : زېری خلګو ته مه ور کوه،بیا به سُستي وکړي !!**

**مطلب دا دی چې څوک د الله تعالی عبادت په داسي طریقه وکړي چې بل هیڅ شی ور سره شریک نه کړي،دې انسان د الله حق اداء کړ، اوس پر الله پاک دا حق لري چې ده ته عذاب ور نه کړي .**

ketabton.com - The Digital Library


# بنده څنګه پر الله پاک حق لري ؟

د الله پاک خو پر انسانانو حق شته، خو د انسانانو پر الله پاک واجب حق نشته،ځکه پر الله پاک د هیڅ واجب حق نشته او نه څوک پر الله پاک یو شی واجبولی شي .

په دې حدیث کې چې ویل شوي چې د دوی پر الله پاک دا حق دی چې له شرک څخه ځان ساتونکې ته عذاب ور نه کړي،دې ته حق تفضلي وايي .

حق تفضلي دا دی چې الله پاک د انسانانو سره احسان کړی دی او له دې امله یې پر ځان د دوی لپاره دا حق منلی دی .

په دې هکله یوه شاعر داسي ویلي دي :

مَا لِلْعِبَادِ عَلَيْهِ حَقٌّ وَاجِبٌ ... كَلَّا وَلَا سَعْيٌ لَدَيْهِ ضَائِعُ

إِنْ عُذِّبُوا فَبِعَدْلِهِ، أَوْ نُعِّمُوا ... فَبِفَضْلِهِ وَهُوَ الْكَرِيمُ الْوَاسِعُ

(شرح العقيدة الطحاوية لابن ابي العز الحنفي-رحمه الله-ص:۲۳۶)

یعني د بندګانو پر الله واجب حق نشته،هیڅکله نشته او نه د ده سره د چا کوښښ ضائع کېدونکی دی .

که بندګانو ته عذاب ور کول شي، دا د الله پاک د عدل له امله دی،او که نعمت ور باندي وشي،د الله د فضل له امله دی او هغه سخي او د پراخ فضل خاو ند دی !!

اوس که څوک د الله پاک عبادت نه کوي،یا ور سره په عبادت کې مخلوقات شریکوي،دې انسان نه یوازي دا چې د الله - جل جلاله - حق اداء نه کړو،بلکې د ده د پیدایښت اساسي موخه یې تر لاسه نه

ketabton.com - The Digital Library


کړی شوه، د داسي انسانانولپاره الله پاک سخت عذابونه تیار کړي دي
.
عبادت به هم په داسي طریقه کوي چې بل څوک به نه ورسره شریکوي .
که بل څوک ور سره شریک کړي بیا دغه عبادت اعتبار نه لري .
الله - جل جلاله - فرمایلي دي : فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحاً وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَداً (الكهف:١١٠)
ژباړه : څوک چې د خپل رب سره د ملاقات هیله لري،هغه دي نېک عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې دي بل هیڅوک نه شریکوي!!
یعني که څوک د قیامت د ورځي د ثواب او جزاء امید لري، هغه دي د هغې د بریالیتوب لپاره دا دوه کارونه وکړي :
١ : د شریعت مطابق ښه کارونه .
٢ : د الله پاک سره دي په نېک عمل کې بل څوک نه شریکوي .
یعني یوازي د الله پاک د رضاء لپاره دي عبادت وکړي .
په مخکیني حدیث کې بیان شول چې څوک شرک و نه کړي،هغه ته به الله پاک عذاب نه ور کوي !!
د دې مطلب دا دی چې که نور شرائط برابر وو،سمدستي به جنت ته داخلېږي،خو که چا نوري ګناوي کړې وې،بیا که دوزخ ته ولاړ شي، د تل لپاره به عذاب نه ور کول کېږي،بلکې د سزا تر تېرولو وروسته به بیا جنت ته ننوزي .

ketabton.com - The Digital Library


د الله پاک عبادت کول لکه څنګه چې د انسان د پیدایښت اصلي مقصد دی،همدا راز په دُنیا کې هم د انسان لپاره ډېري ګټې لري :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ : إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ : يَا ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ وَإِلَّا تَفْعَلْ مَلأْتُ يَدَيْكَ شُغْلًا وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ ( رواه الترمذي وقال حديث حسن غريب ص:٧٣ ج:٢،وبن ماجه ص:٣٠٢)

ژباړه : له حضرت ابوهریره - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلى الله علیه وسلم – وفرمایل : اې د آدم - علیه السلام – زویه ! ته ځان زما د عبادت لپاره فارغ کړه ! زه به دې سینه له غناء ډکه کړم او محتاجي به دي بنده کړم او که ته دا کار و نه کړې،سینه به دي له مشغولتیا ډکه کړم او محتاجي به دي نه بندوم !!

کله چې انسان یوازي د الله پاک عبادت وکړي او دا حق یې پر ځای کړ، بیا که نوري ګناوي وکړي،هم امید شته چې الله پاک دي ور ته بخښنه وکړي :

په حدیث کې راغلي دي چې الله تعالی فرمایلي دي : يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ لَوْ أَتَيْتَنِي بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيتَنِي لَا تُشْرِكُ بِي شَيْئًا لَأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً »(رواه الترمذي ص: ١٩٤ ج: ٢)

یعني اې د آدم زویه ! که ته ما ته د ډکې زمکې ګناهونو سره راشي او بیا په داسي حال کې ملاقات را سره وکړې چې زما سره د هیڅ شي شرک نه کوې،زه به تا ته د ډکې زمکې د مغفرت او بخښني سره راشم !!

( یعني بخښنه به در ته وکړم )

ketabton.com - The Digital Library


له دې حديث څخه د الله پاک د فضل پراخي معلومه شوه چې تر دومرو زياتو ګناهونو هم چا ته ور تېرېږي .

همدا راز د توحيد اهميت هم ترې معلوم شو چې د بخښني لپاره شرط دی .

الله پاک دې توفيق راکړي چې د الله پاک حق اداء کړو او په ښه ډول يې عبادت وکړو .

# د نبي اکرم(ﷺ) سره د محبت اسباب

الله - جل جلاله - خپل رسول - صلى الله عليه وسلم – د مخلوق لپاره رحمت ګرزولی او را لېږلی دی او دا د الله پاک په ټولو نعمتونو کې تر ټولو ستر نعمت دی .

د الله پاک د پیغمبر - صلى الله عليه وسلم - سره بايد مسلمان تر بل هر چا زياته مينه ولري ځکه دا محبت د ايمان يوه برخه او د دې محبت زياتوالی او کمی د ايمان په قوت او ضعف پوري اړه لري .

که د چا ايمان قوي وي،د ده محبت به هم د نبي عليه السلام سره زيات وي او که يې ايمان کمزوری وي، دا محبت به يې هم کمزوری وي .

لکه څنګه چې په حديث شريف کې راغلي دي :

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: ثَلاَثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلاَوَةَ الإِيمَانِ مَنْ كَانَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَأَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لاَ يُحِبُّهُ إِلاَّ لِلَّهِ وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ أَنْ أَنْقَذَهُ اللَّهُ مِنْهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ ( رواه البخاری ص:۸ ج:۱ و مسلم واللفظ له ص:۴۹ ج:۱)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه : له حضرت انس - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : درې صفتونه دي چې په چا کې موجود وي،د هغې له کبله به د ایمان خوند پیدا کړي : چې الله - جل جلاله - او د هغه رسول - صلی الله علیه وسلم – ور ته تر نورو ټولو ډېر محبوب او ګران وي .

۲ : چې د یوه سړي سره مینه یوازي د الله لپاره کوي،د بل څه له امله نه وي .

۳ : او چې کفر ته بېر ته ګرزېدل وروسته له دې چې الله پاک ترې خلاص کړ،داسي بد ګڼي لکه څنګه چې اور ته غورزېدل بد ګڼي !!

نو د الله پاک او د هغه د رسول – صلی الله علیه وسلم - سره مینه تر بل هر چا باید ډېره وي او د دې له امله انسان د ایمان په خوند پوه کېږي .

کله چې دا درجه چا ته حاصله شي، بیا له دې وروسته دغه د ایمان ونه مختلفي مېوې او ګڼي فائدې په هر وخت کې ور کوي .

همدا راز د نبي علیه السلام سره په محبت کې ډېري زیاتي فائدې نغښتې دي چې ځیني د دُنیا سره او ځیني یې هم د دین سره تعلق لري .

همدا راز د نبي علیه السلام محبت ضروري دی،د بل چا د محبت په څېر نه دی،داسي نه دی لکه د نورو انسانانو سره محبت بلکې دا لازمي دی،له دې پرته ایمان نه شي پوره کېدلی .

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ (رواه البخاري ص: ٧، ج: ١ و مسلم ص: ٤٩ ج: ١)

ژباړه : له حضرت انس - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : په تاسو کې یو تن ( پوره ) مؤمن نه شي کېدی تر څوچې زه هغه ته د ده تر پلار،د ده تر اولاد او ټولو خلګ زیات محبوب نه شم !!

په عمومي توګه محبت او مینه یا د مشرانو سره کېږي،یا د کشرانو سره او یا د همزولوسره .

په دې حدیث کې دغو درو درجو ته اشاره شوې ده : والد اشاره مشرانو ته ده،په وَلَدِهِ سره اشاره کشرانوته او په وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ کې اشاره همزولو ته ده .

یعني د هر مسلمان لپاره ضروري ده چې د ده په زړه کې باید د نبي علیه السلام مینه تر خپل ځان، خپلو کشرانو، خپلو مشرانو او خپلو همزولو او ملګرو زیاته وي .

د نبي علیه السلام د محبت لپاره ځیني وجوهات شته، چې په هغو سره کېدی شي چې د انسان محبت ور سره زیات شي،هغه ځیني دا دي :

۱ : الله - جل جلاله - خپل پیغمبر - صلی الله علیه وسلم – په ټول مخلوق کې خوښ کړی دی،څو د ده دین خلګو ته و رسوي .

ketabton.com - The Digital Library



همدا راز الله پاک له ده څخه راضي دی او د الله پاک د ده سره محبت دی .

نو پر موږ لازمه ده چې د هغه چا سره محبت او مینه ولرو د چا سره چې د الله پاک محبت وي .

ځکه موږ د الله پاک بندګان یو، د بندګۍ یو مُهم رُکن هم دا دی چې د الله پاک دوست به مو دوست وي او د الله پاک دُښمن به مو دُښمن وي.

عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَالَ:لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلاً لاَتَّخَذْتُ أَبَابَكْرٍ خَلِيلاً وَلَكِنَّهُ أَخِي وَصَاحِبِي وَقَدِ اتَّخَذَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلاً .(رواه مسلم ص: ٢٧٣ ج: ٢)

ژباړه : له حضرت ابوالاحوص څخه روایت دی چې ما له عبدالله بن مسعود - رضی الله عنه - څخه واورېدل چې له نبي علیه السلام څخه یې بیان کوی چې هغه وفرمایل : که زه د خلیل نیوونکی وی نو ما به ابوبکر - رضی الله عنه - خلیل نیولی وی،لیکن دی زما ورور او ملګری دی او یقینا ستاسو ملګری (نبي علیه السلام) الله - جل جلاله - په دوستۍ سره نېولی دی !!

خلیل خاص او رښتوني دوست ته ویل کېږي،دا په دوستۍ کې یوه اعلی درجه ده چې الله - جل جلاله - زموږ پېغمبر - صلی الله علیه وسلم -

ketabton.com - The Digital Library


ته ور کړې ده لکه څنګه چې یې ابراهیم - علیه السلام - ته هم دغه درجه ورکړې وه .

نو چې نبي علیه السلام د الله پاک خاص دوست او خلیل دی، نو موږ باید د هغه سره ډېر محبت ولرو ځکه د الله پاک ور سره محبت دی .

۲ : د نبي علیه السلام دا مرتبه ده چې تر ټولو انسانانو غوره دی.

عَنِ الاوزاعِيّ حَدَّثَنِي أَبُو عَمَّارٍ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ فَرُّوخَ حَدَّثَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاول مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ وَاول شَافِعٍ وَاول مُشَفَّعٍ (رواه مسلم ص: ۲۴۵ ج: ۲).

ژباړه : له حضرت ابوهریره - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : زه د آدم - علیه السلام – د او لاد سردار یم او اولنۍ هغه څوک یم چې قبر به ترې څېري شي ( یعني تر ټولو ړومبی به زه د قیامت په ورځ له قبر څخه پور ته کېږم ) او اولنی شفاعت کوونکی یم او اول هغه څوک یم چې شفاعت یې قبلېږي !!

۳ : د نبي علیه السلام سره باید موږ له دې امله هم ډېر محبت ولرو چې هغه موږ ته د دین د را رسولو په لارکې ډېر تکلیفونه ګاللي او زغملي دي او د هغو په ترڅ کې دا دی نن موږ مسلمانان یو .

ketabton.com - The Digital Library



نو تر الله پاک وروسته تر بل هر چا د نبي علیه السلام پر موږ باندي ډېر حق دی او ډېر لوی احسان یې را سره کړی دی، چې خپله یې هر څه کړاوونه و ګالل، خو موږ ته یې دین را ورسوی .

په دې لار کې نبي - علیه السلام - هر څه وزغمل : ښکنځل ور ته وشوې، ووهل شو، زخمي شو، بد ور پسي وویل شول، په لیوني،جادوګر او شاعر سره یاد شو، دُرواغجن ورته وویل شول، د جنګ او فساد جوړوونکی ور ته وویل شول .

ده ته نږدې خلګو له ده برائت او وېزاري اعلان کړه .

په دې لارکې ور سره جنګونه وشول، له خپل ګران وطن مکې مکرمې و ایستل شو او د مقابلې لپاره یې لښکرونه ور ته تیار شول .

دا هرڅه یې وزغمل او دین یې تر موږ پوري په کامله توګه راو رسوی .

دا په داسي حال کې چې د دین تر بیان مخکې یې هر چا قدر او احترام کاوو، رښتونی او امین ور ته ویل کېدل، خو دی تر دې هر څه تېر شو او د الله پاک د دین د بیان لپاره یې دا هر څه قربان کړل .

۴ : د صحابه کرامو – رضی الله عنهم - د اقتداء او تابعدارۍ هم دا تقاضاء ده چې باید موږ د نبي علیه السلام سره تر بل هر چا زیات محبت و لرو.

ketabton.com - The Digital Library


ځکه هغوی د نبي علیه السلام سره تر بل هر چا زیات محبت درلودی، تر ځان،اولاد او مال هر څه ور ته نبي علیه السلام محبوب وو چې له امله یې داسي درجې ته ورسېدل چې وروسته امت ته د دوی د اقتداء امر وشو .

۵ : د محبت نښه دا ده چې موږ باید د نبي علیه السلام طریقې پلې کړو او د هغه مبارک سنت باید د ځان لپاره تګلاره وګرزوو.

د نبي علیه السلام د خبرې او طریقې په مقابل کې باید د بل چا خبرې او طریقې ته پاملرنه و نه کړو او د ده خبرې ته باید د بل چا تر خبرې لومړیتوب ور کړو .

۶ : د نبي علیه السلام د مبارکو ملګرو سره هم باید مینه او محبت ولرو او باید د دوی له لارې هم بېله تګلاره و نه لرو او باید د دوی او همدا راز  د تابعینو،تبع تابعینو،امامانو او نورو علماوو له عقیدې او نظر څخه بېله عقیده او نظر خپل نه کړو .

۷ : د محبت چې څومره عوامل دي،چې له امله یې د چا سره محبت کېږي هغه ټول په نبي علیه السلام کې موجود دي : که ښایست دی،که کمال دی،که لوړ نسب دی،که نورو ته فائده رسول دي او که نور ښه صفات دي .

ketabton.com - The Digital Library



**نو باید چې د نبي علیه السلام سره محبت او مینه تر هر چا زیاته ولرو، ځو د دُنیا او آخرت نېکمرغي مو په برخه شي .**

**الله - جل جلاله - دي زموږ زړونه له خپل او د خپل پیغمبر له محبته ډک کړي .**

# آیا ایما ن له چا نه ځي ؟

**انسانانو ته چې الله پاک څومره نعمتونه ورکړي دي،په هغو ټولوکې تر ټولو ستر نعمت ایمان دی، د ایمان سره په قیمت کې هیڅ شی برابر نه دی .**

**او په پوره معنی بد مرغه هغه څوک دی چې د ایمان له ستر نعمت څخه بې برخي وي .**

**په حقیقت کې هغوی د تل لپاره په ستړیا، پرېشانی، غصه او سپکاوي کې ژوند تېروي .**

**الله تعالی فرمایلي دي :** وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا . (الآية، سورةطه:۱۲۴).

**ژباړه : او څوک چې زما له ذکر څخه مخ واړوي، د هغه لپاره تنګ ژوند دی !!**

**انسان له ایمان څخه پرته بل شی نه نېکمرغه کولی شي، نه یې نفس ور پاکولی شي، نه یې خوشحالولی شي او نه یې پرېشاني او غم ور ختمولی شي .**

ketabton.com - The Digital Library



له دې امله په نړۍ کې په زیات شمېر کې کافران ځان وژنه کوي، سره د دې چې د دُنیا سامانونه او سرمایې لري .
دا ځکه چې په حقیقت کې له ایمان پرته ژوند خوند نه لري .
د مؤمن لپاره تر ټولو ضروري کار دا دی چې باید د دې ستر نعمت ساتنه وکړي .
که د ایمان له امله د مؤمن سر،عزت او مال ته خطره پېښه شوه،نو د هر څه ور کولو ته به تیارېږي خو ایمان به له لاسه نه ور کوي .

ځکه ایمان داسي شی دی چې د دې له امله د انسان ابدي بریالیتوب په برخه کېږي .
خو دا خبره هم هر چا ته معلومه ده چې د قېمتي شي دښمنان هم زیات وي، څومره چې یو شی ډېر ارزښت ولري،هغومره به خطرې هم ور ته ډېري متوجه وي .

انسان که غواړي چې هغه ارزښتناک شی ور سره پاته شي او ده ته په کار ور شي،د هغه شي ساتني ته به ډېر پام کوي .

د دې مثال داسي دی لکه د چا سره سره زر وي،نو خاو ندیې ډېر ور باندي وېرېږي چې داسي نه وي را څخه ورک شي،غل را باندي خبر نه شي او څوک یې په تېر ایستلو په کم قیمت را څخه وانخلي .

همدا راز ایمان ته هم ډېر خطرونه متوجه دي او باید د ایمان خاو ند د ایمان په هکله داسي احتیاط او وېره ولري لکه د سرو زرو خاوند یې

ketabton.com - The Digital Library



چې د خپلو سرو زرو په هکله لري،چې داسې نه وي داسې خبره یا داسې کار را څخه صادر شي چې له امله یې د ایمان له دولت څخه بې برخې شم .

ځیني خلګ د ایمان په هکله داسې فکرکوي چې ایمان د غره په څېر دی .

په غره که باران وشي،که زلزله پرې راشي،که بمبار پرې وشي،که یخني پرې راشي او که ګرمي پرې راشي،په ټولو حالاتو کې نه بې ځایه کېږي بلکې په خپل ځای کلک ولاړ وي .

همدا راز ځیني خلګ ایمان هم دغسې ګڼي چې یو ځل سړي ایمان راوړی،تر دې وروسته که هر څه کوي مسلمان دی،په ایمان کې یې هیڅ فرق نه راځي .

دا د ځیني خلګوبې ځایه او ناسم خیال دی .

حقیقت دا دی چې ایمان د الله پاک او بنده تر منځ یو باریک تعلق دی، دا تعلق په ځیني خبرو او کارو سره پرې کېږي او له منځه ځي .

د دې مثال داسې دی لکه د یو چا د ډېر عمر دوست وي،د ډېره وخته یې ور سره دوستي او محبت وي، خو یوه ورځ یو داسې کار یا خبره وکړي چې له امله یې د ټول عمر دوستي له منځه لاړه شي او نه یوازې

ketabton.com - The Digital Library



دا چې دوستي له منځه لاړه شي بلکې د دوستۍ پر ځای يې ور سره دښمني او د محبت پر ځای يې کينه پيداشي .

ايمان هم دغسي دی .

دا تعلق هم د ځينو کارونو او خبرو له امله له منځه ځي او انسان له ايمان څخه بې برخي کېږي .

دې خبري ته په احاديثو کې هم اشاره شوې ده،د نمونې په توګه يو حديث دا دی :

عَنْ بِلاَلِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ : إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللهِ مَا يَظُنُّ أَنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ فَيَكْتُبُ اللهُ لَهُ بِهَا رِضْوَانَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ، وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللهِ مَا يَظُنُّ أَنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ فَيَكْتُبُ اللهُ عَلَيْهِ بِهَا سَخَطَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ ( رواه الترمذی ص:۵۸ ج:۲ وقال حديث حسن صحيح\رياض الصالحين ص:۴۳۶)

ژباړه : له حضرت بلال بن حارث مزني - رضی الله عنه - نه روايت دی چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم – وفرمايل : يقيناً يو سړی د الله تعالی د رضامندۍ داسي خبره کوي چې دا ګومان نه کوي چې دا به تر هغه ځايه ورسېږي کوم ته چې و رسېدله .

الله پاک د ده لپاره د دې خبري له امله خپله رضاء تر هغي ورځې ليکې په کومه کې به چې د الله پاک سره ملاقات کوي ( يعني د قيامت ورځ )

ketabton.com - The Digital Library


او یو سړی د الله تعالی د ناراضتیا یوه خبره کوي چې دا ګومان نه کو ي چې دا به تر هغه ځایه و رسېږي کوم ته چې و رسېدله،الله پاک د دې خبرې له امله د ده لپاره خپله ناراضتیا تر هغې ورځې پورې لیکې په کومه کې چې به دی د الله پاک سره ملاقات کوي !!

نو د یوې خبرې له امله تر قیامته رضاء هم ور ته لیکل کېږي او د یوې خبرې له امله ناراضتیا هم ور ته لیکل کېږي .

له دې امله باید انسان کوشش وکړي چې داسې خبرې او کارونه و نه کړي چې له امله یې ایمان ته زیان رسېږي .

او مؤمن بایدله خپل ایمان نه غافل نه شي،داسې نه وي چې دی خبر نه وي او ایمان ترې تللی وي،باید د خپل ایمان داسې حفاظت وکړي او داسې وېره د ایمان په هکله ولري لکه په سرو زرو چې یې خاوند وېرېږي بلکې تر هغه هم زیات .

څکه سره زر د دُنیا یو شی دی، ایمان خو تر دې ډېر زیات قیمتي دی

# د مسلمانانو سره د دوستۍ اهمیت

د مسلمانانو سره دوستي کول ډېر مُهم کار دی او په دې اړه ګڼ شمېر احادیث راغلي دي، چې د دې کار اهمیت ترې معلومېږي، د بېلګې په توګه دلته یو څو ذکر کوو :

ketabton.com - The Digital Library


عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلاَلِي الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلِّي ». (رواه مسلم ص:٣١٧ ج:٢)

**ژباړه : له حضرت ابوهريره - رضی الله عنه - نه روايت دی چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم – وفرمايل : الله تعالی به د قيامت په ورځ اعلان وکړي، چې هغه کسان چيري دي چې زما د جلال او لويئ له امله يې له يوه او بل سره مينه کوله، دوی ته به نن په خپل سيوري کې ځای ور کوم په داسي ورځ چې زما له سيوري پرته بل سيوری نشته !!**

**د حديث مطلب دا دی چې د قيامت په ورځ چې ډېر سخت د وارخطايۍ حالات وي، د حساب او کتاب وېره هم وي، دا چا ته معلومه نه وي چې زما راتلونکی به څنګه وي ؟ او له څه سره به مخ کېږم ؟**

**په دې حالت کې به الله – سبحانه وتعالی - اعلان وکړي چې هغه کسان چېري دي چا چې په دُنيا کې د الله لپاره له يوه او بل سره مينه کوله ؟ زه به نن دوی ته په خپل سيوري کې ځای ور کوم، په داسي حال کې چې په دې ورځ به د الله - سبحانه وتعالی - له سيوري پرته بل سيوری نه وي .**

**که څوک د دې حالت په اړه په ژوند کې فکر وکړي، د دې عمل ارزښت او قدر به ډېر ښه ور ته څرګند شي، ځکه هغه دوست او هغه مال ډېر قيمتي او ګران وي، کوم چې انسان ته د سختۍ په حالت کې په کار ور شي .**

عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنِ مَسْعُود : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ تَقُولُ فِي رَجُلٍ أَحَبَّ قَوْمًا وَلَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ ».(رواه البخاری ص:٩١١ ج :٢،ومسلم ص: ٣٣٢ ج:٢)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه : له حضرت ابو وائل – رحمه الله - څخه روایت دی چې حضرت ابن مسعود - رضی الله عنه – وفرمایل : یو سړی رسول الله – صلی الله علیه وسلم – ته راغی او و یې ویل : اې د الله رسوله!- صلی الله علیه وسلم – د هغه چا په هکله تاسو څه وایاست، چې د یوه قوم سره مینه لري، خو د هغو سره ( په عمل او فضیلت کې ) یو ځای کیدی نه شي ؟

رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل : سړی به ( په آخرت کې ) د هغه چا سره وي، د چاسره چې یې ( چې په دُنیا کې )محبت او مینه وي!!

د حدیث مطلب دا دی چې که سړی د علماوو او صلحاوو سره مینه او محبت لري، خو د هغوی سره په خدمت،علمیت او ښو کارونو کې ځان نه شي برابرولی، خو مینه ور سره لري، نو دا سړی به په قیامت کې د هغوی سره یو ځای وي .

له حضرت معاذبن جبل - رضی الله عنه - نه روایت دی چې ما له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه اوریدلي دي چې الله تعالی فرمایلي دي : زما محبت د هغه چا لپاره واجب دی (یعني خامخا به ور سره محبت کوم ) څوک چې زما له وجې د یوه او بل سره مینه او محبت کوي، زما لپاره د یوه او بل سره ناسته پاسته کوي، زما لپاره د یوه او بل سره ملاقات کوي او زما لپاره مال مصرفوي ( مؤطا امام مالک )

ketabton.com - The Digital Library


یعني ځوک چې دا ځلور خویونه په ځان کې راولي،له هغه څخه الله پاک راضي کېږي او الله - جل جلاله - ور سره مینه او محبت کوي .

الله پاک چې د چا سره محبت وکړي، بیا هغه ته عذاب نه ورکوي .

له حضرت عبدالله بن عمر - رضی الله عنهما - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل : د الله پاک په بندګانو کې ځیني داسي دي چې هغوی نه پیغمبران دي او نه هم شهیدان، خوبیا به هم د قیامت په ورځ د دوی درجې ته پیغمبران او شهیدان پسخیږي .

صحابۀ کرامو - رضی الله عنهم – وفرمایل : اې د الله رسوله! دا ځوک دي؟ و یې فرمایل : دا هغه ځوک دي چې صرف د الله تعالی د رضاء لپاره د یوه او بل سره مینه او محبت کوي، په داسي حال کې چې د دوی تر منځ نه خپلولي شته، نه داسي مال شته چې یوه او بل ته یې ورکوي

(دُنیوي طمع هم نشته)په الله مي دي قسم وي : د دوی مخونه به نوراني وي، په نوراني منبرونو به ناست وي،په کوم وخت کې چې خلګ وېریږي، په دوی به هیڅ وېره او ډار نه وي او کله چې خلګ غمجن وي،په هغه وخت کې به دوی غمجن نه وي،

بیا یې دا آیت ولوست: أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (یونس:٦٢)

ژباړه : خبرشئ ! د الله په دوستانو به نه وېره وي او نه به دوی غمجن وي . ( ابوداؤد)

ketabton.com - The Digital Library


په دې هکله نور هم ډېر زیات آیاتونه او حدیثونه راغلي دي، خو موږ په دغه اندازه اکتفاء کوو، څو خبره ډېره اوږده نه شي .

# د الله لپاره مینه څرنګه وي ؟

د الله سبحانه وتعالی د رضاء لپاره مینه او محبت داسي دی چې د انسان بل هیڅ دُنیوي غرض په هغه کې نه وي، بلکې یوازي او یوازي د الله تعالی د رضاء په لټه کې وي، یا له دې امله چې دا سړی عاجز دی، یا مسافر دی، یا له دې امله چې عالم دی، یا مجاهد دی، یا سخي دی او یا دیندار دی،څوک د ده د ښه صفت له امله ور سره مینه کوي، دا محبت او مینه د الله تعالی د رضاء لپاره ده

# دا صفت به څنګه په ځان کې راولو ؟

په حدیث شریف کې راغلي دي : لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ(بخاری ص:٦ ج:١،مسلم ص:٥٠ ج:١)

ژباړه : په تاسو کې یو تن تر هغه پوره د ایمان څښتن نه شي کېدی، تر څو چې د خپل ورور ( مسلمان ) لپاره هغه څه خوښ کړي، کوم چې د ځان لپاره خوښوي !!

یعني د ایمان کمال په دې صفت موقوف دی، له دې صفته پرته ایمان نه شي کامل کېدی .

په ځان کې د دې صفت د را وستلو لپاره اړینه ده چې پر مسلمانانو به ښه ګومان کوي، لکه څرنګه چې عمر بن عبدالعزیز - رحمه الله - فرمایلي دي .

ketabton.com - The Digital Library



عمرفاروق رضي الله عنه فرمايي : ستا د ورور په خبري تر هغه پوري د بدۍ گومان مه کوه، څو پوري چې يې صحيح مطلب بيانېدی شي .

بل صفت بايد دا په ځان کې راوستل شي چې انسان په کومه درجه کې وي، پر هغې دي راضي شي .

دا هم له ډېرو گناهونو څخه د خونديتوب لپاره مؤثر عمل دی .

ځکه ډېر وخت کينه او حسد د چا سره له دې کبله کېږي چې څوک د ځان د شهرت او عزت په لټه کې وي .

فضيل بن عياض فرمايي : څوک چې د رياست يا مشرۍ سره مينه کوي، هرومرو به حسد کوي او د خلگود عيبونو په لټه کې به کېږي او دا به بده گڼي چې له ده پرته بل څوک په ښه نامه او ښه صفت سره ياد کړل شي .

## د مسلمان سره دوستي څنگه پيداکېږي ؟

مخکې مو دا خبره بيان کړه چې د مسلمان سره د الله لپاره دوستي کول

ډېر ضروري کاردی .

اوس څنگه به دوستي او مينه د مؤمنانوسره راولو، د دې مقصد د لاس ته راوړلو لپاره د زړونو صفا کول ډېر اړين دي، چې زړه له حسد،کينې او بغض څخه خالي کړو.

که مو زړونه له کينې خالي شول، د هر مسلمان سره به مو مينه په زړه کې راشي، بيا به مسلمان ته په ناحقه تکليف نه ورکوو او د هغه پر

ketabton.com - The Digital Library


ابرو او عزت به تجاوز نه کوو او په دې سره به له ډېروګناهونو را وګرزو .

د زړونو د صفایئ اهمیت په لاندي څو ټکو کې دی :

۱: دا صفت الله پاک په قرآن کریم کې د مؤمنانو بیان کړی چې د هغوی د یوه او بل په هکله زړونه صفا وي .الله پاک فرمایي : وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ.(الحشر:۱۰)

ژباړه : او هغه کسان چې له دوی څخه وروسته (په نورو زمانو کې ) راغلي دي،هغوی وایي : اې زموږ ربه ! موږ او زموږ ټولو هغو ورونړو ته بخښنه وکړه چې له موږ نه مخکې یې ایمان راوړی او زموږ په زړونوکې

د مؤمنانو لپاره هیڅ بُغض مه اچوه! اې زموږ ربه ! ته ډېر مهربان او رحم لرونکی یې!!

په دې آیت مبارک کې الله پاک د مومنانو دا صفت بیان کړی، چې د مخکینو مومنانو لپاره هم د بخښني دُعاګاني غواړي او دا دُعاء هم کوي چې یا الله ! زموږ په زړونو کې د مومنانو سره بُغض مه پیدا کوه !

له دې آیت څخه د دې خبري اهمیت معلومېږي چې باید مسلمان زړه د نورو مسلمانانو په هکله له هر ډول کینې او بُغض څخه صفا کړي .

۲ : په آخرت کې له عذابه د خلاصون او د جنت د بریالیتوب لپاره هم د داسي زړه درلودل شرط دي چې سالم او له دغو بدو صفاتو پاک وي

ketabton.com - The Digital Library


. الله پاک فرمايي : يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ * إِلَّا مَنْ أَتَى اللهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ( الشعراء:۸۸،۸۹)

ژباړه : هغه ورځ چې نه مال څه ګټه رسولی شي او نه او لاد،پرته له دې چې څوک د روغ او سپېڅلي زړه سره د الله حضور ته ورغلی وي !!

یعني د مرضجنو زړونو څښتنان به له عذابه نه شي خلاصېدی، که څه هم دوی شتمن او د ډېرو اولادونو څښتنان وي .

۳ : د مسلمان دین او مسلماني ټولني ته د دوی تر منځ حسد،کینه او دوکه ډېر لوی خطر دی .

مسلمانانو ته د دوی خپلمنځي اختلاف ډېر خطرناک دی او حسد او کینه دوی پر مختګ ته نه پرېږدي او داسي تاواني شی دی چې انسان د الله پاک له مغفرت ( بخښني ) څخه هم محرمومو ي .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ : تُفْتَحُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَ الاِثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لاَ يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا إِلاَّ رَجُلاً كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا.(رواه مسلم ص:۳۱۷ ج۲)

ژباړه : له حضرت ابوهريره – رضی الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل : د جنت دروازې د دوشنبې او پنجشنې په ورځ خلاصېږي، نو الله پاک هر هغه چا ته چې د الله تعالی سره هیڅ شی نه شریکوي، بخښنه کوي، پرته له هغه سړي چې د ده او ( بل مسلمان ) ورور تر منځ کینه وي، نو الله پاک

ketabton.com - The Digital Library



فرمایي : دغو دوو کسانو ته تر هغه مهلت ورکړئ ( یعني اوس بخښنه نه ور ته کوم) تر څو چې صلحه سره کوي، دغو دوو کسانو ته تر هغه مُهلت ورکړئ، تر څو چې صلحه سره کوي!!

دا څومره سخت وعید دی د هغه چا لپاره چې د بل مسلمان سره کینه او خفګان لري، ځکه دوی د الله پاک له مغفرته تر هغه محروم وي، تر څو چې صُلحه سره کوي او سره پُخلا کېږي .

نو که په دې حال کې مرګ پرې راشي، نو په داسي حال کې به مري چې د ګناهونو پېټی یې په سر پروت وي او بخښنه ور ته شوې نه وي .

۴ : مؤمنان د اول ځل پیداکېدو څخه شروع بیا تر قیامته پوري چې څومره پیدا کېږي، ټول سره ورونه دي، که هر څومره یې وطنونه او زماني سره لري او بېلي وي، بیا هم د دوی وروستني د مخکینو پر پله روانیږي،د هغو لپاره دُعاو ي غواړي او د هغو لپاره له خپل رب څخه د مغفرت سوالونه کوي .

نو باید دوی په خپل منځ کې مینه او دوستي سره ولري .

# د هدایت دوه سلسلې : کتابُ الله او رجالُ الله

الله پاک د انسانانو د هدایت لپاره دوه سلسلې جاري کړې دي او دا دواړه سلسلې داسي دي چې دواړي باید یو ځای موجودي شي، بیا په هغه ځای کې هدایت راتلی شي . هغه سلسلې دا دي :

۱ : یوه د کتاب الله سلسله ده .

ketabton.com - The Digital Library


له کتابُ الله څخه مراد د الله پاک اسماني کتابونه دي، چې په خپل وخت کې نازل شوي دي، لکه تورات،انجیل،زبور،سل صحیفې او په آخر کې قرآن کریم .

د دې لپاره چې انسانان دا کتابونه عملي کړي او د دغو کتابونو د ارشاداتو په رڼا کې خپل ژوند تېر کړي .

نور مخلوقات الله پاک په داسي طریقه پیداکړي دي چې لارښوونې ته په هغه کچه اړتیا نه لري څومره چې یې انسان ورته لري، هغوی خپل دوست او دښمن په خپله پرته د چا له لارښوونې پېژني، د بېلګې په توګه د څاروي بچی له او لي ورځې په دې پوهېږي چې شرمښ ( لېوه ) زما دُښمن دی، ما وژني او خوري مي، باید زه ترې ځان خوندي کړم او ور نږدې نه شم .

خو انسان داسي نه دی، دی لارښوونې ته اړتیا لري، څو ده ته صحیح لار ور وپېژندل شي .الله پاک فرمایلي دي :وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ ( النحل : ۴۴) یعني موږ تا ته قرآن را نازل کړی، څو ته خلګو هغه څه تشریح کړې کوم چې دوی ته نازل شوي دي !!

## ۲: دوهمه سلسله د رجالُ الله سلسله ده .

له رجالُ الله څخه مراد د پېغمبرانو سلسله ده،چې الله پاک د خپل کتاب سره یوځای را لیږلي دي،د دې لپاره چې خلګو ته د الله پاک د کتاب تشریح وکړي، خلګ د الله پاک د کتاب په مطلب پوه کړي او د انسانانو تربیت د دین مطابق وکړي .

ketabton.com - The Digital Library

ځکه چې له استاذه پرته انسانان د کتاب په مطلب سم نه شي پوه کېدی او نه ترې سمه استفاده کولی شي .
دا یوازې د الله پاک کتاب داسې نه دی، بلکې د دُنیا هر علم او فن دغسې دی،که څوک و غواړي چې زه صرف د کتاب مطالعه کوم او په دې سره ځان ډاکټر جوړوم، نو د ده ډاکټري به هیڅوک ور سره و نه مني، تر څو چې له ماهرو استاذانو د ډاکټرۍ درس و نه لولي .
همدا راز که څوک وغواړي چې زه کتابونه مطالعه کوم او په دې سره له ځانه انجینر جوړوم، پرته له دې چې په دې کارکې د چا شاګردي وکړم !
نو د ده انجینري هم څوک نه مني،که څه هم د انجینرۍ ډېر زیات کتابونه مطالعه کړي .
نو چې دُنیوي علوم پرته له استاذه نه زده کېږي او نه پرته له استاذه څوک یوازې د کتاب د مطالعې له لارې ډاکټر او انجینر جوړېدی شي، نو دیني علم ولې داسې خوار دی چې په دې کې دې هر څوک خپله پرته له استاذه عالم و ګڼل شي او پرته له دې چې له چا دې څوک علم و لولي او بیا دې هم ور ته په دین کې د خپلې رایې د چلولو اجازت وي.
مطلب مې دا دی چې دا دواړه سلسلې دهدایت دي : کتابُ الله او رجالُ الله .
که څوک یوې سلسلې ته پام کوي او بلې ته یې نه کوي،دا سړی په خطاء او غلطۍ کې دی .

ketabton.com - The Digital Library


همدا راز له رجالُ الله څخه ديني عالمان هم مراد دي ځکه دوی د پیغمبرانو وارثان او د هغوی د راوړي دین شارحان دي .

له دې امله د ديني علومو د عالمانو نظر ته پام کول اړین دي

او باید څوک د مسائلوپه هکله داسي رایه اختیار نه کړي چې د ديني علومو د عالمانو د نظر سره په ټکرکې وي ځکه په فن کې د هغه فن د ماهرینو نظر مُهم وي .

بل دا چې د ديني عالمانو نظر ته پام نه کول خطرناکې پایلې لري، ډېر ځله انسان له حق څخه اوړي .

# څنګه له فتنو څخه ځان وساتو؟

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ : بَادِرُوا بِالأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِى كَافِرًا أَوْ يُمْسِى مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا .(رواه مسلم ص: ۷۵ ج:۱)

ژباړه : له حضرت ابوهریره – رضی الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل : د هغو فتنو تر راتګ مخکې ښه کارونه وکړئ چې د توري تیارې شپې په څېر دي، سهار به یو سړی مؤمن وي او ماښام به کافر وي، ماښام به مؤمن وي او سهار به کافر وي، یو سړی به خپل دین د دُنیا د سامان په بدله کې خرڅوي !!

امام نواوي - رحمه الله - لیکلي دي : د دې حدیث معنی د ښو اعمالوپه لور تلوار کول دي مخکې له دې چې مشکل شي او له هغو فتنو ځان

ketabton.com - The Digital Library


مشغولول دي چې د شپې د تيارو په څېر ګڼي او ډېري دي (شرح مسلم للنووي ص : ۷۵ ج : ۱ )

په دې حديث شريف کې دفتنودراتګ خبرداری ورکول شوی او له دغو فتنو يې د ځان ژغورلو لاره بيان کړې ده چې د ښو کارونو کول دي .

که څوک غواړي چې له فتنو محفوظ شي،هغه بايد ښه کارونه وکړي تر څو په خپل مقصدکې کامياب او بريالی شي .

له فتنوڅخه د خوندې کېدلو لپاره ځيني اعمال په قرآن او سنت کې ذکر شوي چې د هغو په عملي کولو انسان له فتنو ژغورل کېږي .

علماء کرامو هغه کارونه راجمع کړي دي چې دا دی موږ يې ستاسو مخې ته ړدو :

۱ : پر الله - جل جلاله - توکل کول، له هغه پناه او دُعاګاني غوښتل چې انسان له فتنو خوندي او محفوظ کړي الله - جل جلاله - فرمايلي دي : يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ (سورة ابراهيم :۲۷)

ژباړه : الله تعالی مؤمنان هم د دُنيا په ژوند کې او هم په آخرت کې په ثابته خبره کلک ساتي او الله تعالی ظالمان ( له هغې نه ) بې لاري کوي او الله چې څه غواړي هغه کوي .!!

دمؤمنانو ثابت قدمه پاته کېدل له دې امله دی چې دوی پر الله - جل جلاله - ايمان لري او پر هغه يې توکل کړی دی .

الله سُبحانه وتعالی په قرآن کريم کې د موسی عليه السلام دُعاء ياده کړې، چې هغه هم له فتنو پناه غوښتې وه : إِنْ هِيَ إِلَّا فِتْنَتُكَ تُضِلُّ بِهَا مَنْ

ketabton.com - The Digital Library


تَشَاءُ وَتَهْدِي مَنْ تَشَاءُ أَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الْغَافِرِينَ (سورة الاعراف:۱۵۵)

ژباړه : اې ربه ! دا ستا له امتحان پرته بل څه نه وو،چې په هغه سره چا ته چې وغواړې، بې لارې کوې يې او چا ته چې وغواړې، هدايت ورکوې! ته زموږ مرستندوی يې! موږ ته بخښنه وکړه او پر موږ رحم وکړه او همدا ته غوره بخښونکی يې!!

کله چې د انسان زړه له ايمان، توحيد، رښتيني توکل، اخلاص او د الله - جل جلاله - په لوري له پناه ور وړلو ډک شي، نو د دُعاګانو اثر هم په انسان ډېر ښکاره کېږي او له فتنو او شرورو څخه يې الله پاک ساتي .

ځومره چې د انسان په زړه کې د الله پاک توحيد او پر الله پاک ايمان کلک شي، هغومره به له ډار، خوف، شر او فتنو څخه په امن کې وي، الله - جل جلاله - فرمايلي : اَلَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُوَلَئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ (الانعام:۸۲)

ژباړه : هغه خلګو چې ايمان راوړی او خپل ايمان يې د ظلم ( شرک ) سره نه دی ګډکړی، دهمدوی لپاره امنيت دی او دوی په سمه لار برابر دي!!

په دې آيت کريمه کې امن مطلق ذکرشوی، په دې کې دُنيوي امن او اُخروي ټول داخل دي،

اخروي امن په عمومي توګه هغه چا ته حاصلېږي چې په دُنيا کې له فتنو خوندي پاته شوی وي .

ketabton.com - The Digital Library


**دا امن د توحید د کمال فائده ده، د کوم توحید سره چې هیڅ ډول شرک نه وي ګډ شوی،که د توحید سره شرک ګډ شو، هغه توحید اعتبار نه لري .**

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يُعَلِّمُهُمْ هَذَا الدُّعَاءَ كَمَا يُعَلِّمُهُمُ السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ يَقُولُ « قُولُوا اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ».(رواه مسلم ص:۲۱۸ ج:۱)

**ژباړه : له عبدالله بن عباس - رضی الله عنهما – څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - به دوی ته دا دُعاء دومره په اهتمام سره ور ښودله لکه د قرآن کریم یو سورت چې به یې ور ښودی، ویل به یې : داسي ووایئ :** اَللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ!

**ترجمه : یا الله! موږ په تا سره د جهنم له اوره پناه غواړو،او په تا سره د مړو او ژوندو له فتنې څخه پناه غواړو او په تا سره د مسیح دجال له فتنې پناه غواړو !!**

**له ابوسعیدخدري - رضی الله عنه - روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل : تَعَوَّذُوْا بِاللّٰه مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ . یعني الله - جل جلاله - ته له فتنو څخه پناه ور وړئ، که ښکاره فتنې وي او که پټې، صحابه کرامو - رضی الله عنهم – و ویل : نَعُوْذُ**

ketabton.com - The Digital Library


بِاللّه مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ، یعني موږ الله تعالی ته پناه ور وړو له فتنو څخه، که ښکاره وي او که پټې ( مسلم ص : ۳۸۶ ج : ۲)
مطلب دا دی چې مسلمان باید هر وخت له الله تعالی څخه دعاوي وغواړي تر څو له فتنو یې وژغوري، ځکه انسان ډېر عاجز دی، په خپله ځان له فتنو نه شي ژغورلی، تر څو چې ور سره الله پاک مرسته و نه کړي، که د الله پاک مرسته د چا سره ملګرې شوه، بیا کامیاب دی، که دا نه وي، نو بیا نه شي بریالی کېدی .

**دوهم** : په دین عمل کول، د دین علم حاصلول او د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - خالص اتباع کول .

ځکه علم شُبهې او شکونه ختموي، ګمراهي له هدایته، حق له باطله بېلوي، خو کله چې ور سره اخلاص او تقوی ملګرې وي، چې د علم خاوند د خواهشاتو له تابعداری منع کړي، که د علم سره تقوی او اخلاص نه وي، بیا دا علم انسان له ګمراهیو او فتنو څخه نه ساتي، بلکې د دې سړي په فتنو کې د واقع کېدلو تر بې علمه سړي ډېره خطره ده، ځکه یو بې علمه سړی که غلط کار کوي، ځان ته ګناهګار وایي او په خپل جُرم اعتراف کوي، چې په پایله کې یې ډېر ځله الله پاک توبه قبلوي او د ده له کړي جُرم څخه ور تېرېږي .

خو له اخلاص او تقوی عاري عالم که غلط کار کوي، نو نه یوازې دا چې ځان ګناهګار نه بولي، بلکې د هغه کار د جواز لپاره دلائل وایي .

له امام احمدبن حنبل - رحمه الله - نه چا پوښتنه وکړه، چې غوره عمل کوم دی ؟

ketabton.com - The Digital Library


هغه وفرمایل : تر ټولو غوره عمل علم دی په دې شرط چې نیت صحیح وي .

بیا یې پوښتنه وکړه چې نیت څنگه صحیح کړي ؟

امام احمد و ویل : د علم په حاصلولو کې دي له ځان او نورو خلگو څخه د جهل او ناپوهۍ د پورته کېدو نیت کوي،بل نیت دي نه کوي (طبقات الحنابلة لابي یعلی)

زموږددین مشرانوسلف صالحینوبه خپلوشاگردانوته دعلم وصیت کاوو، ځکه په علم سره انسان له فتنو، شبهاتو او د شیطان له وسوسو خوندي کېږي .

# کوم علم فضیلت لري ؟

د علم د فقاهت یوه برخه دا هم ده چې عالم په دې پوه شي چې د خلگو د عقلونو او فکرونو سره مطابق کومه مسئله باید زه بیان کړم او کومه بیان نه کړم،که په دې څوک نه پوهېږي، نو په حقیقت کې دا سړی د علم پوهه او فقاهت نه لري، نو په داسي حال کې د ده هم فائده خلگو ته کمه رسېږي .

## دریم سبب : تقوی او عمل صالح :

تقوی ډېر ضروري کار دی، خو متاسفانه د ډېرو خلگو دې ته توجه نشته، په داسي حال کې چې الله تعالی فرمایلي دي : وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ او تُواْ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُواْ اللّهَ ( النساء: ۱۳۱)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه : او یقینا موږ هغو ته هم دا حکم ور کړی وو چې تر تاسو مخکې کتاب ورکول شوی او تاسو ته هم چې له الله ( تعالی ) نه و وېرېږئ !!

په دې آیت کریمه کې د تقوی اهمیت بیان شوی، چې دا داسي حکم دی چې ټولو امتو ته شوی دی .

که څوک غواړي چې زه دي د ژوندپه چارو کې بریالی او کامیاب یم، هغه دي تقوی په ځان کې پیدا کړي، دې هدف ته به و رسېږي .

وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ، وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ (الطلاق: ۲، ۳)

ترجمه : څوک چې له الله - جل جلاله - و ویرېږي، الله - جل جلاله - به د ده لپاره د وتلو لپاره لار پیداکړي او له هغه لوري به روزي ورکړي، چې دی به یې ګومان نه کوي !!

بیا فرمایي : وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا ( الطلاق : ۴)

ترجمه : څوک چې له الله - جل جلاله - وویریږي، الله - جل جلاله - به د ده لپاره د ده کارونه اسان کړي!!

رسول الله - صلی الله علیه وسلم - عبدالله بن عباس - رضی الله عنهما - ته داسي وصیت کړی : اِحْفَظِ اللّٰہَ یَحْفَظْكَ اِحْفَظْ اللّٰہَ تَجِدْہُ تُجَاھَكَ ( رواه احمد ص: ۴۱۰ ج: ۴ والترمذی ص: ۴۸ ج: ۲ )

د الله - جل جلاله - دحکمونوساتنه کوه الله - جل جلاله - به ستاساتنه وکړي،د الله دحکمونوساتنه کوه ته به الله - جل جلاله - خپلي مخي ته وومومي !!

یعني ستا سره به په کارونو کې مرسته وکړي..

ketabton.com - The Digital Library


له دې نصوصو معلومه شوه چې عمل صالح، د عبادت ډېروالی، د الله - جل جلاله - سره تعلق ساتل، د ذکر او استغفار ډېروالی ډېر غټ اثر لري، په دې کې چې انسان له فتنو ژغورل کېږي، مخکې تر دې چې فتنې راشي او له راتلو و روسته يې ترې الله پاک روغ باسي .

**څلورم** : د دُنیاسره مینه نه کول : ځکه دشهواتودروازه هغه وخت پر انسان را خلاصیږي، کله چې دی د دُنیا سره مینه شروع او له آخرته ځان غافل کړي .

د شهواتو دروازه چې تړل کېږي ،د دًنیا سره د مینې په نه کولو سره او د آخرت سره د مینې په زیاتولو سره کېږي، کله چې د یوه انسان په زړه کې دا جانب قوي شو، هغه انسان به بیا له فتنو او شهواتو لري او خوندي وي .

علامه ابن قیم جوزي - رحمه الله – د دُنیا سره د مینې د ختمولو په هکله لیکلي دي چې د دې دوه طریقې دي :

**اول** : په دې کې فکر کول چې دنیا ختمېدونکې او ژر تلونکې ده، په دې دنیا کې چې څه شته، دا ټول به آخر له مینځه ځي .

بل دا چې د دنیا طلبګار تل په غم اخته وي، له غمه نه خلاصیږي، ځکه که يې دُنیا نه وي تر لاسه کړې، هم غمجن دی،کله چې يې تر لاسه کړه، بیا هم غمجن دی او کله چې يې له لاسه و وتله، بیا هم غمجن دی .

ketabton.com - The Digital Library



**دوهم** : د آخرت په را نږدې کېدو، د هغه په خامخا راتلو او د هغه په بقاء او نه ختمېدو کې فکر کول او دې ته فکر کول چې د دُنیا او آخرت د نعمتونو تر مینځ ډېر لوی توپیر او فرق شته .

لکه څرنګه چې په قرآن کریم کې راغلي دي : وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى (سورة الاعلى : ١٧)

ژباړه : او آخرت غوره او تلپاتی دی !!

کوم نعمت چې تلپاته وي، هر څوک هغه ډېر خوښوي .

کله چې دا دوه فکرونه سر ته و رسوي، په پایله کې به یې د آخرت سره مینه او له دُنیا څخه بې رُغبتي پیدا شي .

(الفوائدملخصاً)

**پنځم** : د مؤمنانو د جماعت او ډلي تابعداري کول :

د هغو پر پله که څوک روان شي، له فتنو څخه به خوندي شي .

له مؤمنانو څخه مُراد صحابهٔ کرام، تابعین او تبع تابعین دي . د کومو زمانو چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - غوره والی بیان کړی، چې خیرُ القرون قرني ثُمّ الذین یلونهم ثُمّ الذین یلونهم

ترجمه : په ټولو پیړیو کې غوره زما پیړۍ ده، بیا هغه چې دوی ته نږدې ده او بیا هغه چې هغوی ته نږدې ده !!

که څوک د دغو مؤمنانو په لار روان وي، هغه به هم هیڅکله نه ګمراه کېږي .

ketabton.com - The Digital Library



**شپږم : نرمي او صبر دی : ځکه مسلمان ته ډېر تاوان له تلواره پېښېږي، ډېر ځله یو کار وکړي، بیا و روسته ور باندي پښېمان وي .**

**الله - جل جلاله - په قرآن کریم کې د تلوار بدې بیان کړې، فرمایلي یې دي : وَيَدْعُ الْإِنسَانُ بِالشَّرِّ دُعَاءَهُ بِالْخَيْرِ وَكَانَ الْإِنسَانُ عَجُولًا (الاسراء:۱۱)**

**ترجمه : انسان بدي ( تکلیف ) داسي غواړي لکه د ده د خیر غوښتنه او انسان ډېر تلواري دی !!**

**رسول الله - صلی الله علیه وسلم – اشج ته چې د عبد القیس اشج وو، و ویل : إِنَّ فِيكَ لَخَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللَّهُ الْحِلْمُ وَالْأَنَاةُ ( رواه مسلم ص : ۳۵ ج : ۱ ، مشکاة المصابیح ص : ۴۲۹ ج : ۲) .**

**ژباړه : په تا کې دوه داسي خویونه دي، چې د الله خوښ دي : صبر او نه تلوار کول !!**

**په یوه حدیث کې راغلي دي : اَلْأَنَاةُ مِنَ اللّٰهِ وَالْعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ (رواه الترمذی،مشکات ص:۴۲۹ ج:۲)**

**ژباړه : صبر ( تلوار نه کول ) د الله له لوري دی او تلوار د شیطان له لوري دی !!**

**ځکه د انسان د تلوار په وخت کې شیطان ته موقع په لاس ورځي او خپل شر له هغه ځایه پرې عملي کوي چې د ده ور ته پام نه وي .**

**له دغو نصوصو څخه معلومه شوه چې صبر کول او په کارونو کې له تلواره کار نه اخیستل، په هر وخت کې ښه کار دی، د فتنو او**

ketabton.com - The Digital Library



اضطراب په حالت کې په ځانګړي ډول ډېر فضیلت لري او په دې وخت کې ور ته ډېره اړتیا هم شته .

دا څو صفتونه که څوک په ځان کې راولي، ان شاءالله تعالی له هر ډول فتنو څخه به محفوظ شي .

# اسلام د خواخوږۍ دین دی

د اسلام د مبارک دین په اړه دُښمنان داسي تبلیغات کوي چې اسلام د سختۍ، تشدد او بې رحمۍ دین معرفي کوي، دا ځکه چې هغوی پوهېږي چې د اسلام مقابله په دلیل سره ناشونې ده، نو یې د اسلام د بدنامولو لپاره هڅي پیل کړې دي، تر څو د اسلام غلط تصویر دُنیا ته پېش کړي، حال دا چې د اسلام لارښوونې د دې ادعاوو بشپړ رد کوي.

د اسلام الهي تعلیمات او د رسول الله ﷺ مبارک ارشادات په څرګنده توګه ښیي چې دا دین د انسان د اصلاح، د ټولنې د هوساینې او د مخلوق د خیر لپاره راغلی دی.

څوک چې د اسلام لارښوونې مطالعه کړي، هغه ته به معلومه شي چې اسلام د لوړو اخلاقو، عدل، احسان او خواخوږۍ بې سارې بېلګې وړاندې کړې دي .

د اسلام مبارک دین د خواخوږۍ او نرمۍ دین دی .

ketabton.com - The Digital Library



نه يوازي دا چې د مسلمانانو تر خپل منځ پر خواخوږۍ اسلام تاکيد کړی، بلکې د هر چا او هر څه سره يې د ښه او غوره سلوک امر کړی دی .

عَنْ شَدَّادِ بْنِ اوسٍ قَالَ ثِنْتَانِ حَفِظْتُهُمَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ .(رواه مسلم ص:۱۵۲ ج:۲)

ژباړه : له حضرت شداد بن او س - رضی الله عنه - څخه روايت دی وايي : ما له رسول الله - صلى الله عليه و سلم - څخه دوه خبري يادي کړې دي : ( هغه دا دي ) نبي عليه السلام وفرمايل : الله تعالى پر هر شي احسان کول فرض کړی دی .

کله چې تاسو څوک وژنئ ، په ښه طريقه سره ئې ووژنئ ! او کله چې تاسو يو حيوان حلالوئ، نو په ښه طريقه سره ئې حلال کړئ ! په تاسو کې دي يو تن خپله چاړه تېره کړي او خپل حيوان ته دي راحت ور کړي !!

له دې مبارک حديث څخه دا خبره په واضحه توګه معلومېږي چې د اسلام مبارک دين يو داسي د خواخوږۍ او مهربانۍ دين دی چې ببلګه ئې په دُنيا کې نشته او د داسي ښائسته اخلاقو او نرمۍ لارښوونه کوي چې نه يوازي د ټول انسانيت لپاره فائده مند دي، بلکې له انسانانو پرته د حيواناتو لپاره هم فائده مند او ګټور دي .

ketabton.com - The Digital Library



اسلام داسي د رحم او شفقت دین دی چې پر حیوان باندي هم احسان کول ضروري ګڼي .

همدا راز که پر چا یو داسي ستر جُرم ثابت شوی وي، چې له امله یې د مرګ مستحق ګرزېدلی وي، بیا هم د اسلام مبارک دین د هغه سره د هغه په وژل کېدلو کې په احسان او ښه چلند کولو ټینګار کوي .

یعني په یو وار باید و وژل شي ، په تکلیف ور کولو سره باید و نه وژل شي .

دي حدیث ته او د دې په څېر نورو الهي او نبوي ارشاداتو ته په کتوسره د اسلام په اړه د دُښمنانو له لوري د هغو بې بنسټه او له حقیقته لري تبلیغاتو ناسمتیا څرګندېږي چې د اسلام او مسلمانانو په خلاف په نړۍ کې شروع دي چې اسلام د تروریستۍ او بې رحمۍ په تورونو سره تورنوي، څو په داسي له حقیقته لري تبلیغاتوسره له اسلام څخه نا خبره خلګ متنفر کړي او غیر مسلم اسلام ته له راتګ څخه منع کړي .

په دي حدیث کې د اسلام پیغمبر - صلی الله علیه و سلم - فرمایلي دي چې د هر شي سره نېکي الله پاک لازمه کړې، تر دې چې د خپل دښمن او د داسي ستر مُجرم سره هم احسان او ښه کول ضروري دي، چې د وژلو مستحق ګرزېدلی دی، د هغه سره به هم ظلم نه کېږي، بلکې په اسانه طریقه به وژل کېږي او احسان به په وژنه کې ور سره

ketabton.com - The Digital Library


کېږي ، همدا راز  د حیوان سره به هم داسي نېکي کېږي چې اسانه طریقه دي اختیار کړل شي .

د اسلام تر راتګ مخکې حیواناتو ته ډېر تکلیف ور کول کېدی ، اسلام د پاکو حیواناتو غوښه حلاله کړه، خو د حلالو لپاره ئې داسي طریقه مقرره کړه چې لږ تکلیف ور کوونکې وي .

د حیواناتو سره د احسان له جُملې څخه دا هم دي چې د حیوان د حلالولو په وخت کې به چاړه ښه تېره کوي او حیوان به په اسانۍ سره حلالوي لکه څرنګه چې د دې خبري یادونه په ذکرشوي حدیث کې هم شوې ده .

همدا راز  دا هم دي چې غوښه به ئې تر هغه نه ترې پرې کوي، تر څو چې ئې ساه په بشپړه توګه وتلې نه وي .

دا هم مستحب دي چې یو حیوان به د بل مخې ته نه حلالوي ( هندیه ص : ۲۸۷ج : ۵) ځکه په دې سره دا خطر شته چې دې ژوندي ته تکلیف و رسېږي .

د حیوان مخې ته چاړه تېره کول مکروه دي ( هندیه ص :۲۸۷ج : ۵)

دا هم مکروه دي چې تر حلالولو وړاندي د حلالولو ځای ته حیوان په کښښولو سره بوتلل شي ( هندیة ص : ۲۸۷ج : ۵)

ketabton.com - The Digital Library



تر ذبحي ( حلالولو ) مخکې به اوبه ور کوي ، بل دا چې د پیو ( شیدو ) اولادونو حیوان به نه حلالوي ، تر څو چې ئې او لاد دومره لوی شوی نه وي چې شیدو ته ئې اړتیا ختمه شي .

او بل دا چې کله حیوان لوشي، دومره به ئې نه لوشي چې ټولي شیدې ئې ختمي شي، بلکې یو څه به پکې پرېږدي .

همدا راز د حیوان لوشونکی به خپل نوکان لنډوي، تر څو حیوان ته د ده داو بږدونوکانوله امله تکلیفو نه رسېږي.

په دې مبارک حدیث کې د احسان په کولو ټینګار شوی دی .

# احسان په دوه قسمه دی

١ : احسان د الله تعالی په عبادت کې دی .

هغه داسي چې د الله پاک عبادت په داسي توګه وکړل شي، لکه چې عبادت کوونکی الله پاکویني،که ئې دی نه ویني، نو دا فکر به ور سره وي چې الله پاک ما و یني ، زما عبادت ویني، چې زه ئې په څه توګه تر سره کوم .

د دې احسان مطلب دا دی چې د الله پاک حقوق په ښه او پوره توګه اداء کړل شي .

ketabton.com - The Digital Library



۲ : احسان د بندګانو په حقوقو کې دی :

د دې احسان مطلب دا دی چې د الله پاک حقوق په ښه او پوره توګه اداء کړل شي .

لکه د مور او پلار سره ښه سلوک کول، د خپلوانو سره خپلولي ساتل، په ټولو معاملو کې په داسي طریقه انصاف کول چې څومره حق در باندي واجب وي،هغه په پوره توګه اداء کول .

لکه څنګه چې ته خپل مال پوره له بل چا اخلې، همدا راز به د نورو حقوق هم په پوره توګه ور اداء کوې !

په دې احسان کې د ټولو انسانانو او حیوانانو سره ښه سلوک کول داخل دي، تر دې چې په هغه حالت کې به هم ښه سلوک ور سره کوي،په کوم کې چې یو انسان د مرګ مستحق شوی دی .

د پام وړ خبره دا ده چې کله مسلمان په دې مکلف دی چې د هغه چا سره به ښه کوي چې د وژل کېدلو مستحق شوی او د هغه حیوان سره هم چې د حلالولو اراده ئې شوې ده، نو د هغه چا سره خو خامخا ښه کول لازم دی چې مسلمان وي او د وژل کېدو مستحق نه وي .

پاته دي نه وي چې احسان په دوه قسمه دی :

۱ : واجب

ketabton.com - The Digital Library


۲ : مستحب

واجب هغه احسان دی چې د چا پر انسان حق واجب وي، د هغو حقوقو پوره کول .

مستحب هغه دی چې د هغه تر واجب حق زیات ښه ور سره وشي .

له احسان او نېکۍ څخه مُراد یوازي د لمانځه او روژې صحیح کول نه دي، بلکې د ژوندانه منهج او طریقه صحیح کول مُراد دي، چې هغه عبادات، معاملې او کاروبارونه، لمونځ، ښه اخلاق، د الله تعالی طاعت او بندګي او د حقوقو خپلو خاوندانو ته سپارل او خلګو ته له تکلیف رسولو ډډه کول او پر ځای یې خیر او ښېګڼې ور سره کول دي.

مطلب مو دا دی چې د اسلام مبارک دین یو داسي دین دی چې د هر چا سره پر نېکۍ او ښه سلوک ټینګار کوي او د داسي لوړو اخلاقو تعلیم ور کوي چې بېلګه یې له اسلام پرته په بل هیڅ دین او قانون کې نشته .

الله پاک دي موږ ته توفیق راکړي چې اسلامي اخلاق او عادات په ځان کې راولو . آمین

ketabton.com - The Digital Library



# د نبي علیه السلام د دعوت پایله

نړۍ د نبي علیه السلام د بعثت په پیل کې تر ټولو په بد حالت کې وه.

په عمومي توګه انسانان په بېلاریتوب کې ننوتي وو، ځکه د خلکو ټول پام خوراک، څښاک او د خوندونو د اخیستلو په لور وو .

لامل یې دا وو چې له خلکو ایمان او دین پورته شوی وو، د عبادت ښبني زړې شوې وې، ورورولي او خواخوږي له منځه تللې وه، حیاء او غیرت تر ډېره حده پورته شوی وو .

د دغو ښو صفاتو اثر په نړۍ کې ډېر کم لېدل کېدی .

د خلکو تر منځ به په معمولي خبره شخړې او بدۍ کېدلې او بیا به په کلونو رواني وې .

د انسانانو د زړونو سختوالی انتهاء ته رسېدلی وو .

د دوی ټول کارونه داسې وو، چې دوی یې د بدمرغۍ په لور جلبول .

په داسې حالاتو کې الله پاک خپل حبیب جناب محمد رسول الله - صلی الله علیه وسلم – د خپلو بندګانو د لارښوونې او هدایت لپاره راو لېږی، څو د حضرت آدم - علیه السلام - اولاد د کُفر او ګمراهۍ له تیارو د اسلام او صراط مستقیم رڼا ته را وباسي .

تاریخ شاهد دی چې نبي علیه السلام دغه وظیفه په بشپړه توګه سر ته ورسوله او په دې لار کې یې په پیغمبرانه ټینګ عزم،کلکې مجاهدې او پرلپسې او نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې .

ketabton.com - The Digital Library


په نتیجه کې یې داسي ټولنه تیاره کړه چې پر هغه لار برابره وه کومه چې د الله پاک د خپلو بندګانو لپاره خوښه ده .
داسي ټولنه چې د دُنیا لپاره یوه نمونه شوه، چې نور خلک باید د دوی په څېر عقیده، اخلاق او عمل خپل کړي، څو تلپاتې نېکمرغي ته ورسېږي .
په دوی کې ټول ښه صفات موجود وو .
د دوی په رګونو او وینو کې توحید، اخلاص، عبادت، ورورولي او همدردي ننوتله، تر دې چې داسي پړاو ته ورسېدل چې د الله پاک په لار کې د هر څه قربانولو ته چمتو شول .
هر یوه غوښتل چې تر بل د خپل مسلمان ورور په همدردۍ او خیر خواهۍ کې وړاندي شي .
په ټولو کړو وړو کې به یې د الله پاک رضاء لټوله .
د رسول الله - صلی الله علیه وسلم – د دعوت په برکت داسي چاپېریال را منځته شو چې د تاریخ جریان یې بدل کړ .
هغه خلک چې په نه خبره به د یوه او بل وژلو ته چمتو کېدل، داسي حالت ته ورسېدل چې له یوه او بله به یې هر څه قربانول او دا یې غوښتل چې ما ته دي څه و نه رسېږي، خو چې بل مسلمان ګټه ته ورسېږي .
زه دي وږی یم، خو چې بل مسلمان وږی پاته نه شي .

ketabton.com - The Digital Library


تر دي چې په قرآن کریم کې الله پاک په ګڼو آیاتونو کې صحابه کرام - رضي الله عنهم - وستایل او د دوی لپاره ئې د خپلي رضاء او د دوی سره د نېکې وعدې خبر ور کړ .

الله - جل جلاله – د دوی په هکله وفرمایل : وَكُلًّا وَعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنَى( الحدید : ۱۰)

ترجمه : او د هر یوه سره الله پاک د ښېګڼي ( جنت ) وعده کړې ده !!

وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ(البقرة:۵) ( او همدغه خلک بریالي دي!!

أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ دَرَجَاتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ (الانفال:۴)

ترجمه : دغه کسان په حقه مؤمنان دي، د دوی لپاره د خپل رب سره درجې، بخښنه او عزتمنه روزي ده !!

اُو لَئکَ هُمُ الصّادقُونَ (الحجرات:۱۵)

ترجمه : همدا خلک رښتیني دي !!

اُولَئکَ هُمُ الرّاشدُونَ (الحجرات : ۷)

ترجمه : همدغه خلک لار موندونکې دي !!

وَ اُولَئکَ هُمُ الْفَائزُونَ (التوبة : ۲۰)

ترجمه : او همدا خلک کامیاب دي!!

په دغو آیاتونو کې چې د دوی په هکله کوم څه بیان شوي دي، آیا بله کومه درجه او عزت کېدی شي چې هغه دي دوی ته ور کول شي ؟

ketabton.com - The Digital Library


نه یوازې دا چې دوی ته ئې دا درجه ور کړه، بلکې نورو خلکو ته حکم وشو، چې که دوی د صحابه کرامو – رضی الله عنهم – په پله پل کښېږدي، بیا به یې کړه وړه الله پاک ته قبول وي .

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا وَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (البقرة: ۱۳۷)

ترجمه : نوکه دوی داسې ایمان راووړ، لکه تاسو چې پرې راوړی دی، نو په سمه لار شول او که ئې مخ وګرزوی، نو یقینا دوی په مخالفت کې دي، ژر به الله ( تعالی ) د دوی په مقابل کې ستا کفایت وکړي او هغه د هر څه او رېدونکی او په هر څه خبر دی !!

نو د صحابه کرامو - رضوان الله علیهم اجمعین - ایمان د نورو لپاره معیار دی، که د چا ایمان د دوی سره برابر وو، صحیح دی او که ترې مخالف وو، معتبر نه دی .

دا د نبي علیه السلام د زیار او دعوت پایله ده، چې داسې یوه سپېڅلې معاشره او د رښتینو مؤمنانو ټولۍ ئې جوړه کړه، چې د نړۍ لپاره معیار او نمونه شوه.

ketabton.com - The Digital Library



# د تقوی او پرهېزګارۍ فائدې

په دې زمانه کې چې اکثر خلګ له آخرت څخه غافل دي، له دې امله دوی نېکمرغي دا ګڼي، چې څوک د دُنیا په چارو کې پر مخ وي، خپلو هوسونو ته لاس رسی ولري او بدمرغي له یادو شیانو محرومتیا ګڼي .

خو حقیقت داسي نه دی، بلکې حقیقي نېکمرغي په ځان کې د تقوی راوستل دي .

د تقوی تعریف طلق بن حبیب – رحمه الله – داسي کړی دی :

العمل بطاعة الله، علی نور من الله، رجاء ثواب الله، وترک معاصي الله، علی نور من الله، مخافة عذاب الله (سیر اعلام النبلاء ص : ۶۰۱ ج : ۴ ، تاریخ الاسلام للامام الذهبي ص : ۱۲۱ ج : ۷، زاد المهاجر ص : ۱۰)

ژباړه : تقوی د الله پاک له لوري په رڼا سره د الله په طاعت د ثواب په امید سره عمل کول، او د الله د نافرمانیو د الله له لوري په رڼا سره د الله د عذاب د وېرې له امله پرېښودل دي !!

یعني تقوی دا ده چې د الله تعالی طاعت کول او له ګناهونو ځان ساتل،د ثواب په امید او د عذاب له وېرې !!

تقوی او پرهېزګاري د الله پاک رضاء ته د رسېدلو لپاره تر ټولو غوره اوستره وسیله ده.

همدا راز د دُنیا د نېکمرغۍ او د آخرت د عزت لپاره هم تر ټولو مهمه ذریعه ده.

دا د نېکانو خلګو توښه ده.

ketabton.com - The Digital Library


تقوی یوه لویه خزانه ده،که څوک یې ترلاسه کړي، هغه د دُنیا او آخرت ټولي ښېګڼې تر لاسه کړلې .

په تقوی کې ډېري زیاتي فائدې شته چې ځیني یې دلته لیکل کېږي:

۱: د تقوی څښتنان لکه څرنګه چې د آخرت پاچاهان دي، په حقیقت کې د دُنیا پاچاهان او د ستر شرف او حقیقي سعادت خاو ندان هم دي .

الله - جل جلا له - فرمایي : وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَى ( طه : ۱۳۲ )

ترجمه : او ښه انجام د تقوی د خاو ندانو لپاره دی !!

همدا راز فرمایي : وَالْآخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ( الزخرف : ۳۵)

ترجمه : او آخرت ستا د رب په وړاندي یوازي د متقیانو لپاره دی!!

۲ : له دښمنانو څخه حفاظت دی :

الله - جل جلا له - فرمایلي دي : وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئاً ( الآية، سورة آل عمران : ۱۲۰)

ترجمه : او که صبر او تقوی وکړئ! نو د دوی چل ول کوم تاوان نه در رسوي!!

۳ : د عمل د اصلاح او د ګناهونو د بخښني سبب ده : الله تعالی فرمایي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ، يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا (الأحزاب:۷۰،۷۱)

ژباړه : اې مؤمنانو! له الله نه وډار شئ! او خبره کوئ سمه سوچه خبره، چې ستاسو اعمال در اصلاح ( نېک او سم ) کړي او ګناهونه مو در ته

ketabton.com - The Digital Library



**وبخښي . او چا چې د الله او د هغه د رسول خبره ومنله، نو په یقیني توګه هغه لوی بری وموند !!**

**۴ : د الله پاک د محبت سبب دی : الله - جل جلاله - فرمایلي دي : فَإِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ( آل عمران : ۷۶)**

**ترجمه : په یقیني توګه الله د متقیانو سره محبت کوي!!**

**۵ : تقوی هغه تله ده چې خلګ ور باندي تلل کېږي،څوک چې دروند راوختی، هغه د الله پاک په نزد عزتمند دی .**

**الله - جل جلاله - فرمایلي دي : إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ( الحجرات : ۱۳)**

**ژباړه : په یقیني توګه د الله په وړاندي ستاسو ډېرعزتمند هغه دی چې ډېر تقوی لرونکی وي!!**

**۶ : د مرګ په وخت کې د زېري لامل دی : الله تعالي فرمايي : لَهُمُ الْبُشْرَىٰ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ( يونس: ٦٤)**

**ژباړه : د هغوی ( متقیانو ) لپاره هم د دُنیا په ژوندکې زېری دی او هم په آخرت کې، د الله د خبرو بدلېدل نشته، همدا ستر بریالیتوب دی!!**

**۷: تقوادار د الله پاک دوستان دي : الله - جل جلا له - فرمايي :أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ. الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ (يونس: ٦٢-٦٣)**

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه : خبرشئ! څوک چې د الله دوستان دي پرهغوی نه وېره شته او نه به دوی خپه کېږي، هغه خلګ چې ایمان ئې راوړی او تقوی ئې کوله!!

له تقوی پرته څوک د الله پاک دوست کېدلی نه شي الله فرمايي : إِنْ أَولِيَآؤُهُ إِلاَّ الْمُتَّقُونَ ( الآية،الأنفال : ۳۴)

ژباړه : د الله پاک دوستان پرته له متقیانو بل څوک نه دي!!

۸ : له اور څخه د خلاصون ذریعه ده : الله - جل جلا له - فرمایلي دي : ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَواْ وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ( مریم : ۷۲ ) .

ژباړه : بیا به موږ هغه کسان (له اوره) وژغورو چې تقوی ئې کړې وي او ظالمان به په ګونډو غورزېدلي پکې پرېږدو!!

۹ : له دُنیوي سختیو او کړاوونو څخه د خلاصون ذریعه او د حلالي روزۍ د پیداکولو ذریعه ده : وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا، وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ( الآية،الطلاق:۲، ۳)

ترجمه : او څوک چې د الله نه وېره وکړي، الله ( پاک ) به هغه ته ( له مشکل څخه ) د وتو لار پیداکړي او له داسي لوري به روزي ورکړي چې دی ئې ګومان نه کوي!!

۱۰ : د کارونو د اسانتیا لامل دی :

وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا ( الطلاق : ۴)

ترجمه : او څوک چې له الله نه وېره وکړي، الله ( تعالی ) به د هغه په ( هر ) کار کې اساني راولي!!

ketabton.com - The Digital Library



۱۱ : تقوي او پرهېزګاري جنت ته د داخلېدلو سبب دی : الله - جل جلا له - فرمايلي دي : إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ [الحجر:۴۵].

ژباړه : بې شکه متقيان به په جنتونو او چينو کې وي!!

۱۲ : کاميابي په تقوی پوري تړلې ده : وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (البقرة : ۱۸۹)

ترجمه : له الله څخه وډارشئ ! د دې لپاره چې کامياب شئ !!

۱۳ : جنت ته به يوازي متقيان داخلېږي : تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا (مريم :۶۳ )

ترجمه : دا هغه جنت دی چې موږ ئې له خپلو بندګانو څخه ( يوازي ) هغه چاته ور کوو چې تقوا لرونکی وي !!

۱۴: د تقوی لباس تر ټولو غوره لباس دی : وَلِبَاسُ التَّقْوَى ذَلِكَ خَيْرٌ (الاعراف:۲۶)

ترجمه : او د تقوی جامه،دا ډېره غوره ده !!

۱۵: د قيامت له سختيو څخه د خلاصون ذريعه ده.

وَيُنَجِّي اللَّهُ الَّذِينَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (الزمر:۶۱)

ترجمه : او الله پاک هغه کسان چې تقوی ئې کړې وي،د دوی د کاميابۍ له امله ژغوري، نه به کومه سختي ور ته و رسېږي او نه به غمجن کېږي!!

۱۶ : تقوی د الله پاک له لوري ټولو امتونو ته وصيت او کلک حکم دی: الله تعالی فرمايلي دي : وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللَّهَ.(النساء:۱۳۱)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه : او یقینا موږ هغو ته هم دا حکم ور کړی وو چې تر تاسو مخکې کتاب ور کول شوی او تاسو ته هم چې له الله (تعالی) نه و وېرېږئ!!

امام غزالي - رحمه الله - لیکلي دي : الله پاک د بنده په ښېګڼه تر هر چا ښه خبر دی ، د بنده لپاره تر هر چا ور ته زیات خیر خواه دی او تر بل هر چا پرې زیات مهربان دی.

که په دُنیاکې بل داسي صفت وی چې د انسان لپاره ډېر ښه وی، د خیر ښه راغونډوونکی او د لوی ثواب لامل وی ، په عبادت کې ستر وی،په عزت کې ستر وی،د اوس لپاره ډېر غوره او په راتلونکې کې ډېر بریالی کوونکی وی، تر دغه صفت چې تقوی ده،نوالله تعالی به په هغه سره بندګان امر کړي وی او خپلوخاصو خلګو ته به ئې په هغه سره وصیت کړی وی،په دې چې د الله علم بشپړ دی او رحمت ئې پراخ دی .

نوکله چې ئې په دغه یوه کار (تقوی )سره ټول امر کړل ، وړاندیني او وروستني بندګان ئې په دې کې یوځای کړل او په دې ئې اقتصار وکړ،له دې معلومه شوه چې دا هغه پای دی چې ترې تېرېدونکی نشته ، او له دې پرته بل مقصود نشته او الله پاک هره خیر خواهي او لارښوونه، تنبیه، تأدیب، تعلیم او تهذیب په دغه صفت ( تقوي ) کې جمع کړي دي .

تقوی د دُنیا او آخرت د خیرونو راجمع کوونکې او د ټولو مهماتو چې لوړو درجو ته رسوونکې وي،راجمع کوونکې ده .(التقوی ص : ۱۱)

۱۷ : تقوی د نبي اکرم - صلی الله علیة وسلم - امت ته وصیت دی .

ketabton.com - The Digital Library


عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ ، قَالَ : صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ ، فَوَعَظَنَا مَوْعِظَةً بَلِيغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ ، وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ ، فَقَالَ قَائِلٌ : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، كَأَنَّهَا مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ ، فَأَوْصِنَا ، فَقَالَ : أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ ، وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا ، فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا ، فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ ، وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ ، وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الأُمُورِ ، فَإِنَّ كُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ (رواه احمد والترمذى و قال : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ).

ژباړه : له عرباض بن ساريه - رضی الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم - موږ ته د سهار لمونځ راکړ، نو موږ ته ئې اثرناکه نصيت وکړ ، چې له امله ئې له سترګو اوښکې و بهېدې او زړونه و وېرېدل .

نويو چا و ويل : اې د الله رسوله ! صلی الله عليه وسلم - لکه دا چې د رخصتوونکې نصيحت وي،( لکه ته چې زموږ له منځ نه رخصتېدونکی يې ! ) نو موږ ته وصيت وکړه !

نبي - عليه السلام – وفرمايل : زه تاسو ته د الله په وېره نصيحت کوم، او ( د مشر ) د خبرې په او رېدلو او منلو،که څه هم ( امير ) حبشي غلام وي، ځکه په تاسو کې چې څوک ژوندی پاته شي ، نو ژر دی چې ډېر اختلاف به ووينې، نو پر تاسو زما سنت او د خلفاء راشدينو سنت لازم دی چې مهديين(لارموندونکي)دي، په دې سنت د ژامي په غاښونيول وکړئ ! او ( په دين کې ) له نويو کارو ځان ساتئ ! ځکه هر بدعت ( په دين کې نوی کار) ګمراهي ده !!

ketabton.com - The Digital Library



همدا راز په تقوی سره هر پیغمبر خپل امت امرکړی لکه څرنګه چې په قرآن کریم کې د ګڼو پیغمبرانو دا دعوت ذکرشوی چې : **اتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ** . ( له الله نه و وېرېږئ ! ( تقوی وکړئ !) او زما خبره ومنئ!

او **أَلَا يَتَّقُونَ** . ( آیادوی تقوی نه کوي ؟ )

۱۸ : تقوی د الله پاک شکر اداء کول دي : الله - جل جلاله – فرمایي : **فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ** ( آل عمران : ۱۲۳ )

ترجمه : نو له الله پاک څخه و وېرېږئ ! تر څو ئې شکر اداء کړئ !!

۱۹ : تقوی د ټولو اعمالو آخرنۍ پایله ده : الله فرمایي : يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (البقرة:۲۱)

ترجمه : اې خلګو! د خپل خدای عبادت وکړئ ! هغه چې تاسو او تر تاسو مخکیني خلګ ئې پیداکړئ ، د دې لپاره چې ځان وساتئ (تقوی کوونکی شئ)!!

۲۰: متقي به د قیامت په ورځ تر نورو په لوړه درجه کې وي : الله – سبحانه و تعالی – فرمایي : **وَالَّذِينَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ** (الآية، البقرة:۲۱۲)

ترجمه : او هغه کسانو چې تقوی کړې ده، د قیامت په ورځ به تر دوی پورته وي !!

۲۱ : تقوی د الله پاک د رحمت سبب دی : الله – تعالی - فرمایي : **وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ** ( الحجرات : ۱۰ )

ترجمه : له الله نه و وېرېږئ ! د دې لپاره چې رحم در باندي وشي !!

ketabton.com - The Digital Library


۲۲ : له دُنیوي عذابه په تقوی انسان خلاصیږي : الله – تعالی – فرمايي: وَأَنْجَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ( النمل : ۵۳ )

ترجمه : او هغه کسان مو ( له عذابه) وژغورل چې ایمان ئې راوړی وو او تقوی یې کوله !!

مقصد دا دی چې تقوی داسي یو لوړ صفت دی چې د دُنیا او آخرت ټولي ښېګڼې په دې کې نغښتې دي .

الله - جل جلاله - دي توفيق راکړي چې په ځان کې تقوی راولو، څو د دُنیا او آخرت برى او نېکمرغي مو په برخه شي .

# د قرآن کریم د تلاوت فضیلت

د قرآن کریم تلاوت د لویو او غوره عباداتو له جُملې څخه دی .

دا ځکه چې د قرآن کریم قاري د الله پاک سره مجلس کوي، الله پاک یادوي او الله پاک هم دی یادوي .

دا قرآن چې موږ او تاسو یې تلاوت کوو، یا یې اورو او یا یې حفظ کوو، دا د هغه ذات کلام دی چې ټول کائنات یې پیداکړي دي، د مخکینو او وروستنو ټولو رب دی، دا د الله پاک محکمه رسۍ او نېغه لار ده، مبارک ذکر او ښکاره رڼا ده .

الله پاک د حضرت جبرئیل- علیه السلام - په ذریعه د نبي - علیه السلام - په مبارک زړه په عربي سپېڅلې ژبه نازل کړ، څو خلګ د الله پاک له نافرمانیو و وېروي .

ketabton.com - The Digital Library



# د قرآن کریم د تلاوت آداب

کله چې دا دومره ستر عبادت دی، نو باید د قرآن کریم د تلاوت په وخت کې د دې مُقدس او سپېڅلي کتاب ادب وکړو، څو د تلاوت له امله د لا زیاتو ثوابونو خاو ندان وګرزو او همدا راز د دغه عظیم الشان کتاب له بې ادبۍ څخه ځان و ساتو .

علامه سیوطي - رحمه الله - په خپل کتاب کې په تفصیل سره د تلاوت آداب د دلائلو سره لیکلي دي .

خو زه غواړم چې په مختصره توګه د تلاوت آداب د محترمو لوستونکو سره شریک کړم .

۱: د قرآن کریم د تلاوت لپاره اودس کول مستحب دی . ( بې اوداسه تلاوت کول هم روادی، په دې شرط چې قرآن کریم ته لاس ور نه وړل شي .)

۲ : تلاوت باید په پاک او سپېڅلي ځای کې وکړي، چې هلته هیڅ نجاست وجود و نه لري او غوره دا ده چې په مسجد کې وکړل شي،په حمام ( له حمام څخه مُراد د لمبېدلو کوټه ده) او لار کې تلاوت مکروه دی . ( حمام خو پاک نه وي او په لار کې خلګو ته تکلیف رسېږي او د دوی د نه پاملرني له امله د قرآن کریم بې حرمتي کېږي .)

۳ : قبلې ته مخامخ په آرام، عزت، خُشوع او سر ښکته کولو سره کښېناستل مستحب دي .

۴ : د قرآن کریم د تعظیم او د طهارت په مقصد تر تلاوت مخکې مسواک وهل سنت دي .

ketabton.com - The Digital Library


۵ : د تلاوت تر شروع مخکې أَعُوذُ بِاللّهِ لوستل سنت دي .

۶ : له سورة التوبة پرته د هر سورت په پیل کې بسم الله باید ولوستل شي .

۷ : قرآن کریم باید په ترتیل او د تجوید په پام کې نیولو سره ولوستل شي . ( باید د مجلو او اخبارونو په څېر په تېزۍ سره و نه لوستل شي چې د سړي فکر د سورت پای ته وي، چې کله به ور و رسېږم .)

۸ : قرآئت په سوچ او فکر سره لوستل سنت دي،دا (په سوچ او فکرسره د قرآن کریم لوستل ) لوی مقصد او مُهم مطلوب دی ( ځکه د قرآن کریم د نزول اصلي هدف دا دی، څو ځان پرې پوه کړل شي او بیا د هغي پوهي په رڼا کې خپل ژوند سر ته و رسول شي ) په تدبر او فکر لوستلو سره سینې خلاصېږي او زړونه روښانه کېږي .

همد اراز د قرآن کریم سره مناسبي ځیني دُعاګاني هم باید ولوستل شي، د بېلګې په توګه نبي - علیه السلام - به چې : سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ولوست،سُبحان ربي الاعلی به یې ولوست، همدا راز نوري دُعاګاني هم راغلي دي . ( خو دا هغه مهال چې په لمانځه کې نه وي )

۹ : د تلاوت په وخت کې ژړل، یا د ژړا هڅه کول .

که چا ته ژړا نه ورځي، د هغه لپاره خشوع او غم کول مستحب دي .

۱۰ : قرآن کریم په ښه اواز سره لوستل سنت دي .

۱۱ : ځیني احادیث داسي راغلي دي چې له هغو په لوړ اواز تلاوت کول مستحب معلومېږي او له ځینو پټ او په کښته اواز لوستل مستحب معلومېږي .

ketabton.com - The Digital Library



تطبيق داسي دی : په پټه لوستل په هغه ځای کې غوره دی چې له رياء وېرېږي،یا چا ته تکليف رسېږي او له دې پرته جهر غوره دی .

۱۲ : قرآن کريم ته په کتو تلاوت کول له ياده تر تلاوت غوره دی ځکه قرآن کريم ته کتل مطلوب عبادت دی .

۱۳ : د چا د خبرو له امله تلاوت بندول، همدا راز د تلاوت په دوران کې خندل، په عبث کارو کې مصروف کېدل او عبث ( يوې او بلې خوا ته ) کتل مکروه دي .

۱۴ : غوره دا ده چې د قرآن کريم د ترتيب موافق تلاوت وشي .

۱۵ : د قرآن کريم د ختم په وخت کې دُعاء کول سنت دي . ( په دې وخت کې دُعاء قبلېږي ) .

( الاتقان في اصول القرآن ملخصا : ج : ۱ له ۲۱۲ نه تر : ۲۲۴مخ پوري )

الله پاک دي د قرآن کريم سره د زيات تعلق توفيق راکړي آمين .

# ستري او تباه کوونکې ګناوي

مؤمن بايد له هري ګناه ځان و ساتي، تر څو له عذابه خلاص او آخرت ئې سم شي .

ګناه ګناه ده،که څه هم صغيره وي، ځکه زهر زهر وي، که څه هم لږ وي .

علماوو ليکلي دي چې د صغيرې ګناه په هميشه کولو سره هغه هم کبيره جوړېږي او کوم خلګ چې په صغيره ګناه کې اخته وي، په عمومي ډول هغه هميشه کوي، له دې امله کومي ګناوي چې صغيرې ګڼل کېږي، هغه هم تر کبيرو پوري رسېږي ، له دې امله له صغيره او

ketabton.com - The Digital Library



کبیره هري ګناه څخه باید پرهېز وکړل شي او کومه ګناه چې وشي، که څه هم صغیره وي، له هغې توبه سمدستي ایستل ضروري دي، په دې چې ترې کبیره جوړه نه شي .

له دې امله باید هر مسلمان د خپل ژوندانه جائزه واخلي ، په کومه ګناه کې چې اخته وي هغه دي پرېږدي، د نفس او شیطان نافرماني دي شروع کړي او نفس دي پوه کړي چې وګوره دګناه پایله د برزخ، د حشر د میدان او د دوزخ عذاب دی .

که د هغو عذابو توان نه لرې، نو ګناه پرېږده او توبه وکړه ! په دې کې دي خیر دی .

که انسان د نفس مراقبه او محاسبه کول شروع کړي، ان شاء الله تعالی یوه ورځ به د توبې توفیق ور ته و شي او ګناه به پاته شي .

که څه هم د بنده لپاره د هري ګناه پرېښودل اړین دي، خو بیا هم ځیني ګناوي ډېري خطرناکې دي، له هغو په ځانګړې توګه په ډېره جدي توګه ځان ژغورل ضروري دي .

ځیني یې په دې حدیث کې ذکر شوې دي :

عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ قَالَ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - : اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ. قالوا : يَارسولَ اللهِ، وَمَا هُنَّ ؟ قَالَ : الشِّرْكُ باللهِ، وَالسِّحْرُ ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتى حَرَّمَ اللهُ إِلاَّ بِالحَقِّ ، وأَكْلُ الرِّبَا ، وأَكْلُ مَالِ اليَتِيمِ ، وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ ؛ وَقَذْفُ المُحْصَنَاتِ المُؤْمِنَاتِ الغَافِلاَتِ (متفق عَلَيْهِ)مشكوة المصابيح ص: ١١٧ ج: ١)

ketabton.com - The Digital Library


**ژباړه : له حضرت ابوهريره - رضی الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم – وفرمايل : له اوو هلاکوونکو گناهونو څخه ځان وساتئ !**

**صحابهٔ کرامو - رضی الله عنهم - عرض وکړو، اې د الله رسوله ! هغه اوه گناهونه کوم دي ؟ رسول الله - صلی الله عليه وسلم - و فرمايل : ( هغه دا دي : )**

**(۱) د الله تعالی سره څوک شريکول .**

**(۲) جادو کول .**

**(۳) د يوه داسي نفس وژل چې د هغه وژل الله پاک حرام کړي وي، مگر که په حق سره وژل وي ( مثلاً : دا چې ده څوک وژلی وي، په قصاص کې به د شرعي فيصلې مطابق وژل کېږي )**

**(۴) د سود خوړل .**

**(۵) د يتيم مال خوړل .**

**(۶) د جهاد له ميدان څخه په شاگرزولو سره تښتېدل .**

**(۷) په پاک لمنو ايماندارو ښځو باندي تهمت لگول، د چا چې د بدۍ فکر هم نه وي!!**

**له دغو اوو گناهونو بايد ځانونه په کلکه وژغورو، ځکه د الله پاک د سپېڅلي نبي - صلی الله عليه و سلم – وينا ده چې دغه او ه کارونه تباه کوونکې دي ، د انسان آخرت ور تباه کوي .**

**نو بايد له دغو گناوو ځانونه هم وژغورو او نورو ته هم دغه مبارک حديث ورسوو، څو هغوی هم له دغو گناهونو ډډه وکړي .**

ketabton.com - The Digital Library



اولنۍ تر ټولو ستره او خطرناکه ګناه په دې حدیث کې د الله پاک سره شرک نیول راغلي دي .

د شرک په اړه الله پاک فرمايي : إِنّ الشّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ( لقمان : ۱۳)

ژباړه : په یقیني توګه شرک لوی ظلم دی!!

دوهمه ګناه جادواو کوډي دي.

دریمه ګناه دهغه نفس وژل دي چې الله پاک یې ناحقه وژل حرام کړي دي الله پاک فرمايي : وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِناً مُّتَعَمِّداً فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِداً فِيهَا وَغَضِبَ اللّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَاباً عَظِيماً ( النساء : ۹۳ )

ترجمه : او څوک چې په قصد سره کوم مؤمن و وژني، نو د ده سزا جهنم دی،په هغه کې به همېشه اوسي او الله غضب پرې کړی او لعنت یې پرې کړی او سترعذاب یې ور ته تیار کړی دی !!

دسود خوړل :

الله تعالی فرمايي : ﴿الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ﴾(الآية، البقرة:۲۷۵)

ژباړه : هغه خلک چې سودخوري، دوی به نه راپاڅېږي ( د قیامت په ورځ ) مګر د هغه چا په شان چې شیطان د لاس ور وړلو له امله ګډ وډ (لیونی) کړی وي !!

ketabton.com - The Digital Library



## د یتیم مال خوړل :

دا هم لویه او تباه کوونکې ګناه ده، په دې اړه الله تعالی فرمایي : إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ( النساء:١٠)

ترجمه : یقیناًهغه کسان چې د یتیمانو مالونه په ظلم خوري، بې شکه دوی په خپلو ګېډو اور خوري او ژر به تاوجن اور ته ننوزي !!

## د ګناهونو دُنیوي او اُخروي زیانونه

په دُنیا کې د ټولو مصیبتونو، غمونو او پرېښانیو لامل د انسان ګناهونه دي، لکه څرنګه چې الله تعالی په خپل مقدس کتاب قرآن عظیم الشان کې فرمایي : وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ ( الشورى : ٣٠ )

ژباړه : کوم مصیبت او تکلیف چې تاسوته رسېدلی، دا ستاسو د هغو کړو له امله دی چې ستاسو لاسونو کړي دي او الله پاک له ډېرو ( ګناهونو ) معافي او تېرېدنه کوي !!

یعني تاسو ته چې کوم تکلیف رسېږي، هغه ستاسو له خپله لاسه دی، که تاسو سم کارونه وکړئ، بیا به داسي ډېر کړاوونه له تاسو وګرزي .

بل دا چې الله پاک ستاسو له ډېرو ناوړو کارو در تېرېږي، په هر کار مو نه رانیسي،که یې په هر کار رانیولی، تر دې به مصیبتونه ډېر زیات وی.

ketabton.com - The Digital Library


یوه مهمه خبره دا ده چې د خیر او شر اسباب معلومول اړین دي .

بایدانسان دې ته متوجه اوسي چې د دې سبب څه دی؟

بله خبره دا چې انسان باید د نفس له دوکې څخه ځان وژغوري، ځکه انسان په دې ښه پوهېږي چې گناه او غفلت ضرري شیان دي، د دې په اختیارولو سره انسان د تاوانونو سره مخ کېږي، خو بیا هم ځان په دې تېر باسي چې الله غفور او رحیم دی، گناه به وکړم، الله پاک ترې را تېرېږي،کله وایي : بیا به توبه وباسم، کله یو دوه رکعاته نفل وکړي، په دې سره ځان معصوم او بې گناه ور ته ښکارېږي،کله وایي : دا گناه به په تقدیرکې لیکلې وه،کله وایي : ټول خلگ داسي کوي،کله وایي : خلگ غټې غټې گناوي کوي، که ما دا گناه وکړه څه وشول ؟ ځیني دا فکر کوي چې گناهونه که هر څومره وکړم، په یوه استغفرالله سره به معاف شي،ځیني وایي : گناهونه کوه، بیا سل ځله استغفار ووایه، ټولي گناو ي به دي ختمي شي !

ځیني داسي وایي : له گناهونو ځان ساتل د الله پاک له پراخ بخشش څخه ناخبرتیا ده !!

دې ته ورته نوري پلمې چې خلگ کوي، دا ټولي د شیطان دوکې دي، انسان په تاوانو کې اچوي .

گناه په دُنیا او آخرت کې ډېر زیات زیانونه لري .

د گناه دومره ډېر تاوانونه دي چې له الله تعالی پرته بل څوک ئې نه شي شمېرلی .

د گناه ضررونه په دوه ډوله دي :

ketabton.com - The Digital Library


۱ : هغه چې دټولوګناهونوسره تعلق لري .

۲ : هغه چې د يوې مشخصي ګناه سره تعلق لري .

ځکه ګناوي د زهرو او مرضونو په څېر دي او د هر مرض لپاره خپله ځانګړتيا او تاثير د انسان په بدن کې شته .

ځيي ئې زړه کمزوری کوي، ځيني ئې سترګي خرابوي او ځيني ئې دماغ خرابوي .

دغسي ګناهونه هم بېلابېل زيانونه لري .

د تاسف خبره دا ده چې د ډېری خلګو عادت دا دی چې د رنځونو په هکله ډېري هلي ځلي کوي، علاج ئې کوي او د هغو لپاره د دواء په لټه کې ډېري هڅي کوي، خو د ګناه په هکله هيڅ فکر نه کوي، نه توبه ترې باسي، نه ترې ګرزي او نه ئې د کولو له امله غمجن کېږي .

دا صفت بای‌دپه ځان کي انسان را نه ولي ، ځکه له ګناهونو څخه نه وېرېدل او د ګناه په کولو باک نه کول منافقت دی او له ګناه څخه وېره ايمان دی .

د ګناهونو ځيني تاوانونه په لاندي ډول دي :

۱ : انسان ته هر ډول مصيبتونه او تکليفونه د ګناهونو له امله رسېږي.

الله - سُبحانه و تعالی - فرمايي:وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفۡسِكَ (النساء :۷۹)

ژباړه : اوکوم کړاو چې در و رسېدی ، نو ( هغه ) ستا له خپل لوري دی!!

په بل ځای کې فرمايي : قُلۡ هُوَ مِنۡ عِندِ أَنفُسِكُمۡ (الآية آل عمران:۱۶۵)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه : ورته و وایه : دا ( تکلیف ) مو د خپلو ځانو له لوري دی!!

۲ : زړه خرابوي او د زړه د زنګ لامل دی .

الله - جل جلاله - فرمايي : كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ (سورة المطففين: ۱۴)

ژباړه : هیڅکله نه، بلکې د دوی په زړونو هغو عملونو زنګ اچولی، چې هغوی به کول !!

رین د زړه مرض دی لکه څرنګه چې زنګ د اوسپني مرض دی،کله چې یوه اوسپنه زنګ وکړي، هغه له کاره لوېږي او طاقت هم له لاسه ور کوي.

همدا راز د زړه زنګ هم زړه له کاره اچوي .

۳ : ګناه زړه توروي او رڼا ئې ختموي .

په حدیث کې راغلي دي :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِي قَلْبِهِ فَإِنْ تَابَ وَنَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ صُقِلَ قَلْبُهُ وَإِنْ زَادَ زَادَتْ حَتَّى يَعْلُوَ قَلْبَهُ ذَاكَ الرَّيْنُ الَّذِي ذَكَرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي الْقُرْآنِ { كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ. (رواه أحمد ص: ۳۳۳ ج: ۱۳ والترمذی وابن ماجه وقال الترمذی: هذا حديث حسن صحيح)

ژباړه : له ابوهریره – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : کله چې مؤمن ګناه وکړي، د ده په زړه کې تور ټکی شي، که توبه وباسي، هغه ګناه پرېږدي او بخښنه وغواړي، زړه یې صفاء شي ، او که زیاتي ګناوي وکړي، د زړه توروالی

ketabton.com - The Digital Library


يې زياتېږي، تر دې چې پر زړه يې توروالی راپورته شي، دا هغه زنګ دی چې الله عزوجل په قرآن کې ياد کړی دی : كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ .!!

۴ : ګناه انسان له خپل رب څخه په پرده کې اچوي .

الله - تعالی – فرمايي : كَلَّا إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ (المطففين:۱۵)

ژباړه : هيڅکله نه، په هغه ورځ به دوی بې شکه د خپل رب له ليدلو بې برخي وي !!

يعني کله چې دوی خپل زړونه په دُنيا کې په ګناهونو سره پټ کړي وو،د دې الله تعالی داسي بدله ور کړه چې په قيامت کې به د الله تعالی له رُؤيت او ليدني څخه محروم وي .

۵ : نور خلګ او نور مخلوقات هم د يوه ګناهګار د بدو کړو له امله تکليفېږي او ګناهګار ته ښېرې کوي .

حضرت ابوهريره - رضی الله عنه - فرمايي : إِنَّ الْحُبَارَى لَتَمُوتُ فِي وَكْرِهَا مِنْ ظُلْمِ الظَّالِمِ (الجواب الكافي ص:۳۸)

ژباړه : زانې په خپلوځالوکې دظالم دظلم له امله مري !!

مجاهد - رحمه الله - فرمايي : حيوانات په نافرمانو خلګو باندي لعنت وايي، کله چې وچ کالي سخته شي، وايي : دا د انسانانو د ګناه له کبله دی ( الجواب الکافي ص : ۳۸ ) .

ketabton.com - The Digital Library


# د ګناه د پېژندلو نښه

ګناهونه په دوه قسمه دي :

۱: هغه ګناه چې د هغه حُرمت او ګناه کېدل څرګند او ښکاره وي لکه غلا، زنا، غیبت او داسي نور . . .

۲ : هغه کار چې د هغه ګناه کېدل هر چا ته ښکاره نه وي، ډېر کم خلګ ور باندي پوهېږي .

د داسي کار په هکله کله کله انسان ته شک پیدا شي، چې دا وکړم که نه ؟ دا کار ثواب لري، که ګناه ؟ روا دی او که ناروا ؟ یا دا چې دا کار سنت دی او که بدعت ؟

د شک د پیدا کیدو په عمومي توګه دوه لاملونه دي :

۱ : د علماوو د اختلاف له امله سړی شکمن کېږي چې بعضي ور ته ګناه وایي او بعضي نور ور ته ګناه نه وایي .

۲ : په دلائلو کې تعارض معلومېږي، دواړه طرفته دلائل وي، له دې امله شک پیدا شي .

په دې وخت کې د شریعت حکم څه دی ؟ هغه شکمن سړی یا بې علمه سړی باید په داسي وخت کې څه وکړي ؟

په دې هکله په حدیث کې راغلي دي :

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا الْإِيمَانُ قَالَ إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَمَا الْإِثْمُ قَالَ إِذَا حَاكَ فِي نَفْسِكَ شَيْءٌ فَدَعْهُ. (رواه احمد ص: ۲۷۹ ج: ۳۶، مشکوة المصابیح ص: ۱۶ ج: ۱)

ketabton.com - The Digital Library


ترجمه : حضرت ابوامامه - رضی الله عنه - فرمایي چې یوه سړي له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه پوښتنه وکړه : اې د الله پېغمبره ! - صلی الله علیه و سلم - ( د ) ایمان ( نښه ) څه ده ؟

نبي کریم - صلی الله علیه و سلم – ور ته وفرمایل :کله چې تا ستا نېکي خوشحال کړي او بدي دي خفه کړي، ته مؤمن یې ! هغه سړي بیا پوښتنه وکړه چې د گناه ( علامه او نښه ) څه ده ؟

رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل : کله چې یو شی ستا په زړه کې شک پیداکړي، نو هغه کار پرېږده !!

د حدیث مطلب دا دی چې کله ته څه د نېکۍ کار وکړې او په هغه خوشحال شې، په دې یقین او باور سره چې ما ته به په دي کار الله تعالی اجر او ثواب راکوي، کله که د گناه کار وکړې، په هغه غمجن شې او دا فکر در سره پیدا شي چې د الله پاک د حکم مخالف کار مي وکړ، دا د ایمان د شتون نښه ده ،چې په تا کې ایمان شته .

څکه ته د الله پاک په رضاء راضي او خوشحالېږې او د الله پاک په ناراضتیا غمجن کېږې، دا دي د ایمان نښه ده او چې کله په گناه غمجن شې، له دې معلومېږي چې ته په دې گناه پښېمانه یې او دا پښیمانتیا توبه ده .

په دې حدیث کې یې هغه گناهونه ور ته ښودلي دي چې هغو ته ډېر خلگ گناه نه وایي، نور گناهونه یي نه دي ور ته بیان کړي، بلکې یوازي هغه ئي بیان کړي چې د انسان په زړه کې د هغه کار د کولو له

ketabton.com - The Digital Library



**امله شک پیداکېږي چې دا به گناه وي او که نه ؟ نو نبي - صلی الله علیه و سلم – ور ته وفرمایل : چې همدا گناه ده ،دا کار پرېږده !!**

**په یوه روایت کې راغلي دي :** اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لاَ ذَنْبَ لَهُ ( رواه ابن ماجه والطبرانی، الترغیب والترهیب ص:۴۸ ج:۴).

**ژباړه : له گناه څخه توبه ایستونکی د هغه چا په څېر دی چې گناه یې نه وي ( کړې ) !!**

**دا دواړه په دې کې سره برابر دي چې مؤاخذه یې نشته او گناه هم ور پسې نه ده لیکلې، خو دا هغه وخت کله چې توبه د خپلو شرطونو سره وکړل شي .**

**( د توبې د شرطونو او مرتبو لپاره زموږ کتاب : د سعادت لاربنود ته مراجعه وکړئ ! )**

**همدا راز په یوه بل حدیث کې راغلي دي :** دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ فَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِينَةٌ وَإِنَّ الْكَذِبَ رِيبَةٌ ( رواه احمد و الترمذی و النسائی، کما فی المشکوة ص: ۲۴۲ ج:۱)

**ژباړه : هغه کار پرېږده چې تا په شک کې اچوي، د هغه څه په لور ( ولاړ شه ! ) چې په شک کې دي نه اچوي، ځکه رښتیا د اطمینان سبب دی او درواغ د نا آرامۍ !!**

**په دې حدیث کې په اولی او غوره طریقه د عمل کولو لاربښوونه شوې ده.**

ketabton.com - The Digital Library



که هر ډول شک انسان ته پیدا شي، موږ ته په دې وخت کې نبوي ارشاد دا دی چې هغه کار باید پرېږدو، داسي کار ته باید مخه کړو چې له هر ډول شک او شُبهې څخه خلاص وي .

عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ الأَنْصَارِيِّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الْبِرِّ وَالإِثْمِ فَقَالَ « الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالإِثْمُ مَا حَاكَ فِى صَدْرِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ».(رواه مسلم ص: ٣١٤ ج: ٢)

ژباړه : له حضرت نواس بن سمعان - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې ما له رسول الله - صلی الله علیه وسلم – د نېکۍ او ګناه په اړه پوښتنه وکړه ؟ نبي – علیه السلام – وفرمایل : نېکي ښه اخلاق ده ،او ګناه هغه ده چې ستا په سینه کې شک پیدا کړي او ته دا بده ګڼې چې خلګ ترې خبر شي !!

له حضرت وابصه بن معبد - رضی الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل : ته د دې لپاره راغلی یې چې د نېکۍ په هکله پوښتنه کوې ؟ ( د نېکي علامه څه ده )

ما وویل : هو! رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل : له خپل زړه څخه فتوی غواړه، نېکي هغه ده چې زړه او نفس د هغه کار په کولو کې مطمئن وي، وَالإِثْمُ مَا حَاكَ فِى النَّفْسِ ،وَتَرَدَّدَ فِى الصَّدْرِ ،وَإِنْ أَفْتَاكَ النَّاسُ(رواه أحمد والدارمی\مشکاة المصابیح ص: ٢٤٢ ج: ١)

ژباړه : او ګناه هغه ده چې په زړه کې شک پیدا کړي، که څه هم تا ته خلګ فتوی در کړي ( چې دا کار روا دی، نو بیا هم نه روا کېږي ) !!

ketabton.com - The Digital Library


په یوه روایت کې راغلي دي چې آدم علیه السلام خپلوزامنوته ځووصیتونه وکړل چې څو ئې په دې ډول دي :

{ ۱ } کله چې د یوه کار د تر سره کولو اراده کوئ، نو که مو په زړه کې شک وو، هغه کار مه کوئ ! ځکه زه چې د ونې خوا ته د خوړلو په اراده ور نږدې شوم، په زړه کې مې د خوراک په وخت کې شک وو .

{ ۲ } کله چې د یوه کار اراده وکړئ ! نو پایلې او نتیجې ته ئې ګورئ ! ځکه ما که د ونې د خوراک پایلې ته فکر کړی وی، ما به ترې خوراک نه وی کړی .

{ ۳ } کله چې د یوه کار د کولو اراده وکړئ، د ښو خلګو سره مشوره وکړئ ! ځکه ما که له ونې څخه د خوراک په وخت کې د ملائکو سره مشوره کړې وی، هغوی به را ته له ونې څخه د نه خوراک مشوره را کړې وی . ( شرح الاربعین للنووي ص : ۷۹ )

معلومه شوه چې د کوم کار له امله د انسان په زړه کې شک پیداکېږي، چې دا به روا وي او که ناروا ؟ د هغه کار پرېښودل په کار دي .

په دې احادیثوکې یوه لویه ضابطه د انسان د ژوندانه لپاره ذکر شوې ده : او هغه دا چې کله د کوم کار په اړه ور ته شک پیدا شي، چې دا به جائز وي او که نه ؟ او یا دا چې دا به سنت وي او که بدعت ؟

نو د هغه کار له کولو باید ډډه وکړي او داسې کار وکړي، چې هغه له شک څخه خلاص وي .

ketabton.com - The Digital Library


همدا راز فقهاء کرامو هم داسي مسئله لیکلې ده : فتاوی عالمگیري لیکلي دي : وما تَرَدّدَ بهِ بین الْبِدْعَةِ وَالسُّنّة یُتْرَکُ ( فتاوی هندیة ص : ۱۶۹ ج : ۱ )

ژباړه : کوم شی چې د بدعت او سنت په منځ کې شکمن شو، هغه به پرېښودل کېږي !!

همدا راز علامه شامي – رحمه الله – لیکې : إِذَا تَرَدَّدَ الْحُكْمُ بَيْنَ سُنَّةٍ وَبِدْعَةٍ، كَانَ تَرْكُ السُّنَّةِ رَاجِحًا عَلَى فِعْلِ الْبِدْعَةِ (ردالمحتار ص:۴۷۵ ج:۱)

یعني کله چې حکم د سنت او بدعت تر منځ دائر وي، نو د سنت پرښودل د بدعت تر کولو غوره دي !!

له دې مسئلې څخه په بل عبارت داسي تعبیر هم کېدی شي چې په احتیاط عمل کول .

یعني د شک په وخت کې باید هغه طریقه عملي شي د کوم په عملي کولو سره چې انسان له گناه څخه خوندي کېږي .

او دا زموږ د مذهب یو مُهم اصل دی چې په اختلافي مسائلو کې پرې په اهتمام سره عمل کېږي .

که دا خبره د چا یاد وي او عمل پرې وکړي، ان شاء الله تعالی د ډېرو سوالونو ځواب به په اسانۍ سره تر لاسه کړي .

ketabton.com - The Digital Library



# د نبي اکرم - ﷺ - خصوصیات

په دې وروستیو کې د اسلام او رڼا د دُښمنانو له خوا د اسلام د ستر مُحسن او د الله تعالی د سپېڅلي پېغمبر جناب محمد رسول الله - صلی الله علیه وسلم - د ستر شان په اړه بې ادبې کړې ده .

دوی په خپلو سپکو حرکاتو سره د خپلي کینې او عداوت څرګند کړی چې دوی یې د اسلام او نبي اکرم - صلی الله علیه و سلم – سره لري .

دوی په داسي بې ادبیو او سپکو حرکاتو سره د نبي اکرم – صلی الله علیه وسلم – په شان او عزت کې کمی نه شي راوستلی ، بلکې یوازي خپل خباثت او نجاست میدان ته راباسي .

په داسي حال کې باید مسلمانان د اسلام د پېغمبر - صلی الله علیه وسلم - صفات ځان ته معلوم کړي او په سر او مال له خپل خوږ پېغمبر – صلی الله علیه و سلم – څخه دفاع وکړي .

له دې امله غواړم چې د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ځیني داسي خصوصیات او ځانګړتیاوي ولیکم چې په هغوسره جوتېږي چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - یو داسي ستر او بې نمونې شخصیت دی چې نه مخکې څوک د ده په څېر په دُنیا کې تېر شوی او نه هم شونې ده چې و روسته دي داسي څوک پیدا شي .

ketabton.com - The Digital Library



الله - جل جلاله - زموږ پیغمبر جناب محمد رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته ځیني داسي خصوصیات او ځانګړتیاو ي ور کړې دي چې بل پیغمبر ته نه د ي ور کول شوې او دا زموږ د پیغمبر - صلی الله علیه و سلم – د فضلیت او بهترۍ ښکارندوی دي . ځیني یې دا دي :

عَنْ جَابِرٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي : نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ ، وَجُعِلَتْ لِيَ الأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا ، فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلاَةُ فَلْيُصَلِّ ، وَأُحِلَّتْ لِيَ الْمَغَانِمُ وَلَمْ تَحِلَّ لأَحَدٍ قَبْلِي ، وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ ، وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً . ( متفق عليه ؍ مشكوة المصابيح ص: ٥١٢ ج: ٢ ).

ژباړه : له حضرت جابر بن عبدالله - رضي الله عنه– څخه روایت دی چې نبي - صلی الله علیه و سلم – وفرمایل : ما ته پنځه شیان راکول شوي چې تر ما مخکې بل چا ته نه دي ور کول شوي : ( ۱ ) زما مرسته د یوې میاشتي د مزل په اندازه په رعب سره شوې ده ( دښمنان به د دومره فاصلې سره هم ترې وېرېدل )

( ۲ ) ټوله زمکه زما لپاره مسجد او پاکوونکې ګرزول شوې ، زما له امت څخه چې کوم سړی په کوم ځای کې وي، د لمونځ وخت ور باندي راشي، ( په هغه ځای کې دي ) لمونځ دي وکړي .

ketabton.com - The Digital Library



( ۳ ) زما لپاره غنیمتونه حلال شوي دي او تر ما مخکې هیچا ته نه وو حلال شوي . ( د نورو انبیاوو لپاره حکم دا وو چې غنیمت به په یوه غره کېښودل شو، له اسمانه به اور راغی، و به یې سوزوی )

( ۴ ) ما ته ( لوی ) شفاعت را کول شوی دی .

( ۵ ) پخوا به یو نبي یوازي خپل قوم ته ور لېږل کېدی ، زه په عامه توګه ټولو خلګو ته را لېږل شوی یم !!

د رسول الله - صلی الله علیه و سلم – ځیني خصوصیات په نورو احادیثو کې راغلي دي، د ځینو خلاصه دا ده :

( ۶ ) جوامع الکلم ( داسي کلمې چې په لنډو الفاظو کې ډېري مسئلې پکې بیان شوې وي ) پېغمبر علیه السلام ته ور کول شوې دي .

( ۷ ) نبوت ور باندي پای ته رسېدلی دی ، تر ده وروسته بل نبي نه راځي .

( ۸ ) زموږ صفونه ( د لمانځه ) د ملائکو د صفونو په څېر دي .

( ۹ ) د سورة البقره دوه اخیرني آیاتونه د عرش د لاندي له خزانې څخه نبي علیه السلام ته ور کول شوي دي .

( ۱۰ ) د زمکې خزانې نبي - علیه السلام - ته ور کول شوې وې .

ketabton.com - The Digital Library



په دې کې اشاره وه چې د اسلام دین به په ټولې زمکې غالب راځي او د نړۍ ټولو برخو ته به د اسلام اواز رسېږي .

( ۱۱ ) زما نوم احمداېښودل شوی دی .

(۱۲) د نبي - علیه السلام - امت تر ټولو امتونو غوره گرزول شوی دی.

( ۱۳) نبي - صلی الله علیه و سلم - ته مخکینۍ او وروستنۍ ټولې گناوې ور معاف شوې دي .

(۱۴ ) حوض کوثر ور کول شوی .

( ۱۵ ) د قیامت په ورځ به رسول الله - صلی الله علیه وسلم – د حمد د بیرغ خاوند وي، چې لاندي به ترې آدم - علیه السلام - او ترې لاندي خلگ وي .

(۱۶ ) د نبي - صلی الله علیه وسلم - شیطان کافر وو، الله پاک د ده مرسته وکړه ، مسلمان شو .

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ وَقَدْ وُكِّلَ بِهِ قَرِينُهُ مِنَ الْجِنِّ ». قَالُوا وَإِيَّاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ « وَإِيَّاىَ إِلاَّ أَنَّ اللَّهَ أَعَانَنِى عَلَيْهِ فَأَسْلَمَ فَلاَ يَأْمُرُنِى إِلاَّ بِخَيْرٍ .(رواه مسلم ص: ۳۷۶ ج: ۲)

ketabton.com - The Digital Library


**ژباړه : له عبد الله بن مسعود – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : له تاسو څخه هیڅوک داسې نشته مگر د هغه سره د هغه له پېریانو ملگری څخه مقرر شوی دی .**

**صحابوو – رضي الله عنهم – و ویل : اې د الله پیغمبره ! ستا سره هم مقرر شوی دی ؟**

**نبي – علیه السلام – وفرمایل : زما سره هم مقرر شوی، خو الله پاک پر ده باندې زما سره مرسته وکړه، نو اسلام یې راوړ، نو ما پرته له خیر څخه په بل څه نه امر کوي !!**

**(۱۷) نورو پېغمبرانو - علیهم السلام - ته د وخت مناسب موقتي مُعجزې ور کول شوې وې، زموږ پېغمبر - صلی الله علیه وسلم - ته د قرآن کریم په شکل کې داسې مُعجزه ور کول شوې چې تر قیامته پاته ده او ټولې نړۍ ته یې داسې چېلنج ورکړی چې د دې کتاب په څېر کتاب پېش کړی !!**

**خو تر او سه پورې هم هیچا په هیڅ تاریخ کې دې کار ته چمتووالی نه دی څرگند کړی .**

**دا ځکه چې د دې مقابله کول ناشونی او محال کار دی او دا ځکه چې دا د الله تعالی کتاب دی، نو مخلوق یې د بېلگې له راوړلو عاجز دی .**

ketabton.com - The Digital Library


( ۱۸ ) د قیامت په ورځ به تر ټولو مخکې جناب محمد رسول الله - صلی الله علیه و سلم - جنت ته داخلیږي، تر ده مخکې به بل چا ته اجازه جنت ته د داخلېدلو نه وي .

( ۱۹ ) الله - جل جلاله - رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته پر نورو پېغمبرانو - علیهم السلام - فضیلت او غوره والی ور کړی دی .

( ۲۰ ) د نبي - علیه السلام - امت به تر ټولو امتونو په جنت کې په زیات شمېر کې وي .

دا خصوصیات موږ په اختصار سره ولیکل، نور هم بې شمېره خصوصیات لري، خو چې خبره او ږده نه شي، له دې امله په دې سره اکتفاء کوو .

کله چې زموږ خوږ پېغمبر – صلی الله علیه و سلم – داسي ځانګړتیاوي لري چې حتی بل پېغمبر یې هم نه لري، نو د ایمان او عقل دواړو تقاضاء دا ده چې د داسي عظیم الشان پېغمبر - صلی الله علیه وسلم - سره تر بل هر چا زیات محبت وکړو، باید له ده څخه په سر او مال سره دفاع وکړو او د ده مبارکې طریقې عملي کړو، څو د دُنیا او آخرت نېمکمرغي او سر لوړي مو په برخه شي .

## د نبي – علیه السلام – د اُمت خصوصیات

الله جل جلاله د نبي اکرم - صلی الله علیه وسلم - اُمت ته ځیني ستري ځانګړتیاوي ور کړې دي، کومي چې بل اُمت ته نه دي ور کول شوې .

ketabton.com - The Digital Library



له دغو خصوصیاتو معلومیږي، چې دغه اُمت الله جل جلاله خوښ کړی او دا تر نورو افضل او غوره دی.

ځیني یې دلته موږ په مختصره توګه رانقل کوو :

په هره خبره مو دلیل او حواله د اوږدوالي د وېرې له امله نه ده را نقل کړې، یوازي په څو ځایو کې مو دا چاره کړې ده : )

۱ : دا اُمت تر نورو غوره دی.لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي : كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ ( البقرة : ۱۱۰ ) یعني تاسو غوره اُمت یاست !!

۲ : دا اُمت به تر نورو لومړی جنت ته داخلېږي .

۳ : جنت ته به تر نورو ټولو امتونو زیات داخلېږي .

۴ : د دې اُمت صفونه د ملائیکو د صفونو په څېر دي .

۵ : ټوله مځکه ور ته مسجد ګرځول شوې او په هره برخه کې ئې عبادت صحیح کېږي .

۶ : د اوبو د نه شتون په وخت کې تیمُم پاکوونکی ورته ګرځول شوی دی .

۷ : دې اُمت ته داسي احکام ور کول شوي، چې د هغو عملي کول آسان دي .

دا اسانتیا د الله پاک د رحمت یوه بېلګه ده .

د بني اسرائیلو او نورو سرکښو اُمتونو په څېر سختي نه ده ور سره شوې، لکه څرنګه چې الله - جل جلاله - فرمایي : يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ (الآية،البقرة:۱۸۵)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: الله تعالی تاسو ته آساني غواړي او سختي نه درته غواړي !!

۸ : دې اُمت ته غنیمتونه حلال شوي دي .

۹ : ځیني خوراکونه الله پاک ور ته حلال کړي دي، کوم چې پر نورو د سزا په توګه حرام شوي وو .

۱۰ : دا اُمت په ګمراهۍ نه راغونډېږي او تر هغو چې یوه ډله یې د دجال سره جنګ کوي، په دوی کې به تل یوه داسي ډله موجوده وي، چې په حق به ولاړه وي .

۱۲ : منځلاری اُمت دی او پر نورو اُمتونو به د قیامت په ورځ شاهدان وي .

۱۲ : د دې اُمت د شهادت ډېر ډولونه دي .

په دې اُمت الله جل جلاله دا احسان کړی، چې د شهیدانو ډولونه یې زیات دي، دا په داسي حال کي، چې په نورو اُمتونو کې شهید یوازي هغه څوک وو، چې د الله سبحانه وتعالی په لار کې د جنګ په ډګر کې ووژل شي، خو په دې اُمت کې له دې پرته نور هم ګڼ شمېر شهیدان شته لکه :

۱ : هغه څوک، چې د الله پاک په لار کې مړ شي .

۲ : څوک چې د طاعون د مرض له امله ومري .

۳ : څوک چې د نس د رنځ له امله ومري .

۴ : څوک چې په اوبو کې په ډوبېدلو ومري .

۵ : پر چا چې یو شی را ولوېږي او دی یې له امله مړ شي .

۶ : کومه ښځه چې د اولاد د زېږېدلو له امله ومري او داسي نور ...

ketabton.com - The Digital Library


۱۳ : دیارلسم خصوصیت د دې اُمت دا دی :

حضرت ابن عمر - رضی الله عنهما - له نبي اکرم - صلی الله علیه وسلم - څخه روایت کوي چې و یې فرمایل: ستاسو او د دوو کتابو ( تورات او انجیل ) د خاوندانو ( یهودو او نصاراوو ) مثال د هغه سړي په څېر دی،چې له مزدورانو یې د مزدورۍ غوښتنه وکړه، نو ویې ویل: څوک زما له پاره په یوه قیراط له سهاره د ورځې تر نیمایي ( غرمې ) پورې کار کوي ؟ نو یهودیانو کار وکړ .

بیا یې وویل: څوک له غرمې د مازدیگر تر لمانځه زما لپاره په یوه قیراط کار کوي ؟ نو نصاراوو کار وکړو .

بیا یې وویل: څوک زما لپاره له مازدیگره د لمر تر لوېدو په دوو قیراطونو کار کوي ؟

نبي اکرم - علیه السلام – وفرمایل : نو تاسو هغه یاست ( چې له مازدیگره مو د لمر تر لوېدو په دوو قیراطونو کار وکړ . ) نو یهود او نصارى غُصه شول او و یې ویل : څه وجه ده چې زموږ کار ډېر دی خو مزدوري مو لږ ده ؟

الله پاک وفرمایل : آیا ستاسو له حق څخه مي څه کم کړل ؟ دوی وویل : نه، الله پاک وفرمایل: نو دا ( چې د نبي – علیه السلام - امت ته مي د لږ عمل په بدل کې ډېر ثواب ورکړ ) زما فضل او مهرباني ده، زه ئې هغه چا ته چې ور ته یې غواړم، ور کوم یې ! ( بخاري شریف ص : ۳۰۲ ج : ۱ )

ketabton.com - The Digital Library


۱۴ : دا اُمت د باران په څېر دی، چې نه معلومېږي چې اول یې او که آخر یې خیر دی، یعني ټول اُمت، وړاندیني او وروستني له خیر څخه خالي نه دي .

۱۵ : د دې اُمت اویا زره کسان به پرته له حسابه جنت ته داخلېږي .

۱۶ : د ماخوستن لمونځ یوازي دې اُمت ته ور کول شوی دی .

۱۷ : د جُمعې ورځ ور کول شوې ده .

۱۸ : د دې اُمت نبي تر دوی مخکې له دُنیا رُخصت شوی دی .

په حدیث کې راغلي دي چې کله الله پاک په یوه اُمت د رحمت اراده وکړي، نو پېغمبر یې تر دوی مخکې وفات کړي. ( مسلم شریف، ج: ۲، ص: ۲۴۹ )

دا د نبي کریم - صلی الله علیه وسلم - د اُمت له ځانګړتیاوو څخه ده، ځکه نورو پیغمبرانو د خپلو قومونو عذاب په خپلو سترګو لیدلی دی .

۱۹ : دوی په مځکه کې د الله پاک شاهدان دي .

د چا په هکله چې دوی د ښه یا بد شاهدي ور کړي، الله پاک یې شاهدي قبلوي .

۲۰ : په زور وربانديي د یوې ګناه په کولو کې یې عذر قبول دی : د کومي ګناه په کولو که مجبور کړل شي او په زوره پرې وکړل شي، په هغه یې الله پاک نه رانیسي .

۲۱ : حضرت عیسی علیه السلام به د دې اُمت په یوه ولي پسي لمونځ کوي. ( د تفصیل لپاره : عیسی علیه السلام په اسلام او عیسائیت کې مطالعه کړه ! )

ketabton.com - The Digital Library


۲۲ : د قيامت په ورځ به تر ټولو مخکې د دې اُمت سره حساب کېږي.

۲۳ : پر پُل صراط به تر ټولو وړاندي تېرېږي .

۲۴ : سلام او آمين ور کول شوی .

په حديث کې راغلي دي، چې يهود ستاسو سره په هيڅ شي دومره حسد نه کوي څومره چې د سلام او آمين له امله در سره کوي ( ابن ماجه ص : ۶۱ )

۲۵ : له داسي عذاب څخه ساتل شوی ، چې ټول هلاک کړي .

۲۶ : کافر به د قيامت په ورځ د مسلمان فديه وي .

دا هم د الله تعالی له لوري د دې اُمت يو اکرام دی، چې د قيامت په ورځ به هر مسلمان ته يو کافر د اور لپاره فديه وي .

۲۷ : د قيامت په ورځ به يې د اودس له امله مخونه روښانه او اندامونه به يې ځليږي .

الله جل جلاله دي موږ د نبي اکرم - صلی الله عليه وسلم - حقيقي اُمتيان وګرځوي .

## په اسلام کې د شرم او حياء ارزښت

انسان د فطرت په لحاظ د رُوغ او ښه طبيعت خاوند پيدا شوی، خو د چاپيريال ناسمتيا د ده طبيعت ور خرابوي .

لکه څرنګه چې په حديث کې راغلي دي : مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلاَّ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ ( متفق عليه ، مشکوة المصابيح:ص:۲۱ ج:۱)

ketabton.com - The Digital Library


یعني هر پیدا کېدونکی ماشوم د اسلام پر فطرت پیدا کېږي، خو د ده مور او پلار يې يهودي، نصراني او مجوسي ( یا د بل دین مُعتقد ) کوي!!

په انسان کې د ښه او بد د پېژندلو شعور الله تعالی پیدا کړی دی .

په هغو ښو صفاتو کې چې انسان يې د فطرت په لحاظ لري، يو صفت د حیاء صفت دی .

شرم او حیاء که د انسان لپاره ښائست دی خو د مسلمان لپاره د ده د ایمان یوه نه بېلېدونکې برخه ده .

په حیاء سره ایمان تقویه کېږي .

حیاء داسي صفت دی چې انسان له ټولو بدو کارو راګرزوي .

که هغه بد په ټولنه کې بد ګڼل کېږي او که په شریعت کې بد ګڼل شوي وي .

او همدا راز د ښو کارونو له پرېښودلو هم انسان راګرزوي .

شرم او حیاء د ایمان یوه شُعبه او څانګه ده، که په چا کې دغه صفت په څومره اندازه قوي وو، په هغه کې د ایمان دغه شُعبه په هغومره اندازه قوي ده ، او که په چا کې د حیاء صفت کمزوری وو، په هغه کې د ایمان دغه شُعبه کمزورې ده .

په حیاء سره د انسان زړه ژوندی کېږي او د انسان او حیوان فرق په حیاء سره دی .

الله - جل جلاله - د حیاء له پرېښودو او له بې حیايۍ څخه خپل بندګان منع کړي او داسي يې فرمایلي دي : إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ

ketabton.com - The Digital Library


وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ(النحل:۹۰)

ژباړه : بې شکه الله په عدل، ښېګڼې او خپلوانو ته په ورکړي امر کوي او له بې حیایۍ،بدۍ او ظلم څخه منع کوي، الله تاسو ته نصیحت کوي څو تاسو پند واخلئ !!

په دې آیت کې له بې حیایۍ څخه منع راغلې ده .

بې حیایي یو داسي ناوړه صفت دی چې په چا کې راغی، هغه د هر ناروا کار اهل ګرزي .

ځکه هغه څه چې د انسان او ګناه تر مینځ دیوال وي، هغه له خلګو، یا له ځان او یا هم له الله تعالی څخه حیاء ده .

په دې هکله په حدیث شریف کې راغلي دي :

عَنْ ابنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ الْأُولَى إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ (رواه البخاری ص: ۴۹۵ ج: ۱؛ مشکاة المصابیح ص: ۴۳۱ ج: ۲)

ژباړه : له حضرت ابن مسعود – رضی الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه و سلم – وفرمایل : هغه څه چې د مخکینیو پیغمبرانو له خبرو څخه خلګوموندلي، ( یو ) دا دي چې کله دي حیاء نه لرله، نو څه دي چې خوښه وي، هغه کوه !!

(هغه څه کوم چې د شرف، عزت او میړاني لرونکی انسان ئې نه شي کولی )

ketabton.com - The Digital Library


ځکه له بدو کارو څخه د ده هیڅ راګرزوونکی نشته، نو ځکه دی هر هغه څه ته وړاندي کېږي چې د ده نفس ئې غواړي، خو بیا به یې سزا ویني .

کله چې له چا د حیاء صفت لاړ شي، نو هغه د بې مهاره اوښ په څېر آزادېږي او د خیر او شر تمییز ترې پور ته کېږي .

زموږ په ټولنه کې چې څومره بد کارونه تر سره کېږي، ویلی شو چې د ټولو لامل د حیاء نه شتون دی .

له دې حدیث څخه معلومه شوه چې حیاء داسي صفت دی چې د ټولو پېغمبرانو – علیهم السلام – په شریعت کې ښه صفت وو او منسوخ شوی نه دی .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- : الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ شُعْبَةً فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ.(متفق عليه\ مشكاة المصابيح ص: ١٢ ج:١)

ژباړه : له حضرت ابوهریره - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه و سلم – وفرمایل : ایمان څو اویا شُعبې (شاخونه) دي، تر ټولو غوره ( لویه ) شُعبه ئې د لا إله إلاّ الله وینا ده، تر ټولو وړه شُعبه ئې له لاري د تکلیف ور کوونکې شي لري کول دي او حیاء د ایمان یوه شُعبه ده !!

حیاء د ایمان شُعبه او څانګه ځکه ده ځکه د حیاء خاوند د حیاء له امله له بدو کارو راګرزي .

ketabton.com - The Digital Library


نو په دې صفت کې د ایمان په څېر ده چې انسان له بدو کارو راګرزوي.

مطلب دا چې په لنډ ډول باید انسان پوه شي چې څوک حیاء نه لري، د هغه ایمان نیمګړی دی او حیاء د ایمان او عقیدې سره مستقیم تماس لري .

په بل حدیث کې راغلي دي :

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قال: قال رسولُ اللَّه-صلى الله عليه وسلم-: إِنَّ لِكُلِّ دِينٍ خُلُقا ،وخُلُقُ الإسلامِ الْحياءُ.(رواه ابن ماجة ص:٣٠٨ مشكاة المصابيح ص: ٤٣٢ ج:٢)

ژباړه : له حضرت انس – رضی الله عنه – څخه روایت دی چې ر سول الله - صلی الله علیه و سلم – وفرمایل : هر دین اخلاق لري او د اسلام اخلاق حیاء ده !!

دا وجه ده چې پېغمبران – علیهم السلام - انتهایي حیاء ناک وو، رسول الله – صلی الله علیه و سلم – هم د کاملي حیاء خاوند وو ، دومره حیاء چې په اړه ئې په حدیث کې داسي راغلي دي :

عن أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا، وَإِذَا كَرِهَ شَيْئًا عُرِفَ فِي وَجْهِهِ .( رواه البخاری و مسلم ،رياض الصالحين ص:٢٠٨)

ژباړه : له ابوسعیدخُدري - رضی الله عنه - څخه روایت دی، هغه فرمایلي دي چې رسول الله - صلی الله علیه و سلم – تر هغي پېغلي زیاته حیاء لرله چې په پرده کې وي ، کله به چې ئې یو شی ناخوښه شو، په مخ کې به ئې ناخوښي معلومېدله !!

ketabton.com - The Digital Library



خو د نبي علیه السلام حیاء داسي نه وه چې د حق له بیانولو دي ئې راوګرزوي .

د کوم صحابي یو کار به ئې ناخوښه شو، نو مخامخ به ئې نه ور ته ویل، بلکې مخ مبارک به ئې تغییر وکړ، صحابه کرام – رضي الله عنهم - به ئې په ناراضتیا پوه شول او هغه کار به یې پرېښود .

نو باید موږ هم په خپل خوږ پېغمبر - صلی الله علیه وسلم - پسي اقتداء وکړو او په ځان کې د حیاء صفت راولو ځکه په دې کې د دُنیا او آخرت ګټې نغښتې دي .

# حیاء سراسر خیر او ښه کار دی

حیاء یو داسي غوره او ګټور شی دی چې سراسر خیر او ښه ده او د هر خیر بنسټ دی او تلل ئې د هر خیر تګ دی .

کله چې له انسان څخه حیاء ختمه شي، نو د خیر طمع ترې ختمېږي او په دې هم پرواه نه لري چې خلګ به مي له بدو کړنو خبر شي او نوم به مي بد شي .

نو د ګناه په کولو کې نه له الله تعالی څخه وېره لري او نه هم له مخلوق څخه شرمېږي .

په حیاء کې هیڅ ډول بدي نشته .

په حدیث شریف کې راغلي دي :

عَنْ عِمْرَانَ بْنَ حُصَیْنٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : الْحَیَاءُ لَا یَأْتِي إِلَّا بِخَیْرٍ ( رواه البخاري ص : ۹۰۳ ج : ۲ و مسلم ص : ۴۸ ج : ۱ \ ریاض الصالحین ص : ۲۰۸)

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه : له حضرت عمران – رضی الله عنه – څخه روایت دی چې نبي – صلی الله علیه وسلم – وفرمایل : حیاء له خیر پرته بل څه نه راوړي!!

یعني په چا کې چې حیاء وي، نو تل به د ښه کردار خاوند وي .

په بل روایت کې راغلي دي : اَلْحَيَاءُ خَيْرٌ كُلُّهُ.(رواه مسلم ص:۴۸ ج:۱)

یعني حیاء سراسر خیر ده !!

ځکه شرم او حیاء انسان کاملو اخلاقو او غورو کارو ته رسوي، همدا راز د حیاء شروع او آخر دواړه د ګناه پرېښودو ته انسان رسوي، د ګناه پرېښودل خامخا خیر دی، نو ځکه خو د حیاء پایله یوازي خیر وي .

همدا راز څوک چې له خلکو شرمېږي، د هغه شر کم او خیر ئې زیات وي .

همدا راز پر هغه سخاء او هغه ښه صفات غالب وي، کوم چې جنت ته رسوونکې دي .

یوه شاعر د حیاء په اړه ډېري ارزښتاکې خبري کړې دي :

إِذَا لَمْ تَخْشَ عَاقِبَةَ اللَّيَالِي***وَلَمْ تَسْتَحِ فَاصْنَعْ مَا تَشَاءُ

فَلَا وَاللَّهِ مَا فِي الْعَيْشِ خَيْرٌ***وَلَا الدُّنْيَا إِذَا ذَهَبَ الْحَيَاءُ

يَعِيشُ الْمَرْءُ مَا اسْتَحْيَا بِخَيْرٍ***وَيَبْقَى الْعُودُ مَا بَقِيَ اللِّحَاءُ

(أدب الدنيا والدين ص: ۳۰۵)

ژباړه ۱ : که ته د شپې له پایلي څخه نه وېرېږې او حیاء نه کوې، نو څه چې دي خوښه وي، کوه یې !

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه ۲ : په الله قسم چې نه په ژوند کې کوم خیر شته او نه په دُنیا کې، کله چې ترې حیاء لاړه شي .

ژباړه ۳ : تر کومې چې سړی له شرم څخه کار اخلي، نو د خیریت ژوند تېروي، د ښاخ ژوند تر هغه وي تر څو چې پوستکی پرې وي !!

همدا راز په دې اړه چې حیاء ټوله خیر او ښه ده، په حدیث کې راغلي دي :

عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رضى الله عنهما-: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مَرَّ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِى الْحَيَاءِ ،فَقَالَ رسولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم-: دَعْهُ ،فَإِنَّ الْحَيَاءَ مِنَ الْإِيمَانِ.(متفق عليه\رياض الصالحين ص:۲۰۸)

ژباړه : له ابن عمر - رضی الله عنهما - څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه و سلم – په انصارو کې په یوه سړي ور تېر شو ، چې خپل ورور ته ئې د حیاء په هکله نصیحت کوی ( په ډېره حیاء ئې ملامتوی او ترې منع کوی ئې، چې ډېرشرم مه کوه ! ) رسول الله - صلی الله علیه وسلم – ور ته وفرمایل : دی پرېږده ! ( له حیاء څخه ئې مه منع کوه ! ) ځکه حیاء د ایمان یوه برخه ده !!

همدا راز له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه پوښتنه وشوه چې أیا حیاء د دین کومه برخه ده ؟ هغه په ځواب کې وفرمایل : بَلْ هُوَ الدِّينُ كُلُّهُ(رواه البيهقي في شعب الايمان ص:۱۵۱ ج:۱۰)

ژباړه : بلکې حیاء او شرم ټول دین دی !!

دا ډول کسان چې حیاء نه لري حرام او حلال ور ته توپیر نه لري، تل په دروغو ډېر ټېنگ قسمونه خوري او ځان رښتینی معرفي کوي، په

ketabton.com - The Digital Library


داسي حال کې چې هغه به درواغجن وي ،قرآن کريم د دې گواهي ور کوي الله تعالی فرمايي : وَيَحۡلِفُونَ عَلَى ٱلۡكَذِبِ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ (المجادلة:١۴)
ژباړه : هغوی سره له دې چې په دې باور دي چې درواغ وايي، قسمونه خوري ( چې رښتيا وايي )

همد اراز دا ډول کسان په دروغوگواهي ور کوي، څه به ئې ليدلي نه وي او نه به ترې خبر وي، خو کله چې ځيني وغوښتل شي يا و نه غوښتل شي، خو ضمير او وجدان به نه لري اوتل به دې ته چمتو وي چې په دروغو گواهي او شاهدي ور کړي .

دې ډول انسان ته په سينه کې خپل ځان معلوم وي چې هغه له انسانيت څخه رټل شوی،او د انساني ټولني پر مخ تورداغ دی ځکه خو هر څه کوي .

د خبري خلاصه دا ده : هغه څوک چې حياء نه لري په هغه کې بالکل خير نشته، لاسونه ور څخه پريمينځل په کار دي،نه ئې چا ته گټه رسېږي او نه د خپلوانو،اقرباوو، دوستانو او نه په مجموع کې د ټولني په درد خوري .

خو بعضي داسي کارونه شته چې په هغو کې حياء او شرم کول ښه کار نه دی .

## ۱ : په علم کې حياء او شرم کول ښه نه دي .

حضرت عائشې - رضی الله عنها - فرمايلي دي : نِعْمَ النِّسَاءُ نِسَاءُ الأَنْصَارِ لَمْ يَكُنْ يَمْنَعُهُنَّ الْحَيَاءُ أَنْ يَتَفَقَّهْنَ فِي الدِّينِ.(رواه مسلم ص:١۵٠ ج:١).

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه : د ( مدینې منورې د ) انصارو ښځې ډېرې ښې ښځې دي، حیاء له دې نه راګرزولې چې د دین په هکله پوهه تر لاسه کړي !!

مجاهد – رحمه الله – فرمایلي دي : لَا يَنَالُ الْعِلْمَ حَيِيٌّ وَلَا مُسْتَكْبِرٌ

( الآداب الشرعیة ص : ۱۴۳ ج : ۲ )

یعني شرم کوونکی او لویي کوونکی علم نه شي حاصلولی !!

## ۲ : د حق په ویلو کې حیاء او شرم کول ښه نه دی .

الله تعالی فرمایلي دي : وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ. الایة (سورة الاحزاب:۵۳)

ژباړه : او الله د حق ( له ویلو ) حیاء نه کوي !!

د حق په ویلو کې شرم کول دا شرعي حیاء نه ده .

حیاء په دوه قسمه ده :

۱ : شرعي حیاء .

۲ : غیر شرعي حیاء، چې د عاجزۍ په معنی سره ده .

په احادیثو کې چې د حیاء په کولو ټینګار شوی، له هغه څخه مُراد شرعي حیاء ده .

دا دوهم قسم حیاء نه ده مُراد، چې مجازاً حیاء ور ته ویل کېږي، په حقیقت کې حیاء نه بلکې رُعب دی .

ځکه حیاء خو هغه ده چې انسان له بدو کارو منع کوي، ډېر ځله بعضو کسانو ته د دین په اړه داسي پوښتني پیداکېږي چې د هغو په هکله ور ته د دین حکم معلوم نه وي، خو له چا پوښتنه نه شي

ketabton.com - The Digital Library


کولی،په داسي حال چې دوی ته د اسلام دا حکم دی چې باید په دې کې شرم و نه کړي .

په دې اساس حیا ء باید څوک له یوه نیک او روا کار څخه او همدا راز له رښتیا ویلو څخه را و نه گرزوي .

په ځان کې د حیاء د پیدا کولو لپاره باید څو کارونه وکړل شي :

۱ : په خپلو گناهونو کې سوچ او فکر کول .

۲ : د خپلو عملونو نقصانات اوکمبوتې یادول .

۳ : د الله تعالی نعمتونه یادول .

۴ : د حیاء په هکله د راغلو ترغیباتو او فضائلو لوستل .: د احسان درجه په ځان کې راوستل : لکه څنگه چې په حدیث د جبریل – علیه السلام - کې ذکر شوي دي : أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ.(رواه البخاری ص:۱۲ ج:۱،ومسلم ص:۲۷ ج:۱)

ژباړه : ( د احسان او نېکۍ درجه دا ده : ) چې د خپل رب داسي عبادت وکړې، لکه ته چې ئې وینې،که ئې ته نه وینې، نو ( دې ته پام کوه چې : ) الله تا ویني !!

د چا په زړه کې چې د دې خبري استحضار وي چې الله پاک ما اوس ویني او ما ته گوري، هغه بیا د گناه جرئت نه شي کولی .

# د نشيي توكو زيانونه

نشه یو خطرناک آفت دی، په پخوانیو زمانو کې دغه آفت دومره نه وو عام شوی، څومره چې په دې زمانه کې عام دی او نه هم دومره زیات

ketabton.com - The Digital Library


خلک په بله زمانه کې پرې اخته شوي، څومره چې په دې زمانه کې پرې اخته شوي او برباد شوي دي .

په میلیونونو مسلمانان په دغه ناولي مرض اخته دي او له دې امله د ځانو لپاره په خپلو لاسونو قبرونه جوړوي او د ډول ډول کړاوونو سره یې ځانونه مخامخ کړي دي .

د نشیي توکو په استعمالولو کې ډېر زیات نقصانات شته چې معاصرو ډاکټرانو ثابت کړي او په تجربو سره هم معلوم شوي دي .

تر (۱۲۰) یو سل او شلو پوري یې تاوانونه بیان شوي دي .

دیني، دُنیوي، صحي، اخلاقي، طبعي، کورني او ټولنیز هر ډول تاوانونه لري .

د دومره زیاتو او ډول ډول زیانونو د درلودلو له امله د نشې کول په اسلام کې حرام ګرزول شوي دي .

اسلام چې کوم شیان حرام کړي او منع کړي دي، هغه څه دي چې استعمال یې انسان یا ټولني ته تاوان رسوي .

همدا راز کوم کارونه چې په اسلام کې فرض، واجب، سُنت او یا مستحب وي، دا هغه څه دي چې په هغو کې د انسان او ټولني لپاره خیر او ګټه وي .

د نشې کولو ځیني تاوانونه دلته په مختصره توګه لیکو ، د دې لپاره چې هغو زیانونو ته پام وکړل شي او له دغه کرغېړن عمل څخه ځان وساتل شي او که څوک پرې مُبتلاء وي، د پرېښودلو کوشش یې وکړي .

ketabton.com - The Digital Library



ټول دینونه د پنځو شیانو په حفاظت کولو متفق دي :

۱ – دین

۲ – عقل

۳ – ځان

۴ – نسب او عزت

۵ – مال

د دغو نشيي توکو په استعمال کې دغو ټولو ته تهدید متوجه دی .

۱ – د نشيي توکو یو ستر ضرر دا دی چې عقل خرابوي .

عقل د الله پاک پر بنده یو ستر نعمت دی او حفاظت يې پر انسان لازم دی .

څوک چې داسي څه استعمال کړي چې عقل يې پرې کمزوری کېږي، دغه کس یو ستر جنایت کړی او ستر مُجرم دی .

خو متأسفانه ځیني کسان پر ځای د دې چې د عقل شکر اداء کړي او حفاظت يې وکړي، بر عکس په روپو داسي څه اخلي چې خپل عقل ته پرې زیان رسوي او له هغه چا عبرت نه اخلي چې د دغو نشيي توکو له امله يې عقلونه او عزت له لاسه ور کړی او لېونیان ترې جوړ شوي دي.

حسن بصري - رحمه الله – فرمایلي دي : لَوْ كَانَ الْعَقْلُ يُشْتَرَى لَتَغَالَى النَّاسُ فِي ثَمَنِهِ، فَالْعَجَبُ مِمَّنْ يَشْتَرِي بِمَالِهِ مَا يُفْسِدُهُ. ( المستطرف فی کل فن مستظرف ص:۵۰۱ ج:۲)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه : که عقل ( په روپو ) را نیول کېدی، نو خلکو به یې قېمت ډېر ګران اینښی وی، نو حیرانتیا په هغه چا ده چې په خپل مال سره هغه څه اخلي چې عقل یې خرابوي !!

۲ – د نشې لپاره مال مصرفول اسراف دی .

اسراف لویه ګناه ده او د شیطان ورور کېدل دي .

الله تعالی فرمايي : وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيراً * إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُوراً (الإسراء:۲۶-۲۷)

ژباړه : او بې ځایه لګښت مه کوه! په یقیني توګه بې ځایه لګښت کوونکې د شیطانانو ورونه دي او شیطان د خپل رب ډېر ناشکره دی !!

۳ - نشه کول په حقیقت کې ځان وژنه ده .

د مسلمان لپاره د داسي شي استعمال جائز نه دی چې انسان ځای پرځای وژني او یا یې په ورو ورو وژني، لکه زهر د خپلو ټولو قسمونو سره، او یا چې ور ته زیان او تکلیف رسوي .

ځکه چې مسلمان د خپل ځان مالک نه دی، بلکې ده ته ژوند، صحت، عقل،مال او دین د الله پاک له لوري امانت ور کول شوي، چې په اړه به یې تري پوښتنه کېږي .

نشيي توکي په ورو ورو د انسان د مرګ سبب جوړېږي .

دا وجه ده چې په نشيي توکو : هیروئینو او نورو مخدره توکو روږدي کسان په ځوانۍ کې مري .

ځان وژنه ګناه او حرام کار دی .

الله تعالی فرمايي : وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ (البقرة:۱۹۵)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه : او ځانونه په خپلو لاسو هلاکت ته مه غورځوئ !!

په بل ځای کې فرمايي : وَلَا تَقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيماً ( النساء : ۲۹)

ژباړه : او خپل ځانونه مه وژنئ ! بې شکه الله پر تاسو مهربان دی !!

نشه کول د دغو دوو آیتونو مخالفت دی ځکه مخدره توکې هلاکت او مرګ ته انسان رسوي، لکه څرنګه چې طب دا خبره ثابته کړې ده .

په نشيي توکو روږدي کسان په حقيقت کې د خپل مرګ له امله هم مُجرمان دي او د خودکشۍ په ګناه کې مُبتلاء کېږي .

همدا راز نشه کول ځان ته تاوان رسول دي، دا هم لويه ګناه ده .

۴ - د نشيي توکو مُعتاد د مور او پلار نافرمان او ځورونکی وي .

د دې موادو له امله نه يوازي دا چې د مور او پلار په نافرمانۍ کې مُبتلاء کېږي، بلکې د مُعتاد له امله مور، پلار او نورو قريبانو ته تکليف رسېږي او هغوی پرې ځورېږي .

۵ – د نشيي توکو يو ضرر دا دی چې په دې سره د انسان عزت د خاورو سره خاوري کېږي .

نشيي سړي ته هر څوک په سپکه ګوري او خبرو ته يې څوک غوږ نه نيسي .

نشيي سړی نه يوازي دا چې په خپله بې عزته او د خلکو له سترګو لوېدلی وي، بلکې د کورنۍ او خپلوانو لپاره هم د سپکاوي او شرم لامل وي .

۶ – نشه انسان د الله پاک له ذکر، لمانځه او عبادت څخه راګرزوي .

ketabton.com - The Digital Library


الله – جل جلاله – د شرابو او جواري ( خومار ) په هکله فرمايي :

إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ (المائدة:٩١)

ژباړه : خبره دا ده چې شيطان غواړي په شرابو او جواري سره مو تر منځ دښمني او بُغض واچوي او د الله – تعالی – له يادولو او لمانځه څخه مو منع کړي، نو آيا تاسو منع کېدونکې ياست ؟ !!

په دې مبارک آيت کې الله پاک د شرابو او جوارۍ دوه زيانونه ذکر کړي چې يو يې دُنيوي دی چې له دې امله د انسانانو تر منځ دښمني او بُغض پيدا کېږي او بل يې ديني دی چې له دې امله انسان د الله پاک له ذکر او لمانځه څخه بندېږي .

دغه دواړه زيانونه په مخدره توکو کې هم شته، انسان د الله پاک له ذکر، لمانځه او نورو عبادتونو څخه راګرزوي .

په نشه وروړدي خلګ د لمانځه او ذکر خيال نه ساتي .

٧ – مؤمن ته چې کوم تکليف رسېږي، د هغه له امله يې الله پاک ګناوي رژوي او ثوابونه ور کوي .

خو نشيي ته چې د نشې په نتيجه کې کوم ډول ډول تکليفونه رسېږي، نه يوازې دا چې ثواب ور ته نشته، بلکې د هغو له امله ګناهګار هم دی .

ځکه دغه تکليفونه ده په خپله خپل ځان ته د نشې له امله رسولي دي او ځان ته تکليف رسول ګناه ده .

٨ : نشه کول د الله پاک او د رسول الله صلی الله عليه وسلم نافرماني ده .

ketabton.com - The Digital Library



۹ : نشه کول د ستر او تاریخي دُښمن شیطان خوشحاله کول او دهغه سره دوستي کول دي .

۱۰ : نشه کول له انسان څخه د حیاء او شرم صفت ختموي .

کله چې له انسان څخه شرم او حیاء لاړه، بیا د هیڅ پرواه نه کوي او په ډول ډول ګناهونو کې مُبتلاء کېږي او همدا راز بیا له سوال کولو او غلاوو هم مخ نه اړوي .

۱۱ : نشه د انسان د کورنۍ په ژوندانه، تعلیم او اخلاقو ټولو ناوړه او اغېزناک اثر کوي .

۱۲ : نشه کول د حافظې د کمزورۍ او د نِسیان او هیري د ډېروالي لامل دی

۱۳ : مخدره مواد دساه بندۍ مرض پیداکوي .

۱۴ : د سینې ډېر ډول ناروغۍ ترې پیدا کیږي .

د سینې د حساسیت مرض له مخدره توکو څخه په عمومي توګه او له مورفینو،هیروئینو او چرسو څخه په خصوصي توګه پیدا کېږي .

همدا راز ټوخی ترې پیدا کیږي، بلغم ترې پیداکیږي .

۱۵ : نشه کول د بې روزګارۍ او بې کارۍ ستر لامل دی .

کار کول ور ته ګران وي او څوک کار هم نه ور کوي ځکه اعتبار پرې نه کېږي .

۱۶ : مخدره مواد استعمالول د انسان په هضمي طاقت اثر کوي او د خوراک هضمول ور ته ګرانېږي .

۱۷ : نشه د ټي بي یا نري رنځ د پیداکېدو لامل ګرزي .

ketabton.com - The Digital Library



۱۸ : وینه وچوي .

۱۹ : د سرطان یا کېنسر د ناروغۍ لامل دی .

۲۰ : نشه کول د زړه د مختلفو ناروغیو لامل دی، لکه د زړه درېدل، د زړه د والونو سختېدل او د وینې د فشار لوړوالي .

۲۱ : نشه د ناڅاپي مرګ لامل دی .

۲۲ : د رعشې یا د بدن د رپېدلو د مرض لامل ګرزي .

۲۳ : د غلطو فکرونو د پیداکېدلو لامل ده .

۲۴ : طبعي رطوبات وچوي .

۲۵ : د انسان بدن ډول ډول رنځونو ته ور وړاندي کوي .

۲۶ : د سر د درد د پیدا کېدلو لامل ده .

۲۷ : د انسان اوبه وچوي .

۲۸ : استسقاء مرض پیداکوي .

۲۹ : له انسان څخه رازونه نشرېږي .

۳۰ : له نشیي انسان څخه بد نشرېږي .

۳۱ : ډېري جګړې او جنجالونه کوي .

۳۲ : په انسان کې بې محبتي پیدا کېږي .

۳۳ : په انسان کې غیرت ختمېږي .

۳۴ : د نشې له امله د انسان جیب بربادېږي .

۳۵ : د جذام او فیس مرضونه پیداکوي .

۳۶ : پر لپسې مرضونه پیداکوي .

۳۷ : ځیګر سوری کوي .

ketabton.com - The Digital Library



۳۸ : خوله بدبویه کوي .

۳۹ : بغل بدبویه کوي .

۴۰ : غاښونه خرابوي .

۴۱ : د سترګو د باڼو وېښتان غورزوي .

۴۲ : غاښونه خرابوي .

۴۳ : سترګي شب ګوري کوی .

۴۴ : سُستي او بُزدلي پیدا کوي .

۴۵ : له زمري څخه ګېدړ جوړوي .

۴۶ : له عزتمند څخه ذلیل جوړوي .

۴۷ : له روغ انسان څخه رنځور جوړوي .

۴۸ : له بهادر څخه بې غیرته جوړوي .

۴۹ : له شریف انسان څخه کمین جوړوي .

۵۰ : په خوراک نه مړېږي .

۵۱ : که څه ورکول شي، قناعت نه پرې کوي .

۵۲ : نصیحت او د خیر خبري پرې اثر نه کوي .

۵۳ : له فصیح اوجرار څخه ګونګی جوړوي .

۵۴ : له هوښیار څخه بې عقل جوړوي .

۵۵ : زېرکتیاختموي .

۵۶ : دنامردۍ، لعنت او له جنت څخه د لري والي سبب ګرځي .

۵۷ : د انسان سوچونه خرابوي او د داسي شیانو فکرونه پیدا کوي چې له سره وجود نه لري .

ketabton.com - The Digital Library



۵۸ : نشيي ځوان نه يوازي دا چې د کورنۍ په اړه خپل مسئوليت سر ته نه شي رسولی، بلکې دی هم د کورنۍ پر اوږو بار وي .

۵۹ : نشه کول د مرگ په وخت کې د شهادت د کلمې د هېرېدلو لامل دی .

سلطان العلماء حضرت ملا علي قاري – رحمه الله - ليکلي دي : فَإِنَّهُ قِيلَ فِيهِ سَبْعُونَ فَائِدَةً، أَدْنَاهَا أَنْ يَذْكُرَ الشَّهَادَةَ عِنْدَ الْمَوْتِ، وَفِي الْأَفْيُونِ سَبْعُونَ مَضَرَّةً، أَقَلُّهَا نِسْيَانُ الشَّهَادَةِ (مرقاة المفاتيح ص:۳ ج:۲).

يعني په مسواک کې اويا ( ۷۰ ) فائدې شته، تر ټولو کمه يې دا ده چې د مرگ په وخت کې به د شهادت کلمه ور په ياد شي او په افيونو ( تارياکو ) کې اويا زيانونه شته، تر ټولو کمه يې دا ده چې د مرگ په وخت کې به د شهادت کلمه ترې هېره شي !!

۶۰ : د نشې مُعتاد له نورو خلگو خفه او گيله مند وي، که څوک ښه ور سره وکړي، نه پرې معلومېږي .

نور ضررونه هم لري، خو د دغه شمېر ذکر کول د عبرت اخيستونکو لپاره پوره دي .

# په اسلام کې د علم اهميت او ارزښت

اسلام د رحمت دين دی چې د ټول انسانيت لپاره د ديني او دُنيوي نېکمرغۍ او کاميابۍ ضامن دی .

اسلام د ژوندانه په هره برخه کې ځانگړې لارښودني لري او د انساني ژوندانه لپاره يې بشپړ او هر اړخيز قانون نړۍ ته وړاندي کړی دی .

ketabton.com - The Digital Library


**خو له هغه ځخه د ګټې د اخیستلو لپاره علم ته اړتیا ده، علم هغه کیلي ده چې په ذریعه یې د اسلام هر اړخیزي لارښودني چا ته معلومېږي .**

**علم پر هر چا لازم دی .**

**په حدیث شریف کې راغلي دي :**

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ (رواه ابن ماجة ص:٢٠)

**ژباړه : له حضرت انس – رضی الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم – فرمائلي دي : ( د دین ) د علم طلب پر هر مسلمان فرض دی !!**

**له دې حدیث څخه معلومېږي چې پر هر مسلمان که نارینه وي او که ښځینه، غریب وي که شتمن، کلیوال وي او که ښاري، پر ټولو د دین د علم طلب فرض دی .**

**د علم دا مطلب نه دی چې خامخا به عربي لولي او ټول فنون به زده کوي، بلکې د دې مطلب دا دی چې د دین د خبرو زده کول، که د عربي کتابونو په لوستلو سره وي، که د پښتو، دري، اردو او یا د بلي ژبي د کتابونو په لوستلو سره وي، که له مُعتبرو عالمانو څخه په ژبه په پوښتني سره وي، که له مُعتبرو واعظانو څخه د وعظ په اورېدو سره وي .**

ketabton.com - The Digital Library


هغه ښځې چې خپله کتاب نه شي لوستلی او نه له یوه عالم څخه پوښتنه کولی شي، د خپلو سړو په ذریعه دي د دین خبري له عالمانو وپوښتي .

په دې توګه ځان له شرعي حُکم څخه خبرول علم دی او د علم په اړه د راغلو ثوابونو د تر لاسه کولو لامل دی .

په دې حدیث کې د علم طلب فرض ګڼل شوی .

پوښتنه دا ده چې کوم علم فرض دی ؟

د دې پوښتني جواب دا دی چې شرعي علم په دوو برخو وېشل شوی :

١ : علم الأصول یا د عقائدو علم لکه د الله پاک پېژندل په یووالي او صفاتو سره، د پېغمبرانو تصدیق او داسي نور...

دا علم پر هر چا لازم او ضروري دی، هر څوک باید ځان په دغو خبرو پوه کړي او پرې باور ولري .

٢ : علم الفروع یا د فقهي علم او د دین پر احکامو او مسائلو ځان خبرول .

دا علم په دوو برخو وېشل کېږي :

١ : فرض عین . لکه د اوداسه، لمانځه، روژې او هر هغه عبادت چې پر هر چا لازم وي، نو پر هغه د هغه شي علم هم ضروري دی .

لکه د زکات علم پر هغه چا لازم دی چې مال ولري، همدا راز د حج علم پر هغه چا لازم دی چې پرې فرض وي .

یعني کوم کار چې په انسان لازم وي، د هغه زده کړه هم لازم ده، ځکه پرته له زده کولو یې عمل نه شي پرې کولی .

ketabton.com - The Digital Library


۲ : فرض کفايي : هغه علم دی چې په هغه سره څوک د اجتهاد درجې ته رسېږي، یا د فتوی ورکولو استعداد پکې پیداکېږي .
که د یوې سیمي خلګ ټول له دغي اندازې علم څخه ځان غافل کړي، ټول ګناهګار دي، خو که په دوی کې یو کس دا اندازه علم وکړي، د نورو غاړي خلاصي دي .
نور خلګ به د دغه عالم خبره مني او د اړتیا په وخت کې به ترې د شرعي حُکم پوښتنه کوي .
مطلب دا چې علم ضروري او اړین دی .
په دې زمانه کې چې د خلګو پام د دُنیا په لور اوښتی او ډېرو خلګو شرعي علم پرېښودلی دی، له دې امله ډېر نقصانات په ټولنه کې راټوکېدلي او ډېر خلګ د اسلام له ضروري شیانو ناخبر دي، نتیجه دا شوه چې ډېر ځله خلګ د حق او باطل خاوندان نه شي سره بېلولی، د ثواب او ګناه تر منځ په تفکیک کولو کې تېر وزي او ډېر ځله یو کار د ثواب په نیت کوي، خو په حقیقت کې هغه کار د ثواب نه بلکې د ګناه کار وي .
نو پر ځای د دې چې ثواب وګټي، د ګناه پېټی یې په سر کېږي .
دا ځکه چې د هغه کار په اړه پوره علم نه لري .
که څوک کامیابي او نېکمرغي غواړي او د حق او باطل تر منځ پوره تفکیک غواړي، هغه دي د شرعي علم طلب وکړي .
اسلام د علم دین دی .

ketabton.com - The Digital Library


په اسلام کې د علم د اهمیت اندازه له دې هم معلومېږي چې پر رسول الله - صلی الله علیه وسلم - لومړنی آیت چې له قرآن کریم څخه نازل شوی، په لوست امر کوي چې د علومو کیلي ده .

هغه لومړني پنځه نازل شوي آیتونه دا دي :

اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ، اِقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ .(سورة العلق:۱-۲-۳-۵۴)

ژباړه : ( اې پېغمبره – صلی الله علیه وسلم - ) ولوله په برکت د نوم د خپل رب ( پالونکې ) چې هغه ( ټول مخلوقات ) پیدا کړي دي ، د کلکې شوې ویني له ټوټې څخه یې انسان پیدا کړی دی، ولوله ( اې پېغمبره ! قرآن ) په داسې حال کې چې ستا رب ( تر بل هر کریم ) ډېر لوی کریم دی، هغه چې د قلم په مرسته یې ( انسان ته ) علم وښودی، انسان ته یې هغه علم ور کړ چې هغه پرې نه پوهېدی !!

دغه آیتونه په هغه وخت کې نازل شول چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - د حراء په غار کې د الله تعالی په عبادت مشغول وو، ناڅاپه حضرت جبرائیل – علیه السلام – د وحي سره ورته راغی او ورته یې وویل : اقْرَأْ . ( ولوله ! ) نبي علیه السلام وویل : مَا أَنَا بِقَارِئٍ ( زه لوستونکی نه یم )

جبریل علیه السلام څو ځله نبي علیه السلام په غېږ کې ونیو او په زور یې کښېکاږی او ور ته ویل به یې : اقْرَأْ. ( ولوله ! )

ketabton.com - The Digital Library


په دریم ځل یې چې کله کښېکاږی، نو یې ور ته وویل : اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ، اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (سورة العلق: ۱-۲-۳-۴-۵)

نو دا پنځه آیتونه په هغه وخت کې نازل شول .

په لومړني آیت کې الله پاک د ټول مخلوق د پیدا کولو یادونه کړې، په ورپسې آیت کې یې د انسان د پیدایښت یادونه په خصوصي توګه کړې ده .

په ورپسې آیت کې د الله پاک د کرم صفت یاد شوی، چې تر هر چا ډېر کریم، احسان کوونکی، د پراخي سخاء خاوند دی چې یوه بېلګه ئې د علم په ذریعه لارښوونه او تعلیم دی .

الله پاک انسان په داسي حال کې پیدا کړ چې په هیڅ نه پوهېدی، خو الله پاک غوږونه، سترګي او زړه ور کړ او د علم اسباب یې ور ته مُهیأ کړل .

قرآن یې ور وښودی، د حدیث علم یې ور کړ او د قلم په ذریعه یې زده کړه ور کړه، چې په هغه سره علمونه ساتل کېږي، حقوق پرې ضبط کېږي، د خلکو استازولي کوي او د خبرو په ځای یې کار ور کوي.

دا د الله پاک له لوري داسي نعمتونه دي چې بندګان یې پوره شکر نه شي اداء کولی .

له دې وروسته الله پاک په دې سورت کې پر انسان د روزي د پراخوالي احسان کوي، خو انسان د خپلي ناپوهی له امله کله چې ځان غني او

ketabton.com - The Digital Library



شتمن ووینې، پر ځای د دې شکر اداء کړي، سرکشي کوي او له هدایت څخه اوړي او دا هېر کړي چې د الله په لور ور تلل شته .

کله کله خبره تر دې حده ورسېږي چې خپله هم سمه لار پرېږدي، نورو ته هم د دغه ناوړه کار بلنه ور کوي .

تر دې چې خلګ له لمانځه را ګرزوي، کوم چې تر ایمان وروسته تر ټولو مُهم کار دی .

له دغو لومړنیو نازل شویو آیتونو څخه د علم مرتبه او ارزښت په اسلام کې معلومېږي، ځکه لومړنۍ خبره چې نبي علیه السلام د نبوت رسېږي، هغه په لوست امر کوي .

دا په داسي حال کې چې د ده او حضرت عیسی علیه السلام تر منځ (۵۷۱) کاله تېر شوي وو، په دې اوږده موده کې بل پېغمبر نه وو راغلی .

په دُنیا کې هري خوا ته تیارې خورې وې، ظلم او بربریت اوج ته رسېدلی وو.

په داسي زمانه کې چې کله پېغمبر راغی، نو لومړنۍ وحي ور ته د علم وشوه.

له دې د علم اهمیت معلومېږي چې علم ته تر هر څه زیاته اړتیا شته او دا چې علم دی چې په نتیجه کې یې هر قسم تیاري له منځه ځي، انسان د علم له امله د الله پاک په لور د تلو لار پیدا کولی شي او دا چې د ټولو ناخوالو او نارواوو علاج علم دی .

د علم طلب او حاصلول د مسلمان د ژوندانه داسي نه بېلېدونکې برخه ده ، لکه څرنګه چې ماهی ( کب ) پرته له اوبو ژوند نه شي کولی،

ketabton.com - The Digital Library



داسي مسلمان پرته له علم څخه نه ژوند تېرولی شي او نه د خپل ژوند تر مقصودي پړاو پوري رسېدلی شي .

# د علم ګټي او برکتونه

مسلمان له علم څخه لاندینۍ ګټي او برکتونه تر لاسه کوي :

۱ : په علم سره د الله تعالی احکام معلومېږي .

۲ : د نبي علیه السلام د مبارک سیرت په مطالعې سره د پېغمبر علیه السلام د اطاعت حق اداء کولو ته چمتو کېږي .

۳ : په اسلامي ټولنه کې د ژوند کولو په حال کې د نورو مسلمانانو حقوق او خپلي ذمه وارۍ معلومولی شي .

۴ : د علم په حاصلولو سره د حق او باطل، د کره او کوټه تر منځ بېلتون کولی شي .

۵ : ژوند په ښو کارونو سره په ښائسته کولو د آخرت کامیابي تر لاسه کولی شي .

۶ : د خپل ځان لپاره د راحت او آرام سامان چمتو کوي .

ځکه علم داسي څه دی چې په یوازیوالي کې مجلسي، په بېګانه چاپیریال کې ملګری، په خوشحالۍ او تنګلاسي کې رهنما او لارښود او د دُښمنانو په وړاندي وسله ده .

۷ : د حلال او حرام تر منځ فرق په علم سره راځي .

۸ : علم د عمل رهنما او لارښود دی او عمل یې تابع دی

۹ : د دې علم له امله الله پاک انسان ته په نورو مخلوقاتو فضیلت ور کړی او د دې علم په اساس حضرت آدم - علیه السلام - د الله پاک له

ketabton.com - The Digital Library


لوري په زمکه کې د خلافت لپاره غوره شو او ملائکو ته امر و شو چې حضرت آدم - علیه السلام - ته سجده وکړئ !

ملائکې له نور څخه پیدا شوی مخلوق دی، د الله پاک هیڅ ډول نافرماني نه کوي، شپه او ورځ د الله جل جلاله په عبادت کې مشغول دي، خو په دې چې آدم علیه السلام د علم څښتن وو، الله پاک خپل دغه پاک او نوراني مخلوق ته امر وکړ چې حضرت آدم - علیه السلام - ته سجده وکړي !!

د علم د ارزښت بله بېلګه دا ده چې حضرت یوسف - علیه السلام - ته الله پاک ښائست ور کړی وو، خو پایله یې دا شوه چې له امله یې زندان ته لاړ او کلونه یې په زندان کې پرته د کوم جُرم له تر سره کولو تېر کړل .

خو د خوبونو د تعبیر د علم له امله نه یوازې دا چې له زندان څخه را ووت بلکې تر پاچاهۍ پورې ورسېدی !!

۱۰ : د علم له امله انسان لوړو درجو ته رسېږي .

اسلام تل په علم هڅونه کړې ده او د علم خاوند ئې له نورو مُمتاز او درجه ئې تر نورو لوړه ښودلې ده .

الله تعالی فرمایلي دي : يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ (المجادلة:۱۱)

ژباړه : الله – تعالی – په تاسو کې هغه کسان چې ایمان یې راوړی پورته کوي او کومو کسانو ته چې علم ور کړ شوی ( په خصوصي

ketabton.com - The Digital Library


توګه به یې پورته کړي لوړو ) درجو ته ، او تاسو چې څه کوئ، الله پرې ښه خبر دی !!

دا فضیلت او مرتبه ولي الله پاک ور کړې ده ؟ دا ځکه چې له علماء کرامو څخه خلګ ګټه تر لاسه کوي، لار ورکې خلګ د دوی په ذریعه د هدف لوری معلومولی شي .

# د زیات علم د غوښتني الهي فرمان

د علم د اهمیت لپاره ډېر زیات دلائل شته، خو د دغه یو دلیل په ذکر کولو بسنه کوو او هغه دا چې الله جل جلاله نبي - صلی الله علیه وسلم – ته د لا زیات علم د غوښتني د دُعاء امر کړی دی .

الله تعالی فرمایي : وَقُل رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا (طه:۱۱۴).

ترجمه : ( اې پېغمبره !) ووایه چې زما ربه ! زما علم زیات کړه !!

امام قرطبي – رحمه الله – لیکې : فَلَوْ كَانَ شَيْءٌ أَشْرَفَ مِنَ الْعِلْمِ لَأَمَرَ اللهُ تَعَالَى نَبِيَّهُ ﷺ أَنْ يَسْأَلَهُ الْمَزِيدَ مِنْهُ، كَمَا أَمَرَ أَنْ يَسْتَزِيدَهُ مِنَ الْعِلْمِ . ( تفسیر قرطبی ص:۴۴ ج:۴)

یعني که تر علم بل شی ډېر شرافت لرونکی وی، نو الله پاک به د هغه د زیاتوالي په غوښتني خپل پېغمبر – صلی الله علیه وسلم - امر کړی وی لکه څرنګه چې یې د علم د زیاتوالي په غوښتني امر کړی دی !!

علامه ابن القیم - رحمه الله- لیکلي دي : وَكَفَى بِهَذَا شَرَفًا لِلْعِلْمِ، أَنْ أَمَرَ نَبِيَّهُ ﷺ أَنْ يَسْأَلَهُ الْمَزِيدَ مِنْهُ.(مفتاح دار السعادة ج:۱ص:۵۰).

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه : دغه شرافت او عزت د علم لپاره پوره دی، چې الله پاک خپل پیغمبر – صلی الله علیه وسلم – امر کړی، چې د زیاتوالي سوال یې ترې وکړي !!

ابنُ عُیینة - رحمه الله- فرمایي : وَلَمْ یَزَلْ - صلی الله علیه وسلم - فِيْ زِیَادَة حَتّی تَوَفّاهُ اللهُ - عَزّ وَجَلّ - ( تفسیر ابن کثیر ص : ۱۵۹ ج : ۳ )

یعني رسول الله صلی الله علیه وسلم تر مرګه پوري د علم په زیاتوالي کې ( بوخت ) وو !!

ځکه تر مرګه پوري وحي ورته راتلې او په هغو سره یې په علم کې زیاتوالی راتلی .

علماوو ویلي دي چې الله پاک خپل پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - له علم پرته د بل شي د زیاتوالي په غوښتني نه دی امر کړی !!

معلومه شوه چې علم یو داسي نعمت دی چې د دُنیوي نعمتونو پرته کول ور سره ناسم کار دی .

## د نبي اکرم – ﷺ – د بعثت ستر مقصدونه

جناب محمد رسول الله – صلی الله علیه وسلم – د خپل بعثت مقصد دوه شیان بیان کړي دي :

۱ – د علم تعلیم .

رسول الله – صلی الله علیه وسلم – په دې هکله یې فرمایلي دي : إِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّماً (ابن ماجه ص: ۸۳ ج: ۱، سنن الدارمی ص: ۱۱۱ ج: ۱)

ژباړه : زه ښوونکی را لیږل شوی یم !!

ketabton.com - The Digital Library


له دې حدیث څخه معلومېږي چې د نبي - علیه السلام - د بعثت یو مُهم مقصد دا دی چې له خلګو بې علمي لاړه شي او علم زده کړي .

# علم د ټولو مرضونو علاج دی

تر جهالت او ناپوهي بل ستر مرض نشته، د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر مبارک بعثت وړاندې په عربو کې د هر قسم ناوړو کارونو دود وو .

بې حیایي، دروغ، ظلم،غلا او داسې نور کارونه عام وو .

خو د هغې زمانې نسبت دغو بدو کارونو ته نه کېږي، نه د ظلم زمانه ور ته ویل کېږي، نه د زناکارۍ زمانه ور ته ویل کېږي او نه د بل ناوړه کار یا ګناه په نوم یادېږي، بلکې د جهالت په زمانې سره یادېږي .

له دې معلومېږي چې د هر قسم شر او فساد منبع او سرچینه جهالت او ناپوهي ده او د دې مرض علاج د ټولو مرضونو علاج دی .

په اوسنۍ زمانه کې هم که فکر وکړو نو دې پایلې ته به ورسېږو چې ټولې ناخوالې او ناوړه کارونه له جهالت او ناپوهۍ څخه راټوکېدلې دي .

نبي علیه السلام دُنیا ته په تشریف راوړلو سره دُنیا د ایمان او علم په رڼا سره منوره کړه او په دې توګه یې د ټولو روحاني ناروغیو لپاره درمل او علاج نړۍ ته راووړ .

۲ – د نبوي بعثت دوهم مقصد د اخلاقو تکمیل او پوره کول دي .

رسول الله – صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي : إِنَّمَا بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الأَخْلاَقِ (سنن الكبرى للبيهقي ص: ١٩١ ج: ١٠)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه : زه د دې لپاره را لېږل شوی یم څو ښه اخلاق بشپړ کړم !!

ښه اخلاق چې خپرول یې د نبوت له لومړیتوبونو څخه دي، په دې سره د نورو انسانانو د حقونو ساتنه کېږي او پر بل چا له ظلم او تېري څخه انسان منع کوي .

د دغو دوو اصولو پلي کېدل ټولنه د پرمختګ، خوشحالۍ، سوکالۍ او وروروليٖ خوا ته بیایي او له انسان څخه په پوره معنی انسان جوړوي، داسي چې په ټولو ښو عادتونو لکه رښتینولي، سخاوت، خواخوږي، صبر، حوصله، عاجزي او نورو سره مزین او ښائسته وي .

څومره پېغمبران – علیهم السلام – چې نړۍ ته راغلي دي، ټول د ښو اخلاقو خاوندان وو .

د چا اخلاق چې صحیح وي، هغه دي د الله پاک شکر اداء کړي او د زیاتوالي هڅي دي یې جاري ساتي او که د چا اخلاق ناسم وي، هغه دي الله تعالی ته عاجزي وکړي، د اخلاقو د سمولو هڅه دي وکړي او په دې اړه دي له الله تعالی څخه مرسته وغواړي .

د بعثت یاد شوي دوه مقصدونه قرآن کریم هم په صراحت سره داسي یاد کړي دي : هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (سورة الجمعة: ٢)

ژباړه : الله هغه ذات دی چې په امیانو کې یې پخپله له دوی څخه یو داسي پېغمبر راپاڅوی، چې پر هغو د ده ( د قرآن ) آیتونه لولي ،

ketabton.com - The Digital Library


هغوی پاکوي او هغو ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي، په داسي حال کې چې له دې مخکې هغوی په څرګندي ګمراهۍ کې وو!!

په دې مبارک آیت کې يې د نبي علیه السلام دوه وظیفې یادي کړې دي چې یوه يې تعلیم او بله يې تربیه ده .

یعني د قرآن او حدیث تعلیم ا و په دې دواړو د نفسونو تربیه !!

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک ژوندانه لویه برخه هم په دغو دوو کارونو کې مصروفه وه .

دا ځکه چې دغه دواړه کارونه د هر خیر لپاره سرچینه ده او د ژوندانه هیڅ اړخ له دې پرته نه سمېږي که سیاسي وي، که اجتماعي وي، که اقتصادي وي، که نظامي وي او که اخلاقي وي .

مطلب دا چې د نبي علیه السلام د بعثت لومړنی مقصد د علم تعلیم دی او دوهم يې تربیت او په دې علم عمل کول دی .

# تجارت باید څنګه وشي ؟

اسلام یو آسانه دین دی، چې عملي کول يې او پرې پوهېدل د انسانانو له وس څخه وتلی کار نه دی .

الله تعالی لکه څرنګه چې انسانان اشرف المخلوقات ګرزولي، داسي يې د دوی د ژوندانه لپاره داسي هدایات رالېږلي چې په هر اړ خیزه توګه غوره، آسانه او ښکلي دي او په عملي کولو سره يې له انسان څخه غوره، نېکمرغه او خوشحال انسان جوړوي .

اسلام یو داسي آسان دی چې په دې کې په لږ عمل سره ډېر ثواب تر لاسه کېږي .

ketabton.com - The Digital Library


دا مُبارک دین په مسجد پورې خاص نه دی، بلکې د دُنیوي کاروبار سره یو ځای عبادت هم کېدی شي .

قرآن کریم او نبوي احادیث د دُنیا د محبت د پرېښودلو په لور بلنه ور کوي، خو د دُنیا د محبت پرېښودلو مطلب دا نه دی چې انسان دي د دُنیا کاروبار او ژوند پرېږدي او په یوه غار کې دي د عبادت لپاره کښېني .

د دُنیا د محبت د پرېښودلو ډېر خلک ناسم مطلب په تېروتني سره اخلي .

د دُنیا د محبت د پرېښودلو صحیح مطلب دا دی چې له الله پاک څخه باید انسان غافل نه شي او په خپلو ټولو کړو وړو کې د الله پاک احکام له پامه و نه باسي .

همدا راز الله تعالی خپل بندګان له تجارت څخه نه منع کوي .

ځکه پېغمبرانو – علیهم السلام – تجارت او کاروبار کړی دی .

داسي پېغمبران تېر شوي چې د وخت پاچاهان هم وو، د دیني پاچاهۍ تر څنګ ور ته الله پاک د دُنیا پاچاهي هم ور کړې وه .

نو الله تعالی له تجارت څخه بندګان نه منع کوي، البته دا ور ته وایي چې تجارت او کاروبار په هغه طریقه وکړه چې ما در ته ښودلې ده او زه یې غواړم، په هغه طریقه تجارت مه کوه چې ته یې غواړې او ستا نفس در ته وایي .

کله چې څوک په هغه طریقه تجارت وکړي کومه چې الله پاک ور ته ویلې ده، نو بیا یې دغه تجارت عبادت او د ثواب لامل ګرزي .

ketabton.com - The Digital Library


اسلام تجارت داسي نه دی پرېښی، چې په هره طریقه څوک مالي ګټه تر لاسه کوي، بس ور ته اجازه ده، بلکې د دې لپاره یې داسي اصول بیان کړي چې عملي کول یې نه یوازي د تاجرانو لپاره ګټور دي، بلکې د ټولني او د انسانیت د پرمختګ تضمین هم کوي .

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ (رواه الترمذی، مشكاة المصابيح ص: ٢٤٣)

ژباړه : له حضرت ابوسعید خُدري – رضی الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه و سلم – وفرمایل : رښتونی او امانتدار سوداګر به د پېغمبرانو، صدیقینو او شهیدانو سره وي !!

یعني هغه سوداګر چې رښتونی او امانتدار وي، له دوکه بازۍ او خیانت څخه ځان ساتي، د هغه حشر به د قیامت په ورځ د پېغمبرانو، صدیقینو او شهیدانو سره کېږي .

څومره چې د سوداګر صداقت او امانتداري زیاته وي، هغومره به یې درجه لوړه وي او حشر به یې د لوړي درجې د خاوندانو سره وي او تر ټولو لوړه درجه دا ده چې د پېغمبرانو سره یې حشر وشي .

په تجارت کې د صداقت او امانتدارۍ تر څنګ ځیني نور ټکې هم مُهم دي چې په تجارت کې ور ته پاملرنه اړینه ده چې ځیني یې دا دي :

١ : باید تجارت د داسي شي نه وي چې د هغه تجارت ناروا وي .

٢ : باید تجارت په ناروا طریقه نه وي .

٣ : تجارت باید د دواړو اړخونو په رضاء سره وي .

ketabton.com - The Digital Library


**۴ : تجارت باید د الله پاک له عبادت او ایمان څخه انسان مشغول نه کړي .**

**۵ : تجارت باید د الله پاک له عبادت او ایمان څخه انسان بلي خوا ته وا نه ړوي .**

**۶ : تاجر باید ځان په ښائسته اخلاقو سره مزین او سمبال کړي .**

**۷ : تر دُنیوي زیان به یې له آخرت څخه وېره زیاته وي .**

**۸ : له الله پاک څخه به د ثواب او اجر امید لري .**

**که دغه صفات پلي کړل شي، نو ان شاء الله د داسي سوداګر کاروبار به د عبادت، ثواب او د درجو د لوړوالي لامل وي .**

# اُمت ته د نبي - علیه السلام - وصیت

**اسلام د اعتدال، توازن او منځلارۍ دین دی. نبي صلی الله علیه وسلم خپل امت ته د هر ډول افراط او تفریط څخه د ځان ساتلو لارښوونه کړې ده.**

**په حدیث شریف کې راغلي دي :** إِيَّاكُمْ وَالْغُلُوَّ فِي الدِّينِ فَإِنَّمَا أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمُ الْغُلُوُّ فِي الدِّينِ (رواه النسائی ص:۴۸ ج:۲)

**یعني په دین کې له زیاتي کولو ځان ساتئ ! ځکه چې تر تاسو مخکیني امتونه په دین کې غلو او زیاتي کولو تباه کړل !!**

**په دین کې د غُلُواو زیاتي کولو له امله یهود او نصاری ګمراه شوي وو، له دې امله نبي - علیه السلام - خپل امت له دې ناوړه کار څخه منع کړی دی .**

ketabton.com - The Digital Library


د غُلُو لفظي معنی : تر اندازې تېرېدل ده .

امام جصاص په احکام القرآن کې لیکلي دي : اَلْغُلُوُّ فِي الدِّينِ هُوَ مُجَاوَزَةُ حَدِّ الْحَقِّ فِيهِ (په حواله د معارف القرآن ص: ٦١٩ ج: ٢). یعني د دین په هکله غلو دا ده چې په دین کې د کوم شي کومه اندازه مقرره شوې وي، تر هغه مخته تېرېدل !!

د اسلام پېغمبر - صلی الله علیه وسلم - په خپلو مبارکو ویناوو او کارو سره د عباداتو، معاملاتو او د ژوندانه د ټولو کارو لپاره د اعتدال حدود ټاکلي دي، تر هغو شا ته پاته کېدل تفریط ( کوتاهي ) او گناه ده او مخته ترې تېرېدل افراط او بدعت دي او بدعت هم گناه ده .

له حضرت انس بن مالک (رضي الله عنه) څخه روایت دی، هغه وایي : درې کسان د نبي ﷺ د ازواجو (بیبیانو) کورونو ته راغلل او د نبي ﷺ د عبادت په اړه یې پوښتنه کوله. کله چې هغوی ته (د رسول الله ﷺ د عبادت) په اړه معلومات ورکړل شول، نو هغوی هغه (عبادت) کم وگاڼه او ویې ویل: «موږ چیرته او نبي ﷺ چیرته؟! د هغه خو د مخکې او وروسته وخت ټول گناهونه بخښل شوي دي .

له هغوی څخه یوه وویل: زه به تل ټوله شپه لمونځ کوم (نه به ویده کېږم ، بل وویل: زه به تل روژه نیوم او هیڅکله به روژه نه ماتوم

او درېیم وویل: زه له ښځو څخه ځان لیرې ساتم او هیڅکله به واده ونه کړم، وروسته رسول الله ﷺ هغوی ته راغی او ویې فرمایل: آیا

ketabton.com - The Digital Library



تاسو هغه کسان یاست چې داسې او داسې خبرې مو کولې؟ خبر اوسئ! په الله قسم چې زه له تاسو څخه زیات له الله څخه وېرېدونکی او د هغه تقوا لرونکی یم؛ خو (له دې سره سره) زه روژه هم نیسم او افطار هم کوم، لمونځ هم کوم او ویده کېږم هم، او له ښځو سره واده هم کوم. نو څوک چې زما له سنتو څخه مخ واړوي، هغه له ما څخه نه دی فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي (بخاري رقم : ۴۷۷۶, مسلم رقم : ۳۴۶۹)(څوک چې زما له سنتو مخ واړوي، هغه له ما څخه نه دی) !!

او په خپلسري ډول په عبادت کې سختي راوستل هم د غلو یو ډول دی چې اسلام یې منع کوي .

د غُلُو او افراط له امله د یهودو او نصاراوو ګمراه شوي وو، له دې امله نبي اکرم- صلی الله علیه وسلم- خپل امت ته په دې هکله د پوره احتیاط لارښوونه کړې ده :

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ سَمِعَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: لا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتْ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ وَلَكِنْ قُولُوا عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ (رواه البخاری ص: ۴۹۰ ج: ۱)

ژباړه : له حضرت ابن عباس- رضی الله عنهما - روایت دی چې له حضرت عمر- رضی الله عنه – څخه ئې په داسي حال کې واورېدل چې پر منبر ئې ویل : ما له نبي- صلی الله علیه وسلم - څخه اورېدلي چې ویل یې : زما په ستاینه کې داسي مبالغه مه کوئ، څنګه چې نصاراوو د مریمي د زوی ( عیسی - علیه السلام - ) په هکله وکړه، یقیناً زه د الله بنده یم ، نو تاسو زما په هکله وایاست چې د الله بنده او رسول دی !!

ketabton.com - The Digital Library



یعني زما تر ډېرو لویه مرتبه دا ده چې زه د الله پېغمبر یم ، تر دې زیاتول او د الله تعالی په صفاتو کې شرېکول غلو ده، تاسو باید له دغسې غلُو څخه چې نصرانیان پکې مُبتلاء او له امله ئې بې لاري شوي وو، په کلکه ځان وژغورئ !

مسلمان باید خپله عقیده، عبادت او محبت په کټ مټ توګه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د سنتو تابع کړي، نه پکې ډېروالی وکړي او نه پکې کموالی .

د انسان د نېکمرغۍ راز په دې کې دی چې د رسول الله ﷺ له مبارکو لاربښوونو سره سم ژوند وکړي؛ ځکه د هغه سنت د حق او اعتدال بشپړه بېلګه ده .

الله سبحانه وتعالی دې موږ ټولو ته د خپل دین د صحیح فهم او پر هغه د اخلاص او استقامت سره د عمل کولو توفیق راکړي، او زموږ خاتمه دې په ایمان، تقوا او د خپل رضا په حالت کې وکړي. آمین یا رب العالمین. وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین .

سبحانک اللهم و بحمدک أشهد أن لا إله إلا أنت أستغفرک و أتوب إلیک.

# تم الکتاب بالخیر

ketabton.com - The Digital Library



# د لیکوال نور آثار :

۱ : د سعادت لاربنود

۲ : عیسی علیه السلام په اسلام او عیسائیت کې

۳ : په صحیح احادیثو ثابت د سهار او مابښام اذکار

۴ : سیرة النبي – صلی الله علیه وسلم –

۵ : کامیاب مسلمان ( اردو)

۶ : له ځانه جوړ شوي مشهور حدیثونه

۷ :ارشاد العامة في المحاضرات الهامة

۸ : القول السدید لرد من انکر التقلید

۹ : مستند مسنون اذکار او دُعاګاني

۱۰ : الارشاد الی سعادة العباد

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*